# ماته ببرۍ او زورورې څپې

## د دیني افراطیت د ریښو او نښانو سپړنه

**محمد محق**

ژباړن: محب الله زغم او شیرخان زېری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست:

سريزه.......

د جهاد سپړل، د توندلارو له غوسې د منځلارو تر رحمه پورې.....

تکفيرگري او ريښې يې.....

تروريزم او د عقيدې د دفاع پلمه....

په افغانستان کې د سرلارو وژنې، په فرهنگ يا ايډيالوژۍ کې....

د کرکې خپرول او افراطيت.....

د بنسټپالنې د مقابلې پر خرنگوالي شکونه.....

دين د هويت په توگه......

په اسلام کې د قدرت ناسپړل شوې غوټه.....

د شريعت تطبيقول او د بنسټپالو غلط فهمي.....

د افغانستان په تعليمي نظام کې د افراطيت پل.....

ښځه او د عقل نقصان.....

په قرآن کې ظنی الدلاله او په ديني مناقشو کې يې نقش.......

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

د افراطي ډلو بې‌پایه وحشت او وینې‌بهونه د داسې تیارې شپې غوندې دي چې توره تروږمۍ یې د انسان ساه تربتوي او د خواجه حافظ شیرازي دا وینا تداعي کوي چې: "شب تاریک و بیمِ موج و گردابی چنین هایل ..." (شپه ده تیاره، د څپې وېره او تر منځ مو داسې گرداب هایل دی ...). ما د مقالو د دې ټولگې عنوان له همدې بیت څخه راواخیست، سره له دې چې هیله لرم چې کوم هایل گرداب به مو په مخ کې نه وي! خو دا به یوازې یوه شپه وي چې که څومره وېروونکې هم وي، تېره به شي، که داسې توپان دی چې لا یې تر یوې څپې نه یو وتلي، بله څپه به یې رسېدلې وي؟ د دې پوښتنې ځواب په دې پورې اړه لري چې موږ وضعیت څنگه تحلیلوو.

**[د ښاغلي محق د کتاب اصلي عنوان «بیم موج» دی چې په پښتو کې «د څپې وېره» کېږي، خو ما ته په پښتو کې «ماته بېړۍ او زوروري څپې» ښه عنوان ښکاره شو، ځکه چې نور نو خبره د څپو له وېرې تېره ده. په وطن کې مو حالات ورځ تر بلې لا پسې ترینگلي کېږي. له یوې خوا د ناپوهۍ، جهل، افراط، بنسټپالنې او توندلارۍ زوروري څپې رانه چاپېرې دي او له بلې خوا د وطن بېړۍ مو خپلو سپرلیو ماته کړې ده. ځانځانی، بې‌اتفاقي، دسیسې او توطئې، د دیموکراتیکو بهیرونو یعنې د انتخاباتو او پارلمان رسوایي، ناکاره دوه‌سري حکومتونه، بې‌ساری اداري فساد، بې‌کچه جنایي جرمونه او ډېرې نورې بلاگانې هغه عاملونه دي چې د دې بېړۍ دړې یې خچ پچ کړې دي. ښایي استاد محق به ښه‌وینی (خوش بین) انسان وي چې لا هم یوازې د څپې وېره لري خو بېړۍ روغه گڼي. خو زه دا کتاب په داسې حال کې ژباړم چې له هر څه مې تمه ختلې ده. له بده مرغه ما ته بېړۍ هم ماته ښکاري. فکر کوم چې دا لنډۍ مو د وطن حالت لا ښه بیانوي چې وایي: د موزیگي شلېدلیه کټه/ چې زه دې لنگه ټینگوم، بازو دې ځینه. محب الله زغم]**

د دې قلم د څښتن په فکر، د افراطیت دا اوسنۍ تېزې ویجاړوونکې څپې زموږ د تمدن د بې‌ثباته او توپاني وضعیت هېنداره ده. تمدني بحرانونه پایېدوني وي، نه په یوه شپه کې زېږي او نه په یوه ورځ کې ختمېږي. د دغه تمدني پرځېدنې بُعدونه د افراطیت تر پدیدې ورهاخوا نور شیان هم رانغاړي. د قانون د حاکمیت شدیده کمزوري، د عقلانیت منطق ته غاړه نه اېښودل، له هغو خرافاتو څخه لاس نه اخیستل چې له علم سره په ټکر کې دي، د اخلاق مقام ته اهمیت نه ورکول، د اخلاقي فضیلتونو پر ځای په دودیزو رواجونو پورې نښتل، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبیعت او چاپېریال سره بېغوري، د نظري حکمت او فلسفې ناروغي، د مادي او معنوي سرچینو په ښه کـارولو کې ناتواني، د انسان د مقام او کرامت نه درک کول، د دغې تمدني پرځېدنې مختلف ګوټونه دي.

له دې تنګي څخه د تېرېدو لپاره لويې هڅې په کار دي چې تعلیمي نظام مو منظم کړي؛ اقتصاد مـو وغـوړوي؛ مدیریت مو ورسره عصري شي؛ د نوې ټکنالوژۍ د سمې کارونې فرهنګ راکې پیدا شي؛ نـړۍ، انسـان، ژونـد او هستۍ ته مو د کتلو انداز بدل شي؛ او ډېرې نورې چارې مو سمې شي. په دې منځ کې یو شی چې اړتیـا ورتـه لرو، د دیني فکر اصلاح ده. له دیني فکر له هېنداري څخه هغه زنګونه باید لرې کړو چې د خلکو د ژوند په ښـه کولو کې یې د دیني فکر اغېزه خورا کمه کړې ده.

دین په اسلامي تمدن کې له هماغه پیله محوري نقش لرلی دی او دغه نقش تر ننه پورې په یـو نـه یـو ډول رارسېدلی دی. خو نن سبا، د دین هغو تفسیرونو چې له عقل سره دښمني او له اخلاقو سره تربګني لـري، پر اسلامي تمدن او په نړۍ کې د مسلمانانو پر ونډې ویجاړوونکې اغېـزې ښـندلي دي. نـو د دینـي ارشاداتو د داسې تفسیرونو د خپرولو هڅه چې له عقل، اخلاقو او معنویت سره برابر وي، په آخر کـې بـه د دې نـاروغۍ پـه علاج کې مرسته وکړي.  بیا به مسلمانان له دې عصر او وګړو سره د تقابل پـر ځـای، د تعامـل او تعـاون خـوا تـه درومي او د مځکې په آبادولو کې به ونډه اخلي او د دې نړیوال کلي له نورو اوسېدونکو سره په ګډه د نوي عصر پر ننګونو لاسبري کېږي او د دې عصر له فرصتونو څخه به د ټولو وګړو په ګټه کار اخلي.

دغه ټولګه چې زما د دوو وروستیو کلونو لیکلې مقالې رانغاړي، په همدې تګلاره لیکـل شـوې ده. د دې ټـولګې مبحثونه د جهاد له راسپړلو څخه پیلېږي، بیا د تکفیر او نفرت د خپرولو موضـوع څېـړي او د مقدسـو متنونـو پـر پېچلتیا ختمېږي. د لیکوال په باور، دا چې ځینې خلک ګومان کوي چې دیني نصـوص ایکـي یـو تعبیـر لـرلای شي او یا یوازې د یوه تعبیر په ګټه تعصب کوي، هغه هم داسې تعبیر چې په ډېرو پخوانیـو پېړیـو کـې د هماغـه مهال د تاریخي عاملونو په وجه رامنځته شوی دی، نو په آخر کې به مو همدې ځـای تـه رسـوي چـې وینـو یـې، یعنې تکفیر، ترهه، او انتحار ... دا کار د متن سیالیت او بهېدنګ ختموي او د انسان فهم او درک کنګلوي. بیـا به په متن باندې د انسان پوهېدنه وچه کلکه، ډېروزمه وي او د همدې وچې پوهېدنې نتیجه به په خپلو وینو کې د بنيآدمانو لمبول وي.

که د دې اثر خپرېدل د دیني فکر په حوزه کې د انتقادي خبرو اترو په تودېـدو کـې مرسـته وکـړي او د وینې بهونې او خشونت په کمولو کې ان کمه ونډه هم واخلي، ګټه به یې دوه برابره شي. ډېر کلونه کېـږي چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په ټولنه کې د ديني فکر د مختلفو بڼو او مختلفو رنګونو له حده زياته دعـوتګري بـاب شـوې ده او دا چـاره سبب شوې ده چې ديندارې برسېرنه شي او کله کله ديني نيهيليزم «Nihilism» (هېڅ انګېرنـه) رامنځتـه کـوي چې تر ټولو څرګنده نښه يې ديني ځانوژونه ده. د دې شي په اثر، ډېروزمو تګلارو د پوښتنو پر مخ لاره بنده کړې ده او انتقادي فکر يې چې د هر فرهنګ او تمدن د غوړېدا لازمه ده، له پښـو غورځـولی دی. پـه دې هيلـه چـې دغه پاڼې به د تمدن د غوړېدا په لوري کړکۍ پرانيزي .

محمد محق

۱۳۹۸

قاهره

**(1)**

## د جهاد سپړنه

## د توندلارو له غوسې څخه د منځلارو تر رحمه پورې

### د پيل خبرې:

د جهاد فقه هغه موضوع ده چې هم د مسلمانانو په دوديزه فقه او هم د معاصرو سـياسي اسـلامکارو پـه ادبيـاتو کې ورته پام شوی دی. دا اصطلاح هغو مباحثو ته ويل کېږي چې د جهاد فقهي احکام څېړي، مـثلاً: جهـاد پـه کومو شرايطو کې فرض کېږي؟ څوک د جهاد په کولو مکلف دي؟ جهاد د چا په وړانـدې کېـږي؟ جهـاد اساسـاً دفاعي جنګ دی که يرغليز؟ جهاد يوازې په جګړه کېږي که غيرجنګي بڼې هم لـري؟ د جنګـي اسـيرانو حکـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه دی؟ د جنګي يرغملو حکم څه دی؟ د اسلام د پيروانو په مقابل کې هم جهاد کولای شو؟ د نورو په مقابل کې جهاد د دينونو د توپير په وجه فرض کېږي، که د سياسي او ټولنيزو شرايطو په وجه؟ په جهاد کې د ټولو هېوادونو حکم يو شان دی که يوازې په دارالحرب کې جهاد کولای شو؟ په دې باب ډېرې نورې پوښتنې هم شته او د جهاد فقه دغو ټولو پوښتنو ته ځواب وايي.

د جهاد د احکامو په اړه نظرونه د اسلامي فقهې د پيدايښت له وخته تر ننه پورې متفاوت پاتې شوي دي، خو په اوسني عصر کې دا توپير په دوو عمده ايډلوريو کې راښکاره شوی دی. يو يې د معتدلو دودپالو ايډلوری دی چې جهاد اساساً دفاعي جګړه ګڼي، سره له دې چې يرغليز جنګ هم په ځينو شرايطو کې جايز او کله کله لازم بولي. دوهم يې د توندلارو اسلامکارو ايډلوری دی چې جهاد ورته د دين د خپرولو تر ټولو مهمه وسيله ښکاري او جهاد يرغليزه جګړه ګڼي.

درېيم ايډلوری هم شته خو هغه په فقهي لحاظ نه، بلکې په اخلاقي او عرفاني لحاظ جهاد کوي او عمدتاً د نفس پر تزکيې او د باطن پر اصلاح باندې تمرکز کوي. دوی ته جهاد له نفس او دروني شيطان سره مبارزه ښکاري. خو دا ايډلوری په فقهې پورې اړه نه لري او د شريعت د عالمانو په منځ کې غښتلي اصولي مبنا يې نشته، خو بيا هم له فقهي مبحث ورهاخوا په خپل ځای کې مهم دی او په خاصو برخو کې کارېدلی شي.

خو دوه لومړني ايډلوري ځکه عمده ايډلوري دي چې دواړه پر فقهې تکيه لري. د دواړو لپاره د آيتونو او حديثونو له استدلال څخه رانېولې، د فقهې تر قواعدو او اجتهاده پورې او د اسلامي تاريخ د مختلفو دورو د فقيهانو تر بېشمېرو قولونو پورې تکيې شته. طالبان، القاعده، داعش، بوکوحرام، الشباب، جبهه نصرت او داسې نورې ډلې چې لږ ډېر د جهادي سلفيت (سلفيت په عامه معنا) ميراث خواره دي، د دوهم ايډلوري پلوي دي. دغه ډلې ګومان کوي چې څه چې کوي، دا د ديني فريضې او ان د خورا مهمې ديني فريضې ادا کول دي. په مسلمانو ملکونو کې روان جنګ او هغه تشدد چې توندلارې ډلې يې په نورو هېوادونو کې کوي، پر سياسي او ټولنيزو عاملونو سربېره، غښتلې فقهي تکيه لري او تر شاه يې د دين له تفسيرونو څخه يو تفسير ولاړ دی. دغه ډلې په خپل خاص ديني تفسير وچ کلک باور لري او همدا وجه ده چې نن سبا په ټوله نړۍ کې د اسلام له نوم سره جنګ او تشدد غوټه شوي دي. اوس مهال په دنيا کې بل هېڅ داسې دين نشته چې په جګړو او تشدد دې مشهور وي. البته خشونت د اکثرو نورو دينونو په تاريخ کې هم کم يا زيات شته او اوس مهال له ديني اعتقاداتو څخه پرته د خشونت او تشدد نورې انګېزې هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو هغه ډلې چې په دې وضعیت خوشحاله نه دي، او د توندلارو جهادیانو په اعمالو غوسه دي، د دې لپاره چې د اسلام لمن د تشدد له داغه پاکه کړي، د تشدد پسندو ډلو باورونه او د جهاد په اړه د دوی نظر نقدوي. دوی د جهاد په باب بل نظر وړاندې کوي او فکر کوي چې همدا د جهاد په اړه سم نظر دی او تشدد ختموي. دواړو خواوو د دې کار لپاره پرېمانه کتابونه، مقالې، راډیویي او ټلویزیوني بحثونه تولید او خپاره کړي دي. د دې ټولو آثارو او بحثونو کتل لویه څېړنه غواړي، خو د دواړو خواوو د لیدلوریو د زړي او جوهر د معلوملو لپاره، د دوی تر ټولو مهم آثار غوره کولی او څېړلی شو.

د دې کتاب لیکوال، د دغو دوو فکري بهیرونو په استازیتوب دوه اساسي کتابونه څېړي چې تر دې دمه په دې باب تر ټولو مهم او جدي آثار دي. یو کتاب "مسائل فی فقه الجهاد" د ابو عبد الله المهاجر تألیف دی او بل یې "فقه الجهاد، دراسة مقارنة لاحکام الجهاد و فلسفته فی ضوء القرآن و السنة" د یوسف قرضاوي اثر دی. همدا دوه کتابونه د دواړو بهیرونو عمده دلیلونه رانښیي.

لومړی کتاب چې تر پنځو سوو زیات مخونه لري، د داعش، القاعده او ځینو نورو جهادي ډلو د تکیې او استناد تر ټولو مهم کتاب دی او دوی د خپلو فعالیتونو لپاره شرعي توجیه له همدې کتاب څخه اخلي. د دې کتاب لیکوال، ابو عبد الله المهاجر چې اصلي نوم یې عبد الرحمن العلی او اصلاً مصری دی، په فقه کې د ابو مصعب زرقاوي استاد و. زرقاوي د داعش معنوي پلار او لومړنی بنسټوال و. (1) دا خبره مشهوره ده چې ابو مصعب زرقاوي له هغه څخه څلور کاله دیني درسونه ویلي وو او خپلو پیروانو ته به یې ویل چې دا کتاب دې ولولي. ځینې نظروال وایي چې که د همدې سړي نظرونه نه واي، ښایي القاعده او داعش به نه پیدا کېدل.(2)

لیکوال د دې کتاب په مقدمه کې وایي چې دا کتاب په حقیقت کې د یو بل لوی کتاب یوه برخه ده چې هغه کتاب"الجامع فی فقه الجهاد" نومېږي او دا برخه یې د «وینې احکام او متعلقات یې» څېړي. دی وایي چې د کتاب دا جلا برخه یې د یو داسې کس په غوښتنه لیکلې ده چې له لبیک پرته یې بل څه ورته ویلی نه شو. (المهاجر، ابو عبد الله، مسائل فی فقه الجهاد، ص ۸)(3) هغه په ټوله نړۍ کې د جهادي ډلو په منځ کې لوړ مقام او زیات شهرت لري خو له دې بهیرونو څخه بهر چندانې پېژندل شوی نه دی.

دوهم کتاب چې دوه ټوکه او څه باندې ۱۴۰۰ مخه لري، د یوسف قرضاوي دی. قرضاوي د ابو عبدالله المهاجر برخلاف، په عمومي کچه پېژندل شوی شخصیت دی او کله خو د نړۍ په اغېزناکو خلکو کې هم یاد شوی دی. هغه په فکري لحاظ په اخوان المسلمین پورې اړه لري او د ډېرو کسانو په باور د دې ډلې معنوي پلار ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. سره له دې چې هغه ډېر کلونه مخکې د دې سازمان رسمي عضویت پرې ایښی دی او په تشکیلاتي چارو کې یې ونډه نه لري، خو لا یې هم خپل ځای ځایگی د دې ډلې د تر ټولو مهم متفکر په حیث په نړۍ کې ساتلی دی. پر دې سربېره، هغه په ټول تاریخ کې د اخوان المسلمین تر ټولو نامتو او نامي فقیه دی او د دې سازمان تر هر مشهور کس لکه حسن البنا، مودودي، او سید قطب، په اسلامي فقه زیات پوهېږي. سره له دې چې هغه په نورو برخو کې هم لیکنې کړې دي خو اصلي تخصص یې فقه دی. ښایي پر فقهې تسلط به سبب شوی وي چې دی سره له دې چې د اسلام د سیاسي تفسیر دفاع کوي خو بیا هم په دې ډلو کې تر ټولو معتدل کس دی، البته په خپل فکري دریځ کې، نه په سیاسي دریځ کې. قرضاوي ځان د داسې بهیر استازی بولي چې پخپله یې "الوسطیة" گڼي، یعنې منځلاری بهیر. د ده په باور دا د افراط او تفریط تر منځ منځنی لاره ده. د جهاد په اړه د قرضاوي نظر، خامخا د اخوان المسلمین نظر هم نه دی، ځکه چې د اخوان په منځ کې د سید قطب او مودودي له لیدلوري رانېولې د قرضاوي او نورو تر نظرونو پورې مختلف بارونه دي.

قرضاوي په دې کتاب کې هڅه کوي داسې فکري تمایل انځور کړي چې د دې لیکنې په پیل کې مو «معتدل دودپال» گڼلي دي. قرضاوي د دې کتاب په مقدمه کې کاږي: "**دا کتاب د مسلمان او غیر مسلمان لوستونکي لپاره د اسلام د یوې خورا مهمې قضیې په اړه نوی فرهنگ او نوې پوهه وړاندې کوي. دا هغه قضیه ده چې له ډېر پخوا راهیسې مسلمانان او غیر مسلمانان د هغې په فهم کې له ابهام او التباس سره مخ دي**." (القرضاوی، یوسف، فقه الجهاد، ص۱۱). (4)

د دې دوو تگلارو لومړنی توپیر همدلته معلومېږي، ځکه چې قرضاوي خپل کتاب هم د مسلمانانو او هم د نامسلمانانو لپاره لیکلی دی، حال دا چې ابو عبدالله المهاجر د خپل کتاب په مقدمه کې وایي چې: "**دا رساله مې د هغو کسانو لپاره نه ده لیکلې چې د خدای له امره سر غړوي؛ د خدای له شریعته لرې کېږي؛ پر احکامو یې ملنډې وهي؛ او څه چې هغه رالېږلي دي، نامطلوب گڼي ... همدارنگه دا کتاب مې د هغو کسانو لپاره نه دی کښلی چې د خدای او پیغمبر تر حکم خپل عقل غوره گڼي؛ او د آسماني رڼا پر ځای ځمکنۍ تروږمۍ چې د کثافاتو غوندې فکرونه او هوسونه او د شرق او غرب د کافرانو سیاستونه دي، غوره کوي ... هماغسې چې دا کتاب د هغو ماتو شویو لښکرو لپاره هم نه دی چې نامطلوب واقعیت مني، حق له باطل سره گډوي، د خدای په امر کې دوه‌مخیتوب کوي او په خپل گومان د پخلا کولو نیت لري، حال دا چې کار یې پینه‌کاري او تلفیق دی، هغه کسان به هر څه غواړي، خو په دین باندې ټینگې منگولې لگول نه غواړي!**" د ده د کلام له لحنه ښکاري چې اکثره مسلمانان هم د ده مخاطبان نه دي، نامسلمانان خو لا پرېږده. هغه په ښکاره وایي چې کتاب یې خاص د مجاهدانو لپاره کښلی دی، یعنې د هغو کسانو لپاره چې د ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور:"**د خدای امر ته مطيع دي، احکام يې په سر سترګو مني، او شريعت ته يې داسې تسليم دي لکـه مـړی چې مرده شوی ته تسليم وي {..}(5)  هغه کسان چې شمېر يې لږ دی او مقام يې له خـدای سره لـوړ دی {..} هغه ډله چې سرلاری او الګو يې د مخلوقاتو سردار (ص) دی، هماغه سردار چې ويې ويـل: پـه هغـه چا مې قسم دی چې زما ژوند يې په لاسونو کې دی، له هغوی سره به پر دې کار تر هغې پورې وجنګېـږم چې سر مې پرې شي او خدای خپل فرمان جاري کړي**" (المهاجر، هماغه)

## د وينې فقه:

د ابو عبد الله المهاجر کتاب چې اصلي عنوان يې «د جهاد په باب مسايل» دی، نـور کسـان يـې "فقـه الـدماء" بولي يعنې د وينې فقه. دا په دې چې ده پخپله د کتاب په مقدمه کې ويلي دي چې د کتـاب موضـوع د وينـې احکام او ورپورې تړلې خبرې دي. د کتاب چلند له پيله تر پايه دا راښيي چې مؤلف هڅه کوي د هغو جنګونو او وينې بهونو شرعي توجيه وکړي چې د استشهادي عملياتو په نوم روان دي او له نورو مسلمانانو سره کېږي. هغه جنګ چې له نامسلمانانو سره، په تېره بيا هغه مهال کېږي چې يرغل هغوی کړی وي، داسې موضوع ده چې په مسلمانانو کې يې په اړه مناقشه لږه ده. ټول تاوده بحثونـه او جـدي نقدونـه پـر هغـو اعمالـو کېـږي چـې خپـل مسلمانان مو په کې وژل کېږي. داسې ښکاري چې د کتاب مؤلف به همدغو بحثونو ته په کتو سره خپل کتـاب ليکلی وي، په تېره بيا که دې ته وګورو چې د کتاب د تأليف په وخت کې په افغانستان کې طالبانو او القاعـدې د نامسلمانانو پر ضد نه، بلکې د افغان مجاهدينو د ځينو ډلو په مقابل کـې جنګېـدل او دا پوښـتنه کېـده چـې داسې جنګ به څنګه منو.

د المهاجر لپاره بحث ته د ورننوتلو ور، د هېوادونو په اړه پرېکړه ده. پـه همـدې وجـه يـې د خپـل کتـاب لـومړي فصل ته "دُورالحرب" عنوان ورکړی دی، يعنې دارالحربونه. هغه لومړی په آيتونو او حديثونو استدلال کوي او بيا د پخوانيو فقيهانو پرېمانه نقل قولونه را اخلي او دا نتيجه راباسي چې: "**د کـافرانو هـر هېـواد چې د هغـوی او مسلمانانو تر منځ کوم تړون نه وي، دارالحرب دی، ان که مسلمانانو ته هېڅ زيان او آزار هم ونه رسوي.**" (هماغه: ۲۲) او وايي: "**فقيهانو په ښکاره او اتفاق سره دا نقل کړی دی چې د کافرانو قتلول او لـه کـافرانو سره جنګېدل د دوی په خاورو کې، ان که مسلمانان يې هېڅ آزار کـړي هـم نـه وي، مجـاز نـه، بلکـې واجـب دي.**" (هماغه: ۲۵) هغه د خپلې دغې دعوې د اثبات لپاره نېـغ پـه نېغـه د فقهـې لـه کتـابونو او د حـديثونو لـه شرحـو څخـه نقـل قـول کـوي. هغـه دا خـبره هـم کـوي چـې: "**د مسـلمانانو پـه دې بانـدې اجماع ده چې د مسلمانانو لپاره دارالکفر دار اباحت دی، يعنې که مسلمانان له امان اخيستلو پرته ورننـوځي، د کـافرانو پـر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سر او مال هر رنگه او په هره بڼه تعرض چې وغواړي، ورته جایز دی.**" (هماغه: ۲۷) بیا د دې لپاره چې د مسلمان مېشتو هېوادونو کار معلوم کړي چې په کومه ډله کې راځي، وايي: "**د اهل علم او امامانو جمهور په دې باور دي چې هر کله چې په دارالاسلام کې د کفر احکام عملي شي، هغه به په دارالکفر اوړي او بل هېڅ شرط نه غواړي.**" (هماغه: ۲۰) او استدلال پر دې کوي چې پر مصر- او مراکش د عبیدیونو – د فاطمي حکومت یوه سلسله – د ولکې په وخت کې د مغرب علما اجماع وکړه چې دا هېوادونه [مصر- او مراکش] دې دارالکفر او دارالحرب وي، دا ځکه چې هغو کفر ښکاره کړی و او د شریعت ځینې احکام یې ځنډولي وو. (هماغه: ۲۱)

که د هېوادونو مسئله معلومه وي، نو بیا د بنيآدمانو وار وي چې په اړه یې حکم وشي. د کتاب دوهم فصل همدا موضوع را اخلي. د مؤلف په باور، خلک دوه ډلې دي: مسلمان او کافر. کافران هم دوه ډولې دي: اکثره کافران عادي کافران دي چې نه یې ځانونه خوندي دي او نه یې مال، بله ډله یې اقلیت کافران دي او دا هغه کافران دي چې د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې ژوند کول او جزیه ورکول یې منلي دي، یا یې د متارکې او اوربند تړون کړی دی، او یا یې د مسلمانانو خاورې ته د ورننوتلو اجازه اخیستې ده او امان ورکړل شوی دی. (هماغه: ۳۰) د دې حکم شرعي دلیل دا دی چې: «**له کافرانو سره جنګ، د هغوی د کفر جزا ده. په هغو نصوصو کې چې مخکې مو یاد کړل، وینو چې هر حکم په هماغه صفت پورې تړاو لري چې دا حکم تر مشتق شوی دی [کفر] او د دې معنا دا ده چې هغه صفت د دې حکم علت دی، کله چې یې حکم په مشرکانو، کافرانو، د دین تارکانو، او حق نه منونکو پورې تړلی دی، نو پوهېږو چې د حکم علت هماغه شیان وو، او له هغوی سره جنګ هم په هماغو دلیلونو شوی دی، نو هر څوک چې د اسلام دین ته تابع نه شو، سر او مال یې مباح دی، مګر دا چې اهل اسلام ورته امان ورکړی وي، له دې پرته هېڅ مصؤنیت به یې نه وي.**» (هماغه: ۳۲) وروسته بیا ډېر آیتونه نقلوي او د دې لیدلوري د تأیید لپاره د ځینو مفسرانو نظرونه را اخلي او وايي: «**نو، د محکمو قرآني آیتونو پر اساس، د خدای په دین او شریعت کې کفر او د چا د سر او مال مباح کېدل دومره سره نژدې دي چې تر منځ یې هېڅ درز نشته او هېڅ کافر له دې څخه مصؤن نه دی مګر هغه چې اسلام ورته د ذمه، اوربند یا امان ورکولو له لارې مصؤنیت ورکړي.**» (هماغه: ۳۴) په دې خبرې پسې وروسته، ځینې حدیثونه نقلوي او داسې نتیجه ترې راباسي: «**نو، د شریعت حکم د هر هغه چا په حق کې چې سر وغړوي او د اسلام له منلو یا ورسره له سولې کولو تکبر وکړي، د مصؤنیت په لرې کولو او د هغوی د سر او مال په مباح کولو سره ذلت او خواري ده.**» (هماغه: ۳۶) بیا نو د شافعي، قرافي، ابن قدامه او ځینو نورو فقیهانو قولونه را اخلي او وايي: «**او نقل شو چې په دې اړه اجماع شته چې د کافر وینه مباح ده،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که یې امان نه وي اخیستی [...] او دې ټولو خبرو ته په کتلو سره، د غیر معاهد کافر وینه هدر ده او هېڅ اهمیت او ارزښت نه لري، او دا د اهل حق د ټولو کسانو خبره ده.»** (هماغه: ۳۷-۳۸). وروسته له دې چې د دې ادعا لپاره مفصل استدلال کوي، ځینې داسې نازکې فقهې خبرې چې ځینو فقیهانو کړې دي، نقلوي، مثلاً: که چېرې څوک په داسې وضعیت کې وي چې له ناچارۍ به د مردار شوي حیوان غوښه وخوړای شي خو هېڅ شی نه وي چې ویې خوري، یو حنبلي فقیه د ابن مفلح په نوم، په دې اړه ویلي دي: «**که یې له مباح الدم انسان لکه حربي کافر یا محصن زناکار (چې حکم یې سنگسار دی) پرته بل څه ونه موند، نو دا ورته حلال دي چې هغوی ووژني او ویې خوري، ځکه چې هغوی حرمت نه لري، او که د هغوی مړي ومومي، هر گوره د خوړلو حق یې لري.**» (هماغه: ۴۲) خو د دې لپاره چې د حربي کافر د صفت په اړه ابهام لرې کړي، ټینگار کوي چې: «**حربي صفت چې د فقیهانو په تېرو متونو کې تکرار شوی دی، مطلب یې هغه کافر نه دی چې له مسلمانانو سره دې په واقعي جنگ کې وي، بلکې هر هغه کافر یې مطلب دی چې اهل اسلام ورته امان نه وي ورکړی [...] نو حربي کلمه د قید حیثیت نه لري، بلکې د حکم حیثیت لري، یعنې هر کافر چې مسلمانانو امان نه وي ورکړی، ذاتاً حربي دی، که یې په جنگ لاس پورې کړی وي، که یې جنگ نه وي کړی.**» (هماغه: ۴۳)

اوس نو چې هر کافر له ځینو استثنایي موردونو پرته، حربي کافر دی او پر حربي کافر حمله هم روا ده، نو دا به لازمه وي چې تر حملې مخکې اول هغه اسلام ته دعوت کړو؟ مؤلف په درېم فصل کې همدا موضوع راسپړي. لومړی ټکی چې دی د فقیهانو په قول ټینگار پرې کوي، دا ده چې اسلام ته دعوت یوازې حقیقي دعوت نه دی بلکې کېدای شي حکمي دعوت وي، یعنې کله چې دین په نړۍ کې خپور شوی او نور پرې خبر شوي دي نو دا پخپله اسلام ته دعوت دی او کولی شي د حقیقي دعوت ځای ونیسي. (هماغه اثر: ۴۹، له البحر الرائق څخه نقل) هغه په ډاگه وایي چې: «**همدا چې کافران د اسلام په باره کې واوري، هغه که په هره بڼه وي، حکمي دعوت پوره کېږي.**» (هماغه اثر: ۵۰) یعنې د اسلام د نوم اورېدل، په هره بڼه چې وي، اسلام ته له دعوت سره یو شان دي. ورپسې وایي چې د ځینو فقیهانو په نظر، دا خبره چې تر حملې او جگړې مخکې اسلام ته دعوت کول واجب دي، په صدر اسلام پورې مختصه ده او وروسته تر دې چې دین په دنیا کې خپور او پراخ شوی دی، تر جگړې مخکې دین ته د دعوت شرط خپله معنا بایللې ده... هو، که داسې وگړو چې لا به هم داسې څوک پاتې وي چې د اسلام نوم یې نه وي اورېدلی، نو تر حملې مخکې لازمه ده چې لومړی اسلام ته دعوت شي. (هماغه اثر: ۵٦) خو بیا له سره ټینگار کوي چې: «**په اوسني دور کې چې د اسلام دعوت شرق او غرب ته رسېدلی دی او له دښمنانو سره د اسلام جگړه د خلکو د هرې شېبې کیسه ده او دنیا هم د کلي غوندې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شوې ده، نو دا به له امکانه لرې وي چې لا دې هم داسې کس پیدا شي چې د اسلام نوم یې نه وي اورېدلی.**» (هماغه اثر: ۵۷) ښه نو، که داسې کس وي چې لا یې د اسلام نوم نه وي اورېدلی او د مسلمان په لاس ووژل شي، حکم به یې څه وي؟ دا مؤلف د مختلفو مذهبونو د فقیهانو له قوله وایي چې مسلمان په دې کې هېڅ مسؤلیت نه لري. وروسته بیا له ابن مفلح څخه نقل کوي چې: «**د غیرمسلمانانو له وژلو څخه منع کول، په دې کېږي چې مسلمانان کولی شي هغوی غلامان کړي او ګټه ترې واخلي.**» (هماغه اثر: ۵۹) دا خبره هم پرې زیاتوي چې د فقهې په ځینو کتابونو کې چې په دې اړه قیود وضع شوي دي، د جهاد په ټولو ډولونو پورې اړه نه لري، بلکې: «**دغه ټولې «خوګانې» چې د حربي کافرانو د دعوت په اړه شته، د طلب جهاد [یرغلیز جهاد] پورې اړه لري، یعنې هغه مهال چې مسلمانان د هغوی پر هېوادونو حمله کوي، نه دفاعي جهاد.**» (هماغه اثر: ٦٠)

د محارب کافر ترور کول روا دي؟ مؤلف د توبې سورت پر دغه آیت "وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ" یعنې «او په هر کمین کې د هغوی د لارې پر سر کېنئ» او د ځینو پخوانیو او معاصرو مفسرانو پر قول استدلال کوي او وایي: «**دغه آیت د کمین نیولو مشروعیت تصریح کوي، او بلکې امر کوي چې په ټول ځواک سره به یې عملي کوو، نو دا پخپله صریح نص دی چې په ترور کولو او هره ممکنه لاره د کافرانو د سرونو رېبل مشروع کوي.**» (هماغه اثر: ٦٦) هغه د دوو عربي کلمو د توپیر په اړه بحث کوي، یوه یې «فتک» او بله «غلیه» ده. دی د ابن اثیر خبره نقلوي: «**فتک د چا ځای ته ورننوتل او د هغه وژلو ته وایي، په داسې حال کې چې هغه ناخبره وي. غلیه د چا غولول او بیا په یوه پټ ځای کې د هغه وژل دي.» بیا مؤلف وایي: «او په پاک شریعت کې دا دواړه عملونه د هغو کسانو په حق کې مقرر شوي دي چې له خدای او پیغمبر او دین سره یې جنګېږي او خلک د هغه له لارې راګرځوي، دا په دې چې ځمکه د هغوی له کثافت څخه پاکه شي.**» (هماغه اثر: ٦٧) او د یهودي کعب بن اشرف د قتل پېښې ته په اشارې سره وایي: «**له دې کار څخه پوهېږو چې د حربي کافر ایهام او په مختلفو لارو او رودو د هغه غولول، البته د امان ورکولو له تصریح څخه پرته، مشروع عمل دی چې هغه اعتماد او اطمینان پیدا کړي. دا په دې چې کافر ته مو لاس ورسېږي او چاره یې وکړای شو او جزا یې ورکړو.**» (هماغه اثر) هغه د دې نظر د قوت لپاره د پیغمبر دغه حدیث چې وایي "الحرب خدعة" یعنې جنګ غولول دي، دلیل راوړي او وایي: «**په دې کې شک نشته چې دښمن ته د رسېدو او د هغه د تاواني کولو لپاره د غولولو تر ټولو مهمه او مؤثره وسیله ترور دی.**» (هماغه اثر: ٦٨) دی سربېره پر دې چې د کعب بن اشرف د وژلو پر پېښې استناد کوي – چې دوو صحابه‌وو هغه وغولاوه او بیا یې وواژه – د یهودانو د یو بل مشر د وژلو قضیه هم یادوي. دا سړی سلام بن الحُقَيق و چې په صدر اسلام کې د ابی رافع په نوم یوه صحابي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترور کړ. هغه وايي: «**د پيغمبر يارانو، چې خدای دې لـه هغـوی څخـه خوشحاله وي، د کـافرانو د مشرانو پـه ترورولو کې له يو بل سره سيالي کوله او هڅه يې کوله چې تـر يـو بـل مخکـې شي، د خـدای او رسـول د خوشحالولو لپاره او دا هغه څه دي چې هر سيالي کوونکی بايد په کې هڅه وکـړي.**» (هماغـه اثـر: ۷۵) خـو هغه حکم چې په صدر اسلام کې اجرا شوی و، اوسني زمان ته سرايـت کـولی شي؟ مؤلـف دلتـه د دې حکـم د تأييد لپاره د شيخ عبد الرحمن الدوسری ځينې خبرې نقلوي. دا خبرې د "إِيَّـاكَ نَعْبُـدُ وَإِيَّـاكَ نَسْـتَعِينُ" آيـت د تفسير خبرې دي چې خدای ته د بنده‌ګۍ او مراتبو په اړه يې وايي: «**هغه عبادت کوونکی چې د جهـاد ټينګـه اراده يې کړې ده، هغه به د کافرانو هغه مشران چې خلک الحـاد او ابـاحي چـارو تـه رابـولي، تـرور کـوي، دا هماغه کسان دي چې پر الهي وحي ملنډې وهي او د دې حنيف دين پر ضد خپل قلمونه او تبليغات کاروي، ځکه چې دا کار د خدای او پيغمبر د آزار سبب کېږي. د ځمکې په هيڅ ګوټ کې، نه د مسلمانانو د خواصـو او نه يې د عوامو لپاره جايز دي چې داسې کسان دې ژوندي پرېږدي، ځکه چې دوی تر ابن ابـی الحقيـق او نورو هغو کسانو زيات زيان رسوونکي دي چې د خدای پيغمبر يـې د تـرور کولـو امـر ورکـړی و. نـو پـه دې وخت کې د هغوی د وارثانو پرېښودل، د پيغمبر د امر ځنډول او د خدای په عبوديت کـې نـاوړه خلـل دی، او دا به هغو ويجاړوونکو تبرونو ته چې د الهـي ديـن ريښـې وهـي، د خپـل کـار د کولـو اجازه وي، او دا کـار څوک نه شي کولای، مګر دا چې د خدای په دين باندې غيرت يې بايللی وي او د خـدای د رضـا کولـو لپـاره غضب ونه لري، او دا له خدای او پيغمبر سره په مينه او تکريم کې لوی نقص دی، او هغه څوک چې غـواړي د خدای عبوديت په صحيحه او مطلوبه معنـا وکـړي، دا کـار څـوک نـه شي کـولی.**» (هماغـه اثـر: ۷۵-۷۶ د صفوة الآثار و المفاهيم له کتاب څخه نقل) مؤلف هغو کسانو ته چې په چل او غولولو سره د محاربو کافرانو وژل نقدوي او دا کار خيانت ګڼي، ګوته څنډي او وايي چې دا لويه ګناه ده او بايـد ځـان ورنـه وسـاتي: «**څـوک چـې داسې عمليات چل او خيانت بولي او وايي چې اسلام يې تحريموي او شريعـت يـې مخـالف دی، پـه حقيقـت کې پر خدای تور لګوي او کتاب او سنت دروغ ګڼي او د پيغمبر صلی اللـه عليـه و سـلم فرمـان يـې مـردود بللی او داسې ګناه يې کړې ده چې په دنيا او آخرت کې به يې د هلاکت سبب شي.**» (هماغـه اثـر) دا خـبره هم پرې زياتوي چې: «**د اهل بدعـت ځينو کسانو ويلي دي چې د کافرانو ترور کول هله مشروع کېـږي چـې اسلامي دولت وي او د دولت په سر کې د مسـلمانانو شرعـي رهـبر وي ... مخکـې د دې کتـاب پـه لـومړي فصل کې راغلي دي چې د جهاد د اقامې لپاره يو باطل شرط چې ځينو له ځانه جوړ کړی دی، د جهاد لپاره د رهبر د شتون شرط دی او هلته دا خبره توضيح شوې ده چې داسې خـبره د اهـل علـم لـه هغـو خـبرو څخـه بېخي وتلې ده چې په بحث ارزي.**» (هماغه اثر: ۷۷) دلته چې رهبر ياد شوی، او پخوانيو فقيهانو به امام باله او ځينې کسان د جهاد د اقامې لپاره د هغه شتون شرط ګڼي، منظور يې هغه حاکم دی چې اجرايي ځواک ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قانون تطبیق کړای شي او د خلکو امنیت وساتلی شي. د دې فقیهانو منظور دا و چې افراد او ډلې حق نه لري چې پخپل سر مسلحانه عمل وکړي او جهاد یې وبولي. دا هماغه شی دی چې نن سبا د قانون حاکمیت بلل کېږي او په کې د قهریه قوې استعمال د دولت انحصاري حق دی. مؤلف دغه نظر سخت غندلی دی.

د استشهادي عملیاتو مشروعیت چې مخالفان یې انتحاري عملیات بولي، په هغو مسایلو کې راځي چې سختې مناقشې او ډېرې نیوکې ورباندې کېږي. مؤلف وایي چې دا نیوکې د دیني نصوصو «پر ظاهر د جمود» له وجې دي {!}، نه پر دیني نصوصو د غور او فکر له وجې [مطلب یې دا دی چې دا منتقدان یوازې د متن ظاهري اړخ او ظاهري معنا ته ګوري. ژباړن]. دا سمه ده چې دا ډول عملیات په همدې بڼه پخوا نه وو خو دې ته ورته عملیات چې په معنا او محتوا کې ورسره یو شان دي، په پخوا کې وو او مسلمانو فقیهانو تأیید کړي وو. د مؤلف په نظر، د دې ادعا د اثبات لپاره ځینې دلیلونه شته، مثلاً: یو یې د دښمن د صفونو په منځ کې د مسلمان جنګیالي د ورننوتلو جواز دی، په داسې حال کې چې یقین لري چې په دې حمله کې به خامخا وژل کېږي او دا خبره له ګڼو آیتونو او حدیثونو معلومولی شو. دوهم یې د دښمن د صفونو په منځ کې د حملې او د هلاکت د خطر د قبلولو په اړه د علماوو اجماع، دریم یې د دې کار مشروعیت چې د خپلې دینداری د ښودلو لپاره ځان خطر ته ورکولی شو. خو دا چې انتحار او ځانوژنه په اسلام کې حرام ګڼل شوي دي، علت یې هغه عوامل دي چې د دې کار تر شا پراته دي، ځکه چې په ځانوژنه کې اصلي عامل له ژوند څخه ناهیلي، د درد او رنځ نه زغمل، او داسې نور عوامل دي او دا له استشهادي عملیاتو څخه ډېر توپیر لري، مجاهد د خدای د رضا د حاصلولو او دښمن ته د ضربې ورکولو او د مجاهدینو د روحیې د قوي کولو لپاره استشهادي عمل کوي. (هماغه اثر: ۱۰۱)

که د حربي کافرانو وژل جایز دي، استثنا به هم په کې وي؟ مؤلف وایي: «**ټول فقیهان او امامان په دې خبرې سره سلا دي چې هر حربي کافر چې د جنګېدلو وس لري، په ښه کول یې جایز دي، دا مهمه نه ده چې په جګړې یې لاس پورې کړی وي، که نه.**» (هماغه اثر: ۱۱۹) په دې برخه کې یوازې مېرمنې، ماشومان، له پښو غورځېدلي بوډاګان، په بستر کې پراته بیماران، راهبان او هغه مزدوران چې په جګړه کې دخیل نه وي، مستثنا دي خو د دوی د وژلو په اړه هم اختلاف شته. اصل دا دی چې کافر مباح الدم دی، خو د دې کسانو قتل په دې ناروا دی چې دوی د مسلمانانو سرمایه او د ګټې وټې شیان دي او وژل به یې دا سرمایه تلف کړي. (هماغه اثر: ۱۴۷) نو هغه اصطلاح چې نن سبا د مدني یا غیر نظامي وګړو په نامه جوړه شوې ده او ویل کېږي چې په جګړه کې باید د هغوی له وژلو څخه ډډه وشي، په اسلامي شریعت کې اساس نه لري. (هماغه اثر: ۱۴۰) خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان همدا استثنايي موردونه هم په خاصو حالتونو کې د وژلو جواز لري، لکه: شبخون (د شپې په تروږمۍ کې پر دښمن حمله کول)، يا له هغوی څخه د مسلمانانو په مقابل کې د ډال غوندې کار اخيستل. (هماغه اثر: ۱۵۷)

کله چې اصل د حربي کافرانو وژل دي نو «**د خدای مجاهد بنده‌گان چې د هغه د کلمې د لوړولو لپاره جهاد کوي، حق لري چې حربي کافران په نښه کړي، ويې وژني او په هره وسيله چې هغوی وژلی شي، ورسره وجنګېږي چې ځمکه د هغوی له کثافته پاکه شي.**» (هماغه اثر: ۱٦۳). که لازمه وي چې هغوی اور ته واچول شي يا په اوبو کې ډوب کړل شي، نو هېڅ مانع ورته نشته. (هماغه اثر: ۱۷۱) نو: «**دا ثابته شوه چې په جهادِ طلب کې د حربي کافرانو په نښه کول او په هره وسيله د هغوی وژل مشروع دي، ان که د هغوی د وژلو وسيله ګڼ وژونکې وسلې لکه اټومي، کيميايي او بيولوژيکي او داسې نورې وسلې وي، بيا هم هماغه خبره ده ...**» (هماغه اثر: ۱۸۷) که د حربي کافرانو د وژلو لپاره د داسې وسلو د کارولو په وخت کې، هلته د دوی په منځ کې مسلمانان هم وي، نو څه به کوو؟ مؤلف وايي: «**بې له شکه، د بې‌ګناه مسلمان وژنه مفسده {ناروا} ده، خو په داسې لويې مفسدې لاس پورې کول روا، بلکې لازم دي. دا په دې چې تر دې لويه مفسده، چې هېڅ مفسده تر هغې لويه نه ده، دفع شي او دا خورا لويه مفسده د جهاد تعطيل او ځنډول دي.**» (هماغه اثر: ۱۸۹) د دښمنانو د وژلو په ترڅ کې د بې‌ګناه مسلمانانو وژل ځکه روا دي چې: «**شريعت بيان کړې ده چې دين تر سر او مال او عقل او عزت لوی دی، ځکه چې په پنځو اساسي ضرورتونو کې، دين تر ټولو لوی ضرورت او د ټولو ضرورتونو بنسټ دی.**» (هماغه اثر: ۱۹۱) نو هغه مسلمانان چې دښمنان يې د انساني ډال په توګه کاروي، د هغوی وژل هېڅ مانع نه لري، بلکې که لازمه وي، ضروري هم دي (هماغه اثر: ۱۹٦) که له حربي کافرانو سره په جنګ کې د بې‌ګناه مسلمانانو وژل جايز وي، په لومړۍ طريقې سره د دښمن د تأسيساتو او ملکيتونو ويجاړول او د هغوی د خاورو ورانول جايز دي، ځکه چې خدای د حشر د سورت په پنځم آيت کې اشاره کوي چې: "ما ترکتم من لينة أو ترکتموها قائمة علی أصولها فبإذن الله ليخزی الفاسقين" {يعنې د خرما څومره ونې مو چې پرې کړې يا مو پر خپلو ځايونو ولاړې پرېښودې، دا ټول د خدای په امر او غوښتنه وو او هغه غوښتل چې فاسقان خوار کړي} نو مجاهدانو ته د هر هغه شي د ورانولو جواز شته چې ممکن دښمن وربانديې قوي شي. (هماغه اثر: ۲۳۴) د کافرانو د اختطاف او تښتولو مشروعيت هم د توبه د سورې له پنځم آيت څخه څرګندېږي: "و خذوهم واحصروهم و اقعدوا لهم کل مرصد." {او هغوی ونيسئ او محاصره يې کړئ او کمين ورته ونيسئ} د دښمن د مُثله کولو يعنې په ژوندوني يا تر مرګ وروسته د دښمن د بدن د ځينو غړو د پرې کولو مشروعيت د انفال د سورې په دولسم آيت کې بيان شوی دی: "و اضربوا منهم کل بنان." {او ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوتې يې غوڅې کړئ} د کافرانو د سرونو د پرې کولو خبره هم په همدې آيت کې راغلې ده: "فاضربوا فوق الأعناق." {نو پر اورمېږونو يې وار وکړئ.}

که د جهاد د هدف د پوره کولو لپاره دغه ټولې چارې جايزې وي، له کافرانو څخه د اصلي دښمن په مقابل کې د مرستې اخيستل به څنګه وي؟ مؤلف وايي چې اسلامي شريعت موږ ته د دې کار اجازه راکړې ده خو خپل مشخص شرطونه او قيدونه هم لري. خو وايي چې د مرتدانو حکم له کافرانو سره توپير لري، په تېره بيا هله چې مرتدانو غليظ ارتداد کړی وی، دی وايي: «**په بدترينو مرتدانو کې چې له هغوی څخه د مرستې غوښتنه حرامه ده، باطني فرقې لکه نصيريان، دروزيان، اسماعيليان، قاديانيان، بهاييان، بابيان او نورې فرقې دي چې نومونه يې بېل بېل خو کفر او ارتداد او زندقه او له اسلام او مسلمانانو سره توره کينه يې سره يو شان دي.**» (هماغه اثر: ۳۵۱) د اسلام په تاريخ کې د مسلمانانو هغه برخه چې د خوارجو او نورو متشددو بر خلاف، د آسانۍ پلويان وو او د مسلمانۍ د اثبات لپاره يوازې د کلمې تېرول ورته کافي ښکارېدل، خپلو مخالفانو مرجئه بللي دي او نيوکې پرې شوې دي. مؤلف په دې خبره کې د ابهام د لرې کولو لپاره وايي: «**{د دوی په منځ کې} د ننيو مرجئه‌ګانو غاليان (افراطيان) جهمي‌ګري کوي او د دوی فاسده عقيده د دې سبب کېږي چې د خدای له دښمنانو سره دوستي او د خدای له دوستانو سره دښمني وکړي او د شرک او مشرکانو د برياليتوب سبب کېږي، تر دې پورې چې له مؤمنانو سره جنګ او له کافرانو او مجرمو طاغوتانو سره سوله کوي، او په خپلو تاويلاتو سره په ښکاره له کافرانو سره مرسته کوي، دغه تاويلات که څه شی راښيي، نو د دوی لويه بدبختي به راوښيي...**» (هماغه اثر: ۳۵۹) د هغو مسلمانانو جاسوسانو حکم چې کافرانو ته جاسوسي کوي، هم قتل دی. (هماغه اثر)

که په جنګ کې ځينې کافران اسيران شي، څه به کوو؟ مؤلف وايي چې د کافرو اسيرانو په اړه اصل د هغوی وژل دي او دا واجبه ده چې د کافرانو د شوکت تر ماتولو مخکې، هر يرغمل شوی کافر ووژل شي (هماغه اثر: ۴۲۳) «**ځکه چې په اول سر کې سختې وژنې د دې لپاره وي چې د دښمن ځواک او شوکت مات شي او وروسته بيا د اسارت وار رارسېږي، او د دې کار حکمت څرګند دی، ځکه چې د جنګ لومړنی هدف دا دی چې پر اسلام بريدکوونکی او له اسلام سره جنګېدونکی ځواک بايد دفع شي، په تېره بيا هله چې مسلمانان په شمېر کې کم وي او کافران ډېر، او د دښمن د هر جنګيالي وژل د جنګي قواوو پر توازن ښکاره اغېزه ولري.**» (هماغه اثر: ۴۲۸) تر هغې وروسته بيا د جهاد رهبري «**اختيار لري چې د اسيرانو په اړه تصميم ونيسي چې ويې وژني، غلام يې کړي، جزيه ترې واخلي، د پيسو په بدل کې يې آزاد کړي يا ورباندې احسان وکړي او خوشې يې کړي.**» (هماغه اثر: ۴۳۰) خو که کافر اسيران «**هغه کسان وي چې پخوا مسلمانان وو او**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وروسته مرتد شوي دي، حکم يې بېل دی، ځکه چې دوی يا بايد مسلمان شي او يا ووژل شي.**» (هماغه اثر: ۴۵۵) او که مرتد داسې کس وي چې غليظ ارتداد يې کړی وي، يعنې دا چې پر ارتـداد سربېـره يـې اسـلام تـه سپکاوی کړی وي او له اسلام سره په دښمنۍ کې يې مهمه ونډه لرلای وي، ان که تر اسارت وروسـته توبـه هـم وکړي، وژل يې مشروع دي. (هماغه اثر ۴٦۳) همدارنګه که د جهاد په مصـلحت وي، حـربي کـافران پـه خـاص ډول شکنجه کولی شو (هماغه اثر: ۴٦۸) همدا شـان «**د حـربي کـافرانو جسـدونه هـر رقـم مـو چـې زړه وي، ايسته غورځولی شو ... ځکـه چـې حـربي کـافران پـه ژونـدوني کـه حرمـت نـه لـري نـو کلـه چـې د خدای د مجاهدو بنده‌ګانو په لاسونو مردار شي، بې له شکه چې هېڅ حرمت به نه لري.**» (هماغه اثر: ۴۷٦)

مخکې تر دې چې د قرضاوي ليدلورى راوسپړو، دا خبره به وکړو چـې د ابـو عبداللـه المهـاجر ټـولې خـبرې پـر شرعي دليلونو استناد لري او د مختلفو دورو د ډېرو فقيهانو پر نقل قولونو تکيه لري او هغه خپل شخصي نظرونه په ندرت سره په کې ځای کړي دي. د کميت له پلوه، ويلی شو چې د ده د کتاب نوي فيصده نقل قولونه دي او يوازې لس فيصده يې پخپله د مؤلف نظرونه دي چې عمده نظرونو ته يې اشاره وشوه. خو، دا چې په دې مقالـه کې د ده د ټولو استدلالونو لپاره ځای نه و، نو د هغه د نظرونو نچوړ چې د اسلام د تاريخ د ګڼو فقيهانو ليدلوري ښيي، را اخيستل شوی دی. (6)

## منځلارې فقه د توندلارې فقهې په مقابل کې

قرضاوي له پيله ټينګار کوي چې د جهاد موضوع د مناقشې موضوع ده، ځينـو ډلـو پـه کـې افـراط کـړی دی او ځينو تفريط. هغه هڅه کوي چې منځنی نظر چې د ده په باور د اسلام سم تعبير دی، وړاندې کړي. هغه وايي: «**د جهـاد حقيقـت د دوو ډلـو يعنـې د افـراط او تفـريط تـر منـځ تـر ښـو لانـدې کېـږي، يـوه هغـه ډلـه چـې غـواړي {د مسلمانانو په فرهنګ کې} جهاد مړ کړي او بله هغه ډله چې له ټولی نړۍ سره جنګ اعلانـوي.**» د قرضاوي په باور، منځنۍ لاره دا ده چې: «**د دې موضوع {جهاد} په اړه اساسي څېړنه وشي او د قرآن او سنت خپلو ټينګو اصـولو تـه وروګرځول شي، او د دې موضوع او د تعبيرونو په اړه يې بيا فکر او تدبر وشي، په دې کار کې بايد د دين د اصولو او د شريعت د مقصدونو ، همدارنګه د علمي او عقلي مسلماتو او منل شـويو قواعـدو پـه رڼا کـې د پخوانـو وينـاوې بيا وڅېړل او وارزول شي، او قوي نظرونه يې غوره وګڼل شي، بې له دې چې يوازې په هغو خبرو بسنه وشي چـې د هـر چا په خوله کې دي، ځکه چې ډېر ځله داسې کېږي چې د ځينو نظرونو شهرت د دې سبب کېږي چې لوستونکی فکر وکړي چې يوازينی نظر همدا دی او په دې اړه بل هېڅ نظر نشته، حال دا چې که مطالعه وکـړي او مختلـف ليدلوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وارزوي چې غوره يې معلوم کړي، بيا به ورته ښه روښانه شي چې په هغه مسأله کې لوی اختلافونه شته او هغه څه چې مشهور شوي دي، خامخا تر ټولو قوی او تر ټولو سم نظرونه نه دي.»** (قرضاوي، فقه الجهاد، 30)

قرضاوي په دې کې باک نه لري چې مقابله ډله "المتطرفين" يعنې توندلارې وبولي. هغه په دې باور دی چې: **«د دوی عمده تاوان دا دی چې په تېر کې اوسېږي، نه په حال کې او د کتابونو په نړۍ کې ژوند کوي، نه د واقعيت په نړۍ کې.»** (هماغه اثر: ۴۲) هغه ځينې توندلاري چې سره تنظيم شوي دي، د "جماعات العنف" په نوم يادوي يعنې هغوی خشونتپالې ډلې بولي. دی د ځينو داسې ډلو نومونه اخلي او د فقهې په اړه د هغوی تصور نقدوي: **«خشونتپالې ډلې لکه جماعت الجهاد، الجماعة الاسلامية، جهادي سلفيت، جماعت انصار الاسلام، او القاعده {...} {په خپلو فقهي انګېرنو کې} محکمات پرېږدي او متشابهات راټينګوي، له کُلياتو تېرېږي او پر جزئياتو تکيه کوي، پر مقاصدو سترګې پټوي او په ظواهرو منګولې لګوي، او هر شی چې د ظواهرو خلاف وي، څنډې ته يې پورې وهي، هغه که شرعي نصوص وي او که فقهي قواعد، او ډېر ځله دليلونه په داسې ځايونو کې کاروي چې اصلي ځايونه يې نه وي او دليلونه له خپلو اصلي سياقونو او چوکاټ څخه راباسي، خو په هر حال، هغوی د خپلې ادعا فقه لري چې خشونت توجيه کړي او د پخوانو له فقهي ميراث سره يې وتړي. دوی غواړي خپله فقه په شرعي نصوصو تقويه کړي او د ځينو خام فکرو ځوانانو او برسېرنو شيانو ته کتونکو خلکو په منځ کې باب کړي. دوی خپل نظر د داسې خلکو په منځ کې رواجوي چې د مسايلو په سطح کې پاتې کېږي او د عمق په څېړلو کې يې پاتې راځي. د دې فقهې اساس هماغه د پخوانيو خوارجو فقه ده، هماغه ډله چې قرآن به يې لوسته خو قرآن به يې له حنجرو څخه هاخوا نه تله.»** (هماغه اثر: ۱۱۳۲-۱۱۳۳) د قرضاوي په نظر، د خوارجو د فقهې نيمګړتيا په څو شيانو کې ده: **«د جهاد په فقه کې نيمګړتيا، له نامسلمانانو – په تېره بيا له اهل ذمه - سره د اړيکو په باره کې نيمګړتيا، په زور سره د منکراتو د تغييرولو په فقه کې نيمګړتيا، د حاکمانو پر ضد د قيام په فقه کې نميګړتيا، او بالاخره د تکفير په فقه کې نيمګړتيا.»** (هماغه اثر: ۱۱۴۲) قرضاوي په دې برخه کې د علي بن نفيع العلياني په نوم د يوه ليکوال نظرونو ته اشاره کوي چې د "اهمية الجهاد فی نشر الدعوة الاسلامية" په نوم کتاب يې کښلی دی او دا کتاب اصلاً د هغه د دکتورا رساله ده چې د مکې مکرمې د ام القری پوهنتون ممتازه درجه ورکړې ده. قرضاوي د هغه ځينې نظرونه – چې د ابو عبدالله المهاجر ليدلوري ته ورته دي – را اخلي او بيا ليکي: **«هغه تاوان چې دا ليکوال او د ده په شان نور کسان يې اسلام ته رسوي، تر هغه زيان خورا زيات دی چې د اسلام ښکاره دښمنان يې رسوي، او داسې خلک بې له دې چې وپوهېږي، د اسلام دښمنانو ته خدمت کوي، ان د ميسحيت د مبلغانو او مبشرانو تر خدمتونو زيات. دوی په هماغه لاره چې غواړي دين ته ګټه ورسوي، تاوان وراړوي او له هماغه ځايه چې دين بايد آباد کړي، ورانوي يې؛ پخوانو لا ويلي دي چې هوښيار دښمن تر ناپوهه دوست ښه وي، او لا عجيبه خو دا ده چې دا بند ذهنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انسان د دې دور هغه علما او دعوتگران چې د اسلام د حقايقو دفاع او د اسلام د دښمنانو باطلې خبرې ردوي، په دې تورنوي چې گواکې دوی د استعمار روزل شوي کسان دي.**» (هماغه اثر: ۲۷۲)

قرضاوي د خشونتپالو د فقهې په وړاندې د فقهې داسې نمونه وړاندې کوي چې د اجتهاد رنگ او بوی لري، نه دا چې يوازې دې د پخوانو پل واخلي. هغه د داسې فقهې په اړه وايي: «**حقيقي فقه دا نه ده چې له دې کتاب او هاغه کتاب څخه نقلونه وکړو، ځکه چې کتابونه د خپل وخت او خپل خاص چاپېريال د وضعيت استازي دي. حقيقي فقه دا ده چې فقيه دې د خپل زمان او مکان او جهان لپاره اجتهاد وکړي، هماغسې چې پخوانيو د خپل وخت او مکان او جهان لپاره اجتهاد کړی و، ځکه څه چې د يوه وخت لپاره مناسب وي، د بل دور لپاره هم خامخا مناسب نه وي؛ او څه چې د يوه محيط لپاره ښه وي، د بل محيط لپاره به خامخا ښه نه وي.**» (هماغه اثر: ۳۷) خو څنگه مو چې وليدل، ابو عبدالله المهاجر هم پر انتحاري عملياتو باندې د انتقاد په باره کې شکايت کاوه چې دغه انتقاد پر ظاهر د جمود او د شريعت پر مقصدونو د نه غور کولو په وجه کېږي!

## جهاد فرض دی؟

قرضاوي په هماغه تگلاره چې مخکې ورته اشاره وشوه، د جهاد موضوع راسپړي او هڅه کوي چې په خپل فقيهانه پوهې سره د دې موضوع باريکۍ راوسپړي چې د توندلارو له لاسه دغه وسله واخلي. په هغو خبرو کې چې دی يې په ټينگار سره وايي، يوه دا ده چې: «**جهاد د ځينو مقصدونو او هدفونو لپاره وسيله ده، نه دا چې پخپله دې هدف او مقصد وي.**» (هماغه اثر: ۱۳۳۵) هغه توضيح کوي چې د وسيلې اهميت د هدف تر اهميته کم وي او که هغه هدف په نورو وسيلو پوره شي، د دې وسيلې اهميت به لا پسې کمېږي. مقابله ډله پر يوه دوديز باور تکيه کوي او وايي چې جهاد کفايي فرض دی او هر مسلمان دې په خپل ژوند کې بايد په جهاد کې ونډه واخلي او يا لږ تر لږه ورته چمتو خو دې وي. قرضاوي هغه ادعا چې مقابله ډله يې کړې ده او وايي چې په دې کې اجماع شته، ردوي او وايي چې په دې اړه هېڅ اجماع نشته، بلکې برعکس، ځينو پخوانيو فقيهانو باور درلود چې جهاد اصلاً فرض نه دی او يوازې يو مستحب او نافله عمل دی. قرضاوي وايي: «**جصاص د ابن شبرمه او {سفيان} ثوري او ځينو نورو دا خبره نقل کړې ده چې جهاد تطوعي عمل دی، نه فريضه.**» (هماغه اثر: ۷۷) ټولې جهادي ډلې او واړه سياسي اسلامکاري په پيغمبر پورې منسوب يو حديث روايت کوي چې مضمون يې دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک چې مړ شي او جهاد يې نه وي کړی او په زړه کې يې هم د جهاد نيت نه وي کړی، هغه به د نفاق د شعبو په يوه شعبه کې مړ شوی وي. قرضاوي وايي: «**عبدالله ابن مبارک په دې باره کې ويلي دي چې موږ په دې نظر يو چې دا موضوع د اسلام د پيغمبر د ژوند په زمانې پورې تړلې ده {او تر هغه راوروسته زمانې نه رانغاړي} نووي ويلي دي او څه چې ابن مبارک ويلي دي، کېدای شي احتمال يې دا وي {...} نو ځينو عالمانو ويلي دي چې جهاد يوازې پر صحابه‌وو واجب و، نه پر هغو کسانو چې تر دوی وروسته راغلي دي، څرنګه چې ابو جعفر نحاس له عطا څخه نقل کړی دی.**» (هماغه اثر: ۸۳-۸۴)

قرضاوي د دې موضوع د بيان لپاره د جهاد په اړه هغه مشهوره ډلبندي يادوي چې د «جهادِ طلب» او «جهادِ دفاع» په نوم پېژندل شوې ده. جهاد دفاع هغه حالت دی چې نامسلمانانو پر مسلمانانو حمله کړې وي. په دې حالت کې پر ټولو هغو کسانو باندې جهاد فرض دی چې دا خطر دفع کولی شي، او په دې کې هېڅ اختلاف نشته. او قرضاوي وايي چې مشروع دفاع په ټوله نړۍ کې منل شوی اصل دی او څوک پرې اعتراض نه کوي. اساسي اختلاف په جهاد طلب کې دی. جهاد طلب دا دی چې په عادي شرايطو کې، يعنې هغه مهال چې مسلمانانو ته هېڅ خطر هم نه وي، خو دوی په نړۍ کې د اسلام د خپرولو لپاره جهاد وکړي. قرضاوي وايي: «**څوک چې په مسلمانانو پورې کار ونه لري او تعرض ورباندې ونه کړي، نو مسلمانانو ته هم بويه چې غرض پرې ونه لري او بريد ورباندې ونه کړي، او که چا له مسلمانانو سره په سوله او مسالمت چلند وکړ، مسلمانان دې هم ورسره همداسې وچلېږي.**» (هماغه اثر: ۹۳) هغه دا خبره هم کوي چې: «**په خواشينۍ سره، په ډېرو خلکو کې دا نظر خپور شوی او مشهور شوی دی چې اسلام له ټولو مخالفانو سره د جګړې امر کړی دی؛ هغه که بت پالونکي مشرکان وي، که اهل کتاب {يهود او نصاری} او که له ديانت څخه منکره ملحدان؛ او که هغه ناخبره وګړي وي چې د دين په باره کې هېڅ فکر نه لري او نه د دين د اثبات په فکر کې دي، نه يې د رد په فکر کې. دا مخالفان که له اسلام سره په سوله کې پايي او که جنګ ورسره کوي، په هر حال به له دې ټولو ډلو سره تر هغې پورې جنګېږو چې يا مسلمان شي او يا په خوارۍ او ذلت سره د جزيې ورکول ومني.**» (هماغه اثر: ۲۵۷) قرضاوي جهاد طلب يو مخ نه ردوي او په خواشينۍ سره وايي چې توندلاري غواړي منځلاري په دې تورن کړي چې ګواکې له جهاد طلب څخه منکر دي. دی دا تور ناروا بولي او بيا توضيح کوي چې: «هر څوک چې د دغو منځلارو نظرونه ولولي، وبه ويني چې هغوی د طلب جهاد تأييد کړی او د دښمن په کور د ننه د جنګ کولو اجازه ورکوي خو د مشخصو هدفونو لپاره، لکه: «**د دعوت د آزادۍ تر لاسه کول او د هغې فتنې {د خلکو د شکنجې} مخنيوی چې له خلکو سره د خپلې عقيدې په خاطر کېږي؛ د هغو کسانو په مقابل کې مقاومت چې په زور د اسلامي دعوت مخه نيسي؛ د اسلامي دولت او د دولت د پولو د سلامتۍ تأمينول، که چېرې ورته خطر وي؛ د هغو کمزورو وګړو ايله کول چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دښمن يرغمل کړي دي – هغه که مسلمانان وي او که د اسلامي هېواد غير مسلمان اقليتونه؛ او د ځمکې له فاسدو او جګړه‌مارو مشرکانو څخه د عربستان د ټاپووزمې پاکول...»** (هماغه اثر: ۲۵۸ - ۲٦۰). قرضاوي، لکه څنګه چې وبه يې ګورو، د دولتونو ملي حاکميت په ځنډ سره مني، خو دا نه ده معلومه چې له دې سره سره، څنګه وايي چې که د خپلو پولو په دننه کې يې اسلام ته د دعوت اجازه نه ورکوله، بايد ورسره وجنګېږو!

په هر حال، قرضاوي باورمن دی چې زموږ په عصر کې د پخوا په پرتله د جهاد طلب ښه بدله شوې ده. د جهادِ طلب ننني بڼه چې دی يې تأييدوي، داسې ده چې: «**که مسلمانان غښتلی پوځي ځواک ولري چې د نورو ورنه سترګه وشي، پرمختللې وسلې ولري او په خورا ښه ډول روزل شوي وي، نو خپل عسکر دې په خپلو ټولو ځمکني او سمندري پولو کې خپاره کړي چې هېڅ زيان منونکی ټکی پاتې نه شي، او په هر ځای کې دې د دښمن د مخنيوي اسباب برابر کړي چې دښمنان {پر مسلمانانو د حملې له فکره} لاس په سر شي او هېڅکله پر دوی د بريد نيت ونه کړي.**» (هماغه اثر: ۱۰۵) د قرضاوي په نظر، جهاد پراخه معنا لري او وسله‌وال جهاد يې يو ډول دی. د هغه په باور، هغه يوازيني جګړه چې اسلام يې د جهاد په نوم جايزه ګڼي: «**هغه جګړه ده چې د ځانګړي هدف لپاره تجويز شوې وي او دغه هدف د خپل دين په خاطر د چا د شکنجه کولو او ځورولو منع کول، له خلکو څخه د مادي او معنوي جبر او فشار لرې کول، او د اسلام دين ته د دعوتګرانو آزادي دي.**» (هماغه اثر: ۴٦۹) قرضاوي وايي دا غلطه خبره ده چې څوک دې ګومان وکړي چې جهاد د کافرانو د ختمولو او د ځمکې له مخ څخه د کافرانو د پاکولو لپاره دی. هغه ټينګار کوي چې ابن تيميه او ابن القيم هم دا خبره تأييدوي. (هماغه اثر: ۴۰۳) که داسې وي، نو په صدر اسلام کې ولې مسلمانانو فتوحات کول؟ هغه وايي: «**هاغه جګړې د دې لپاره وې چې د اسلامي دولت د ملاتړ لپاره د خطرونو مخه ونيسي.**» (هماغه اثر: ۲۸۷) او بيا دا خبره هم کوي چې: «**هغه جګړې چې له پادشاهانو او سرغړوونکو سره کېدې، هدف يې ښکاره و او هغه دا چې د نوي دين د دعوت له مخې څخه خنډونو لرې کړي چې ملتونو ته د اسلام پيغام نېغ په نېغه ورسېږي.**» (هماغه اثر: ۲۸۷) دا د هماغه نظر پخلی دی چې وايي د دعوت د رسولو لپاره د جنګ اجازه شته!

قرضاوي د يوه معاصر عالم، شيخ محمد غزالي پر تحليل استناد کوي او وايي چې ان د اسلام د پيغمبر جنګونه هم همدغسې وو او دا نه مني چې هغه جنګونه دې محض يرغليز وي. غزالي په يوه کتاب کې، چې د حزب التحرير د مؤسس د ليدلوريو د ردولو لپاره يې ليکلی دی، جهاد يرغليزه جګړه ګڼل مردود بولي او وايي چې هغه د صدر اسلام پېښې برسېرنې څېړلې دي. شيخ تقي الدين نبهاني د حزب التحرير بنسټوال ويلي دي: «**د قريشو د کاروان د نيولو په خاطر د بدر خوا ته د اسلام د پيغمبر ورتګ، جنګ ته ورتګ و او دا يرغليز جنګ و ځکه چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قریش دولت و او د اسلام پر پیغمبر او مدینې باندې یې برید نه و کړی، بلکې دا پیغمبر و چې له هغوی سره یې جنګ پیل کړ ... {همدارنګه} کله چې پیغمبر د «مؤته» خوا ته سپاهیان په دې واستول چې له روم سره وجنګېږي او پخپله هم د روم پولې ته نژدې تبوک خوا ته د جګړې لپاره وخوځېد، دا ښځي ښکاره خبره ده چې دا کارونه د جګړې د پیلولو لپاره وو.»** شیخ غزالي دا نظر داسې رودي: «**د پېښنو په اړه داسې تصور تر ډېره ټوکې ته ورته دی، نه جدي خبرې ته، او نه پوهېږم چې د یوه انسان عقل دا څنګه مني چې له خپل وطنه د شړل شویو هغو کسانو په اړه چې د خپلې عقیدې په خاطر ځپل شوي وو، دا ادعا وکړو چې هېڅ تېری وربانديې نه و شوی ... دا خبره تر ټولو حیرانوونکې خبره ده چې په اړه یې کولی شو... د ځینو داسې صاحب نظرانو د عقل د بندوالي په وجه اسلام ته سخت زیان رسېدلی دی، دوی پېښنې تحرفوي، ان تر دې چې وایي قریش د بدر په جنګ کې او د روم استعمارګره امپراتوري په تبوک جنګ کې مظلوم وو او تېری وربانديې شوی و... زموږ پخوانیو کتابونو د یوې موضوع په باره کې خورا ډېر نظرونه راخیستي دي، ځینې یې سم دي، ځینې یې ممکن سم وي، ځینې یې معیوب، او ځینې نور یې ښځي بېمعنا دي، بیا نو ځینې کسان چې برسېرن فکر کوي، همدا نظرونه لولي او تر ټولو بېمعنا نظرونه یې انتخابوي...»** (هماغه اثر: ۲۷۷-۳۷۹)

په دې حساب، قرضاوي د جهادِ طلب یا د مسلمانانو له لوري د یرغلیز جنګ په باره کې لیکي: «**د جهادِ طلب دې ډول ته موږ په اوسنیو شرایطو کې اړتیا نه لرو، ځکه چې دا کار د ځمکې {پر مخ انسانانو} ته د اسلام د پیغام د رسولو یوازینۍ وسیله نه ده.**» (هماغه اثر: ۱۳۳۷)

**د جهاد ډولونه:**

که جهاد طلب په دې معنا چې د نامسلمانانو ملکونه فتح او بیا اسلام په کې ترویج کړي، نن سبا د کولو نه دی، نو د جهاد نور ډولونه شته چې باید ویې کړو؟ قرضاوي وایي چې جهاد یعنې: «**د حقیقت او ښېګنې په لاره کې په ځان، مال، عقل، او ژبې سره هلې ځلې، او په دې لحاظ دا د لمونځ او روژې په شان مناسکي عبادتي چاره نه ده، بلکې داسې عبادت دی چې په نیت پورې تړلی دی، سره له دې چې {د فقهې په نظر، اساساً د عبادتونو په ډله کې نه، بلکې} د معاملاتو په ډله کې حسابېږي.**» (هماغه اثر: ۷۰) دا چې هغه جهاد په معاملاتو کې حسابوي، نه په عبادتونو کې، په فقهي لحاظ مهم کار دی او فقیهانو ته په دې موضوعاتو پورې د اړوندو مسایلو د بیاکتنې او بیا څېړلو اجازه ورکوي. بیا به فقیهان مجبور نه وي چې د جهاد له احکامو سره په تعبدي ډول چلند وکړي.

قرضاوي په همدې برخه کې، د جهاد اړوند مسایل په دوو برخو وېشي، یوه یې ثوابتي ده چې په اړه یې مناقشه نه شو کولی او د مسلمان په توګه باید ویې منو، او بله یې هغه متغیرات دي چې خپل ځای یې نویو ښکارندو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښو ته ورکړې دی او په اوسنۍ زمانه کې یې د جهاد پر مفهوم سیوری غوړولی دی. د ده په نظر: «**ځینې متغیرات لکه {پر دې باندې نړۍواله اجماع چې} جنګ بد دی، سوله منلې ده، نړۍوال میثاقونه او تړونونه راپیدا شوي دي، د نړۍوالو بنسټونو جوړېدل، د ملي دولتونو د حاکمیت درناوی، او د جنګ د ماهیت او بڼې بدلېدل ... موږ مجبور کړو چې د وسلهوال جهاد قضیه، هغسې چې زموږ په زمانه کې تصور کېږي، په امانتدارۍ او په ځرګنده ژبه راوسپړو او مناقشه ورباندې وکړو او اغېزې او تبعات یې په محلي، سیمهییزه او نړۍواله کچه بحث ته واچوو.**» (هماغه اثر: ۴۰-۴۱) دلته لکه څنګه چې یې وینو، د ملي دولتونو حاکمیت ته احترام لازمي ګڼي، خو مخکې مو ولیدل چې دی وایي که دولتونه د دې خنډ شي چې خلک یې اسلام ته راوبولو، نو له هغوی سره جګړه جایزه ده.

قرضاوي د جهاد ثوابت په څو مرتبو تقسیموي: لومړی له نفس سره جهاد، دوهم له شیطان سره جهاد، دریم په اسلامي ټولنه کې له ظلم او منکر سره جهاد، څلورم له ژبې او وینا سره جهاد، پنځم مدني جهاد، شپږم وسلهوال جهاد.

قرضاوي د جهاد دریمه مرتبه، چې په اسلامي ټولنه کې کېږي، هغه مقاومت ګڼي چې د ظالمو حاکمانو، اخلاقي فسق او فساد، بدعت او فکري انحراف، او همدارنګه د مرتد شویو کسانو په مقابل کې کېږي. قرضاوي ارتداد په څو ډولونو وېشي: ډلهییز ارتداد، د حاکم ارتداد، او پټ ارتداد.

قرضاوي هغه ارتداد نه یادوي چې معنا یې له اسلام څخه په ښکاره بل دین ته اوښتل دي، بلکې منظور یې هغه کسان او ډلې دي چې د قرضاوي او سیاسي اسلامکارو په باور، له اسلام څخه منحرف شوي دي. هغه وایي: «**او عجیبه دا ده چې ځینې ډلې له خپل ښکاره ارتداد سره هڅه کوي چې لا هم د اسلام نوم ورباندې وي چې د اسلام د ورانولو او د اسلام د دعوتګرانو د شړلو لپاره یې وکاروي، او د دې لپاره چې خلک له هغوی سره د مسلمان په حیث سلوک وکړي، حال دا چې هغوی پر اسلام ملنډې وهي او له دننه څخه یې نړوي. ځینې یې هڅه کوي چې د دینداري جامې واغوندي. دوی جعلي دینداري بابوي او چلباز مشران یې ځانونه [د حکومت مشرانو ته] ورنژدې کوي، دوی هماغه منافقان دي چې ورته عود او عنبر لګوي، او د دین د عالمانو جامې اغوندي، حال دا چې دین ورنه بېزاره دی! دا هغه کسان دي چې خلک یې درباري یا استخباراتي عالمان بولي! دلته بیا وضعیت پېچلی کېږي، ځکه چې څوک به پر هغوی د ارتداد شرعي حد جاري کولی شي؟ بلکې څوک به پر هغوی د کفر فتوا ورکولی شي؟ دلته نو د مسلمانانو له عمومي افکارو او د هغوی له اسلامي وجدان پرته، بل هېڅ ځواک نه پاتې کېږي. دا هماغه ځواک دی چې رهبري یې د آزادو وګړو، دعوتګرانو، او اهل فکر په لاس کې ده؛ دا هماغه ځواک دی چې که څوک یې مخه په زور ونیسي او یا لارې ورباندې بندې کړي، په آخر کې به په داسې اور شیندونکي بدل شي چې د مرتدو طاغوتانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په وړاندې به زبزبانده شي او لمبې به یې دارې وکړي.»** (هماغه اثر: ۲۰۵-۲۰۶) داسې ښکاري چې د قرضاوي لحن په دغه ځای کې د ابو عبدالله المهاجر لحن ته نژدې کېږي. له بلې خوا، دا معلومه نه ده چې کله دی آزاد وګړي، دعوتګر او اهل فکر یادوي، منظور یې څوک دي، ځکه چې دا کُلي تعبیر دی او هره ډله ځان همداسې ګڼي.

قرضاوي همدا بس نه بولي، بلکې پر هغو کسانو هم برید کوي چې د ده په نظر، په پټ ارتداد ښکېل دي او په یرغلیز لحن وایي: «**دلته مې باید هېره نه شي چې د ارتداد یوه بل ډول ته اشاره وکړم. دا ډول ارتداد د ښکاره ارتداد غوندې نه دی چې خپل مخ وښیي ځکه چې تر دې لا زیات چالاکه دی چې خپل کفر بربنډ او بې‌پردې ښکاره کړي، بلکې په رنګارنګو پوښونو یې پوښي او عقلونو [او روحونو] ته لاره کوي، لکه بدن ته د بیماریو لاره کول. دا هماغه فکري ارتداد دی چې هره ورځ یې نښې نښانې زموږ سترګو ته درېږي لکه خپرېدونکې ورځپاڼې، وېشل کېدونکي کتابونه، خرڅېدونکې مجلې، خپرېدونکې ویناوې، د ټلویزیونونو خپرونې او سریالونه، بابېدونکي دودونه او رواجونه، او پلې کېدونکي قوانین. دا پټ ارتداد زما په نظر، تر ښکاره ارتداد لا خطرناک دی ... [!] دلته [د مؤمنانو] موکده فریضه د فکري ارتداد په وړاندې مقاومت او د هغوی د دعوتګرو پر ضد د خپله وسله مبارزه ده ... [لکه] د آسماني او ځمکني ادیانو مطالعه، د لیبرال سیکولریزم مطالعه، د مارکسیزم د فلسفې مطالعه، د پوزیتویزم د مکتب مطالعه، د معاصرو فلسفو مطالعه، د ادبیاتو، روزنې، انساني او اجتماعي علومو د مختلفو مکتبونو مطالعه.**» (هماغه اثر: ۲۰۶ – ۲۰۹)

قرضاوي چې کله د پټ ارتداد په اره کې خبرې کوي، لحن یې توند او یرغلیز دی خو په ډاګه نه وایي چې دا وګړي او بهیرونه څوک دي. ځینې نمونې چې دی یې یادوي، ډېرې پراخې دي او ډېر لیکوال، خبریالان، هنرمندان، تحلیلګران او ... رانغاړلی شي. دی سره له دې چې پر توندلارو ډلو نیوکې کوي، خو بیا هماغه شور او غوغا چې توندلارې ډلې یې د خپل تشدد د توجیه لپاره کاروي او اکثره وګړي مرتد ګڼي، قرضاوي هم هماغه نارې په بله بڼه تکراروي. لکه څنګه چې یې وینو، قرضاوي دلته په تناقض کې ښکېل شوی دی، په یوه ځای کې له خلکو او ډلو سره د خشن فیزیکي ټکر پلوی نه دی او له هغوی سره په فکري وسلې سره مقابله غوره ګڼي، خو په بل ځای کې بیا غواړي چې پر دغو ډلو او خلکو د عامو وګړو غوسه راوپاروي او هغوی ته جزا ورکړي. هغه په دې پوښتنې پسې سر نه ګرځوي چې که څوک یا کومه ډله په اسلامي ټولنه کې په ارتداد تورن شي، په تېره بیا هغسې چې پخپله هم وایي چې ارتداد ښکاره هم نه وي او څوک یې رسماً مرتد ونه شي بللی، نو له هغوی سره به څه وشي. دا ډول خبرې د یاغي خشونت او تشدد لپاره لاره نه هواروي؟ د دې سبب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي چې هره ډله بيا هر څوک مرتد وګڼي او په وژلو يې لاس پورې کړي؟ خلکو ته د دې موضوع حواله کول به د صحرايي محکمو سبب نه شي؟ دا کار د توندلارو جهادي ډلو له چلنده څه توپير لري؟ کېدای شي قرضاوي ووايي چې موږ د هغوی د وژلو پلوي نه يو او همدا به بس وي چې په ټولنيز لحاظ د هغوی حيثيت ترور شي، بې له دې چې وينه يې تويه شي. خو هر څوک چې د ديني ټولنو روحيه ورته معلومه وي، پوهېږي چې په ديني لحاظ د چا د شخصيت ترورول او د کفر او ارتداد ټاپه پرې لګول، به ژر يا په ځنډ د هغه د فيزيکي قتل او ترور سبب هم شي. قرضاوي ښه پوهېږي چې د ده د کتاب تر تأليف يوه لسيزه مخکې، همدغه کار چې ده او ملګرو يې پيل کړی و، د دې سبب شو چې د تېرې پېړۍ په نويمه لسيزه کې د مصر ـ څو نامتو ليکوال او متفکران ووژل شي يا حمله ورباندې وشي او يا د وطن پرېښودو ته اړ شي. دې ته ورته کارونه په پاکستان، بنګله‌دېش، ترکيه، ايران او ځينو نورو هېوادونو کې هم شوي دي.

له فکري مخالفانو سره دا ډول چلند او هغوی د تکفير او ارتداد په وسلې ويشتل، سړي ته دا تصور ورکوي چې ګواکې د دغو منځلارو او هغو توندلارو بهيرونو تر منځ چې د اسلامي ټولنې د رهبرۍ پر سر سخته سيالي سره لري، يو ډول ملګرتيا وي. ګواکې دوی به په داسې ځايونو کې په خپلو منځو کې خپلې دندې وېشي- چې د مخالفانو د ځپلو د بهير يوه برخه به سياسي په اصطلاح منځلاري اسلامکاري په غاړه اخلي، او بله برخه يې توندلارو اسلامکارو ته پرېږدي. په بله وينا، يوه ډله يې حکم امضا کوي او بله يې اجرا کوي. منځلاري اسلامکاري هغه کسان چې بل ډول فکر کوي، په ارتداد، له ديني ارزښتونو سره په دښمنۍ، او له دننه څخه د اسلام په راپرځولو تورنوي او دا تور په ټولنه کې دومره زيات خپروي چې د دوی په خپله وينا، د اسلامي ټولنې په عمومي وجدان کې منفور شي. کله چې څوک يا کومه ډله دې ځای ته رسېږي چې په عمومي افکارو کې د کرکې او غوسې وړ شي، نو بيا د توندلارو ډلو وار رارسېږي چې هغه کسان چې مرتد او دين دښمني پېژندل شوي دي، ووژني. کله چې مصري ليکوال ډاکټر فرج فوده همدا رقم ووژل شو، شيخ غزالي په محکمه کې د قاتلانو په ګټه شهادت ورکړ او ويې ويل: «**دوی هغه کس وژلی دی چې [هغه اساساً] مباح الدم او مرتد او د وژلو وړ و، او دوی په حقيقت کې د امت له اوږو څخه د شرعي ګناه بار لرې کړی دی، او يوازينی تور چې دغه زنداني شوي ځوانان يې بايد حساب ورکړي، د حد د تطبيق په برخه کې د حکومت په قلمرو کې مداخله ده، او په اسلام کې د حکومت په چارو کې د مداخله کوونکي لپاره د کومې جزا وړاندوينه نه ده شوې... بې له شکه چې په ټولنه کې د مرتد شتون، لکه هغه ميکروب دی چې خپل زهر شيندي چې خلک له اسلام څخه لرې کړي، او دا واجبه ده چې حکومت داسې کسان ووژني، او که حاکم دا کار ونه کړ، نو بيا عام خلک د دې کار د ترسره کولو دنده لري.**» د دې کيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تریخ طنز دا دی چې کله قاضي قاتل پوښتي چې ولې دې قتل کړی دی؟ هغه وايي ځکه چې د اسلام دین تـه یې سپکاوی کړی و. قاضي پوښتنه کوي چې په کوم کتاب کې یې؟ هغه وایـي زمـا د لوسـتلو سـواد نشـته چـې کتابونه یې ولولم! قاضي وايي نو څنګه پوه شوې چې اسلام ته یې سپکاوی کړی دی؟ هغه وايي چې عالمانو دا خبره کړې وه. (۷) تر دې تریخ طنز یې لا دا دی چې تقریباً دوه لسیزې وروسته، مشهور عراقي لیکوال او فقیه، ډاکټر طه جابر العلواني، په یوه ټلویزیون کې وویل چې تر هاغې پېښې وروسته یې له شیخ غزالي سره د ارتـداد په اړه بحث کړی و او هغه ویلي وو چې په اسلام کې د ارتداد لپاره حـد نشـته! علـواني وایـي چـې لـه هغـه مـې پوښتنه وکړه چې ولې دې په محکمه کې شهادت ورکړ او فرج فـوده دې د ارتـداد پـه وجـه مهـدور الـدم وبالـه؟ غزالي ویلي وو «**که مې دا کار نه وای کړی، هغه ځوانان به وژل کېدل**» [!] یعنې د خپل لیـدلوري خـلاف یـې ادعـا کړې وه چې مرتد د اسلام په نظر، د وژلو دی. دا په دې چې د فرج فوده قاتلان له مجازاتو وژغوري!

بېرته به د «جهاد په داخلي کچه» بحث ته راوګرځو.

**د حاکمانو پر ضد خروج:**

که کوم حکومت له اسلامه منحرف شي، یا په اسلامي ټولنه کې له اسلامه منحرف شوې ډلې راپیدا شي، نو بیا د هغوی پر ضد جهاد کولی شو؟ دا په هغو مناقشه‌یي مسایلو کې ده چې د جهادي ډلو او مـنځلاور اسـلامکارو ډلو تر منځ یې په اړه سخت اختلاف دی. قرضاوي وايي هغه کسان چـې نـن سـبا خلـک د حـاکمانو پـر خـلاف وسله‌وال پاڅون ته رابولي: «**فکرونه یې د کلک سلفیت، د تکفیر د جماعت، او په وسله‌والو فعالیتونو کې د بوختـو جماعتونو د فکرونو ګډوله ده، او د دوی فکرونه زموږ د پخواني تاریخ د خوارجـو لـه فکرونـو سره ورتـه دي.**» (هماغـه اثر: ۲۱۸) قرضاوي دلته د حکومتونو او ډلو تـرمنځ تـوپیر کـوي. هغـه د منحرفـو ډلـو او وګـړو د مقـابلې لپـاره د «مدني جهاد» وړاندیز کوي او باور لري چې د سوله‌ییزو وسایلو ډېروالی مـوږ لـه دې اړتیـا څخـه خلاصـوي چـې وسلې او جګړې ته لاس پورې کـړو. هغـه دا وسـایل دغـه شـیان ګڼـي: «**د جمعې ورځـې خطبې، علمي او فکـري ویناوې، دیني او رزونیز درسونه، راغونډې او متمرکزې خپرونې، په رسنیو کې علمي او فرهنګي خپرونې، د مجلـو او ورځپاڼو خپرول، قضائیه قوې او محکمې ته پناه وروړل، د فرهنګي ټولنو ایجادول، د سیاسي ګوندونو تأسیسول، او داسې نور.**» (هماغه اثر: ۲۲۲ - ۲۲۳) لکه څرنګه چې «**شعر او رسنۍ هم اهمیت لري ...**» (هماغه اثـر: ۲۲۶) په دې برخه کې مـدني جهـاد هـم مهـم دی: «**علمـي او فرهنګـي ډګـر، ټـولنیز، اقتصـادي، د ښـوونې او روزنـې، د روغتیا، د چاپېریال، او ټول تمدني ډګرونه.**» (هماغه اثر: ۲۳۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که حکومت له اسلامه منحرف شوی و، نو بیا؟ قرضاوي یې پر دوو برخو وېشي، یوه برخه هغه حکومتونه دي چې له اسلام او اسلامي احکامو سره رسمي مخالفت نه ښکاره کوي، خو چندان یې پالي هم نه. دی وایي: «**ځینې داسې حکومتونه ګناهکار بللی شو ځکه چې د اسلام له ځینو احکامو او ارشاداتو سره مخالفت کوي ... داسې حکومتونه نور څوک له اسلام څخه وتلي نه ګڼي، به غیر له خوارجو او د هغوی همفکرانو څخه... دا هماغه حکومتونه دي چې ما آرام یا معتدل سیکولر بللي دي.**» (هماغه اثر: ۱۳۳۰) د قرضاوي په نظر، له داسې حکومتونو سره باید په سوله‌ییزه لاره چلند وشي او د حکومتونو د اصلاح په برخه کې د نورو ملتونو له تجربو څخه استفاده وشي.

خو هغه حکومتونه چې له اسلام سره په ښکاره مخالفت کوي، حکم یې بل شان ښکاري. هغه د دې حکومتونو په اړه وايي چې نه یوازې اسلام نه پالي: «**بلکې د اسلام له دعوتګرو سره دښمني کوي او سختې هلې ځلې کوي چې په عمومي او خصوصي ژوند کې د دینداری چینې وچې کړي ... ان تر دې چې که مسلمانه ښځه په ټیکري سر پټ کړي، دوی یې په قانوني لحاظ مجرمه ګڼي او هغه له خپلو انساني حقونو لکه تحصیل، کار، او درملنې څخه محروموي... داسې حکومتونه یوازې ګناهکار نه شو ګڼلی ... پر دوی له کفر پرته بل حکم نه شو کولی ... او د دوی له حال سره هغه حدیث جوړېږي چې وايي: «مګر دا چې له هغوی څخه ښکاره کفر ووینئ ...**» (هماغه اثر: ۱۳۳۱) قرضاوي دې حدیث ته ځکه اشاره کوي چې په سر کې یې د حاکمانو پر ضد پاڅون منع شوی دی مګر دا چې ښکاره کفر وکړي. قرضاوي د حکومتونو له دې دوهم ډول سره جهاد واجب ګڼي، خو وايي: «**له داسې حکومتونو سره جهاد مختلف ډولونه لري او رتبې او درجې یې هم ډېرې دي. دا خبرې په دې پورې اړه لري چې دې حکومتونو څومره ظلم کړی دی، د اسلام له اساساتو څخه څومره لرې شوي دي، او همدارنګه له دې حکومتونو سره د اسلامي ډلو د مقابلې شرایط او امکانات څرنګه دي ... او دلته هماغه نبوي حدیث برابرېږي چې که څوک کولی شي، منکر دې په لاس سره منع کړي او که یې ونه شول کولی، په ژبې سره او که بیا یې ونه شول کولی، په زړه سره ... یعنې هغه ډلې چې کافي ځواک او توان نه لري، لانجه دې نه جوړوي او خپل وګړي دې په نابرابر جنګ کې د مرګي خولې ته نه ورکوي، هغه هم له داسې حکومت سره په جګړه کې چې هېڅ رحم او نرمي نه پېژني. لکه څنګه چې د ځینو اسلامي جماعتونو چلند مو ولید چې وسلې پورته کوي او ویجاړوونکو جنګونو ته وردانګي او خپل خورا ښه ځوانان قربانوي.**» (هماغه اثر: ۱۳۳۱) هغه په داسې ځای کې چې د مؤمنانو سر ته د خطر احتمال وي، ان له نامسلمانانو سره په جنګ کې هم، د یوه معاصر فقیه رمضان البوطي نظر رانقلوي چې: «**دلته د سر د ساتلو مصلحت د دین د ساتلو تر مصلحت باید مهم وګڼل شي ځکه چې د دین د ساتنې مصلحت وهمي یا له واقعیته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لرې مصلحت دی.»** او هغه وايي چې: «**[د بوطي] دغه نظر صحيح او له فقهي بصيرت سره مل دی**» (هماغه اثر: ۸٦۱)

دلته داسې ښکاري چې د قرضاوي نظر دوه پوړه لري، يو ستراتيژيک پوړ او بل تکتيکي پوړ. هغه په ستراتيژۍ کې د حکومتونو په مقابل کې له وسله‌وال قيام سره موافق دی، سره له دې چې دا په ځو انتخابونو کې يو انتخاب بولي، نه يوازينی ممکن انتخاب، خو په تکتيک کې بيا د ډېرو جهادي ډلو له چال چلند سره جوړ نه دی او ځکه يې ناروا او ناکام بولي چې ماتې په کې حتمي وي. په همدې وجه وايي چې: «**دا چې نن سبا اسلامي ډلې او پرګنې له دولت سره د مقابلې مادي او نظامي ځواک نه لري، نو ښه به دا وي چې سوله‌ييزو لارو چارو ته مخه کړي، لکه د خلکو له پوهولو څخه رانيولې د هغوی تر ايماني او فکري روزنې پورې چې په دې لاره پر حکومت اغېزه وشيندلی شي او تغيير ته يې اړ باسي.**» (هماغه اثر: ۱۳۳۱) په ستراتيژۍ کې وحدت او په تکتيک کې توپير د سياسي اسلامکارو ډلو د پېژندلو لپاره مهم ټکی دی. د اخوان المسلمين، حزب التحرير، طالبانو او داعش تر منځ د خپلوۍ په ګڼو اړخونو کې يو اړخ همدا دی.

**له دارالاسلام څخه دباندې جهاد:**

قرضاوي د دارالاسلام او دارالکفر يا دار الحرب لانجمن او پېچلی مبحث هم را اخلي. لکه څنګه چې د دې ليکنې په پيل کې مو وليدل، توندلارو ډلو د دارالحرب لمن پراخه کړې او د دارالاسلام لمن يې لنډه کړې ده، ځکه چې دارالحرب هغه ځای دی چې مسلمانان حق لري ورباندې بريد وکړي او له وګړو سره يې وجنګېږي. د توندلارو په باور اکثره اسلامي هېوادونه دارالحرب دي ځکه چې د شريعت احکام په کې نه تطبيقېږي. قرضاوي پر دوديزې فقهې په تکيې سره هڅه کوي چې دا نظر رد کړي. هغه وايي: «**ټول هغه هېوادونه چې اوس اسلامي ملکونه بلل کېږي او اغلب اوسېدونکي يې مسلمانان دي، دارالاسلام ګڼل کېږي.**» (هماغه اثر: ۸۴۹) کله چې يوه خاوره د دارالاسلام په قلمرو کې شامله شوه، بيا په آسانۍ سره دا ځانګړنه ورنه نه اخيستل کېږي چې دارالحرب وبلل شي، خو په خاصو شرايطو کې دا کار کېدای شي. هغه دلته د امام ابو حنيفه نظر يادوي او وايي: «**[که د يوې خاورې خلک له اسلام څخه واوښتل] هغه ځای دارالحرب نه کېږي، مګر دا چې درې شرطونه ورسره يو ځای شي: لومړی دا چې له دارالحرب ملک سره ګاونډی وي او تر منځ يې د دارالاسلام هېڅ خاوره نه وي پرته، دوهم دا چې د کفر قوانين په کې تطبيق شي، دريم دا چې په کې هېڅ مسلمان او د اسلامي هېواد هېڅ غير مسلمان تبعه په امن کې نه وي ... که په دغو دريو شرطونو کې يو يې هم کم وي، هغه ځای به دارالحرب نه وي.»** (هماغه اثر: ۸۷۸) هغه همدارنګه بله فقهي اصطلاح را اخلي، «دارالعهد» يعنې هغه هېوادونه چې مسلمانانو ورسره تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی دی چې په خپلو کې به جنګ نه کوي او سوله‌ییز اړیکې به پالي. قرضاوي وايي: «**د اسرائيل د صهیونیستي رژیم له دولت پرته، د [ننني] نړۍ ټول هېوادونه موږ مسلمانانو ته دارالعهد دي، ځکه چې له نړۍ سره زموږ اړیکي د ملګرو ملتونو د میثاق پر اساس دي او موږ مسلمانان ټول د دې سازمان غړي یو.**» (هماغه اثر: ۸۹۵) او په بل ځای کې وايي چې: «**اسرائیل یوازینی دارالحرب هېواد دی.**» (هماغه اثر: ۹۰۰) په دې حساب مسلمانان باید له نورو هېوادونو سره تړل شویو دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو ته ژمن پاتې شي او د جنګي چلند حق نه لري. د ده په نظر یوازینی هېواد چې مسلمانان باید د جنګي قواعدو پر اساس ورسره عمل وکړي، اسرائیل دی. هغه وايي چې د دې هېواد د کمزوري کولو لپاره هر لاره باید وکاروو او د هغه پر ضد جهاد د هر مسلمان، چې وس یې ولري، فرض دی او اوسني حکومتونه دنده لري چې دا لاره هواره کړي، خو: «**د سختې خواشینۍ خبره دا ده چې [سره له دې چې] د مسلمانانو د اکثرو بچیانو په زړونو کې د اقصی مسجد د آزادولو او د اسرا او معراج په خاوره کې د خپلو وروڼو د مرستې لپاره د جهاد شوق په لمبو دی، خو دریغه چې کمربند هېوادونه، د خپل نوم په شان، یا مخامخ هېوادونه یعنې اردن، لبنان، سوریه او مصر، ټول نه پرېږدي چې کوم مجاهد فلسطین ته ورننوځي، بلکې ځواکونه یې له پولې پر اوښتونکو کسانو ګولۍ چلوي، و لا حول و لا قوة الا بالله.**» (هماغه اثر: ۱۲۲)

سره له دې چې د قرضاوي په نظر، له اسرائیل پرته نور ټول هېوادونه اوس دارالعهد دي خو که د غیر مسلمانو هېوادونو هر یو پر کوم اسلامي هېواد برید وکړي، هغه هېواد به دارالحرب شي او په وړاندې یې جهاد واجبېږي. خو بیا هم، له هغه هېواد سره په جګړه کې چې په دارالحرب اوښتی دی، د جګړې نړۍوال قوانین باید مراعات کړو، مثلاً له ګېوژونکو وسلو لکه کیمیایي او اټومي وسلو کار وانخلو او هلته عام‌وژنه او قومي تصفیه باید ونه کړو. قرضاوي د حزب التحریر د بنسټوال، شیخ تقي الدین نبهاني، نظر چې د داسې وسلو د کارولو پلوی دی، مردود ګڼي. نبهاني ویلي دي: «**د مسلمانانو لپاره له خپلو دښمنانو سره په جګړه کې د اټومي وسلې کارول جایز دي، ان که مخکې تر دې چې دښمن دا کار کړی وي.**» قرضاوي وايي: «**زه پر داسې خبرو ډېر تم کېږم او باورمن یم چې دا د اسلام روح او اخلاقیات نه شي ښودلی ... کیمیايي، بیولوژیکي، او اټومي وسلې او داسې نورې، چې نن سبا ګېوژونکې وسلې بلل کېږي او په درنګ شېبه کې زرګونه او میلیونونه انسانان وژني او ګناهکار او بې‌ګناه او جګړه‌مار او سوله‌خوښي یو ځای په اور سوځوي او اساساً ژوند او ژوندي ساري او انسان او طبیعت ختموي، د داسې وسلو کارول په اسلامي شریعت کې حرام دي.**» (هماغه اثر: ٦١٣) خو دا نظر مطلق حالت نه لري، بلکې د قرضاوي په نظر، ځینې استثناګانې په کې شته، لکه: «**زه په دې باور یم چې پر اسلامي امت د دغو مخنیونکو وسله لرل واجب دي، په داسې مهال کې چې نور داسې وسلې لري او کېدای شي دوی پرې وګواښي.**» (هماغه اثر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه: «**د دې وسلو د کارولو له تحريم څخه ضروري حالت مستثنا کولی شو.**» (هماغه اثر: ٦٢۴) يعنې کله چې اړتيا وي، کارولی يې شو.

همدارنګه کله چې غير مسلمان جنګيالي په جګړه کې اسير کېږي، بايد ورسره په اسلامي اخلاقو او له منل شويو نړۍوالو قوانينو سره سم چلند وکړو: «**بې له شکه چې اسلام له اسيرانو سره انساني چلند او د هغوی د کرامت ساتل او د هغوی د حقونو مراعاتول واجب کړي دي، ځکه چې قرآن اسيران په هغو زيان منونکو ډلو کې شمارلي دي چې د زړه سوي، احسان او عنايت لايق دي، لکه په ټولنه کې چې مسکين او يتيم د زړه سوي دي.**» (هماغه اثر: ۹۵۵) ابو عبدالله المهاجر د اسيرانو پر وژلو ټينګار کاوه او ويل يې چې اسيران په خپل ذات کې هېڅ حرمت نه لري او يوازې په دې سترګه بايد ورته وکتل شي چې د هغوی په وژلو سره د مسلمانانو ملکيتونه او شيان له لاسه وځي که څنګه، خو قرضاوي په تونده غاړه وايي: «**سړی حيرانېږي چې څنګه ځينې کسان اسلام او اسلامي شريعت د يوه وحشي داړونکي په توګه انځوروي چې ګوندې خوله يې پرانيستې ده چې ټول خلک وداړي ... ګواکې ان که خلک د سولې نيت هم ولري، اسلام به پرې حمله کوي او که هغوی په اسلام هېڅ غرض هم ونه کړي، اسلام به ورسره غرض ولري، او که يې لاس ته ورغلل، په نه نرمېدونکي شدت به ورسره وچلېږي او بې‌رحمه سختي به ورسره وکړي، او په دې ډله کې د جنګ د لمبو تر تتېدو وروسته له جنګي اسيرانو سره هم [همداسې کوي] ... د دې خلکو په نظر، اسلام له اسيرانو سره بې‌رحمي او د هغوی وژل جايز ګڼي، ان که هغوی عادي وګړي وي.**» (هماغه اثر: ۹۷۹)

څنګه چې د مقالې په پيل کې ورته اشاره وشوه، قرضاوي له غير مسلمانانو سره د مسلمانانو رابطه د سولې رابطه ګڼي، نه د جنګ؛ او د خپل کتاب په يوه مفصل باب کې چې دوولس فصله او ۱۷۲ مخه لري، د جګړه خوښو مسلمانانو هغه مهمو دليلونو ته ځواب وايي. دی په دې منځ کې د "و قاتلوهم حتی لا تکون فتنة"، هغه آيه چې په "آيه سيف" مشهور دی، د "بُعثت بالسيف"حديث، د "أُمرت أن أقاتل الناس.." حديث، د اسلام د پيغمبر غزوات، د خلفای راشدين فتوحات، او نور هغه دليلونه چې په دې مسئله کې مطرح کېږي، په تفصيل سره څېړي. (هماغه اثر: ۲۵۵ - ۴۲۷) دی غواړي پر دې نظر ټينګار وکړي چې: «**په قاطع دليل راته روښانه شوه چې د جهاد په برخه کې اسلامي شريعت د عدالت او رحمت او احسان شريعت دی، او جنګ يې په هره برخه کې اخلاقي ارزښتونو ته تابع دی، يعنې تر هغې پورې چې څوک جګړه ونه کړي، نه وژل کېږي، او ښځې او ماشومان او زاړه او زړې او د صومعې راهبان او بزګران او تاجران به د اسلام د تورې له ګوزاره په امان کې وي، او هر څوک چې سوله وغواړي، د اسلام لاس به تل ورته غځېدلی وي.**» (هماغه اثر: ۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرضاوي په پای کې د مسلمانو ټولنو یوه تاواني اړخ، جګړه‌ماري او مرګ غوښتلو، ته په ځیرکۍ سره اشاره کـوي او وایي: «**یو زیان چې مسلمانان ورسره لاس او ګرېوان دي، دا دی چې که ته ورنه وغواړې چې لس کسه دې د خدای په لاره کې مرګ ته حاضر شي [وبه وینې چې] سل او بلکې زر کسان بـه رامختـه کېږي او د شـهادت لپاره بـه چمتـو کېږي، خو که یې لـه زرو کسـانو څخـه وغـواړې چې د اسـلام لپاره دې ژونـد وکړي او لـه اسـلام سره سـم دې عمل وکړي، ان لس کسه به په کې پیدا نه کړې!**» (هماغه اثر: ۱۳۳۸) (۸)

**تحلیل او نتیجه:**

د دې دوو لیکوالو، بلکې دوو فکري بهیرونو، په کتلو سره څو ټکي د لوستونکو پام ځان ته ور اړولی شي.

لومړی دا چې دواړه غواړي ځان د اسلام ربښتیانی استازی او ویاند وګڼي او خپله انګېرنـه د اسـلام قطعـي حکـم بولي. په دې لحاظ دواړه په یو ډول وچ فکري اخته دي ځکه نه غـواړي چـې د اسـلام د تعبیرونـو ګڼـوالی اصـل وګڼي چې نورو رقیبانو ته یې هم لاره خلاصه شي، بلکې ټینګار کوي چې د دین یوازې همدا یو تعبیـر سـم دی او دا هماغه انګېرنه ده چې د دوی ډله یې وړاندې کوي. هره ډله غواړي چې د اسـلام انحصـاري اسـتازولي پـه خپله قبضه کې ولري. دا په داسې حال کې ده چې تر هغې پورې چې د وچ فکرۍ او د وچو قضاوتونو چـاره نـه وي شوې، د اسلامي ټولنو یوه عمده ستونزه به هماغسې پاتې وي او هغه ستونزه دا ده چې هره ډله د خدای او پیغمبر په استازولۍ قطعي خبره کوي.

دوهم، دواړه د خپلې ادعا د اثبات لپاره هماغه یوې سرچینې ته ځي. دواړه ډلې هڅـه کـوي چـې خپلـه دعـوا د متن په منځ کې دننه پر مخ بوځي، هغه که د لومړۍ درجې متنونه لکه قرآن او حدیث وي، که د دوهمې درجې متنونه لکه فقهي منابع، د حدیثونو شرحې، او د قرآن هغه تفسیرونه چې له پخوا راهیسـې تـر ننـه پـورې لیکـل شوي دي. دواړه د ضرورت په وخت کې عقلي استدلال هم کوي، خو دا عقلي استدلال جزئي وي او لکه د متن د حاشیې غوندې مطرح کېږي او له متنه جلا پر هېڅ مستقل شي تکیه نه لري. په دې لحاظ، ویلی شو چـې د هېڅ یوه په کار کې داسې ټینګ عقلاني اساس نه لیدل کېږي چې له متنه جلا پر خپلو پښو ودرېږي. حـال دا چې د عقل په رسمیت پېژندنه او د دین په ژبه، پر تکویني آیتونو او سنتونو باور، داسې عقلاني دسـتګاه غـواړي چې که یو مخ پر خپل اساس هم عمل ونه کړي، لږ تر لږه له وحیاني دستګاه سره متوازن عمل خو دې وکړي او دا دواړه د یو بل تکمیلوونکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم، په آسانۍ سره ليدل کېږي چې سنتي فقه مختلف تعبيرونه لري او هر څوک چې د خپلې مفکورې د اثبات لپاره ورنه کار واخلي، لږ يا زيات خپلې موخې ته رسېږي او دا د نننۍ نړۍ په اسلامي ټولنو کې يوه تر ټولو مهمه ستونزه ده. له دغو منابعو څخه هم تر ټولو توند نظرونه را ايستلی شو او هم تر ټولو نرم نظرونه. دا چې تقريباً د ټولو اسلامي ټولنو فکري مرجعيت همدغه ديني سنتي منابع دي نو د دې منابعو د زده کړې ځرنګوالی خاص اهميت لري. که د سنتي منابعو د زده کړې او مطالعې پر ميتود مهم علمي کار ونه شي، د دې امکان به ډېر زيات وي چې د دې مبحثونو ځينې مينه‌وال به خورا توندو نظرونو ته ورمات شي. د ابو عبدالله المهاجر کتاب چې د داعش يوه مهمه فقهي منبع ده، د دې ډلې د پيدايښت په کلونو کې نه، بلکې پر افغانستان د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ليکل شوی او ليکوال يې تر دې مخکې د اسلام آباد له پوهنتون څخه په شرعياتو کې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړی و. د ده له کتابه ښکاري چې پر فقهي متنونو مسلط دی.

ځلورم دا چې دواړه بهيرونه په ايډيالوژيک لحاظ د سياسي اسلام ډلې دي. په سياسي اسلام کې د قدرت او حاکميت موضوع د ټولو موضوعاتو په مرکز کې ده، او معرفتي کارونه د هغې په څنډو او حاشيو کې کېږي او د قدرت په محور کې چورلي. په سياسي اسلام کې اساسي پوښتنه د انسان آزادي او د هغه آزادانه انتخاب نه، بلکې پر انسان د يوې بيروني غوښتنې تطبيقول دي. دا هغه څه ده چې ځينې کسان غواړي د دين په نامه يې پر خلکو وتپي او خپلې غوښتنې د خدای غوښتنې يا د شريعت تطبيقول بولي. دا هغه غوښتنې دي چې په اصل کې پر خلکو د يوې ډلې د حاکميت وسيله ده. خو دا چې انسان دې د خپل برخليک د ټاکلو حق پخپله ولري او د تېروتنې حق ولري او د خپلو تېروتنو پړه ومني، هغه مبحثونه دي چې په دې فکري منظومه کې يې ځرک نه شته. سياسي اسلام انسان مکلف موجود ګڼي او د نظر ټول دروني اختلافونه يې پر دې دي چې دغه مکلفيتونه دې ځرنګه ترسره شي، نه پر دې باندې چې حق تر تکليف ړومبی دی.

يوازې په مډرنه نړۍ کې تکليف او مسووليت د حق پر اساس او له حق سره په تعادل کې وي. سياسي اسلام حق غوښتونکی انسان نه مني، بلکې د هغه مطلوب انسان مکلفيت منونکی انسان دی چې ټولې پوښتنې يې په دې اړه وي چې څنګه خپل ټاکل شوي مکلفيتونه ترسره کړي او که کوم حق ولري، دا حق به د هغه د ترسره شويو مکلفيتونو په حاشيه کې وي. همدا وجه ده چې دا دواړه صاحب نظران د طلب جهاد، يعنې د نورو هېوادونو فتح کول، فريضه ګڼي خو يو يې په ګرمې وسلې سره او بل يې په سړې وسلې سره دا کار کول غواړي. دواړه په شرعي لحاظ د ګڼ‌وژونکو وسلو درلودل واجب ګڼي خو يو يې پر دښمن د بريد لپاره او بل يې د دښمن د مخنيوي او ضروري حالتونو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم، دواړه د بل وړ فکر کوونکو په وړاندې خشن دریځ لري. د داعش لیکوال، د شیخ الدوسری په ژبه، وایي چې د خدای د عبودیت لپاره په کار ده چې هغه کسان ووژل شي چې [د ده په باور] الحاد او اباحت کوي او دا چې هغوی د دوی د انګېرنې خلاف نظر ورکوي، ګواکې پر الهي وحي ملنډې وهي او خپل قلمونه او تبلیغات د دین پر ضد کاروي. قرضاوي هم د حکومتونو ملګري عالمان، درباري عالمان بولي او په دربغه وایي چې څوک نشته چې پر هغوی د ارتداد شرعي حکم عملي کړي. د ده په نظر د ارتداد لمن داسې پراخه شوې ده چې ورځپاڼې، مجلې، سینماګانې، ټلویزیونونه، بحثونه، تحلیلونه، دودونه او قانونونه رانغاړي او سره له دې چې د هغوی د ارتداد په اړه څرګند دلیل نشته خو تر ښکاره ارتداد لا زیات خطرناک دي او په مقابل کې یې جهاد فرض دی او که حکومتونه دا مسوولیت نه ترسره کوي، باید د عامو خلکو غوسې ته یې حواله کړو چې د دیندارو پرګنو د اورشیندنې په اور ایرې شي. دا دواړه کسان د فقهې او د فقهې د اصولو د طبیعت خلاف، کله چې خبره د بل وړ فکر کوونکو کېږي، د فقهې ژبه پرېږدي او د انشا او خطابې په ژبه غږېږي او په اوړدو کُلي خبرو سره د ډېرو بل وړ فکر کوونکو د حذفولو لاره هواروي، حال دا چې فقه او د فقهې اصول هر وخت د قاعدې او ضابطې په ژبه غږېږي. ابو عبدالله المهاجر ، د مرجئه په ګډون، ټول مذهبونه او ټولې مسلمانې فرقې خطرناک دښمنان ګڼي، او قرضاوي اکثره بل وړ فکر کوونکي، چې د ده په باور په هر ځای کې شته او پراخ ارتداد یې رامنځته کړی دی، خطرناک دښمنان بولي.

اوس چې د دې دوو بهیرونو تر منځ داسې ورتهوالي لیدل کېږي، نو د قرضاوي د هڅې قدر باید ونه کړو؟ ښکاره ده چې داسې نه ده. د جهاد او د جهاد د تبعاتو موضوع پېچلې او حساسه موضوع ده او هغه کسان چې د قرضاوي غوندې هڅه کوي چې پر سنتي منابعو په تکیې سره، د جهاد په اړه د توندلارو له تعبیر څخه متفاوت تعبیر وړاندې کړي، د قدر وړ دي. دا په دې چې په اسلامي ټولنو کې د توندلارو جهادي ډلو د نظر ځوابول، پر سنتي منابعو او فقهې له دغسې لاسبرۍ پرته ناممکن دي. دا خبره ځکه مهمه ده چې د اکثرو مسلمانانو په نظر، دغو منابعو ته ورتګ ځان ته ورتګ ګڼل کېږي. د دې لپاره چې ځان ته دغه ورتګ ځان ته د داعش او طالبانو د ورتګ غوندې نه شي، یوه لاره یې دا ده چې څوک له سنتي منابعو سره دومره ښه بلد وي چې د هغسې انګېرنو مخه ډب کړي. قرضاوي، غزالي او ځینو نورو په دې کار کې د ستاینې وړ هلې ځلې کړې دي.

خو لا اساسي پوښتنه دا ده چې: د قرضاوي او هغه ته ورته کسانو لاره د افراطي جهادیزم د ستونزې اساسي چاره کولی شي؟ په دې لاره د خشونت او ترهګرۍ د څرخ درېدلو ته هیلهمن کېدای شو؟ داسې نه برېښي چې ځواب دې یې «هو» وي. تر ټولو مهم دلیل یې د داسې کتابونو له لیکلو سره سره، د خشونت زیاتېدل دي. نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه کولی شو چې د منځلارو د خبرو د ناکامۍ یا د لرې کامیابۍ علت به څه وي؟ د دې قلم د څښتن په باور، دا ډول هڅې یوازې د یوه جگړه‌پالي بهیر تلطیف (نرمول) گڼلی شو، نه تر دې زیات. عمده علت یې دا دی چې له دې منابعو څخه د قرضاوي او د منځلارو ډلو د انگېرنې د درون دیني اعتبار اندازه د توندلارو ډلو له درون دیني اعتبار سره یو شان دی. یعنې، که د فقهې په ژبه وغږېږو، دواړه انگېرنې اجتهادي او ظني بڼه لري او هېڅ اجتهاد او ظن په خپل ذات کې  تر بل اجتهاد او ظن غوره نه دی او د اسلام قطعي حکم نه شي مطرح کولی. یوازې په بیروني عاملونو او قراینو سره یو اجتهاد تر بل اجتهاد غوره گڼلی شو.

اصلي خبره دا ده چې موږ د تأویل له دوو سیستمونو سره مخ یو چې دواړه د بلې زمانې سیستمونه دي ځکه چې د بلې زمانې پوښتنې او غوښتنې او ابزار پسې غواړي. د هاغه مهال په فکري ماحول کې انسانانو د خپل دین د انتخاب حق نه درلود او که په هر دلیل سره یې د دین په باره کې بل ډول باور پیدا کړی وای، د وژلو به وو. د هاغې زمانې په فکري ماحول کې نړۍ په دوو یا درېو هېوادونو وېشل کېدله: دارالاسلام او دارالکفر. او دارالکفر بیا دوې برخې لرلې: دارالحرب او دارالعهد. دا صحیح ده چې قرضاوي هڅه کوي چې د دارالعهد لمن دومره پراخه کړي چې ان د امریکا متحد ایالتونه او روسیه او ان چین ـ له دې سره سره چې د اویغور له مسلمانانو سره څه ډول چلند کوي – راونغاړي، خو د نړۍ د پېژندلو دا ډول ذهنیت اساساً د اوسنۍ نړۍ له وضعیت سره هېڅ نه جوړېږي. په اوسنۍ نړۍ کې فکري ترقي، علمي پرمختگونه، د هېوادونو او ملتونو تر منځ د اړیکو بودې تنستې، د گټو او مصالحو مختلف پټونه له دې ډول ذهنیت سره اړخ نه لگوي. د تأویل دغه دوه سیستمونه په داسې میدان کې سره مخامخ کېږي چې پوځونو په کې د داسې زمانې د پوځونو په شان مورچې نیولې دي چې هغه زمانه نوره گردسره نشته او په اوسني دور کې د هاغې زمانې په دود چلند د ناورین سبب کېږي. دا هماغه د منځنیو پېړیو سیستم دی چې ډېری هنري او سینمایي تولیدات، رسنیز بحثونه، علمي څېړنې او داسې نور ارتداد گڼي او د نیوکې کولو په نیت د سیکولریزم، پوزیټویزم، لیبرالیزم او داسې نورو موضوعاتو مطالعه جهاد بولي. دا د اوسني پېر له فکري مقولو سره د آشنایۍ کاریکاتوري بڼه ده چې که جدي وگڼل شي، ناورین زېږوي او که جدي ونه گڼل شي نو تریخ طنز پنځوي.

دا صحیح خبره ده چې د سینما، رسنیو، ورځپاڼو، پوهنتونونو او نورو کارونه باید نقد کړو یا یې نقدولی شو، او دا کار په ټوله نړۍ کې سم دم روان دی خو دا چې دا شیان د پراخ ټولیز ارتداد نښه وگڼو او پر ضد یې جهاد تجویز کړو، دا نو د تېرو پېړیو په کلاگانو کې ساه اخیستل دي، ان که دغه جهاد مدني جهاد هم وبولو او نمونې یې د بې‌خوندو او بې‌رنگو مذهبي سریالونو جوړول وگڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسئلې غوټه دا ده: له خپل عصر څخه بهر پاتې کېدل، د تېرو وختونو مقدس ګڼل، نننې انسان ته د شک په سترګه کتل، او په نړۍواله شوې نړۍ کې د پردیتوب احساس.

له افراطي او خشونتپاله جهادیزم سره مقابلې لپاره له سنتي منابعو څخه د یوه معتدل روایت را ایستل د توندلارو د تعبیرونو شدت ته نا څه را کمولی شي. دا کار به توندلارې پرې نه ږدي چې خپله انګېرنه د دین یوازینۍ سمه انګېرنه وښیي. خو دغه هڅې په آخر کې ایله د مُسَکن کار کوي، نه د علاج. دا کار کولی شو چې په معتدله سنتي لاره ووایو چې وسلهواله جګړه لازمه نه ده او ښه به وي چې د هغې پر ځای نرمه ناوسلهواله جګړه وکړو، خو نتیجه به یې یو شی وي او دا نتیجه جګړه ده. د نننې انسان ضرورت له جنګ او خشونت څخه راوتل دي. جګړه که په هر نوم او له هر لوري وي، باید ځان ترې وباسو. د نننې انسان ضرورت د همکارۍ د لارو پیدا کول دي چې د نړۍوالو ستونزو چاره وکړي. نننی انسان باید هغه ستونزې له مخې لرې کړي چې ټول انسانان، ټول ژوندي ساري او ټول طبیعت ګواښي. په جګړې سره، هغه که نرمه وي که سخته، د انسانانو تر منځ همکاري نه شو رامنځته کولی. دا کار په تفاهم سره کولی شو؛ د فرهنګونو په متقابل درک سره یې کولی شو؛ په دې یې کولی شو چې تمدنونه یوازې تور یا یو مخ سپین ونه بولو؛ او په دې یې کولی شو چې په ټولو ملکونو کې جګړې ته منطقي حللاره ولټوو. دې هیلې ته د رسېدو لپاره نوي تأویلي سیستم ته ضرورت لرو چې انسان او جهان په کې بله معنا پیدا کړي؛ نوې پوهې په کې اعتبار خپل کړي؛ د نوي عقلانیت لپاره په کې ځای وي؛ په جوړولو کې یې د اخلاقو نړۍوال اساسات نقش ولري؛ او په آخر کې له دې سیستم څخه د دین داسې تصویر راوځي چې د سولې او سولهییز ژوند زېری ولري، نه د تفرقې او دښمنۍ زړی.

**ملليکنې:**

1. د ابو عبدالله المهاجر په اړه یې لیکلي دي چې هغه غوره ګڼل چې پټ پاتې شي او په رسنیو کې، ان په جهادي رسنیو کې، یې له ښکاره کېدو څخه ډډه کوله. هغه په ټولو جهادي څانګو کې لوی نوم لري او کتاب یې د دوی تر ټولو مهمه فقهي مرجع ګڼل کېږي. خو دی د سازماني اړیکو په حساب، ډېر خوځنده و. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یې په خوست، کابل، کندهار، او هرات کې د القاعدې غړو ته تدریس کاوه، خو په عین وخت کې به یې پر طالبانو انتقاد کاوه چې په شرک او بدعت اخته دي او ځانونه یې په کافي اندازه په اسلام نه دي برابر کړي. بیا اسامه بن لادن پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فشار راوورِ چې له مخالفت او انتقاد څخه دې لاس واخلي. هغه به پر بن لادن او ظواهري هم نیوکه کوله او د دوی تکتیکونه یې نه منل. په دې برخه کې د هغه نظر د ابو مصعب زرقاوي نظر ته نژدې و خو کله کله به یې له هغه سره هم اختلاف درلود او له دې سره سره چې زرقاوي ډېره هڅه وکړه چې دی عراق ته وبولي او د خپلې ډلې د فقهي کمیټې مسوولیت وروسپاري، خو ده نه منل. کله چې د عربو پسرلي په مصر کې د حسني مبارک رژیم راوپرځاوه، المهاجر خپل ټاټوبي ته ورستون شو، خو لږ وروسته بیا مجبور شو چې ځنې لاړ شي. د داعش له پیدا کېدو سره، د هغه کتاب د دې ډلې تر ټولو مهمه فقهي منبع کېږي او دا ډله هڅه کوي چې د خپلو غړو لپاره درسونه او زده کړې د همدې کتاب له مخې چمتو کړي، خو ده پخپله له دې ډلې سره له یو ځای کېدو او په تشکیلاتو کې یې له برخه اخیستلو څخه ډډه وکړه. وروسته په سوریه کې د جبهة النصرة له ډلې سره یو ځای شو چې دا د القاعدې یوه څانگه ده او رهبر یې ابو محمد جولاني دی. دا ډله بیا له داعش سره ورانېږي او المهاجر له جولاني سره هم اختلاف پیدا کوي. په آخر کې چې دی د حلب په غربي څنډه کې د باتبو کلي ته نژدې د امریکا په رهبرۍ د ائتلافي ځواکونو په هوایي برید کې وژل کېږي، هېڅ جهادي ډله هغسې غبرگون چې تمه یې کېده، نه ښیي. د یوه عرب لیکوال په وینا، گواکې هغه د ټولو په سترگو کې یوازې د وینې د فقهې د کتاب حد ته راټیټ شوی و.

2. عربي وېب سایټ21 ، باسل درویش، د چارلي وینټر او عبدالله السعود له خولې یوه گډه مقاله کې چې عنوان یې دی «د اسلامي دولت د ډلې د تیوریسن مړینه» په دې وېب سایټ کې خپره کړې ده.

3. المهاجر، ابو عبد الله، مسائل فی فقه الجهاد، لیکوال د دې کتاب یوه پي ډي ایف نسخه ترلاسه کړې ده چې بې‌نېټې ده او د چاپ ځای یې هم په کې نه دی ښودل شوی. په دې مقاله کې له همدې نسخې څخه استفاده شوې ده.

4. القرضاوي، یوسف، فقه الجهاد دراسة مقارنة لأحکام الجهاد و فلسفته فی ضوء القرآن و السنة، مکتبة وهبة، القاهرة، دریم چاپ، 2010

5. څه چې په [ ] او { } کې لولئ، د مقالې د لیکوال [او یو نیم ځای کې د پښتو ژباړن] خبرې دي چې کله د اوږدو عبارتونو د لنډولو او کله د ځینو عبارتونو د توضیح لپاره راغلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. د دې کتاب په ليکلو کې له ۱٦٨ کتابونو څخه ګټه اخيستل شوې ده چې ټول يې پخوانۍ او معتبرې منبعې دي.
7. د فرج فوده د وژلو پېښه او بيا د نصر- حامد ابو زيد محاکمه او وربانـدې د ارتداد حکم کول، د شلمې پېړۍ په نويمو کلونو کې د عربو په فکري نړۍ کې په خورا جنجالي پېښـو کې حسابېږي. فرج فوده باورمن و چې دين او حکومت دې سره بېل وي او ويلي يې وو چې پـه دې اړه بـه پـه عـام محضر کې له سياسي اسلامکارو سره مناظره وکړي. دا مناظره د ۱۹۹۲ په جنورۍ کې د قاهرې د کتابونو په يوه نندارتون کې جوړه شوه چې يوې خوا ته يې فرج فوده او احمد محمد خلف الله وو او بلې خوا ته يې محمد غزالي او محمد عماره محمد مامون هضيبي. فرج فوده تـر دې منـاظرې څـو مياشتې وروسته د شيخ عمر عبدالرحمن د اسلامي جماعت دوو ځوانو غړو وواژه.
8. په هغه کتاب کې له ۳۱۹ کتابونو څخه د منبعې په حيث کار اخيستل شوی دی او د مؤلف په وينا يې د څېړنې او د کتاب د ليکلو لپاره يې شپږ کاله لګولی دی.

**(2)**

## تکفيري ګري او ريښې يې

## د تکفير سرطان

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تمدن داسې ژوندی موجود وګڼو چې کېدای شي په بېلابېلو ناروغيو اخته شي، نو اسلامي تمدن نن سبا په سرطان اخته دی، په داسې سرطان چې په آخر کې به يې پرې باسي. دا بدغونی سرطان تکفيري تمايل دی. کله چې د اسلامي تمدن خبره کوو، منظور مو پخپله اسلام نه دی، بلکې هغه شی دی چې مسلمانانو رامنځته کړی او انساني محصول دی.

که څوک داسې تصور کوي چې تکفير يوازې په داعش يا د التکفير و الهجرة په ختمې شوې ډلې پورې محدود دی، دا به غلطه وي. د مرحوم سيد قطب او مولانا مودودي په آثارو کې د تکفيري ذهنيت څرکونه ښه ډېر دي. همدارنګه د سلفيت ځانګې او هغه حنفيتي نسخې چې له سلفيت څخه خړوبېږي، او د صفوي پېر او تر صفوي مخکې تشيع ډلې هم په تکفيري ذهنيت ککړې دي.

د اسلام په تاريخ کې يوازينی بهير چې له تکفيري چلند سره يې خپلې پولې له هماغه پيله مشخصې کړې دي، اصيل حنفيت و. د حنفيت لاربښود امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په ښکاره وويل: «لا نکفر أحدا من من أهل القبلة» يعنې موږ هېڅ اهل قبله مسلمان کافر نه ګڼو. البته د اشعري مکتب ځينو مشرانو لکه امام الحرمين جويني او امام غزالي هڅه وکړه چې دا موضوع په ضوابطو کې ايساره او په يو ډول سره يې محدوده کړي، خو د ختمولو لپاره يې اساسي هڅه ونه کړه. نور بهيرونه لږ يا ډېر د تکفير په ميکروب ککړ وو. دا خبره د امام ابو حنيفه د يوه شاګرد، امام محمد، د ځينو فقهي نظرونو په مقابل کې د ابن حنبل په سخت دريځ کې او همدارنګه د نورو مسلمانو فرقو او جماعتونو په وړاندې د ابن تيميه او ابن القيم او ابن عبدالوهاب په سختو دريځونو کې ليدلی شو، چې دوی به امام غزالي او ابن عربي غوندې کسان ملحد ګڼل. همدارنګه د ځينو حنفيوزمو کسانو په فقهي رسايلو کې لولو چې که څوک د کوم عالم پښې د ملنډو په خاطر پنې‌ګڼکې وبولي نو کافر به شي!! همداسې د شيعيانو ځينې مذهبي مراجع سنيان مؤمنان نه بولي.

خو دغه ميکروب د وروستۍ پېړۍ د سياسي او ټولنيزو بدلونونو په وجه په اسلامي تفکر کې بد رقم خپور شوی دی او هغه کسان چې خطرناک تکفيري ذهنيت لري او اسلامي ټولنې جاهلي ټولنې بولي، د اسلامي مرجعيتونو او قديسو مسلمانانو په جامه کې معرفي شوي دي. نن سبا موږ د تکفير له ناروغۍ سره نه يو مخ، بلکې د تکفير له داسې سرطان سره مخ يو چې د مسلمانانو د ژوند په مختلفو پټونو کې ريښې ځغلوي. ډېر داسې ځوانان شته چې څوک يوازې د جامو په وجه د دين له دايرې خارجوي، هغه خو لا څه کوي چې ځينې عالم‌ګوټي هغه څوک، چې خوښ يې نه وي، په ډېره وړه پلمه کافر ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ستونزه یوازې د افغانستان نه ده، یوازې د سنیانو هم نه ده، بلکې د دواړو فرقو (سني او شیعه) زیات لارویان تکفیري ذهنیت لري. خو په افغانستان کې دا ښکارنده داسې برید ته رسېدلې ده چې سرې ته اندېښنه ور اچوي. محمد عابر جابري ویلي دي چې په ټولو تمدنونو کې – چې په تاریخ کې هست شوي دي – افراطي عناصر وو، خو د تمدنونو په څنډو کې وو چې شور یې چنداني نه اورېدل کېده. هر کله چې دغه عناصر د تمدن منځ ته لاره وکړي او غږ یې د معتدلو ځواکونو تر آواز پورته شي، د هغه تمدن مرګ پیلېږي. نن سبا په اسلامي تمدن کې د تکفیري ذهنیت غږ تر هر آواز اوچت دی.

حقیقت دا دی چې څو لسیزې کېږي چې تکفیري اصطلاح په سیاسي ادبیاتو کې ننوتلې ده او د ځینو دیني ډلو د ځانګړنې د بیان لپاره کارول کېږي. په وروستیو کلونو کې د داعش له رادبره کېدو سره، د دې اصطلاح کارول لا پراخ شول او کله کله پر ځینو ډلو یا وګړو د تور په بڼه کارول شوې ده. د دې اصطلاح ټولمنلی تعریف لا نشته، خو دا اصطلاح زیاتره کلامي – الهیاتي اصطلاح ده، تر دې چې سیاسي اصطلاح وي او که یې دیني ریښې سمې را ونه سپړو، معنا او مصداق یې پوره نه شو ښیلی.

تکفیري ـ په ساده مفهوم سره – هغو دیندارو وګړو او ډلو ته ویل کېږي چې د نورو په کافر ګڼلو کې بې‌باکي او افراط کوي. خو د نورو په کافر ګڼلو کې افراط څه نوې خبره نه ده، بلکې په لومړي ځل د پیغمبر د یارانو په زمانه کې راښکاره شوه. دا هاغه مهال و چې د دریم خلیفه تر قتل وروسته، د مسلمانانو په منځ کې داخلي جګړې ونښتې او زرګونو مسلمانو یارانو او غیریارانو په خپلو کې سره ووژل. د همدې جګړو په وجه، په مسلمانانو کې دا پوښتنه پیدا شوه چې جګړه له چا سره روا ده او په کوم حالت کې خپل هم‌دینه خلک وژلی شو.

د ایمان د اساساتو او معیارونو په سر اختلاف، مسلمانان په څو ډلو سره ووېشل. ځینې مسلمانان چې تونד او سخت دریځ یې درلود، نورو خوارج وبلل. د خوارجو د خبرې زړی دا و چې دوې لارې دي، یا به اسلام سم عملي کوئ، یا دا تمه مه کوئ چې مسلمان وبلل شئ، په بله وینا یا ټول یا هېڅ – یا سل یا صفر. دا خبره د سید قطب هغې خبرې ته چې په اوسني پېر کې یې کړې ده، ډېره ورته ده چې وایي: یا کامل اسلام یا هېڅ.

د خوارجو په نظر، څوک چې کبیره ګناه کوي، ایمان یې ختمېږي او کافر کېږي. د داسې کس د سر او مال مصونیت نشته او د مؤمنانو له حملې به یې امان نه وي. دا چې له ګناه څخه پوره ډډه کول، ډېر ستونزمن دي، ځینو ګناهونو – په تېره بیا پاروونکو او خوندورو ګناهونو – ته ځان ټینګول، ان د ځینو مؤمنانو لپاره هم خورا سخت وي نو د خوارجو په باور اکثره دینداره مسلمانان هم له ایمانه خلاص دي او سر او مال یې مباح.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت په تېرېدو سره، د دې چلند لپاره کلامي او استدلالي تکيه هم پيدا شوه. همدې خبرې له نورو لانجو سره يو ځای – چې وجه يې د قدرت او ثروت د ګټلو لپاره قبيله‌يي رقابتونه وو - د هاغه مهال اسلامي ټولنه د دوو پېړيو په مخه په پراخې ګډوډۍ اخته کړه.

د دې وضعيت د مهارولو لپاره، هم اموي او عباسي خليفه‌ګانو ډېره انرژي ولګوله او هم مختلفو عالمانو او فقيهانو چې د تکفير توره په تېکي کې بنده کړي او کارول يې حد اقل ته ورسوي. خو هغوی ونه شول کولی يا يې ونه غوښتل چې دا ستونزه د تل لپاره څنډې ته کړي، نو تکفير تل تر ايرو لاندې سکروټه پاتې شو.

د تکفير توره په راوروسته دورو کې هم په فرقه‌يي شخړو کې له تېکي راوايستل شوه، خو په عام او پراخ ډول نه. مثلاً، امام محمد غزالي ځينې مسلمان فيلسوفان په کفر تورن کړل، او له هغې غاړې بيا ځينو سخت دريځو فقيهانو غزالي په ګمراهۍ تورن کړ او د اسلامي عرفان دوه مخکښ نظريه سازان، عين القضات همداني او شهاب الدين سهروردي، د عقيدې د انحراف په تور په دار وځړول شول او ځينې نور يې شکنجه او تبعيد شول. خو هر څه چې وو، دا چلند عام نه شو او د اسلامي ټولنې عمومي وجدان د دې وسلې له کارولو څخه ډډه کوله. تر دې چې په اتلسمه پېړۍ کې د عربستان په ټاپووزمه کې د وهابيت غورځنګ پيل شو او د ډېرو مسلمانانو په مشرک بللو سره يې په اسلامي ټولنه کې د تکفير نوی ور پرانيست. د وهابيت ځينې توندې چارې د شيعيانو د مذهبي خشونتونو ځواب و. تر دې مخکې هغوی په ايران او شاوخوا کې يې د سني مذهبونو د ختمولو په نيت تشدد کړی و او د ډېرو سنيانو په وژلو سره يې هغوی د خپل مذهب بدلولو ته اړ ايستلي وو.

خو د وهابيت ايډيالوژي د اهل حديث پر ميراث تکيه درلوده او په دې ميراث کې د تکفير په مسئله کې د احتياط او زغم خبره شوې وه. دا چې د اسلام د پيغمبر په ځينو روايتونو کې تکفير سخت غندل شوی و، نو وهابيت په تکفير کې له خپل لومړني شدت څخه لاس په سر شو او د دې ډلې د وروستنيو نسلونو عالمانو لکه شيخ ابن باز، ناصر الدين آلباني او داسې نورو، له تکفيريانو څخه خپل واټن وساته او نسبتاً معتدله لاره يې ونيوه؛ البته د نورو مسلمانو فرقو په مقابل کې د دوی ژبنی خشونت کم نه شو او د اهل حديث لانجه پالنه، لږه ډېره، هماغسې پاتې شوه.

تکفيري ذهنيت په شلمه پېړۍ کې يو ټوپ وکړ او په يوې لويې ستونزې بدل شو. د دې ټوپ وهلو وجه د الهي حاکميت د نظريې رامنځته کېدل وو چې دا نظريه دوو مشهورو مسلمانو نظريه سازانو، پاکستاني ابوالاعلی مودودي او په مصر کې سيد قطب جوړه کړه. دغه دوه ليکوال د ټولو سياسي اسلامکارو ډلو باباګان ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د الهي حاکمیت موضوع ته له دې زاویې کتل چې چپي بهیرونو د کارل مارکس او د هغه د لارویانو لکه لینین او مائو پر تیوریو تکیه کړې وه او لیبرال بهیرونو د لیبرالیزم د مکتب پر تیوریو ډېره لګولې وه نو د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو میدان هغوی ته ورپاتې و. مودودي او سید قطب داسې تصور کاوه چې مسلمانان همداسې لوی خو په اسلامي خوند او رنګ روایت ته اړتیا لري چې هغو نورو دوو بهیرونو ته ورباندې مناسب ځواب ورکړي او له هغوی څخه خپله لاره بېله کړي. په تېره بیا هغه مهال چې دوه لوی سیاسي او پوځي کمپونه د همدغو دوو نظریو پر اساس جوړ شول او نړۍ یې په دوو مخامخ قطبونو ووېشله. مودودي او سید قطب، د اخوان المسلمین د بنسټګر، حسن البنا، په پیروۍ وړاندیز کاوه چې د یوه متفاوت ستر روایت پر اساس دې لوی اسلامي کمپ رامنځته شي.

د دواړو د مفکورو زړی – چې د خپل ستر روایت د جوړېدو اساس یې و – دوه ټکي وو: الهي حاکمیت، او د انساني حاکمیت ناکاري. د هغوی نور فکري تارونه د همدې زړي پر شاوخوا تاوېدل. د دوی په باور، نه یوازې سوسیالیزم او لیبرالیزم، بلکې د انسان ټوله پوهه او علم د ژوند د سمې لارې په موندلو کې ناتوانه دي او د ژوند د ارزښتونو په ټاکلو کې پاتې راغلي دي. دوی به ویل چې هر څه چې انساني پوهه یې وړاندې کوي، هغه که سیاسي نظام وي، که اقتصادي سیستم، که حقوقي قوانین او مقررات وي، هېڅ یو یې مشروعیت نه لري او ټول د جاهلیت د پیداوارو حیثیت لري، ځکه چې پر وحیاني اصولو نه دي تکیه شوي. د دوی په باور، د انسان جوړ کړي قانون ته غاړه اېښودل، داسې دي لکه څوک چې له خدای پرته د بل شي عبادت وکړي او په دې لاره د کفر او جاهلیت کندې ته د غورځېدو کړکۍ پرانیستل کېږي. د دوی له نظر سره سم، تر ټولو اساسي دیني عبادت یعنې «لا اله الا الله» له «لا حاکمَ الا الله» سره برابر دی. یعنې د دې پر ځای چې وایو «له خدای پرته هېڅ معبود د عبادت وړ نه دی» باید ووایو چې: «له خدای پرته هېڅ ذات د حکومت کولو وړ نه دی.»

دا چې په قدرت او واکمنۍ پورې تړلی تفسیر د اسلام خورا اساسي عقیدتي چاره وګڼل شي او خدای د انساني حاکمیت پر ګدۍ کېنول شي، دا کار په دې بڼه د مسلمانانو په میراثي مفکوره کې له خوارجو پرته بل چا نه و کړی. په همدې وجه، دا تفسیر له هماغه پیله د ګڼو مسلمانو عالمانو له سخت غبرګون سره مخ شو او دا کار نامطلوبه بدعت وګڼل شو. نه یوازې د مصر د الازهر او د هند د دیوبند غوندې معتبرو مذهبي بنسټونو هغه نظریه مردوده وګڼله، بلکې ځینو خورا مشهورو مسلمانو دیني دعوتګرو لکه د هند ابو الحسن ندوي او د مصر- حسن هضیبي یې په نقد کې کتابونه ولیکل. خو د دې دوو نظریه سازانو د کلام جادو او دې نظریې ته د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي اسلامکارو غورځنګونو لېوالتیا سبب شول چې په ټوله نړۍ کې د خپل ګوندي جال په مټ دغه نیوکې پیکه او له خلکو نه یې هېرې کړي.

تر ټولو ښکاره تفکیري ډلې چې د شلمې پېړۍ په نیمایي کې رادبرې شوې، یوه یې په سعودي کې د جهیمان عتیبي ډله وه او بله یې په مصر کې د شکري مصطفی ډله، او تر ټولو وروستۍ تکفیري کړۍ داعش دی چې خپل ټول رقیبان، ان نور جهادي سلفیان هم، کافران ګڼي. خو په دې ډلو کې هېڅ ډله د فکري او نظري اغېزو په لحاظ چنداني غښتلې نه وه او څه چې په اوسني وخت کې د تکفیري فکر د غوړېدا سبب شوي دي، دوه مهم کتابونه دي: یو یې «په قرآن کې څلورګوني اصطلاحات» د مودودي او بل یې «د لارې نښې» د سید قطب کتاب و. دغو کتابونو د دین د اساسي اصطلاحاتو لکه ایمان، اسلام، کفر، جاهلیت، دین، الله، رب او عبادت په نویو تعریفونو سره د دین د تفسیر لپاره نوې هرمنوتیکي دستګاه جوړه کړه او د مسلمانۍ لپاره یې داسې نوې الهیاتي منظومه وپنځوله چې ټول مسلمان توندلاري ګوندونه له هماغې منظومې څخه راوتلي دي.

د تکفیر فکري مخینې او تاریخي یون ته چې وګورو، تکفیري ذهنیت د افراطي دیني ذهنیتونو پراخه برخه رانغاړي چې ټول یې د تکفیر د کارولو په برخه کې یو شان دي خو دا چې د تکفیر وسله څومره او د چا په ضد کاروي، له یو بله توپیر لري. ځینې دیني بنسټپالي، لیبرال او سیکولر مسلمانان کافران بولي، توندلاري سلفیان او ځینې نور یې بیا صوفیان، شیعیان، او اسماعیلیان مشرک او له دین څخه وتلي ګڼي، ځینې نور یې، مثلاً طالبان، هغه وګړي چې له واکمن نظام سره همکاري کوي، کافر بولي، او د داعش غوندې ډلې بیا ان خپل جهادي خپلوان لکه طالبان، القاعده، او جبهة النصرة هم په کفر محکوموي.

دا چې دغه ډلې په تکفیرګري کې سره ګډ دي، نو له یو بله د بېلتانه ثابتې پولې نه لري او غړي یې په آسانۍ سره له یوې ډلې بلې ته اوښتی شي. همدا اوس د طالبانو ځینې برخې داعش ته ورغلې دي یا ورځي. له بلې خوا طالبان خپل ځینې بېوسلې بنسټپالي دې ته برابروي چې په زور سره بل ورې فکر کوونکي کسان حذف کاندي. د دې کار لپاره داسې چل کوي چې سیکولر، لاییک، بېدینه، او کافر په یوه معنا کاروي چې د ټولنې عام ذهنونه د تکفیري چلند منلو ته چمتو کړي. دوی دا کار په خپلو تبلیغاتو کې خورا زیات کوي. بالفعل تکفیریان دغه وسله د نورو مسلمانانو په ضد – هغه که سیکولر مسلمان وي که سنتي مسلمان – په منظم ډول کاروي او بالقوه تکفیریان بیا دې ته منتظر دي چې کله به موقع برابرېږي چې بالفعل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که له دې قیل او قاله لږ لرې شو او موضوع ته د نن ورځې له سترګو وګورو، تکفیر د منځنیو پېړیو منسوخه طریقه ده او په هاغه زمانه کې یې معنا درلوده چې انسانانو د خپلو خاصو اعتقادونو د څرګندولو حق نه درلود او مجبوره وو چې هغه اعتقادونه ومني چې نورو به لازمي ګڼل.

چېرته چې انسانان په فکري لحاظ بلوغ ته رسېدلي وي، د دین او عقیدې انتخاب د هر چا داسې شخصي- او خصوصي چاره ګڼل کېږي چې په نورو پورې اړه نه لري او تکفیر خپل معنا بایلي. تکفیر په خپل ذات کې د خپلې واکمنۍ د ټینګولو لپاره له خاصې اعتقادي دایرې څخه د خپلو مخالفانو شړل او د هغوی د حقونو نفې کول دي. که دینداري د هر چا شخصي موضوع او انتخابي حق وګڼل شي او هېڅوک د خپل انتخاب په سبب مجرم ونه ګڼل شي، نو بیا به د تکفیر توپونه له کاره ولوېږي.

د لیکوال په باور، د تکفیر مفکوره په یوویشتمه پېړۍ کې د ټول اسلامي تمدن لپاره تر ټولو سخته دروني آزموینه ده او که پر دې ستونزې بر نه شي، اسلامي نړۍ او تر اسلامي نړۍ ورهاخوا ډېر نور به په دې اور کې لولپه شي.

**د تکفیر په اړه خبرې اترې:**

د تکفیر په شان باریکو قضیو په اړه خبرې اترې، د یوه عمومي خطر په اړه خبرې اترې دي، نو ځکه مهمې دي او باید چې وغځول شي. که څوک ووایي چې داسې خطر خو زموږ ټولنې ته نشته، ادعا یې نه شو منلی. موږ هره ورځ قرباني کېږو او د دې قربانیو یو اصلي عامل افراطي او تکفیري فکرونه دي. که موږ دې خطر ته نن لږ ډېر متوجه شوي یو، په ځینو نورو هېوادونو کې دا د خطر زنګونه لسیزې مخکې کړنګېدلي وو. د تېرې پېړۍ اتیایم کلونه وو چې شیخ یوسف قرضاوي د "ظاهرة الغلو فی التکفیر" رساله وکښله. د دې رسالې عنوان هم د هماغې زمانې له وضعیت سره خورا ښه لګېده، ځکه چې لومړی خو یې د «ظاهرة» کلمه کارولې وه چې په پښتو کې ښکارنده ورته وایو، یعنې ده خبرداری ورکړی و چې تکفیر په یوې ټولنیزې ښکارندې بدل شوی دی او یوازې یو نادر او تېرېدونکی حالت نه دی. بله دا چې د "الغلو فی التکفیر" عبارت یې کارولی و، یعنې اصل تکفیر خو دې وي خو اوس تکفیر د غُلو او افراط پړاو ته رسېدلی دی!!

پر قرضاوي سربېره، ځینې نور کسان، په تېره بیا د مصر د الازهر رسمي اداره، هم د تکفیریانو په مقابل کې راولاړ شول او ویې شول کولی چې په مصر کې د «د تکفیر د افراطي ښکارندې» شدت راکم کاندي خو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارنده له بېخه ونه وته. هاغه مهال یوازې یوه ډله چې جماعة المسلمین نومېده او خپلو مخالفانو به التکفیر و الهجرة بلله، په تکفیرګرۍ مشهوره شوې وه. د هاغې زمانې د رسمي ادارو د ویناوو پر اساس، د دې ډلې ټول غړي تر درې سوو کسانو کم وو، خو بیا هم د مصر او عربي هېوادونو ټولې مذهبې ډلې دا خطرناکه وبلله او په مقابل کې یې ودرېدل. (په دې اړه د ژیل کوپل «د پیغمبر او فرعون کتابونه» او د هرایراد کمجیان «په عربي نړۍ کې اسلامي خوځښتنونه» مفصل معلومات لري. دا هغه کتابونه دي چې په هماغو کلونو کې لیکل شوي او بیا فارسي ته ژباړل شوي وو.)

خو نن، زموږ په هېواد کې یوازې د داعش غړي درې څلور زره تنه اټکل کېږي، د طالبانو کسان پنځوس شپېته زره اټکل شوي دي، او هغه کسان چې رسماً د طالبانو غړي نه دي خو فکري ملګري یې دي او خپل مخالفان د تکفیر په توري وهي، تر دې څو چنده زیات دي. دوی ټول په دې کې سره یو شان دي چې خپل مخالفان کافر یا مشرک ګڼي خو په دې کې چې څوک کافر وګڼي او په کومو شرایطو کې یې تکفیر کړي، بېلابېلې سلیقې لري. نو د تکفیر خطر زموږ په ټولنه او په ځینو نورو هېوادونو لکه لیبیا، صومالي، یمن، مالي، سوریه، او عراق کې په بالفعل ډول او په نورو مسلمانو ټولنو لکه منځنۍ آسیا او ځینو عربي هېوادونو کې په بالقوه ډول شته او خورا جدي هم دی. د دې مطلب د لیکلو پر مهال ځینو رسمي مراجعو لیکوال ته وویل چې د داعش غړي یوازې په مصر کې شاوخوا زر تنه دي خو هغه کسان چې په دې هېواد کې نور مسلمانان مشرک او مبتدع بولي، تر دې خورا زیات دي. د ځینو غیر رسمي اټکلونو له مخې دا کسان څو میلیون تنه دي. نو موږ ته بله هېڅ لاره نه شته، غیر له دې چې دا موضوع مطرح او ورباندې خبرې اترې وکړو.

د صدر اسلام د مسلمانانو په منځ کې یوازې خوارج داسې وو چې سخت تکفیري چلند به یې درلود، خو د اهل حدیث ځینو ډلو او حشویه به خپل مخالفان او فکري رقیبان د «ضلالت» او «بدعت» او داسې نورو وسلو سره وهل او کله کله خو به یې ځینې مسلمان جماعتونه په کفر هم محکومول.

هغه دعوې چې د اهل حدیث ځینو کسانو له احنافو، معتزله‌وو، جمیه‌وو، شیعه‌وو، او مرجئه‌وو او نورو جماعتونو سره کولې، له هېچا پټې نه دي. په دې دعوو کې د اهل رأی له فقیهانو سره خو د ښکاره دښمنۍ تر بریده پورې هم مخ ته تلل. څوک چې د دې مبحثونو له تاریخ سره بلد دي، پوهېږي چې د اهل رأی له فقیهانو، په تېره بیا له امام ابو حنیفه سره، مخالفت تر دې حده و چې که د حدیثونو او روایتونو په کوم سند کې به د هغه نوم یاد شوی و، هغوی به یې له روایت کولو ډډه کوله. د اهل حدیث ډېرو کسانو له امام ابو حنیفه سره هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په ژوند کې او هم یې تر مرګ وروسته په ښکاره دښمني کوله. د دې دښمنۍ د اندازې د معلوملو لپاره د خطیب بغدادي اثر «د بغداد تاریخ» کتلی شو. دا چې د اهل حدیث په کتاب کې اهل رأی څومره رټل شوي دي، توضیح ته یې اړتیا نشته. هر څوک چې له هغو منابعو سره آشنا وي، پوهېږي چې دا کار څومره زیات شوی دی. مثلاً، امام احمد بن حنبل د امام محمد پر ځینو نظرونو سختې حملې کړې دي، یوه یې دا چې هغه امام محمد ته د منسوب کتاب الحیل په اړه داسې ویلي دي: « قال الامام احمد.. فی روایة عبد الخالق بن منصور، من کان عنده کتاب الحیل فی بیته یفتی به فهو کافر بما أنزل الله علی محمد (ص)» (ابن قیم الجوزیة، اعلام الموقعین، ج ۲، ص ۱۳۵) یعنې: «د هر چا په کور کې چې الحیل کتاب وي او د هغه له مخې فتوا ورکړي، هغه کافر دی پر هغه څه چې پر حضرت محمد (ص) نازل شوي دي.»

دا چې امام محمد ته د الحیل کتاب منسوبول سم دي که نه، او دا چې دا د محمد هماغه «مخارج الحیل» کتاب دی که بل کتاب، د دې موضوع فرعي بحثونه دي. څوک چې د فقهي مباحثو له تاریخچې سره آشنا وي، پوهېږي چې د شرعي حیلو مبحث ته پام کېده او له دې سره سره چې د موافقانو او مخالفانو تر منځ یې شدید اختلاف و خو بیا هم څو فقیهانو په دې اړه کتابونه لیکلي دي. خو د هغو ناندریو نتیجه دا راوځي چې د نصوصو په تفسیر کې ظاهر ته تمایل، هغسې چې د سلفیانو په کار کې یې وینو، د تکفیري ذهنیت لپاره لاره هواروي. همدا وجه ده چې، که ورته ځیر شو، وبه وینو چې ټول سلفیان تکفیریان او ترهګر نه دي، خو ټول تکفیریان او ترهګر سلفیان دي.

**د شخړې د ځای تعیینول:**

د تکفیر موضوع څومره چې مهمه ده، هماغومره د مناقشې وړ موضوع هم ده. دا د طبیعي علومو موضوع نه ده چې په اړه یې قطعي ځواب ته ورسېږو. د ټولنیزو علومو موضوعات هر وخت له «خو»ګانو سره مله وي. په دې موضوعاتو کې یو مرستندوی میتود دا دی چې پر نتیجې تمرکز وکړو، بیا به نسبتاً روښانه لاره را معلومه شي.

که په اسلامي نړۍ کې، په تېره بیا په دوو وروستیو پېړیو کې، فکري تمایلونه وڅېړو – خصوصاً دا چې له نوي عصر سره د مسلمانانو چلند څنګه دی – نو دوه بهیرونه به ووینو، یو بهیر یې شا ته ګوري او بل یې مخ ته. شا ته کتونکی بهیر د سلفیت، اخوان المسلمین، حزب التحریر، طالبان، القاعده او داعش ټولې څانګې رانغاړي. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیر د کلمې په موسع معنا سلفي بهیر نومولی شو. دوهم بهیر هغه ټول وګړي او ډلې رانغاړي چې د اوسني عصر منطق – د یوه نوي تمدني دور په حیث – په رسمیت پېژني او مذهبي او غیر مذهبي کسان په کې شامل دي. د مذهبي ډلو مثالونه یې دا دي: د المدرسة العقلیة الاسلامیة لارویان چې عمدتاً د محمد عبده او لاهوري اقبال په فکري مکتب پورې اړه لري او التیار الاصلاحي الاسلامي د عربي نړۍ په غربي ښارونو لکه مراکش، تونس، او الجزایر کې رامنځته شوی و او مشهور کسان یې خیر الدین تونسي، علال فاسي، او بشیر ابراهیمي دي، همدارنګه هغه بهیر چې په ایران او بیا په افغانستان کې راپیدا شو او د دیني روښانفکرانو یا دیني نوفکرانو په نوم پېژندل کېږي. د دې بهیر غیر مذهبي طیف عمدتاً په دوو څانګو، چپ او لیبرال، وېشل کېږي، خو د دین او د مسلمانانو د تمدني تاریخ په اړه مذهبي او غیر مذهبي اړخونه د نظر جدي توپیرونه لري. دغه بهیر د کلمې په موسع معنا نوپاله بهیر بللی شو.

سلفي او نوپاله بهیرونه دواړه په دې کې سره یوه خوله دي چې د مسلمانانو اوسنی وضعیت خورا خراب دی او موږ په بې‌مخینې ناورین اخته یو؛ او په دې لحاظ زموږ هغه خورا ډېر تراخه دورونه لکه د مغولو د پېر تاړاکونه هم په داسې ژور کړکېچ نه وو اخته لکه نن چې موږ پرې اخته یو. زه دغه وضعیت تمدني بحران نوموم او باورمن یم چې زموږ ستونزه اساساً تمدني ستونزه ده.

دا چې د اسلامي تمدن اوسنی وضعیت خراب دی، پر دې خو دواړه بهیرونه اتفاق لري، خو دا چې ولې داسې دی او څنګه له دې وضعیت څخه وتلی شو، دا بیا نورې پوښتنې دي.

سلفي بهیر ګومان کوي چې زموږ د تاریخ تر ټولو زرین وخت، د مسلمانانو د لومړنیو نسلونو پېر دی، چې نن سبا سلف بلل کېږي. سلف په لغت کې یعنې پخواني کسان. خو دې بهیر دا اصطلاح انحصار کړې او یوازې د لومړنیو مسلمانانو محدود کسان سلف بولي، نه ټول کسان یې. د دوی په تعریف کې اکثره مسلمان حاکمان، مثلاً ټول هغه حاکمان چې تر خلفای راشدین وروسته وو، له عمر بن عبدالعزیز پرته، ټول هغه والیان او قومندانان چې هاغه مهال وو لکه حجاج بن یوسف، عبدالرحمن اشعث، قتیبة بن مسلم، او ... او ټول هغه جماعتونه چې وروسته په نورو نومونو ونومول شول لکه خوارج، شیعه، معتزله، مرجئه، جهمیه، کرامیه، او ... او د دې جماعتونو ټول عالمان د سلف له دایرې وتلي ګڼل کېږي. نو سلف هغه غوره شوي کسان دي چې دغه بهیر یې د سلف په حیث راپېژني. د سلف اصطلاح په دې خاصه معنا د ابن تیمیه او د اهل حدیث د ځینو کسانو له آثارو څخه راوتلې ده. خو دا تعریف خپل عیبونه لري او که دې بحث اجازه راکولای، راسپړلي به مو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه بهير باورمن دی چې د سلف عصر د اسلامي تمدن زرين پېر دی او د دې تمدن د رغېدو او ټينګښت عامل دا و چې سلف په دين ښه پوهېدل او د ژوند چار چلند يې سم و. د دوی پـه نظـر دا چـې ولـې اسـلامي تمـدن راپرځېدلی دی، وجه يې د سلف له لارې روديې څخه لرې کېدل دي او له اوسني ناوړه وضعيت څخه د خلاصون لاره د هغوی لارې ته بېرته ورستنېدل دي.

نوپاله بهير بيا په دې باور دی چې تمدن انساني ښکارنده ده او دا سمه ده چې دين په هغو عنصرونو کـې چـې پر تمدني تحولاتو اغېزه کوي، شامل دی خو د تمدنونو پيدايښت او پرځېـدل د نـورو قواعـدو تـابع دي او د يـوه خاص جماعت ديني فهم د تمدن د پيدايښت عامل کېدلی نه شي. د دې بهير په باور، د سلف هغسې تعبيـر د منلو نه دی، بلکې په سلف کې ټول لومړني مسلمانان، که مو خوښېږي که مو نه خوښېږي، شـامل دي. لـه دې ورهاخوا، لا مهمه دا ده چې د هغه عصر زرين تصوير له تاريخي روايتونو سره اړخ نه لګوي. دا په دې چې هغوی هم د انساني جماعت په حيث، خپلې نيمګړتياوې لرلې، په خپلو کې يې جنګونه کړي وو، د يو بل ډېـرې وينـې يې تويې کړې وې، د مال او مقام په سر يې دعوې دنګلې کړې دي، په مـنځ کـې يـې جنسي- سـتونزې وې، او ټول هغه څه چې د عادي انسانانو په منځ کې پېښېږي، هغوی هم تجربه کړي وو. خو په عين حال کـې هغـوی پرېمانې ښې کارنامې هم درلودې او په ځينو برخو کې د هغوی اخلاق او فضيلت - محوره سلوک د ښو کـړو وړو الهام راکولی شي. خو تر دې دوو ټکو لا مهمه خبره دا ده چې اسلامي تمدن سـلف نـه و ايجـاد کـړی، بلکـې د نورو دينونو د لارويانو په ګډون، د دې سيمو ټولو وګړو په کې ونډه درلوده. نن سبا ډېـرې تـاريخي څېړنـې شـته چې د اسلامي مدنيت، علم او صنعت په وده کې د مسلمانانو په څنګ کې (هغـه کـه متـدين مسـلمانان وو کـه سست دينه) زردشتيانو، يهودانـو، مسـيحيانو، مانويـانو، صـابئيانو، بودايـانو، او هنـدوانو برخـه درلـوده. اصـلاً د اسلامي تمدن د غوړېدا عامل دا و چې د اهل حديث غوندې سـخت دريځـو مسـلمانانو سـليقه پـر ټـول تمـدن باندې سيوری نه و غوړولی او د نورو دينونو او مذهبونو پر لارويانو يـې ميـدان نـه و تنـګ کـړی. پـر نـورو دروني عاملونو سربېره، له هغه مهاله چې ديني تساهل او تسامح کډه وکړه، د دې تمدن د زوال مقدمـه برابـره شـوه او بهرنۍ ضربې يې پرځېدنه يقيني کړه. دغه قاعده د نورو تمدنونو لپاره هم سمه ده، يعنې د تمدنونو په پيدايښت کې د ديني تساهل او مدارا شتون او په راپرځېدلو کې يې د مدارا او تساهل له منځه تلل اغېزناک عامـل پـاتې شوی دی.

همدارنګه، دا بهير باورمن دی چې اسلامي تمدن د بشر په تـاريخ کـې يـوازينی رامنځتـه شـوی تمـدن نـه دی، بلکې شاوخوا دولس زره کاله کېږي چې بشر د تمدن په لوري ګامونه اخلي. کله د دې فعـاليتونو مرکـز پـه يـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه کې و او تمدني پېر یې د هماغې سیمې په نوم یاد شوی دی او کله په بله سیمه کې. مثلاً د بین النهرین تمدن، د لرغوني مصر تمدن او داسې نور. خو ټول تمدنونه د تکامل د زنځیر کړۍ دي چې ویاړ یې ټولو انسانانو ته رسېږي. هر تمدن خپلې ښېګڼې او خپل عیبونه لرلي دي. همدارنګه هر نوی تمدن د پخوانیو تمدنونو ځینې شیان را اخیستي دي. معاصر تمدن هم د اسلامي تمدن، رومي تمدن، یوناني تمدن، او نورو تمدنونو ډېر عناصر رانغاړي.

تمدن اساساً تر دې چې غربي یا اسلامي یا یوناني وي، انساني بریا ده. په دې حساب، که غواړو وپوهېږو چې اسلامي تمدن ولې پرځېدلی دی، باید د تمدن علمي مطالعې او څېړنې ته مخه کړو او د تمدن د قواعدو پر اساس یې لوړې ځوړې معلومې کړو.

کله چې اسلامي تمدن ته رسېږو، دوه ډوله عاملونه وینو چې د دې تمدن په پرځولو کې یې ونډه لرلې ده، یو یې باندني عاملونه دي، بل یې دروني. په باندني عاملونو کې یې دوې پېښې مهمې دي: د مغولو حمله او صلیبي جنګونه. په دروني عاملونو کې بیا ګڼ شیان دي چې د یوه تمدن د پرځېدلو سبب کېږي. د مسلمانو واکمنانو د مختلفو سلسلو تر منځ کورني جنګونه یو دروني عامل دی چې د صحابه‌وو له عصر څخه پیل شو او په شلمه پېړۍ کې د عثماني امپراتورۍ تر ختمېدو پورې یې دوام وکړ. خو دا جنګونه پخپله بیا څو نور عاملونه لرل چې تر ټولو مهم عامل یې په اسلامي تمدن کې د قدرت د نظریې نشتوالی دی چې دا تشه تر ننه پورې پاتې ده.

که وغواړو چې د اسلامي تمدن د ختمېدو ټول عاملونه یو په یو وڅېړو، له اصلي بحث څخه به لرې شو، خو یوه خبره به په یاد ساتو چې د اسلامي تمدن په راپرځېدو کې تر باندنیو عاملونو دروني عاملونه اساسي ونډه لري او په دې کې هغه بهیر چې نتیجه یې د تکفیري ذهنیت رامنځته کېدل وو، لا اساسي عامل و.

د "تعرف الأشیاء بأضدادها" د قاعدې پر اساس، هغه بهیر چې د اسلام په تاریخ کې په بل منلو، تساهل، تسامح، او مدارا مشهور دی، که له ځینو استثناګانو څخه یې تېر شو، اسلامي عرفان دی. دا موضوع به د دې کتاب په یوه بل ځای کې لا زیات توضیح شي. د اسلامي عرفان مخالف لوری چې په سخت دریځۍ مشهور دی، د متشرع ظاهرپالو بهیر دی. په پخوا وختونو کې د دې بهیر اصلي استازي غالباً د اهل حدیث ډلې وې خو وروسته دا میراث هغه جماعت ته پاتې شو چې وروسته په سلفیت یا وهابیت مشهور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته سلفیت لوی طیف دی چې په خپل منځ کې څو ډلې لري. د دې طیف په یوه سر کې اصلاحي سلفیت دی چې په غربي عربي ملکونو کې روان دی او په مصر کې د رشید رضا تر نظراتو پورې رسېږي او اسلامي عقلي مدرسې ته نژدې کېږي او د محمد عبده تر اغېزې لاندې دی. ځینې اخوانیان هم – البته د وګړو په حیث، نه د منهج (طریقې) په حیث – د سلفیت د طیف همدې سر ته نژدې دي. د سلفیت دا برخه له تکفیر سره چندانې جوړه نه ده او له دیني نوفکرانو سره زیات ګډ نظرونه لري، په تېره بیا په دې لحاظ چې عقلانیت او علمي چارې معتبر ګڼي. خو د سلفیت د طیف په بل سر کې هغه بهیر دی چې له محمد عبدالوهاب څخه پیل شوی او تاریخ یې د سني او شیعه مسلمانانو تر منځ په خونړیو جنګونو لړلی دی. د دې بهیر یوه خورا متشدده برخه په حجاز کې ملک عبدالعزیز وځپله او زرګونه کسان یې ور ووژل چې په دې هېواد کې د مدرن دولت بنسټ کېږدي. د توندلارو سلفیانو وروستۍ کړۍ عتیبي جهیمان وو چې په اویایمه میلادي لسیزه کې یې کعبه شریفه ونیوله او بیا سعودي حکومت د فرانسې په مرسته وټکول. دا ډله هم ځان حرکت الاخوان بللی و چې له اخوان المسلمین سره توپیر لري. د سلفیت د دوو سرونو په منځ کې بیا علمي سلفیت، دَعَوي سلفیت، حرکي سلفیت، او جهادي سلفیت دي.

د اسلامي تمدن په راپرځېدلو کې د ظاهرپالو ډلو تر ټولو مهمه اغېزناکه ځانګړنه دا وه چې هغوی د مسلمانانو تر منځ د کورنۍ شخړې اور بل کړی و. یعنې نظري شخړې یې تر هر چا زیات د اسلامي امت له ځینو ځواکونو سره وې. دا هماغه ځانګړنه ده چې دوی خوارجو ته ورنژدې کوي. داسې ویلی شو چې د دوی تر ټولو مهمه وړتیا سلبي ده، نه ایجابي. هغوی تل په دې لټه کې وو چې وګوري کومه فرقه [د دوی په ګومان] منحرفه ده او له صحیح اسلام څخه لرې شوې ده، بې له دې چې د خلکو د ژوند د ښه کولو او د اسلامي تمدن د ودې لپاره د طرحو د جوړولو په هڅه کې وي.

که په دې نظر ورته وګورو، څه چې موږ مسلمانان نن ورباندې ویاړو او د اسلامي تمدن بریاوې یې بولو او د انساني تمدن له کُلیت سره مو نښلوي، یا د ابن رشد فلسفه ده، یا د مولانا او ابن عربي عرفان، یا د ابن سینا طب، یا د خوارزمي الجبر، یا د خیام ریاضیات، یا د ابوریحان بیروني فیزیک، یا د ابن نفیس، محمد بن زکریای رازي، جابر بن حیان او داسې نورو کسانو کارونه دي. دوی هغه کسان وو چې ظاهرپالو مسلمانانو تکفیر کړي وو یا یې له صحیح اسلام څخه منحرف شوي بلل او ځینې یې تبعید، شکنجه او ان اعدام شوي هم وو. سلفیت هېڅ داسې میراث نه لري چې د نړۍ د نورو ملتونو په وړاندې یې په جګه غاړه یاد کړو او دعوا وکړو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانانو پر ژوند او پرمختګ يې مثبته اغېزه کړې ده. البته دا خبره يوازې زموږ په سلفيانو پورې نه ده، بلکې هر دين په خپل منځ کې سلفيان لري چې نن سبا اورتودوکسي بهيرونه بلل کېږي او ټول سره ورته دي.

مشهور جاپاني ليکوال، توشيهيکو ايزوتسو، په خپل خورا مهم کتاب «په اسلامي کلام کې د ايمان مفهوم» کې دې ټکي ته داسې ګوته نيولې ده: «تر ټولو لوی سرخوږی چې خوارجو اسلامي ټولنې ته پيدا کړ، د مسلمانانو کور ته دننه د جګړې راکښل وو.» دا د يوه تمدن په منځ کې تر ټولو زيات ممکن سلبي چلند دی. تر هغې مخکې ټول مسلمانان يوه خوا وو او نور په بله خوا کې، خو خوارجو جګړه او شخړه خپل کور ته راوکاږله.

ظاهرپاله مسلمانان هم د خوارجو غوندې خپل ډېر ځواک د نورو مسلمانو جماعتونو او مذهبونو په فاسق بللو، مبتدع ګڼلو، او مشرک بللو لګولی دی. که د اسلام په تاريخ کې يې وڅېړو، وبه وينو چې دوی څومره پيسې، وخت او انرژي په همدې کار لګولي دي. يوازې هغه پيسې چې يوه هېواد د تېرې ميلادي پېړۍ په اتيايمو او نويمو کلونو کې لګولې دي، نوي ميليارډه ډالر اټکل شوې دي. که هغه پيسې هم ورسره جمع کړو چې شيعه رقيبانو له همدې هېواد سره د مقابلې لپاره لګولې دي، بيا به وپوهېږو چې اسلامي نړۍ نن سبا ولې په دې وضعيت کې ده. اوس نو تصور وکړئ چې که د دې ځواک او امکاناتو يوه برخه هم د خلکو د ژوند پر ښه کولو او د علم او فرهنګ پر ودې لګول شوې وای، اوس به مو وضعيت څومره بدل وای.

که څوک غواړي وپوهېږي چې موږ د دربېمې زريزې او يو ويشتمې پېړۍ په پيل کې ولې د خورا خشنو تکفيري ډلو د ښکاره کېدو شاهدان يوو، بايد زموږ د تاريخ په څه باندې زرو کلونو کې د دين په دننه کې د کرکې خپرولو بهير وڅېړي چې د دې ماجرا لانديني پټونه ورښکاره شي.

همدا وجه ده چې د دې کتاب ليکوال غواړي دې تراخه حقيقت ته بيا بيا ګوته ونيسي چې تکفير او تکفيرګري زموږ د تمدن هغه سرطان دی چې نن سبا يې خوله خلاصه کړې ده. د دې امت تر ټولو پوه او عقلمن بچي د تکفير په وسله ځپل شوي دي او غږونه يې نا اورېدلي پاتې شوي دي. له عين القضات او شيخ شهاب الدين سهروردي غوندې نابغه‌ګانو څخه رانيولې تر لاهوري اقبال او ابو زيد او نورو پورې.

### د علمِ کلام په نه شتون کې د تکفير پراخېدل:

د اسلام د تاريخ په دوو لومړيو پېړيو کې خوارجو ډېري وينې وبهولې او دا سبب شوه چې د اسلامي ټولنې عمومي وجدان د تکفير موضوع پسې واخلې. د همدې جديت په وجه اکثرو علمي سرلارو د مخالفانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکفیرولو پر ذهنیت سختې نیوکې وکړي. په حقیقت کې، هغه بلوا چې د دریم راشد خلیفه په وژلو سره پیل شوه (دا بلوا لویه فتنه «الفتنة الکبری» بلل شوې ده) او تر هغه راوروسته جنګونو داسې ویجاړوونکی توپان راولاړ کړ چې د مسلمانانو د کم عمرې امپراتورۍ تېغر یې ورټولولی شو. په فتنې پورې د اړوندو روایتونو راټولول چې د حدیث په مشهورو کتابونو کې تر «الملاحم و الفتن» عنوان لاندې راغلي دي، دا راښیي چې مسلمانه ټولنه د دې اور د خپرېدو له درکه سخته اندېښمنه وه. په همدې وجه، د پر له پسې بغاوتونو او جنګونو تر څنګ د فتنې د مهارولو په لاره کې هم ډېرې هلې ځلې وشوې. په دې منځ کې یوه هڅه دا وه چې د تکفیر هغه توره چې خوراجو را ایستلې وه، بېرته په تېکي کې واچول شي. لویو عالمانو او مجتهدانو ډېره هڅه وکړه چې په مختلو لارو د تکفیریانو فعالیت محدود کاندي، لکه: د راویتونو راټولول، د عقیدې او کلام د موضوعاتو قاعده‌مند کول، او د فقهي قواعدو رامنځته کول. همدا وه چې د خوارجو غوغا تر دوو پېړیو وروسته غلې شوه او ظاهرپالي ځنډې ته شول او اسلامي تمدن د غوړېدا پر لاره سم شو.

تر هغې وروسته بیا، سره له دې چې د مسلمانانو د ځینو ډلو تر منځ تشدد او اعتقادي شخړې روانې وې او په مقطعه‌یي او محدود ډول ځینو ډلو د تکفیر وسله کاروله، خو بیا هم د تکفیر د خپرېدو خطر لرې شو او اپیډیمیکه بڼه یې خپله نه کړه. په حقیقت کې، هغه هڅې ټولې د دې سبب شوې چې له دې ښکارندې سره د مخالفت لپاره پامور کلامي او نظري سنت رامنځته شي او اسلامي ټولنه له یوه لوی خطر څخه تېر کړي. که داسې نه وای شوی، د اسلامي تمدن ساه به لا په زانګو کې ختلې وای.

سره له دې چې هغه کلامي سنت د تکفیر ریښې وچې نه کړای شوې چې اسلامي ټولنه د تل لپاره ورنه بې‌غمه شي، خو دې ډاروونکې درې ته د ډېرو کسانو د ورتګ مخه یې ونیوله او مجبور یې کړل چې له خپلو فکري مخالفانو سره په لا زیاتې حوصلې سره چلند وکړي او په آسانۍ سره څوک د دین له دایرې څخه وتلي و نه ګڼي.

په اوسني دور کې د تکفیر د تورې د بیا را ایستلو جسارت ګڼ عاملونه لري. یو عامل یې پر علمِ کلام د سلفیانو پراخې حملې وې. د کلام علم، چې په واقعیت کې د منطق او فلسفې په مرسته رغېدلی و چې له اعتقادي قضیو سره چلند ضابطه‌مند کړي او د خپل سرو قضاوتونو او د دیني نصوصو د تحت اللفظي فهم مخه ونیسي-، سلفي عالمانو سخت وغانده. د «ذم کلام» مخینه او د کلام سخته غندنه ان د اسلام په لومړیو پېړیو کې پیل شوی و او دا د اهل حدیث د میراث یوه برخه ده چې معاصرو سلفیانو ته ورپاتې شوې ده. خو په هاغه دور کې نامتو متکلمانو او فقیهانو لکه امام المتکلمین فخر الدین رازي او امام غزالي او امام الحرمین جویني او نورو لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هڅه وکړه چې دا علم د اعتبار خاوند شي. په هاغه وخت کې د اهل حدیث آواز د دوی تر غبږ تت و او اسلامي تمدن وشول کولی چې د کلام علم په خپله معرفتي مبنا کې ځای کړي.

په اوسني پېر کې، معادله اپوټه شوه او د سلفیت توپونو د کلام علم تر سخت اور لاندې ونیو او په دې بریالی شو چې د ډېرو خلکو په سترگو کې دا علم بېاعتباره کړي، په تېره بیا د د هغو دیندارو ځوانانو په سترگو کې چې علم یې کم خو جذبې یې زیاتې وې. د کلام د علم او د هغه د ضوابطو له پامه غورځول په هغو عاملونو کې یو و چې د تکفیر په ترویج او بابېدو کې یې مرسته وکړه.

د معاصرو مسلمانو متفکروانو په منځ کې داسې کسان لږ وو چې د علم کلام په اهمیت وپوهېږي. د دې لږو کسانو آواز غالباً نا اورېدلی پاتی شو. په دې ډله کې یو تن مرحوم سعیدي حوي و چې د خپل علمي فعالیت په لومړیو کلونو کې د سوریې د اخوان المسلمین په سرلارو کې حساب و، او د کلام او فقهې د علم د اهمیت په اړه یې رسالې وکښلې. د هغه د دې لیدلوري وجه دا وه چې دی په فقهي مذهب حنفي و او په صوفیانه طریقت کې نقشبندي. همدا وجه وه چې په پای کې له اخوان څخه رسماً او د تل لپاره بېل شو. رمضان البوطي هم د «کبری الیقینیات الکونیة» کتاب په لیکلو سره، هڅه وکړه چې د ځینو نورو اهل علمانو غوندې په دې عصر کې د کلامي تفکر لپاره لاره خلاصه کړي. خو د سیاسي اسلامکارو ډلو، لکه د خوان، اغلب متفکرانو په دې برخه کې د سلفیت لارې ته مخه کړه. د دې جماعت بنسټگر، حسن البنا، په خپله مهمه رساله «تعالیم» کې – چې د دې جماعت مانیفیسټ دی - خپله تگلاره داسې بیانوي چې: "دعوة سلفیة" یعنې زموږ دعوت د سلفیت دعوت دی. خو د اخوان پر ځینو عقیدهیي برخو لا متشددو سلفیانو نیوکې کړې دي چې دا په کافي اندازه سلفي نه دي او هغه یې فاسدې گڼلې دي. د اخوان او سلفیت د خپلوۍ تر ټولو مهم ټکی دا دی چې دواړه د عقیدې په تعلیم کې د کلام له علم څخه لرې تښتي. دا هماغه خطرناکه چلند دی چې وروسته یې د ځوانانو په منځ کې برسېرن تفکر خپور کړ او دوی ته یې جرأت ورکړ چې په آسانۍ سره نور کسان له سمې اسلامي عقیدې څخه منحرف وگڼي او احیاناً تکفیر یې کړي.

کلام ته د ورستنېدو لپاره د ځینو نوفکرو مسلمانانو هڅې د ستایلو دي. د دوی هڅو بحران لږ کم کړی دی. په دې کې د لاهوري اقبال او محمد عبده هلې ځلې او همدارنگه په ایران، عراق او ځینو نورو اسلامي ملکونو کې نن سبا د نوي کلام په نامه هڅې شاملې دي. خو پرمختللي کلامي مبحثونه هر وخت د عوامو تر فکري هاضمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او حوصلې لوړ وي، همدا وجه ده چې دا کارونه یوازې په ډېره محدوده ساحه کې پاتې کېږي. برعکس، د اعتقادي چارو عام پسند تعبیرونه چې د مقابل لوري په لاس کې دي، خورا ډېر اورېدونکي لري.

نه وایم چې کوم بد نیت به په کې و. په اصولي لحاظ دا مسایل په اجتهادي خطاګانو کې راځي. خو په دې برخه کې خطا درنې پایلې لرلې دي. علم کلام او د فقهې د اصولو علم د اسلامي علومو په برخه کې خورا مهمه بریا وه. د دې دوو علومو ضوابط د دیني متنونو په فهم کې د خطرناکو ښویېدنو مخه نیوله. دغه لویه مانۍ په یوه شپه او یوه ورځ کې نه وه جوړه شوې. د دې علومو له پیدایښته تر تکامله پورې څو پېړۍ تېرې شوې او دې علومو د اسلامي ټولنې د ستونزو یوه برخه کمه کړه. دا دواړه علمونه د خپلو ضوابطو هغه خورا عقلاني برخه له منطق او فلسفې څخه راخیستې وه.

د دې موضوع د اهمیت په وجه مې په یوه مقاله کې چې عنوان یې و «کلام ته ستنېدل، فلسفې ته ستنېدل» ټینګار کړی و چې په اوسني عصر کې زموږ فکري رېنسانس دغه عقلاني علم ته له ورستنېدو پرته ناممکن دی. دا مقاله په «سترګې به پرانیزو» کتاب کې چاپ شوې ده.

[«سترګې به پرانیزو» کتاب له لاندې لینک څخه وړیا ډانلوډ کولی شئ: ژباړن]

http://ketabton.com/book.php?id=330

دې موضوعاتو ته ځکه اشاره کوم چې وپوهېږو چې لویې فکري او فرهنګي پېښې په یوه شپه کې نه پېښېږي، بلکې ډېر سره اوبدلي پټ او ښکاره عاملونه یې تر شا پراته دي. که د تکفیر خطر په جدي ډول درک کړو او وغواړو چې چاره ورته وګورو، نو مجبور یو چې د قضیو لا ژورو پټونو او ریښو ته لاره وباسو.

**نرم تکفیر، د خپلو مخالفانو سیکولر بلل:**

یو تکفیري چل چې په دې وروستیو لسیزو کې زموږ ځینو بنسټپالو رواج کړی دی، په تېره بیا هغو کسانو چې د تکفیر په شرعي ستونزو خبر دي، د خپلو مخالفانو سیکولر بلل دي.

د بنسټپالنې ماهیت د حقیقت انحصارول دي. ګواکې مطلق حقیقت تل او په هر حالت کې ممکن یوه ثابته او ازلي بڼه ولري او دا هماغه بڼه ده چې بنسټپالو پېژندلې ده. کله چې قرآن کریم د خدای په اړه وایي: «کل یوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو فی شأن» او عارف مسلمانان یې داسې تعبیروي چې د تلپاتې حقیقت تجلي هر وخت نوېدونکی دی او زړښت نه مني، بنسټپالي مو حقیقت جامد او ډېروزمه ګڼي او د تجلیاتو رنګارنګي یې نه مني. پر دې سربېره، دوی هغه پېچلي عاملونه چې د انسان د شناخت پر بهیر اغېزه کوي او د حقیقت تجلي رنګ په رنګ اړوي، نه پېژني. دوی اصلاً د انسان د ادراک له محدودیتونو او د ذهن له فلسفې ناخبره دي او همدا وجه ده چې هر څه ورته یا تور یا سپین ښکاري او پوهېدلی نه شي چې له دې رنګونو پرته، ډېر نور رنګونه هم شته چې هستي او حقیقتونه رنګارنګ وښيي. په همدې حساب، کله چې د دیني متنونو د تفسیر وار رارسېږي، بنسټپالي د متن د یو تعبیروالي نغاره ډنګوي او نور ټول تعبیرونه یې باطل او حرام ګڼي.

جالبه دا ده چې ځینې دین دښمنه کسان هم همدا لاره خوښوي او دا چې دومره زړور نه دي چې په ښکاره دین بې‌اساسه او پوچ وګڼي، نو ټینګار کوي چې دین یوازې یو تعبیر لرلی شي او دا هماغه تعبیر دی چې بنسټپالي یې وړاندې کوي، په تېره بیا هماغه تر ټولو ریشخنده نسخه چې داعش او طالب یې راښيي. دلته د دوی او داعش تر منځ پوښتنپاروونکې همغږي رامنځته کېږي او دواړه په یوه سنګر کې کېني او یوه موخه په نښه کوي. دوی د دین د هر ډول اخلاقي او انساني تعبیر لارې بندوي. د دین دښمنو دا ډله د دې تناقض ځواب نه لري چې دا څنګه کېدای شي چې نه یوازې د مکتوب او مدونو متنونو، بلکې د هستۍ د هرې بلې پدیدې مختلف تعبیرونه کولی شو، خو یوازې یوه پدیده په کې مستثنا ده او هغه دین دی.

بنسټپالي چې د حقیقت انحصاري حق ځان ته منسوبوي، هغه غیر بنسټپالي کسان چې هڅه کوي نوي پرمختللي ژبني، فلسفي، او ټولنیز علمونه د پخوانیو علومو په څنګ کې وکاروي چې د متن د پوهېدو لپاره لا پراخ ډګرونه پیدا کړي، له دین څخه منحرف او احیاناً د دین دښمنان بولي. څوک چې د دین دښمن وي، هغه د هر دین له موازینو سره سم، د هماغه دین کافر انګېرل کېږي.

له داعش او څو نورو جماعتونو پرته، زموږ د بنسټپالو ډېره برخه په ښکاره ډول د تکفیر د حکم له صادرولو څخه ډارېږي. ځکه خو غوره ګڼي چې سیکولر، لاییک، لیبرال او داسې نور ګڼ‌اړخیز اصطلاحات وکاروي چې هم خپل مخالفان د دینداری له ډګره وشړي او هم تکفیري بهیر ونه ګنډل شي. دا چل ورته ډېر اغېزناک پرېوتی دی.

د سیکولر کلمه څواړخیزه ده. دا کلمه د غرب په سیاسي او فلسفي ادبیاتو کې د دوو درېو پېړیو مخینه لري، خو زموږ په هېوادونو کې یوازې څو لسیزې کېږي چې خولو ته لوېدلې ده او لا ورته کوم جامع او مانع تعریف نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې شوی. ښايي وجه يې دا وي چې د ځينو کلمو غونډې، دا کلمه هم ايکي يوه معنا ونه لري. د سيکولر د کلمې معنا هم د وخت په تېرېدو سره بدله شوې او هم په مختلفو سياقونو کې خوځنده پاتې شوې ده. کله کله يې د بيروني مصداقونو تفاوت د تضاد برید ته رسېږي. معنا دا چې سيکولر کله داسې چا ته ويل کېږي چې نړۍ يوازې ماده ګڼي او هر ماوراً الطبيعي اړخ يې نفي کوي. د دې معنا له مخې هر څوک چې سيکولر وي، له خدای څخه منکر دی او په وحي، اخروي ژوند، او په هرې غيبې چارې بې‌باوره دی. خو د کلمې دا معنا په هغو معناګانو کې يې راځي چې کمه باب شوې او يوازې په ځينو فلسفي سياقونو کې کارول شوې ده. په عمل کې، اکثره هغه کسان چې سيکولر بلل شوي دي يا يې ځانونه سيکولر بللي دي، له دې ماوراً الطبيعي چارو څخه منکر نه دي. کله بيا د دې لومړۍ معنا برخلاف، سيکولر هغه چا ته ويل شوي دي چې د دين اساسي کار د اخروي چارو سپړل ګڼي او د ژوندانه ورځنۍ چارې تر دې کم‌اهميته بولي چې د دين د پيغام په محراق کې دې راشي. له دې معنا سره سم، ټول عارفان او صوفيان او اکثره سنتي دينداران سيکولر دي، ځکه چې دنيوي چارې د اصيلې ديندارۍ لايقې نه بولي او دنيا دنياوالو ته پرېږدي.

د دې دوو طيفونو تر منځ داسې کسان دي چې دنيوي چارې د اخروي چارو هومره مهمې ګڼي خو وايي چې هره يوه يې خپل خپل خاص منطق لري او بايد چې سره ګډې نه شي، يعنې په ديني چارو کې بايد د متعارفو عقلي او تجربي علومو په مرسته عمل وکړو او په اخروي چارو کې د ديني تعليماتو له مخې.

نو، سيکولر داسې واحده معنا نه لري چې ټول دې پرې سلا وي. سيکولر د ديندارو او غير ديندارو پراخ طيفونه رانغاړلی شي. خو زموږ بنسټپالي دا څو لسيزې کېږي چې لويه غوغا يې جوړه کړې ده چې ګواکې اسلام دين ته د سيکولرانو له لوري خطر دی او سيکولريزم د اسلام او اسلامي ټولنو لپاره تر ټولو لوی ګواښ دی. دوی بې له دې چې د قضيې ريښې او مختلف پټونه راوسپړي او بې له دې چې د سياسي سيکولريزم او فلسفي سيکولريزم تر منځ توپير وکړي، په عامه فرهنګ کې يې لويه مغالطه رامنځته کړې ده چې احساساتي ديندراه ځوانان په آسانۍ سره خپلو ډلو ته وروکاږي. دوی د دين په مظلوم ښودلو سره د خلکو په ذهن کې دا توهم ايجادوي چې ګواکې د اسلام په ضد لويه توطئه روانه ده او دا توطئه د سيکولرانو کار دی. بيا نو داسې ښيي چې ګوندې بنسټپالي د دين يوازيني خواخوږي مدافعان دي او همدوی د سيکولرانو په مقابل کې درېدلي دي. د سيکولر کلمه ورو ورو د بنسټپالو ډلو په منځ کې په داسې وسله بدله شوې ده چې څنګه څوک پرې وويشتل شي، بيا نو د هغه خبره، پوهه، او اخلاق بې‌اعتباره کېږي او هغه به د خلکو په سترګو کې منافق، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دينداري متظاهر، له دين څخه منحرف، غرب ځپلی، په غربي هېوادونو پورې تړلی، په اخلاقي لحاظ بې‌بنـد و بار، او د دين تر ټولو مرموز دښمن ښکاره شي.

بنسټپالي دا ټولې خبرې هر وخت همداسې په ښکاره نه کوي، خو داسې عبارتونـه کـاروي چـې همـدا مفـاهيم تداعي کوي. کله چې څوک په دې نوم وپېژندل شو، لومړی خو په اخلاقي لحاظ وربانديې شـک کېـږي، دوهـم خبرې يې په علمي او معرفتي لحاظ نه اورېدل کېږي، دريم په حقوقي لحاظ خپل مصؤنيت او خونديتوب بايلي او د داسې کس په حيث چې د دين او ديني ټولنې په ضد توطئـه کـوي، د وژلـو وړ کېـږي. دا تجربـه پـه کراتـو تکرار شوې ده. په پاکستان کې د دې هېواد د جوړېدو په لومړيو کلونو کې، د هاغه زمـان وتلـی متفکـر، ډاکټـر فضل الرحمن ملک، چې د نوي ديني کلام په برخه کې يې ډېـر ښـه آثـار کښـلي وو او غوښـتل يـې چـې د دې هېواد د نوي فرهنگي هويت او تعليمي نظام په جوړښت کې مډرن نظرونه ورننه بـاسي، د بنسـټپالو لـه سـختې غوغا، فشار، او گواښ سره مخ شو او واجب التقل وگڼل شو. هغه د سر له وېرې مجبور شـو چـې دا هېـواد د تـل لپاره خوشی کړي. تر هغه مخکې لاهوري اقبال هم په کراتو تکفير شوی و. د اقبال او فضل الرحمن تـوپير دا و چې ده خپلې ځينې مفکورې د شعر په ژبه عمومي حوزې ته وړاندې کولی شوې او بله دا چـې د براعظمگـي د هاغې زمانې له سياسي فضا سره په تناسب کې، چې د انگرېز په مقابل کې د آزادۍ غوښتلو څپه تېزه شوې وه، اقبال د دې څپې ژبه شو. نو، د ده مخالفانو په هغو شرايطو کـې نـه شـول کـولی چـې دی لـه اسـتعمار سره پـه ملگرتيا تورن کړي.

په وروستيو کلونو کې بل پاکستاني متفکر، جاويد احمد غامدي او څو نورو ديني نوفکرانو خپل ليدلوري مطـرح کړل او د بنسټپالو له سختې حملې سره مخ شول. د هغه ملگری او همفکره ډاکټر فاروق شهيد شو، پر څو نـورو باندې وسله‌واله حمله وشوه او د غامدي دفتر وسوځول شو او هغه مجبوره شـو چـې وطـن پرېـږدي. همـدا رقـم کيسې په ايران، مصر او نورو اسلامي ملکونو کې هم پېښې شوې دي. د وتليو متفکرانو د پانسۍ کولو لپاره يـې پوهنتون ته دار راوړی دی، يا يې د خپلو وسله‌والو ځانگو په خوله مستقم ورتـه ويـلي دي چـې وبـه يـې وژني او ځينې يې وژلي هم دي، او ځينې نور يې له ټولنې څخه نفي کړي او رټلي دي.

په هره توگه، نن سبا د خپلو مخالفانو سيکولر بلل د بنسـټپالو هغـه وسـله ده چـې پورتـه يـاده شـوې مغالطـه لا زياتوي او د وگړو حيثيتي وژنې او وروسته د هغوی فيزيکي قتل ته لاره هواروي. دا کار د تکفير د تورې بـل ډول کارول دي چې ظاهراً د کفر کلمه په کې نه يادېږي خو مخاطب ته هماغه مفهوم رسوي. دا ډول کار چې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګڼو معناوو کلمې په کې کارېږي چې د کفر د کلمې ځېږوالی په کې نشته، نـرم تکفیـر بللـی شـو. دا کـار پـه حقیقت کې د خپلو مخالفانو د تکفیرولو او حذفولو لا زیاته چلبازه طریقـه ده. کـه وغـواړو چـې د تکفیـر ایسـتل شوې توره بېرته په تېکي کې واچوو، باید د تکفیر دواړه ډولونه، نرم تکفیر او سخت تکفیر، ختم کړو.

**د تکفیر چاره، د مفاهیمو بیاکتنه:**

له تکفیر سره مبارزه فریضه ده، هم په شرعي لحاظ او هم په دې لحاظ چې زموږ توپان ځپلـې ټـولنې امنیـت او ثبات ته اړتیا لري. له دې ښکارندې سره د مبارزې لپاره ډېرې هڅې په کار دي. تر ټولـو آسـانه کـار دا دی چـې خلک یې له خطره خبر کړو، بیا د دې ښکارندې ریښې بایـد وسـپړل شي، نـه یـوازې فکـري ریښـې یـې، بلکـې اروايي، ټولنیز، فرهنګي، او اقتصادي او سیاسي ریښې یې هم راسپړل غواړي. د منظمو څېړنو په رڼا کې داسې لارې را ایستلی شو چې له مسلمانانو سره مرسته وکړي چې پر دې ستونزې بر شي.

په دې برخه کـې یـوه مهمـه چـاره پـه دې مبحـث پـورې د تړلیـو مفـاهیمو او اصـطلاحاتو بیـا کتنـه ده. زمـوږ د مسلمانانو د دیني اصطلاحاتو په منځ کې د کفر او ایـمان اصـطلاح‌ګانې، خـورا اسـاسي کلمـې دي. دغـه دوې اصطلاح‌ګانې چې مختلف دلالتونه یې پیدا کړي دي، زموږ د فکر په ایجاد کې مهم نقش لري. دا دوې کلمې د نورو شرعي کلمو د منظومې پـه مرکـز کـې دي او د ډېـرو نـورو شرعـي کلمـو مختلفـې معناګـانې د همـدې دوو اصطلاحاتو په محور کې تعیینېږي. د همدې کفر او ایمان د کلمو له مخې د مؤمن انسان په ذهن کې نړۍ پـه دارالاسلام او دارالکفر باندې، خلک په کافر او مؤمن باندې، ارزښتونه په ښه او بد باندې، ډلې په حـق او باطـل باندې، او وګړي په لومړۍ درجه او دوهمه درجه باندې وېشل کېږي.

که شرعي نصوصو، لومړی قرآن مجید او وروسته معتبرو نبوي حدیثونو، ته مراجعه وکړو، وبه وینو چې دغـه دوې کلمې ډېرې معناګانې او مدلولونه لري. د دې کلمو یو لغوي دلالت هماغه دلالت و چې په عربي ژبه کې له ډېر پخوا څخه یعنې اسلامي متنونو ته د دې کلمو تر لاره کولو مخکې، و. خو وروسـته د دینـي مـتن لـه تکـون سره، چې خاص نړۍ‌لید یې درلود او د نویو ارزښتونو د ایجادولو په لټه کې و، د دې کلمو په دلالتونو کـې نـور پټونـه هم ورزیات شول او په نویو سیاقونو کې د واقع کېـدلو پـه وجـه یـې نـوي بعدونـه پیـدا کـړل. پـر دې سربېـره، د اسلامي تمدن په لومړیو پېړیو کې نوي علمونه راپیدا شول او دغه علمونه هم پخپله نوي سـیاقونه شـول او دغـو کلمو ته یې لا زیات دلالتونه پیدا کړل. نو زموږ دغه خورا اساسي دیني کلمې، له لوړو ځوړو ډکه تاریخچـه لـري او هره یوه یې زموږ د دیني او فرهنګي ذهنیت، مفاهیمو، او انګېزنو په رغښت کې نقش لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د کفر د کلمې پل پسې واخلو او په عربي ژبه کې يې د کارولو بڼې او معناګانې وڅېرو؛ او د پيدايښت له وخته يې رانيولې ديني متن ته يې تر ورننوتلو او په اسلامي فرقو او مذهبونو کې يې تر کارولو پورې مختلفې معناګانې وڅېړو؛ نو وبه وينو چې دې کلمې هر وخت يو ډول معنا نه ده لرلې او نن سبا هم د دې کلمې دقيق استعمال آسانه نه دی. دا کلمه په قرآن او حديث کې په دغو معناګانو کارول شوې ده: پوښل، ناشکري کول، ګناه کول، منکرېدل، برائت غوښتل، دښمني کول، او همدارنګه د کفر په اوسنۍ معنا راغلې ده. دا چې دې کلمې له هماغه پيل څخه ايکي يوه معنا نه ده لرلې او وروسته بيا په ديني نصوصو کې هم په مختلفو معناګانو کې کارېدلې ده، نو ځينو عالمانو هم په شرعي معنا د کفر کلمه ذو مراتبه بولي او وايي: "کفرٌ دون کفرٍ و شرکٌ دون شرکٍ" يعنې ځينې کفرونه تر ځينو کفرونو ټيټ دي. يعنې کفر څو ډولونه لري او ټول کفرونه له دين څخه د وتلو معنا نه لري، بلکې يوازې يوه معنا يې دغه مفهوم لري او دا په اصطلاح کې کفر اکبر يا لوی کفر بللی شو. سخت اخروي ګواښونه او همدارنګه درنې دنيوي جزاګانې په همدې ډول کفر پورې ځانګړې دي. د کفر نور ډولونه چې کفر اصغر بلل کېږي، داسې نه دي. د کفر نور ډولونه له ايمان سره په ټکر کې نه دي او ډېر مؤمنان پرې اخته دي، خو دا کفرونه د دې سبب نه کېږي چې دوی دې د اسلام له دايرې څخه وشړل شي. په ځينو کسانو کې کفر او ايمان سره يو ځای په سوله کې ژوند کوي، بې له دې چې يو يې بل ته مزاحمت وکړي. د بېدل په وينا: کفر و دين در گره پيچ و خم يک‌دگرند/ ظلمت و نور چو آيينه و جوهر به هم‌اند

او په ګلشن راز ک د شبستري په وينا: حقيقت خود مقام ذات او دان/ شده جامع ميان کفر و ايمان

مولانا هم ويلي دي: کفر من آيينهٔ ايمان تست/ بنگر اندر کفر ايمان ای پسر

هغه کسان چې په تکفيري ذهنيت اخته کېږي، دغه توپيرونه او ظرافتونه نه شي درک کولی. يو علت يې دا دی چې د کفر او ايمان ماهيت يې برسېرن او عاميانه درک کړی دی. د کفر او ايمان د حقيقت په اړه جدي فکر پر دې سربېره چې په متعارفو ديني علومو پوهېدل غواړي، د نورو علومو لکه ارواپوهنه، ديني اروپوهنه، د دين ټولنپوهنه، علم کلام، د دين فلسفه، د دين ژبه، او د نورو علومو مطالعه هم غواړي.

د کفر او ايمان مختلف تعريفونه وو او شته. دا اختلاف د اسلام د تاريخ له خورا پخوانيو دورونو راهيسې تر ننه پورې روان پاتې شوی دی. ايمان د علم او معرفت له ذاته دی، که د احساس او عاطفې، که د غوښتنې او ارادې له جنسه؟ عمل د ايمان برخه ده که د ايمان محصول او نتيجه؟ ايمان د ګناه او معصيت په وخت کې هم په انسان کې وي، که د ګناه په وخت کې له منځه ځي؟ د ايمان او کفر په اړه داسې ډېرې پوښتنې او مناقشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته شوي دي او زموږ په تاریخ کې په دې اړه ځنډن اختلاف پاتې شوی دی. دا چې د مختلفو اسلامي مذهبونو او د بېلابېلو څانګو د پوهانو تر منځ دومره ډېر اختلافونه شته، معنا یې دا ده چې دا مسئله په خپل ذات کې پېچلې ده او په آسانۍ سره یې په اړه قضاوت بې‌احتیاطه خبره نه شو کولی.

دا سمه ده چې د دې موضوع ځینې تعریفونه او تفسیرونه تر نورو زیات عام شوي دي او علتونه یې ګڼ دي، لکه: تر پنځمې پېړۍ راوروسته د سکولاستیکي دیني نظام واکمني، په وروستنیو دورو کې تمدني راپرځېدل، د اجتهاد او نویو فکرونو د لمبو تتبدل، د واکمنانو له لوري د ځینو تعبیرونو او قرائتونو پلوي او ځینې نور تعبیرونه څنډې ته پورې وهل. خو د یوه خاص تعبیر عامېدل، نه د هغه تعبیر د پوره حقانیت معنا لري او نه دا معنا چې ګواکې د نورو تعبیرونو امکان یې نشته.

له تکفیري ذهنیتونو سره د مقابلې او په دې برخه کې د تعادل د بېرته راستنولو لپاره دې ته اړتیا لرو چې په دې لوی مبحث ښه وپوهېږو او د اسلامي فکر په تاریخ کې د کفر او ایمان د تعریف په اړه مناقشو باندې سر خلاص کړو. دا په دې چې لومړی خو پر یوه خوا ډېر تکیه ونه کړو، په تېره بیا په سخت دریځه خوا باندې، او هېڅ تعریف د کاڼي کرښه ونه ګڼو، ځکه چې دا ټول بشري اجتهادونه دي. دوهم دا چې که غواړو ځینې تعریفونه غوره وګڼو، نو هغه اجتهاد باید غوره وګڼو چې د خلکو په منځ کې د تشدد او فتنې مخه نیسي او د تسامح او بل منلو لاره هواروي. د ایمان او کفر د مفهوم بیا کتنه او تر کلیشه‌یي انګېرنو ها خوا ته تلل به مو له دې وساتي چې نور خلک بې‌لارې وبولو.

که موضوع ته په دې نظر وګورو نو داسې پوښتنې به را مخې ته شي: مثلاً، که څوک له دین سره قصدي دښمني او ضدیت ونه کړي، په کفر کې حسابېدلی شي؟ که چا پلټنې او پوښتنې وکړې او بیا بلې نتیجې ته ورسېد، څنګه؟ که چا ته د دین واضح پیغام نه وي رسېدلی، هغه کافر بللی شو؟ که پر چا حجت تمام شوی نه وي او په همدې وجه هغه د دین مباني سم نه وي درک کړي، نو هغه باید کافر وګڼل شي؟ که په دې برخه کې پر الهي عدل باور ولرو او هماغه مو د قضاوت مبنا شي نو اکثره غیر مسلمانان چې هېڅ دښمني یې نه ده کړې، معذور نه ګڼل کېږي؟ که د دې خلکو لپاره چې اکثریت دي، کوم عذر ولټوو، دا به تر دې اخلاقي کار نه وي چې هغوی په دوزخ محکوم وګڼو؟ د کفر او ایمان بیا کتنه د تکفیر کار و بار خرابوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(3)

## ترهګري او د عقيدې د دفاع پلمه

### ترهګري، ديانت او اخلاق:

ترهګري چې نن سبا د داعش، القاعده، طالبانو او د دوی د همفکرانو په لاس پالل کېږي، ګڼ سره اوبدل شوي عاملونه او انګېزې لري لکه بېوزلي، تبعيض، د ملي دولتونو ناکامي، فرقه‌يي شخړې، نامتوازنه پراختيا، بې‌اندوله نړيوال کېدل، او داسې نور او د ايکي يوه عامل زېږنده يې نه شو بللی. په دې منځ کې يو اساسي عامل چې د ترهګرۍ چارې آسانوي، د ديني اعتقادونو يو ډول دی چې کله له نورو عاملونو سره يو ځای کېږي، ترهګري ورنه زېږي. که ديني عنصر ورنه وباسو، دا به ډېره سخته وي چې د مختلفو ملکونو وګړي دې له مختلفـو مخينـو سره راشي او د دنيا په مختلفو ځايونو کې دې سره خپل شي، داسې په کلکه په ګډې موخې پسې روان شي چې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو مهم اړخ يې د بې‌ګناه وګړو د وينې بهول وي، ان د ماشومانو وينه، او په دې توګه د نړۍ امنيت ته جدي ستونزه راولاړه کړي.

دا نو څنګه داسې کېږي چې ديني اعتقادونه دې دې بريد ته ورسېږي، حال دا چې اکثره خلک له ديني باورونو څخه دا تصور او دا تمه لري چې ژوند ته معنا ورکړي، د انسانانو په مقابل کې د مسووليت احساس راکړي، او بالاخره د مؤمن انسان اخلاق ورباندې لوړ شي. په نړۍ کې مختلف دينونه شته خو لارويان يې له استثنايي او بحراني حالتونو پرته، بله وخت خشونت ته مخه نه کوي. سره له دې چې اوسنۍ ستونزه په اسلام پورې تړلې ګڼل کېږي، خو ان په اسلام کې هم خبره هماغسې ده ځکه چې اکثره مسلمانان په دې کارونو خپه دي او په دې شرمېږي چې د نړۍ په هر ګوټ کې کرکه پاروونکي جنايتونه د دوی د دين له نامه سره تړلي ګڼل کېږي، دوی په دې وجه اندېښمن او غوسه دي.

البته دا به هم په پام کې نيسو چې دين، هم د اعتقاداتو په حيث او هم د طريقې په حيث، په عمومي ډګر کې يوازينی فعال لوبغاړی نه دی، بلکې له پخوا څخه د نورو ځواکمنو عاملونو لکه سياست، اقتصاد، او فرهنګ په څنګ کې او له هغوی سره په تعامل کې لوبېږي. دغه متداخله رابطه رنګارنګ اړيکې او مناسبتونه رامنځته کوي او په هر وضعيت کې د دې لويو ټولنيزو عاملونو نقش او ځای ځايګی بدلېږي رابدلېږي.

خو داسې څه پېښېږي چې دين د وحشت، ترهې، او جنايت په مرستندوی عامل باندې بدلېږي او په بله وينا، مؤمن څنګه ترهګر کېږي، هغه چې مؤمن دی، په اخلاقي لحاظ ځان څنګه قانع کولی شي چې ترهګري وکړي؟

د دې قلم د څښتن په باور، د دې پوښتنې ځواب لږ تر لږه په درېو درون ديني عاملونو کې پيدا کولی شو چې لومړی عامل يې الهياتي عامل دی. د ابراهيمي دينونو په اعتقاد کې خدای د هر څه په محراق او مرکز کې وي او هېڅ مفهوم تر هغه مهم نه وي. همدا وجه ده چې د خدای د مفهوم د انګېرنې څرنګوالی د معتقد انسان پر کړنو نېغ په نېغه اغېزه لري. د دينداراانو په ذهن کې د خدای مفهوم دومره رنګارنګ او متکثر دی، لکه د دينداراانو شمېر. دا دعوا به غلطه نه وي چې ووېل شي چې هر ديندار انسان خپل خاص خدای لري او يوازې هماغه خدای لمانځي. البته دلته مطلب د خدای په اړه د انسان ذهني تصور او شناخت دی، نه هغه بيروني ذات چې دوی ورباندې عقيده لري. ټول ديندارانو له خدای سره او بيا له نورو کسانو سره خپل اړيکي په خپل ذهن کې د خدای د شته مفهوم پر اساس تنظيموي. د هر معتقد انسان په ذهن کې د خدای د مفهوم رغښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او رامنځته کېدل، ګڼل عاملونه لري، له ذهني – اروايي عـاملونو څخـه رانيـولې تـر فرهنګـي او ټـولنيزو عـاملونو پورې، نو د نظري چوکاټونو له ورته والي سره سره، د خدای په اړه د هر چا شخصي انګېرنه ډېره متفاوته وي.

د بېلګې په ډول، په ټولنيز اړخ کې، په هغو ټولنو کې چې د انسانانو اړيکي په عمودي بڼه رغېدلي وي او قدرت عمدتاً متمرکز وي، هلته د ډېرو خلکو په ذهنونو کې د خدای مفهوم تر ډېره بريده د يوه مقتدر او مستبد واکمن بيارغول شوی تصوير وي. په اروايي اړخ کې، که وګړی فرضاً خورا بدويني، سخت دريځـی، او بدګومانـه وي، پـه ذهن کې به يې د خدای مفهوم هم لږ يا ډېر همدغسې وي. په بله خوا کې، که چـا عاشـقانه تجربـه تېـره کـړې وي، خدای ورته د متعالي معشوق غوندې ښکاري او له خدای سره د هغـه اړيکـې بـه عاشـقانه رنـګ ولـري. پـه همدې رقم په دې برخه کې د خورا ډېرو نورو عاملونو پل هم موندلی شو. [ماکسيم ګورکي په «ماشومتوب» ناول کې د خدای په اړه د خپل ماشومتوب تصور څه داسې بيان کړی و چې ما ګومان کوم چې دوه خدايان دي. يـو مې د بابا خدای چې خورا قهرجن او غوسه‌ناک دی او غواړي چې د هر شي غچ له بنده‌ګانو واخلي او هر وخت بايد ورنه ووېرېږي او ورته زارۍ وکړئ چې ګناهونه دې وبخښي او جزا در نه کړي. بل مې د انا خـدای دی چـې مهربانه او زړه سوانده دی، له هغه سره خواله کولی شې او هغه د ملګري غوندې درته غوږ وي. ژباړن]

خو له دې ناپايه تکثر سره سره، الهياتي نظام د خاصو نظري اساساتو پر بنسټ رغولی شو او پـه عمـل کـې هـم همداسې شوي دي. دغه الهياتي نظامونه د ديندارانو په ذهن کې د خدای د مفهـوم پـه رغولـو کـې لـوی لاس لري.

که په الهياتي کچه د خدای داسې مفهوم وپالل شي چې هغه په عدالت او انصاف کې داسې بې‌پـروا وي چـې اخلاقو ته ملزم نه دی او داسې کارونه کولی شي يا يې له خپلو بنده‌ګانو څخه غوښتلی شي چې هـېڅ اخلاقـي توجيه ونه لري، نو ښکاره ده چې معتقد وګړی به هم د اخلاقو پروا نه کوي. بيا به هغه ته اخـلاق يـوازې هماغـه خبرې ښکاره شي چې د شرعې په ژبه بيان شوي دي او د اخلاقو هغه لوی او پـرتمين مفهـوم بـه خپـل ځـای د شريعت او د فقهي احکامو سېمبوليک تر سره کولو ته پرېږدي. د دې برخلاف، که خدای د داسې ذات په توګـه وپېژندل شي چې د ټولو ښکلاوو سرچينه ده او په همدې وجه «ښکلا خوښوي» او «ظلم يې هم پر ځان او هم پر نورو باندې حرام کړی دی» ځکه چې پخپله عادل دی، او نه يوازې ظلم بلکې هر غير اخلاقي عمل منـع کـوي، نو بيا به اخلاق په ديانت کې بله معنا پيدا کړي. د باب شوي الهياتي نظام انتقادي مطالعه د ترهګرۍ د ريښو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومولو په لاره کې یو اغېزناک ګام دی. هغه ادارې او مرکزونه چې پخپله خامخا ترهګر نه دي خو دغه الهیات تولید او عرضه کوي، باید خپل دروند او سخت مسوولیت وپېژني.

پر الهیاتي کچې سربېره، د شریعت او اخلاقو رابطه هم بل مهم عامل دی. معنا دا چې که د یوه دین شریعت داسې تفسیر شي چې هر شی پر وچو حقوقي قواعد وتلي او اخلاق په کې د شریعت د احکامو په پرتله په ځنډو کې وي، بیا به دینداره وګړی خپل ژوند یوازې د شریعت له غوښتنو سره سم اعیار کاندي، نه د اخلاقي غوښتنو پر اساس. د شریعت او اخلاقو رابطه، سره له دې چې متنافر او متنافي الطرفین نه ده، خو یوه باریکي په کې شته چې د اکثرو دیندارانو نه ورپام کېږي. باریکي دا ده چې د اکثرو نوموتو فقیهانو په باور، د احکامو ظاهري اجرا کول، په خپل ذات کې د دین هدف نه دی، بلکې د نورو خاصو موخو د تحقق لپاره وسیله ده. دغه خاصې موخې د شریعت په مقاصدو کې راڅرګندېږي. د شریعت خاص مقصدونه د انسان د حقونو پر مدار راچورلي، یا باید وچورلي، چې د فقیهانو په اتفاقي باور، د انسان د سر او ژوند خوندیتوب یې په سر کې دی.

کله چې له خپلو مقصدونو سره د شریعت رابطه شلېږي او د شریعت د ظاهري احکامو اجرا کول په هدف بدلېږي، بیا نو شریعت د هغو کسانو لپاره د خپلې واکمنۍ او سلطې د ټینګولو په وسیله اوړي چې ځان د شریعت د تطبیقولو استازي راپېژني. دلته بیا د احکامو اجرا کول، د قوانینو د اجرا کولو غوندې، یوازې د نورو ځپلو او د خپلې واکمنۍ د ټینګولو وسیله وي او نور هدفونه یې په پام کې نه نیول کېږي.

دا چې په مختلفو هېوادونو کې بنسټپالي مسلمانان د شریعت له تطبیق سره شهوتناکه مینه لري او له اخلاقو سره بېرغبته دي، وجه یې له واکمنۍ او اقتدار سره سخته مینه ده. دغه مینه او جذبه هله خپلې څوکې ته رسېږي چې د ټولنې محرومو خلکو ته د پخوانیو فتوحاتو او بېشمېرو غنیمتونو له تلوسې ډکې کیسې ویل کېږي او په دې کیسو کې بیا خورا رومانټیکې صحنې هغه وي چې د ترک او هندو او رومي غلامانو او کنیزانو د شمېر خبره او د فاتحانو تر منځ د هغوی د وېشلو کیسې کېږي، خو په ذهنونو کې دا پوښتنه نه پیدا کېږي چې دا کارونه څومره اخلاقي دي.

د طالبانو د واکمنۍ تجربه د هغوی د اقتدار په ټولو کلونو کې او اوس مهال په عراق او سوریه کې د داعش تجربه دا خبره ښه برښدوي چې د شریعت برسېرن تطبیقول، بې له دې چې پر اخلاقو د باور خبره په منځ کې وي، هغوی ته یو طلایي فرصت ورکوي چې د خپلو مخالفانو مال غارت کړي، ښځې او نجونې یې وینزې کړي او د مریيانو د خرڅولو بازارونه ولګوي. همدارنګه دا ډلې او همفکران یې چې کله له سیالو ډلو سره ټکر کوي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه ځان ته جایز ګڼي چې هر رنګه غیر اخلاقي وسیلې، لکه تور لګول، دروغ، د ناحقو خبرونو خپرول، او د رقیب وژل، وکاروي ځکه د دنیوي واکمنۍ او اقتدار په سر شخړه د جګړې منطق غواړي، او د ځینو روایتونو مطابق په جنګ کې چلبازي، بې‌رحمي او قسوت جایز دي.

خبره هله د پوره ناورین برید ته رسېږي چې دینداري د اخلاقو بدیله او ځایناستې وبلل شي، داسې چې ګواکې د دین په لرلو سره اخلاقو ته اړتیا نه پاتې کېږي. هغه دینداران چې په همدې باور دي، څومره چې د خپلو اخلاقو بانکي حساب تشویني، هماغومره د خپلې ظاهري دینداری بانکي حساب لا زیات ډکوي. ظاهري دینداري هم د چا قدر او احترام زیاتوي، هم یې قدرت او پیسې ډېروي او هم د قدرت او ثروت د استفادې لپاره ورته د «شرعي چلونو» د کارولو لارې چارې برابروي.

د دینداری او اخلاقو د موضوع بل پټ چې پر دې دوو پېټونو اغېزه پرې باسي، له وینې تویولو او خشونت سره د مقدسې چارې رابطه ده. د بشر د څو زره کلنې تجربې په ترڅ کې، له هند او چین څخه رانیولې تر افریقا او لاتینې امریکا پورې، په مختلفو فرهنګونو کې د وینې تویولو خاصه معنا لرلې ده. د قربانۍ مراسم، د ژوند فدا کول، او د خدایانو یا د هغوی د مجسمو په وړاندې د وینې د تویولو سېمبولیک دودونه – د اولاد وینه، یا د خپل بدن د کوم غړي وینه، یا لږ تر لږه د کوم حیوان وینه – لا هم د بشر په جمعي ذهن کې شته او کارېږي. دا سمه ده چې د تمدنونو په پرمختګ سره د هغوی خشنې بڼې منسوخې شوې دي او په مختلفو دینونو کې د قربانۍ مفهوم مختلفو لوریو ته تللی او د وینې د تویولو ځای نورو مناسکو نیولی دی، خو لا هم په ځینو فرهنګونو کې – په تېره د مسلمانو بنسټپالو په منځ کې – د خپلې عقیدې لپاره له خپل سره تېرېدل تر ټولو لوړ ارزښت ګڼل کېږي او ستایل کېږي.

د دې کسانو په نظر، عقیده یوازې د انسان په ذهن کې د ځینو مفاهیمو انځورېدل نه دي چې ویې ارزولی شو او نقد او اصلاح یې کړو. د دوی په نظر په یوه مقدس امر باندې عقیده او پخپله هغه مقدس امر دواړه سره برابر دي. د ستونزې غوټه همدا ده او کله چې مذهبي جذبې آخري حد ته رسېږي، فاصلې له منځه ځي او معتقد له مقدس امر سره ځان یو شان ګڼي. په دې خاصو شېبو کې هم کرکه او غوسه او هم شور او ولولې د تقدس رنګ اخلي. په دې حالت کې نو د عقیدې لپاره د سر او مال او ژوند قرباني کول هېڅ هم نه دي.

کېدای شي دا حالت د دریمګړي ناظر په سترګو کوم ډول جنون، لېونتوب یا بل ډول اروايي ناروغي ښکاره شي خو د بنسټپالي معتقد انسان لپاره د ایمان او د ټینګې عقیدې «خاصه ننداره» ښکاري. د خاصې نندارې پنځول

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې د سينماګرانو لپاره مهم نه دي، بلکې د داعش، القاعدې، طالبانو او نورو همفکرانو لپاره يې هم ډېر مهم دي. دوی د پخوانيو انسانانو په شان چې د خپلو خدايانو په وړاندې به يې قرباني کولې، دغه خاصې ننداري په مناسکي روحيه ترسره کوي او په هماغه روحيه يې فلمونه اخلي او بيا يې خپروي. دوی د خپلو عملياتو په فلمونو کې په ښکاره راښيي چې د قربانيانو د جسدونو د ټوک ټوک کېدو په وخت کې په خاص شوق او خوښی او نشئې سره تکبير وايي او مذهبي اوراد تکراروي.

په متعارف وضعيت کې خشونت او ګواښل او وينه تويول د اخلاقو په تله تلل کېدای شي او د ښه او بد حکم پرې کېدای شي خو د بنسټپالو لپاره ښه او بد اپوټه وي. په تېره بيا هغه مهال چې ځان او دين ورته يو ښکاري، د اخلاقو منبا دوی پخپله وي او هغه کار چې د نورو لپاره خورا غير اخلاقي وي، د دوی لپاره د اخلاقو کمال وي، هماغسې چې د نورو لپاره وژل کېدل د ماتې معنا لري، د دوی لپاره بری او د بري تر ټولو لوړه بڼه ده.

په دې حساب، دا پوښتنه کولی شو چې ترهګر ته د اخلاقو خبره څنګه کولی شو چې پر خپل کار فکر وکړي، او که فرضاً، دا هڅه ناکامه شوه، د هغوی د خشونت د مخنيوي لپاره تر ټولو اخلاقي لاره به کومه وي؟

**په روژه کې انتحار:**

ځينې مسلمان عالمان په رمضان مياشت کې د روژې نيولو د حکمت په بيان کې وايي چې روژه بايد ونيسو چې د غريبانو له حاله خبر شو؛ چې له خوراک او څښاک څخه په ډډه کولو سره د ځان په اړه د فکر کولو لپاره څو ګړۍ وخت پيدا کړو؛ چې له ورځنيو ستونزو لرې شو؛ او د خدای له بنده‌ګانو سره د پخلاينې موقع پيدا کړو. په ديني روايتونو کې راغلي دي: «کله چې څوک روژه وي، له نورو سره دې شخړه نه کوي او څوک دې نه ښکنځي، او که چا زياړې ورته وکړي، دی/ دا دې ووايي چې زه روژه يم!» (د مسلم او بخاري د روايت پر اساس). قرآن مجيد دغه ټولې خبرې په يوه عبارت کې رانغاړلې دي او ويلي يې دي: «لعلکم تتقون»(سوره بقره، آيه ۱۸۳) يعنې «چې د پروا او پرهېز والا شئ.» خو په افغانستان کې خبره اپوټه ده. دلته خبره له شخړې او ښکنځلو تېره ده، د پروا او پرهېز نښه لا نشته، او په ښکاره د بني‌آدم سرونه لوټېږي. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې په روژه کې خونړۍ او وژونکې حملې د دين په نامه او په شرعي توجيه ترسره کېږي.

د جګړې په کلونو کې د دين په نامه داسې ادبيات باب شول چې له هر مناسبت څخه يې د خشونت لپاره وسيله سازه کړې ده. ديني بنسټپالي د ګڼو روايتونو په منځ کې هماغه روايتونه را اخلي چې د اسلام د پيغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې غزاګانې او د مسلمانانو ځینې فتوحات په روژه کې شوي دي، لکه د بدر غزوه، د مکې فتح، د حطین او عین جالوت جنګونه، او د قسطنطنیې فتح.

دوی دا حکایتونه ځکه وایي چې خلک له نامسلمانانو او د دوی په ګومان له منحرف شویو مسلمانانو سره جهاد ته وهڅوي. هغوی خپل پلویان هڅوي چې که روژه په خوله کې ووژل شي، ثواب به یې لا زیات وي. ان د شپې او ورځې په مختلفو وختونو کې هم انتحاري عملیات په هغه وخت کې لا غوره ګڼي چې انتحاري کس له تېر لمانځه څخه په اوداسه کې وي.

اکثره مسلمان عالمان له افراطیانو سره یوه خوله نه دي، خو داسې کسان په کې لږ دي چې د افرطیانو ادبیات، چې ایډیالوژیکي وسله یې ده، په ښکاره نقد کړي. دا په دې چې دغه ادبیات د لا پراخې ډلې د واکمنۍ د تأمینولو وسیله ده او څو مطلبه ورنه بودېږي. که د ترهګرو ډلو ادبیات وچ شي، چې دا کار خورا ستونزمن دی، نو نورو بنسټپالو جماعتونو ته به دا ډېره ګرانه وي چې د قدرت او ثروت په سیالۍ کې خپل رقیبان مات کړي.

نو، هغه کسان چې انتحاري عملیات کوي او د رمضان د حرمت په خلاف مسلمانان د ویر پر ټغر کېنوي، تر شا یې ځواکمنه تیوریکي تکیه ولاړه ده او د جبهې له شا څخه د تبلیغاتو پیاوړې توپخانه یې ملا تړي.

د دې لپاره چې د بې‌ګناه وګړو د وینې تویولو امکان خورا کم شي، او د دې لپاره چې له روژې او نورو دیني مناسبتونو څخه د لا زیاتو وژنو لپاره کار وانه خیستل شي، ډېر کارونه باید وکړو چې دا وضعیت بدل شي، هغومره کار لکه دوی یې چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې د جنګي ادبیاتو د پنځولو لپاره کړی دی.

د دې کار لپاره دیني مراجع او هغه مرکزونه چې د دین د تبیین او تفسیر متولیان دي، باید مسوولیت احساس کړي. هغوی باید په دیني تعلیماتو کې د انسان د سر ساتنه او د ژوند ارزښت او قیمت راوځلوي. دوی باید ووایي چې کله دینداران د قتل او ورانۍ لاره نیسي، له اصیلې دینداریۍ څخه راپرېوځي او یوازې خپل ضد پالي. دغه دیني بنسټونه که وغواړي چې د دین په نامه د بې‌ګناه وګړو د وژلو مخه ونیسي او دغه داغ د اسلام له لمن څخه پاک کړي، نو سخت کار به یې په مخ کې وي. دوی پر هغه لاره باید روان شي چې قرآن مجید "لایخافون لومة لائم" بللې ده، یعنې د هېڅ ملامتوونکي له ملامت څخه ونه ډارېږي.

ملامتول د ترهګرو د پلویانو اروایي وسله ده. هر څوک چې په دیني لحاظ د دوی تیوري نقدوي، دوی یې په همدې وسلې په سر سر وهي او د ترهې او وژلو ادبیاتو ته خوندي چاپېریال برابروي. دوی په آسانۍ سره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

رقیبان د غرب کسان، له نړه او اصیل اسلام څخه بې‌لارې شوي، د فکري جنګ او فرهنګي تهاجم مخکښان بولي. اکثره کسان له دغو تورونو څخه د وېرې په وجه غوره ګڼي چې د قتلونو او وینې بهونو په مقابل کې غلي پاتې شي او که ډېره توره وکړي، ایله دا کارونه په عمومي او ګڼ معنایي کلمو سره غندي او بس.

خو له بلې خوا، که د دې بهیر په مقابل کې رښتیانۍ هڅه ونه شي، د افغانستان او د نورو مسلمانو هېوادونو روژې به په وینو لړې روژې پاتې شي او انتحار او قتل و قتال به همداسې روان وي. که له دې اخلاقي مسوولیت څخه خپلې اوږې سپکې کړو، نو د پر له پسې ناورینونو شاهدان به پاتې شو.

**د عقیدې دفاع څه معنا؟**

د ۱۳۹۴ لمریز کال پیلامه وه. په کابل کې د قرآن مجید د سوځولو په تور د یوې نجلۍ قتل، چې فرخنده نومېده، د ټولنې ډېره برخه هکه پکه کړه او د مطالعې د ځینو خاوندانو په ذهنونو کې ژورې پوښتنې راولاړې شوې. دا پوښتنې د ماجرا د بېلابېلو اړخونو په اړه وې. تر هاغې پېښې څو ورځې وروسته، ابن سینا پوهنتون دا لاره هواره کړه چې زه له خپل پوه ملګري جناب ډاکټر امین احمدي سره په ګډه له محصلانو سره په دې اړه خبرې وکړم. ډاکټر احمدي د فرخندې د وژلو د پېښې هستي‌پوهنه راوسپړله. ده وویل چې دې ناورین د پېښېدو امکان څرنګه پیدا کړ. ما د عقیدې د دفاع د مفهوم‌پوهنې په اړه، چې د پېښې توجیه کوونکو او مشروع ګڼونکو مطرح کړې وه، بحث وکړ.

هلته زما بحث دا و چې ځینو کسانو د دې پېښې د خبر په اورېدو سره، بې له دې چې د موضوع حقیقت ځان ته معلوم کړي، ولې یې د دې وحشت‌ناکې پېښې د ترسره کوونکو ملاتړ وکړ. ما ځینې هغه کلیپونه چې د دې جنایتکارانو په ملاتړ په ټولنیزو شبکو کې خپاره شوي وو، څکه واورېدل چې وپوهېږم دوی څنګه او ولې د یوه لوی جنایت پلوي کوي او په عام محضر کې هغه موجه ښیي. دلته مهم شی د دوی هغه منطق و چې د بې‌ګناه وګړو د وینې تویول او د مخالفانو محاکمه کول او د بل وړ فکر کوونکو پانسۍ کول آسانوي. دوی ویل چې دا کار د عقیدې د دفاع لپاره شوی دی او هر کله چې څوک زموږ پر معتقداتو برید وکړي، موږ به له خپل سر او ماله تېر شو او مقابله به یې وکړو.

دا موضوع څکه مهمه ده چې دغه منطق، چې د عقیدې دفاع بلل کېږي، له ډېرو کلونو راهیسې په دې هېواد کې بازار لري او د خلکو ژوند اخلي. څو لسیزې کېږي چې د عقیدې دفاع مختلفو ډلو ته پلمه په لاس ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې خپل فکري مخالفان ووژني. که په دې مُلک کې داسې سیستماتیکه څېړنه وای چې د قتلونو او مرگونو علت او انگېزې یې ثبتولای، موږ به لیدلي وای چې د دې هېواد شومره ډېر وگړي د بل وړ فکر کولو په جرم یا تور قتل شوي دي. په ډېرو داسې قتلونو او صحرایي اعدامونو کې چې له یوه ناروا تور پرته نور هېڅ سند په کې نه وي، د بې‌چاره وگړو د وژلو یوازینۍ توجیه همدا د عقیدې دفاع ده. نن سبا چې د ټکنالوجۍ پرمختگونو د مختلفو نظرونو د مطرح کولو لپاره تر پخوا زیاته لاره هواره کړې ده، د عقیدې دفاع لا هم د فشار د وسیلې په حیث د دغو ډلو په لاس کې ده. دوی په دې پلمه هڅه کوي چې لا هم د پخوا په څېر د اوضاع کنټرول په خپلو منگولو کې هماغسې ټینگ وساتي چې هېڅ متفاوت آواز پورته نه شي او هېڅ ننگونه د دوی د اقتدار په وړاندې پیدا نه شي.

کله چې څوک هڅه کوي چې پر دوی نقد وکړي یا نوې طرحه وړاندې کړي، په تېره بیا هله چې د اوسنیو ناخوالو او فکري او فرهنگي گډوډیو ریښې وپلټي؛ او هغه ذهنیتونه کشف کړي چې دا وضعیت ورنه زېږېدلی دی؛ او دا ذهنیت بیا هماغه متاع وي چې دغه ډلې ورباندې فخر کوي؛ نو دوی به قیامت جوړ کړي. په دې شورماشور او کشمکش کې تر ټولو مهمه وسله د عقیدې دفاع ده. دوی ادعا کوي چې پر اعتقاداتو یې نیوکه، د دوی د اعتقاداتو لوټل دي. په داسې حالتونو کې، ځینې ناخبره او کم علمه وگړي د عقیدې د کلمې په اورېدو سره جذباتي او د هر جرم او جنایت ترسره کولو ته چمتو شي؛ لکه هماغه کسان چې د فرخندې په قتل کې مو ولیدل. دا کسان په هره بلوا کې د دې ډلو نوم ورکي سرتېري او زېرمه شوې وسلې دي.

اوس به وگورو چې د عقیدې ماهیت څه دی؛ د عقیدې د دفاع خبره څه مفهوم لري؛ کوم وار له مخکې انگېزنې ورسره ملې دي؛ او تر کومه بریده بیا کتنه غواړي. کله چې د چا یا د یوه شي د دفاع خبره کېږي، نو لږ تر لږه دغه وار له مخکې انگېزنې ورسره ملې وي: ۱) هغه کس یا شی زیان منونکې وي او ملاتړ یې په کار وي؛ ۲) هغه باید شی یا کس وگڼل شي [مادي وجود باید ولري. ژباړن]؛ ۳) باید فیزیکي وي څکه چې زیان منونکی او ضعیف دی؛ ۴) د هغه شي د مالکیت یا د هغه کس د وکالت خبره باید په منځ کې وي؛ ۵) څوک چې پر دې مظلوم کس یا شي حمله کوي، شریر او بد ذاتی وي. په دې حساب د عقیدې دفاع یعنې: عقیده یو شی یا یو کس دی او دغه شی یا کس ته د برید خطر دی؛ او دا چې هغه پخپله کمزوری دی او خپله دفاع نه شي کولی نو یو څوک باید د هغه ملاتړ او دفاع وکړي؛ او څوک چې د هغه د دفاع حق یا دنده لري، باید ورسره څه نسبت ولري او دا نسبت د هماغه شي مالکیت گڼلی شو، یا د هغه کس وکالت او نیابت؛ او چا چې پر هغه برید کړی دی، شریر خلک دي نو باید چې دفع شي. په بله وینا عقیده لکه یو ناتوانه شی یا رنځور او بې‌کسه شخص گڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي چې د کمزورۍ په وجه د برید خطر له ځانه دفع نه شي کولی، نو هغه کسان چې د دې شي مالکان دي یا د دې کس وکیلان دي حق لري، بلکې دا یې دنده ده چې ملاتړ او دفاع ته یې ور ودانگي. که دې تصویر ته ځیر شو، وبه وینو چې د عقیدې د دفاع تعبیر د یوې سناریو لنډیز دی چې په یوه خوا کې یې شریر وگړي دي چې پر یوه ارزښتمن شي (عقیدې) حمله کوي او په بله خوا کې یې د خیر او فضیلت خاوندان چې د دغه شي دفاع ته راوتلي دي. ښکاره ده چې په دې سناریو کې د فضیلت پلویان پخپله د همدې سناریو جوړوونکي دي او شرور انسانان هغه کسان دي چې د دوی مخالفان دي او نظرونه یې نقدوي.

خو، که دوی دا سناریو د حقیقت په نامه راباندې تېروي، کولی شو چې په مقابل کې یې بله سناریو جوړه کړو چې مبنا یې تجارت وي او په کې داسې وانگېرل شي چې ځینې چلبازه کسان بې‌کیفیته او بې‌کاره شی تولیدوي او هڅه کوي چې په چیغو او اعلانونو سره مشتریان وغولوي چې خپل جنس ورباندې وپلوري؛ او د دې لپاره چې رقیبان یې بازار ته ښه جنس رانه وړي، او که یې راوړي وي، د دوی مشتریان ځان ته را ونه کاږي، نو پر خپل بې‌کاره جنس باندې داسې نوم ږدي چې د مشتري خوښېږي او هغه جذبوي، مثلاً عقیده، ایډیالوژي، یا فرهنگ. دوی په مختلفو چلونو سره هڅه کوي چې د مشتریانو سترگې د رقیب پر جنس ونه لگېږي، ځکه چې که داسې وشي نو هغه به د پرتلې فرصت پیدا کړي او په فکر او سنجش سره به دې نتیجې ته ورسېږي چې د لومړۍ ډلې جنس نه یوازې دا چې گټه نه لري بلکې همدا مو د دوامدارې بدمرغۍ او فلاکت سبب و. بیا به نه یوازې دا چې سودا به ورنه نه کوي بلکې له دې چلبازو سوداگرو څخه به د تېرو کلونو او لسیزو د زیانونو تاوان هم واخلي. دغه ټگان د دې لپاره چې داسې پېښه هېڅ کله ونه شي، نه پرېږدي چې څوک دې د بل (ښه) جنس نوم لا واخلي، راوړل خو یې لا پرېږده.

البته چې دا فرضي سناریو ده او د سناریو جوړولو لمن هم ډېره پراخه ده. هر څوک کولی شي په خپل خوښه داسې تصویر وکاږي چې پخپله په کې ښه او مقابل لوری بد وښیي. خو باید وگورو چې دغه تشبیه‌گانې د حقیقت له مخې پرده لرې کوي او د حقایقو په پوهېدو کې مرسته کوي، که مو سترگې تېر باسي او غلطې لارې ته مو سیخوي. د دې موضوع د لا ښه پوهېدو لپاره باید دا تصویر راوسپړو او وگورو چې د داسې سناریو جوړول سم دي، که ناسم.

دا کار له بنیاده غلط دی چې عقیده دې د شي یا کس په توگه انځور شي ځکه چې عقیده نه په لغوي لحاظ او نه په اصطلاحي لحاظ داسې مفهوم لري او دا مفهوم یوازې په استعاري بڼه کارولی شو. لومړی خو په قرآن او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیث کې د عقیدې کلمه نشته او مقدسه نه ده، بلکې ډېر وروسته چې مختلف دیني علوم رامنځته شول، دا اصطلاح هم پیدا شوه او د وخت په تېرېدو سره مشهوره شوه. په څه باندې چې قرآن او حدیث ډېر ټینګار کړی دی، هغه ایمان دی او ایمان هم په لغوي لحاظ له عقیدې سره توپیر لري او هم د اصطلاحي تعریف په لحاظ خورا پېچلی دی او عقیدې ته یې راټيټول، په ګڼو نورو نظرونو کې، یوازې یو نظر دی. دا موضوع په یوازې سر خورا مهمه ده.

## د عقیدې ماهیت څه دی؟

عقیده د ماهیت په لحاظ یو ذهني امر دی. هغه موضوع چې دا ذهني امر ورپورې تړلی دی، په عقیدې پورې اړوند بلل کېږي او پخپله عقیدې سره یو شان نه ده. انسانان د مختلفو چارو په اړه د شناخت، تلقین، یا تقلید له لارې یوه باور ته رسېږي او دا باور یې یوازې په ذهن کې وي. هغه موضوع چې باور ورپورې تړلی دی، کېدای شي ورځنۍ او بې‌اهمیتې چارې وي، یا د هستۍ او تقدیر او د خلقت راز او سلګونه نور خورا اساسي موضوعات وي. له دې ورها خوا چې زموږ د باور موضوع او متعلق حقیقي چاره ده که اعتباري، باور او عقیده پخپله یوازې یو ذهني حقیقت دی چې د ګڼو علتونو او عاملونو زېږنده وي. مثلاً یو نازي وګړی فکر کوي چې جرمن توکم داسې فضایل لري چې نور توکمونه ورنه محروم دي او په همدې وجه جرمن توکمي حق لري چې پر نورو واکمني وکړي او که څوک ورسره مخالفت وکړي، باید یې ووژني. د سکیمو قبیلو په منځ کې ځینې کسان د خپلو قربیانو مړي خوري. د دوی داسې عقیده ده چې که د خپل وفات شوي قریب مړی وخوري، هغه به د دوی په بدن کې جذب شي او په دې توګه به د دوی په ژوند کې لا هم پاتې شي. دوی دغه کار د خپل مړي درناوی ګڼي. هندوان خپل مړي سوځوي او باور یې دا دی چې هر کله شی په سوځولو پاکېږي او د اور لمبې چې پورته خوا درومي، د هغوی په باور پاسني جهان ته د عروج او نیروانا ته د رسېدو نښه ده. نیروانا د دوی په باور یو سپېڅلی اور دی چې د هستۍ رڼا ورنه پیل او خپره شوې ده او کاینات ورنه پیدا شوي دي.

نو په دې هر مورد کې وینو چې عقیده او باور داسې ذهني مفهوم دی چې یوازې د خپل خاوند په ذهن کې وي. د عقیدې ماهیت هماغه تصویر دی چې د ذهن پر کاغذ رسمېږي او منشأ یې کېدای شي شخصي تفکر، د کورنۍ تلقین، رسمي تعلیمات، مذهبي تبلیغات، هنري آثار، او یا د دې ټولو ترکیب وي. دا چې دا باور له کومه راغلی دی، پروا نه کوي، مهمه دا ده چې د عقیدې د خاوند په ذهن کې ځینې تصویرونه او انځورونه جوړېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه بیا د هغه په باور اوړي. د دې ذهني تصویرونو او بهیر په اړه هم د ذهن په فلسفه کې مهم بحثونه شته او هم د عصبپوهنې (Neurology) په علم کې.

پر دې سربېره چې زموږ باورونه په اصل کې ذهني تصویرونه دي، هغه عاملونه چې باورنه زېږوي هم نـړه علمـي او معرفتي عاملونه نه دي. اکثره دغه تصویرونه هغه کلیشې دي چې په پېړیو پېړیو او نسلونو نسلونو پاتې شـوې دي. مثلاً کله چې خلکو گومان کاوه چې ځمکه د غوایي پر ښکرو ولاړه ده، د عمـر خیـام غونـدې لـوی انسـان، چې د خپل وخت خورا عاقل بنيآدم و، د همدې ټولیز باور تر اغېزې لاندې راغلی و او ویلي یې وو:

گاوی است در آسمان و نامش پروین/ یک گاو دگر نهفته در زیر زمین

چشم خردت باز کن از روی یقین/ زیر و زبر دو گاو مشتی خر بین

دلته چې خیام د دوو غویانو خبره په یقین او قاطعیت سره کړې ده، گواکې دا په علمي مسلماتو کې وي، د هغه باور د خپلې زمانې له باب شوي باور څخه زېږېدلی و. دا باور د نـړۍ هغـه تصـویر دی چـې د ده پـه ذهـن کـې ایستل شوی و او ښکاره خبره ده چې سره له دې چې دا تصویر هېڅ علمي بنسټ نه لري، خو زرگونه کاله اکثرو خلکو او ان شک کوونکو پوهانو هم منلی و. په همدې رقم زرگونه نور باورنه شته چې په مختلفـو فرهنگونـو او د مختلفو ملتونو په منځ کې په زرگونو کلونو کې راپیدا شوي دي. د دې باورونو ډېره برخه، که معقول ښکاري کـه نامعقول برېښي، هېڅ علمي بنسټ نه لري. خو ان هغه خبرې چې علمـي دي او پـه معتـبرو علمـي لارو ثـابتې شوې هم دي، لکه د اټوم په مدارونو کې د الکترونونو شـتون، سره لـه دې چـې ثابـت شـوی واقعیـت دی خـو د باورمن په ذهن کې له یوه ذهني تصـویر ورهـاخوا بـل څـه نـه دی، او د څرگنـدولو پـه میتـود سره چـې عمـومي میتافیزیک وي که کوانټومي فیزیک، سره توپیر پیدا کوي. یعنې په دې باندې بـاور چـې الکترونونـه د اټـوم پـه مدار کې گرځي، له دې سره چې الکترونونه په رښتیا د اټوم چارچاپېره گرځي، یو شان نه دی. په بله وینا عقیده او د عقیدې متعلق یو شی نه دی؛ لکه څنگه چې تصویر او د تصویر موضوع یو شی نه دی. د یو چا هغه تصـویر چې زموږ په ذهن کې شته، سره له دې چې له هغه کس سره ډېر ورته دی، خـو د هغـه ځـای نـه شي نیـولی. د دوی تر منځ توپیر د خیال او واقعیت تر منځ د توپیر په شان دی، ځکه چې په خیال کې هـم لـه تصـویرونو سره سر و کار لرو، نه د واقعیت له اصل سره، سره له دې چې دا تصویرونه له ذهنه بهر واقعیتونو ته ارجاع هم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې زموږ په ذهن کې تصویرونه جوړېږي، د جوړېدو له پیله یې تر پایه پورې دغه بهیر د مختلفو عاملونو تـر اغېزې لاندې وي، لکه وراثتي، اروایي، تجربي، تعلیمي، فرهنګي، عاطفي، او ګڼ نور عاملونه. یعنې زموږ ذهنـي تصویرونه، له دې ورهاخوا چې په کومې موضوع پورې اړه لري، په بې‌طرفانه، نړه او بې‌عیبه توګه نه رغېږي. هـر ذهنـي تصویر د ګڼو عاملونو د تداخل او متقابلې اغېزې محصول دی او له یو بله د دې عاملونو جـلا کـول خـورا ستونزمن کار دی.

**(4)**

## په افغانستان کې د سرلارو وژل،

## فرهنګي که ایډیالوژیکي علت؟

په دې اړه چې څوک سرلاری (نخبه) بللی شو، اتفاق نشته خو د دې کلمې تعریف داسې شوی دی: د ټولنې لږ شمېر کسان چې د ځواک، پوهې، شهرت، او نورو عاملونو په وجه ډېر نفوذ او اغېزه لري. (۱)

که پر طبقاتو د ټولنې په وېش باور ولرو یا یې ونه لرو، په دې کې شک نشته چې ځینې وګړي خاص مقام، نفوذ او اغېزه لري. دا هغه څه دي چې د ټولنې ټول خلک یې نه لري او د وګړو همـدا کسـان سرلاري یـا نخبـه بللـی شو. سرلاری خامخا مثبته معنا نه لري چې یوازې د ټولنې ښه خلک راونغاړي، بلکې هم ښه وګړي په کې دي او هم بد، ځکه چې هم ښه او هم بد اغېزناک خلک شته. خو په ټوله کې دا کلمه په مثبتـه معنـا کـارول کېـږي او هغه کسان سرلاري بلل کېږي چې تر عامو خلکو د زیاتې پوهې او بصیرت په وجـه تـرې تمـه کېـږي چـې خپلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه د ښو بدلونونو پر لاره سمه کړي. په دې ليکنه کې، له دې تعريف سره سم، مطلب مو فکري او فرهنګي سرلاري دي، نه ټول هغه کسان چې سرلاري بلل کېږي يا ګڼل کېږي او ځينې يې له روان وضعيت څخه ګټه اخلي او د همدې وضعيت د غځولو هڅه کوي. روان وضعيت يعنې همدغه نامطلوب وضعيت. په دې ليکنه کې دا پوښتنه راسپړل کېږي چې په افغانستان کې د فکري سرلارو وژل د کوم عامل زېږنده دي، د فرهنګ که د ايډيالوژۍ.

د فرهنګ لاس ځکه په کې دی چې دا پديده ټولنيزه ده او پېژندنه يې ټولنپوهنيز اړخ لري. څوک چې سرلاري دي، ټول تر متعارف حد پورته درک او ليد لري او همدا وجه وي چې دوی اغلباً تر نورو خلکو د پېښو متفاوت درک لري. کله چې څوک متفاوت نظر وړاندې کوي، په تېره بيا د عمومي حوزې په مسايلو کې، نو عادتاً له مخالفت سره مخ کېږي يا لږ تر لږه په لومړي سر کې يې چندان هرکلی نه کېږي. خو د متفاوتو نظرونو درلودونکو سرلارو سره د ټولنو چلند، په هر ځای کې او هر وخت يو شان نه وي. ځينې ټولنې ورسره لاره وړې او حساسيت نه ورسره کوي، ان دا چې د نويو او متفاوتو ليدلوريو هرکلی کوي او داسې سرلاري ستايي، حال دا چې په ځينو نورو ټولنو کې دا کار انحراف، بې‌لارېتوب، او ان ارتداد ګڼل کېږي او داسې سرلاري له مخالفت او مجازاتو سره مخ کېږي [دا خبره په ډېرو برخو کې شته. همدا تېر کال، ډاکټر محمد صادق فطرت ناشناس د پټې خزانې په اړه د متفاوت نظر په وجه دومره ورټل شو او دومره سپکې سپورې ورته وويل شوې چې تر تکفير کم نه وو. ژباړن]

کله چې له فکري سرلارو سره مخالفت د هغوی تر قتله پورې ورسېږي او دا بهير د څو کلونو يا څو لسيزو په مخه مدام روان وي، نو له داسې ښکارندې سره به مخ يو چې د سرلارو وژنه بلل کېږي. دغې ښکارندې ټولنې ته سخت زيانونه اړولي دي او نه پرېږدي چې ټولنه له دې اوسني وضعيت څخه راوځي. د سرلارو وژنه دوې معناوې لري: يوه دا چې په تور، بهتان او ناروا خبرو سره د خلکو په ذهنونو کې د سرلارو کسانو تصوير داسې بدرنګه کوي چې که په فيزيکي لحاظ ژوندي هم وي، د ټولنې په ذهن کې وژل شوي وي. دوهمه معنا يې د سرلارو فيزيکي قتل دی. دا قتل کېدای شي حاکمان وکړي، کېدای شي ګوندونه او ډلې او يا عام خلک يې وکړي. دلته به د سرلارو د وژنې همدا دوهمه معنا راوسپړو.

قرآن مجيد د پيغمبر د زمانې پر بني اسراييلو نيوکه کوي چې نيکونو يې پيغمبروژنې ته مخه کړې وه او دا چاره په دوی کې په دوامداره دود اوښتې وه او هماغه وه چې دوی د اسلام له پيغمبر سره هم مخالفت کاوه. "أ فكلما

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاءکم رسول بما لاتهوی أنفسکم استکبرتم ففریقا کذبتم و فریقا تقتلون" (2) (نو هر کله چې یوه پیغمبر داسې څه درته راوړل چې ستاسو د خوښې نه وو، تاسو ولې کبر وکړ، یوه ډله مو دروغجنه وبلله او بله ډله مو ووژله.) دا سمه ده چې د ټولنې ټول سرلاري پیغمبران نه دي، خو ټول پیغمبران سرلاري وو او د پیغمبرانو او هغو فکري سرلارو په چارو کې – چې د خپلو خلکو د ژغورلو رسالت لري - هر وخت ورته‌والی وي. دغه ورته‌والی هم په دې کې دی چې دواړه له باب شویو ذهني کلیشو او قالبي فکرونو ور اوړي او هم په دې کې چې دواړه د لا بهتره وضعیت خوا ته د خپلې ټولنې د بیولو هڅه کوي. پر دې سربېره، د دواړو په کار کې د مسلطو فکري جوړښتونو نقدول او له ټینګو دودونو سره مقابله وینو چې دغه دودونه پر خلکو باندې د یوې خاصې ډلې یا طبقې د ولکې او واکمنۍ وسیله وي. دا هغه جوړښتونه دي چې هر وخت یې خپل اورپکي ساتندویان لرلي دي، هغه که په پخوانیو وختونو کې د معبدونو د کاهنانو په جامه کې وو، که نن سبا د جګړه‌مارو بنسټپالو په رنګ کې.

د افغانستان ټولنه د هرې جنګ‌ځپلې ټولنې غوندې، د سرلارو د وژنې پدیده تجربه کړې ده. د دې ښکارندې پیل تر جګړو څو کاله مخکې شوی و، هاغه مهال چې د دودپالو او مدرنیتې دوو سره دښمنو ایډیالوژیو تر منځ دښمني میداني شوه او د یو بل په مقابل کې یې جبهې جوړې کړې. یوه چپي ایډیالوژي وه، هغه که د مائوتسه مفکورو ته لېواله چپي ایډیالوژي وه، که د لینین او ستالین د مفکورو د لارویانو. بله یې مذهبي ایډیالوژي وه چې عمدتاً اخوان المسلمین او جماعت اسلامي پاکستان ته لېواله وه. د دې دوو بهیرونو تر منځ تقابل له هماغه پیل څخه د سختې دښمنۍ او سیالۍ بڼه لرله. البته د ملتپالو ډله هم وه چې خپل سرلاري یې لرل. دواړه ایډیالوژیک بهیرونه د هېواد له حاکم سیاسي نظام سره مخالف وو او غوښتل یې چې را ویې پرځوي او پر ځای یې د خپلې خوښې نظام رامنځته کړي چې د دوی ایډیالوژي حاکمه کړي، خو دغو بهیرونو سره له دې چې ګډ دښمن یې درلوده، خو په خپلو کې دومره سره وران وو چې د یو بل له ختمولو پرته په بل شي نه راضي کېدل. په دې رقابت او دښمنۍ کې یوه وسله د مقابل لوري د سروالو قتل او ترور و. په حقیقت کې د فکري بهیرونو سروال، که په هره مفکوره وو، وو به، خو د خپل وخت د ټولنې فکري سرلاري وو.

هغوی، څومره چې ممکن و، هغومره یې هڅه کړې وه چې د خپلې زمانې له فکري بدلونونو سره ځان آشنا کړي، د نړۍ د آزادۍ او خپلواکۍ په بهیرونو ځان خبر کړي، د خپلې ټولنې شرایط تحلیل کړي – البته دا تحلیل به یې په ناکاره ایډیالوژیکي ابزارو کاوه – او د خپلې ټولنې لپاره نوې طرحه جوړه کړي، داسې طرحه چې د دوی په باور د ټولنې ستونزې پرې حل کېدې، د پرمختګ لاره خلاصېده او بهتره سبا به یې جوړوله. نن سبا چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيمه او نړۍ کې د لويو بدلونونو په وجه، د ايډيالوژيو بازار سوړ شوی دی، د هغوی پر مفکورو او پوهې ډېرې نيوکې کولی شو، خو له دې خبرې انکار نه شو کولی چې هغوی په هغو شرايطو کې د ټولنې سرلاري وو.

په دې بهيرونو کې که د ځينو کسانو يوازينی مهارت دا و چې سياسي فعاليتونه تنظيم کاندي، نو ځينې نور کسان هم په کې وو چې مطالعه به يې کوله او کتابونه به يې لوستل. دوی په دې لټه کې وو چې لا لويو تيوريو ته ورسېږي او د خپلې پوهې په زياتولو سره، سياسي فعاليتونه لا ښه لوري ته برابر کړي او د يوه مطلوب بدلانه لاره هواره کړي.

په دې منځ کې، څه چې ډېر مهم دي، هغه د تفکر د لارې په پېچومو پوهېدل دي. آزادې او خپلواکې مفکورې ته رسېدل ډېر ستونزمن دي. د واقعي سرلارو تر ټولو مهمه ځانگړنه همدا ده چې مستقله مفکوره لري او له دې پرته که څوک سرلاری وي، هغه به کاذب او د درواغو سرلاری وي. هر څوک چې له مختلفو فکري حوزو سره ځان آشنا کړي او بيا پخپله خپل فکرونه په منطقي ډول تنظيم کړي او بالاخره د سياسي بهيرونو لپاره فکر او تيوري توليد کړي، هغه به ډېره اوږده، ستونزمنه، او له پيچومو ډکه لاره وهلې وي.

د نوي درک د حاصلولو لپاره د فکري لټون په لاره کې گام اېښودل، داسې کار دی چې د بشر په تاريخ کې لږو کسانو ورته زړه ښه کړی دی. د دې کار لپاره، تر ټولو مخکې د هغې خونې دېوالونه بايد ړنگ شي چې ميراثي مفکورو جوړه کړې ده او پر اکثرو تقليدي او تلقيني فکرونو شک بايد وشي. ميراثي فکرونه خامخا ديني فکرونه نه دي، بلکې لمن يې پراخه ده او د تاريخ، طبيعت، قوم، قبيله او ډېرو نورو شيانو په اړه د انسان باورونه رانغاړي. څوک چې په دې لاره کې قدم ږدي، د هغه مسافر په شان دی چې له خپل کور څخه د تل لپاره کډه کوي، خو په هېڅ ځای کې هم بل کور نه لري. کېدای شي هغه هره ورځ نوي منزل ته ورسېږي او لږه شېبه په کې دمه شي خو په هېڅ ځای کې به يې کور نه وي. هغه په هر منزل کې تم کېږي، شا و خوا ته گوري او کېدای شي ځينې منظرې يې خوښې شي، خو پوهېږي چې هلته پاتې کېدل په دې معنا نه دي چې گواکې له پلټنې او لټون څخه به لاس اخلي.

دا سمه ده چې هر يو يې د عمر تر پايه پورې دا لاره نه وهي او ځينې پلټونکي سترې کېږي او په يوه منزل کې دېره کېږي او هغه سودا چې په دې سفر کې يې له ځانه سره راوړې ده، وړاندې کوي او ان دوکان لگوي او سوداگري ته مخه کوي. هغوی داسې نيمچه متفکران دي چې د لارې تر پايه پورې د تلو توان نه لري، ځکه چې د لټون او پلټنې لاره بې‌پايه لاره ده او آخري منزل يې د پلټونکي مرگ دی. ښايي همدا وجه به وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينو مفسرانو د قرآن په يوه آيت کې يقين ته رسېدل، مرګ ګڼلی دی: "و اعبد ربک حتـی يأتيـک اليقـين" او د خپل پالونکي عبادت تر هغې پورې وغځوه چې تا ته يقين/ مرګ در ورسېږي. (۳)

په هره توګه، که څوک د لارې په نيمايي کې تم شي او که څوک د لارې وهل وغځوي، دواړه تر هغو کسانو نـوي څه لري چې له لومړنيو خونو څخه راوتلي نه دي. څومره چې دغه لارويان لا ډېـر نـوي شـيان ولـري، هماغـومره سرلاريتوب ورسره ښه جوړېږي او د نورو سرلارو په منځ کې يې مقام لا لوړېږي.

څـوک چـې داسـې تجربـه نـه لـري، نـه خـو د دې لارې پـه سـتونزو پـوهېږي او نـه د سرلارو د نقـش اهميـت ورمعلومېږي. د مولانا خبره: "در نيابد حال پخته هيچ خام" هېڅ خام به د پاخه له حاله نـه شي خـبر. د فکـر او لټون په لاره کې پخېدل، په دې معنا نه دي چې پوخ سړی به له تېروتنو او خطاګانو خونـدي وي، ځکـه چـې د حقايقو په کشفولو کې د بشر توان محدود دی او هغه چارې چې بايـد کشـف شي، نـا محـدودې دي. د بشرـ د فهم د محدوديت په اړه لويو متفکرانو ليکنې کړې دي او تکرار ته يې اړتيا نشته. (۴) د بشر د فهم پر محدوديت سربېره، دا خبره هم ښکاره ده چې انسانان يوازې له تفکر او تعقل سره سر و کار نه لري، بلکې د انسان طبيعت دومره پېچلی دی چې په ژوند کې يې يوازې يو عنصر، مثلاً يوازې فکر، اساسي عامل نه شو ګڼلـی، سره لـه دې چې مولانا ويلي دي: "ای برادر تو همان انديشه ای". اې وروره! ته ټول هماغه فکر يې. خو دا خبره يې د ټينګار لپاره کړې ده، نه د دې لپاره چې نور عاملونه رد کړي. واقعيت دا دی چې اروايي، عاطفي، ارادي، ان جنيټيـک عاملونه د انسانانو د شخصيت په ترکيب کې له عقلاني ځواک سره هممهاله فعاليت کـوي او دا ټـول عاملونـه د هغوی په ليد، تحليل، او تصميم کې اغېزناک وي. نو دا طبيعي ده چې نامعصومه سرلاري دې خطـا وکـړي او د هغوی پر مفکورو نيوکه وشي، خـو تېروتنـې د هغـوی د پلټنـې ارزښـت نـه کمـوي او د هغـوی د اغېزناکـه نقش اهميت نه ختموي.

د نورو هغو هېوادونو په پرتله چې سواد او تعليم په کې عام دي، په افغانسـتان کـې د فکـري او فرهنګـي سرلارو اهميت دو وارې زيات دی، ځکه چې دلته لږ کسان پوهې ته مخه کوي. سره له دې چې په وروستيو کلونو کـې دا وضعيت لږ لږ بدل شوی دی او نسبتاً زيات کسان تعليم ته مخه کوي خو په دې کسانو کـې لـږ يـې لا لـوړې زده‌کړې ته زړه ښه کوي او د هغوی په منځ کې بيا خورا لږ کسان په مختلفـو حـوزو کـې پـه څېړنـې او مطـالعې لاس پورې کوي او غواړي چې د لويو پوښتنو په ځواب پسې راوځي چې د خپلـې ټـولنې سـتونزو تـه د حـل لاره پيدا کړي. په تېرو لسيزو کې داسې کسان خورا لږ وو. دا خورا لږ کسان چې هماغه سرلاري دي، يوازيني کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې د ستونزو ژورو ته يـې پـام کېـږي او د وضعيت لـوی تصـوير ليـدلی شي او د سياسـت، اقتصـاد، ديـن، فرهنګ، هنر، او تاريخ رابطه ليدلی شي، او د دې لوی کُليت زيان منونکي ځايونه پيدا کولی او بيا يـې د عـلاج لاره موندلی شي.

که ټولنه خپل سرلاري په کافی اندازه درک کړي؛ د هغوی فکري هڅې به ستايي، ورسره رغنده خبرې اتـرې بـه کوي او د يو بل په مرسته به د وضعيت د بدلولو لاره پيدا کوي. داسې تجربـې پـه مختلفـو هېوادونـو کـې شـوې دي. خو که ټولنه داسې درک ونه لري، خپل هر هغه بچي ته چـې د کليشـه‌يي او متعـارفو چوکـاټونو څخـه يـې پښه اړولې وي، د ګواښ او خطر په سترګه ګوري او مخکې تر دې چـې د ټـولنې دښـمنان يـې د ختمولـو هڅـه وکړي، دوی پخپله د خپلو بچيو قبرونه کيندي او ژوندي يې ښـخوي. داسـې ټـولنې د خپلـو عـادتونو او دودونـو نقدول نه زغمي او په دې نه پوهېږي چې د مصيبتونو يوه برخه يې له همدغو دودونو او عادتونو راولاړېږي. دوی سرلاري ځکه ورانوونکي او د جوړښتونو ماتوونکي ګڼي چې سرلاري هر څه ته په انتقادي نظر ګوري او ښه او بد يې سره بېلوي. دوی ته د سرلارو مجازات د خطر دفع کول ښکاري.

که په دې لحاظ مسألې ته وګورو چې په ټولنه کې د زرګونو کسانو له منځه يوازې لږ کسان په دې بريالي کېږي چې زياته پوهه حاصله کړي او زيات سترګور شي، او همدوی د يوې ټولنې د ستونزو اقلاً يـوه برخـه حـل کـولی شي، تمه دا کېږي چې هغوی وستايل شي او بر کېنول شي، خو کله چې اپوټه کار کېـږي او دا کسـان ګواښـل کېږي، تر فشار لاندې راوستل کېږي، او بالاخره وژل کېږي، نو بيا جدي پوښتنه رامنځته کېږي. هغه پوښتنه دا ده چې دا اپوټه کار څنګه په منلې او عادي چاره بدلېږي او ټولنه د سرلارو وژل په يوه بهير بدلوي. څـه شـی دا کار دومره آسانه کوي؟ په واضحو ټکو به يې ووايو چې د افغانسـتان غونـدې هېـواد کـې، څـه شـی د دې سـبب کېـږي چـې زيـات شـمېر سرلاري وژل کېـږي، هغـه کـه د مـذهبي ډلـو کسـان دي، کـه د غيـر مـذهبي، او کـه حکومتونه يې وژني، که ګوندونه او وسله‌والې ډلې.

په دې کې شک نشته چې دغه کسان يا بالفعل د هېواد سرلاري وو او يا بالقوه پر همدې لاره روان وو او که يـې موقع پيدا کړې وای، تکړه متفکران او ښايي مخکښ رهبران به ځنې جوړېدل. مثلاً، هغه معلومات چې نـن يـې په مذهبي ډلـو کـې د اسـتاد برهـان الـدين ربـاني، حبيـب الـرحمن، عبـدالرحيم نيـازي، غـلام محمـد نيـازي، اسماعيل مبلغ، او سيد اسماعيل بلخي غوندې کسانو د وژنياوو په اړه لرو، يا په چپي ډلو کې چې د اکرم ياري، علي حيدر لهيب، طاهر بدخشي، عبدالقيوم رهبر، مجيد کلکاني، مير اکبر خيبر، عبدالالـه رسـتاخيز او د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډي نورو کسانو وړتیاوو ته وګورو، یا په لیکوالو او سیاستوالو کې د موسی شفیق، محمد هاشم میونډوال، سید بهاءالدین مجروح، سید رسول او د دوی په شان د نورو کسانو پوهې ته چې وګورو، پوهېږو چې هغوی په خپل وخت کې عالي استعدادونه لرل، تر نورو یې زیاته مطالعه کوله، د خپلې ټولنې د راتلونکې په اړه یې ژور فکرونه کول، خو دوی او ډېر نور کسان چې زیات مشهور نه وو خو پر همدې لوري روان وو، ټول ووژل شول. (۵)

د سرلارو وژل، یا د روښانفکرانو او بل وړ فکر کوونکو بندیان کول او شکنجه کول، د سردار محمد داوود د کودتا په کلونو کې لومړني څرکونه ووهل، خو د خلق دموکراتیک ګوند په کودتا سره اوج ته ورسېدل او په ټول هېواد کې د جګړې له خپرېدو سره، خورا زیات شول. البته دا د جنګ یوازینی درونډ تاوان نه و چې موږ ته یې را واړاوه. د جنګ په کلونو کې، نه یوازې دا چې د ټولنې فکري سرلاري په خطر کې وو، بلکې ان هغه کسان چې د تحصیل په ټیټو درجو کې وو، خو د ټولنې له عامو خلکو څخه لږ څه متفاوت وو، د همدې توپیر په وجه ووژل شول. په دوی کې معلم، ډاکټر، انجینیر، ملا، شاعر، ادیب، هنرمند او نور شامل وو. په دې قتلونو کې ځینې یې د وخت د حاکمانو په زندانو کې او ډېر یې په پېښور او نورو ځایونو کې د صحرایي اعدامونو، اختطاف او ترور په بڼه ترسره شوي دي.

که د هېواد شرایط داسې وای چې دا پېښې په کې نه وای شوې، سیاسي ډلو و واکمنو نظامونو د خپلو مخالفانو په وژلو لاس نه وای پورې کړی، او د هغې پر ځای د ټولنې د ستونزو په باره کې ملي خبرې اترې شوې وای، او مختلفې طرحې او حل لارې وړاندې شوې وای، او مناقشې د مدني او فرهنګي فعالیتونو په چوکاټ کې ترسره شوې وای، او د نظرونو توپیرونه د ټولنې د فکري بډاینې سبب شوي وای، او دا بهیر زموږ په فرهنګ کې پوخ شوی وای، نن به افغانستان په بل حال کې وای او ډېره انرژي او ځواک به په کې وای.

په حقوقي لحاظ د یوه سرلاري مړ کېدل، یوازې د یوه انسان مړینه ده، خو د دې کسانو د اهمیت او نقش په لحاظ د یوه سرلاري مرګ د یوه ملت له مرګ سره برابر دی، ځکه چې داسې کسان په دېرې سختۍ سره پیدا کېږي او په آسانۍ سره یې ځای نه ډکېږي. د سعدي وینا ده چې:

صبر بسیار بباید پدر پیر فلک را/ تا دګر مادر ګیتی چو تو فرزند بزاید

[او پښتانه وایي: سل دې ومري، د سلو سر دې نه مري. ژباړن]

کله چې لاهوري اقبال ځان له رازه خبر بولي او وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر آمد روزگار این فقیری/ دگر دانای راز آید که ناید

یا وايي:

مرا بنگر که در هندوستان دیگر نمی بینی/ برهمن زاده‌ای رمزآشنای روم و تبریز است

دی همدې ټکي ته اشاره کوي چې د زرگونو او ښايي د ميليونونو وګړو په منځ کې ايله يو څو تنه په راز خبر کسان پيدا شي او داسې درک او بصيرت حاصل کړي چې بيا وکولای شي چې د ژغورنې پيغام راوړي.

خو جهل ځپلې ټولنې چې د چلبازو او ټګانو بازار په کې ګرم وي، نه يوازې د سرلارو په قدر نه پوهېږي، بلکې ان د هغوی مرګ هم بې‌غږ و غوږه وي. کله چې د سيد بهاءالدين مجروح غوندې متفکر شخصيت مو له لاسه وځي، ټول ملت بايد د غم جامې واغوندي او له سترګو وينې وڅڅوي، خو په بې‌درکه ټولنه کې داسې چوپتيا وي چې ګواکې هېڅ هم نه دي شوي. دا وضعيت ښکاره مصيبت او ناورين دی.

دلته بايد وګورو چې دغه ناروين له کومه ځايه راولاړ شوی دی؟ ولې د لويو انسانانو په قدر څوک نه پوهېږي؟ ولې د هغوی قتل کېدل، ضايعه نه ګڼل کېږي؟ او ولې يې د تکرار د مخنيوي لپاره کار نه کېږي؟

ښکاره خبره ده چې ان د يوه عادي وګړي قتل ته هم بايد په کمه سترګه ونه ګورو، ځکه چې قرآن مجيد وېلي دي چې د يوه کس ناحقه وژل، د ټول انسانيت له وژلو سره برابر دي: "من قتل نفسا بغير نفس أو فساد في الأرض فكأنما قتل الناس جميعا" (٦) (هر څوک چې يو نفس ووژني بې له حقه او بې له دې چې په ځمکه کې يې فساد او فتنه کړې وي، داسې ده لکه ټول خلک يې چې وژلي وي) خو کله چې ان د سرلارو او پوهانو وژل هم قبيح ونه ګڼل شي او په ورځنۍ او معمولي چاره بدل شي او ان وسټايل شي او د يوې ډلې او ګوند وياړ وګڼل شي، نو موږ به له خورا خطرناک وضعيت سره مخ يو.

د دې وضعيت ريښه په فرهنګ کې هم لټولی شو. په داسې فرهنګ کې د انسان ژوند ته کافي اهميت نه ورکول کېږي او تابوګان يې د انسان د ژوند د ساتنې پر محور نه، بلکې د انتزاعياتو او توهماتو پر محور رغېدلي دي. مثلاً داسې فرهنګ چې د وطن د يوه مترقي پادشاه د مېرمنې سرتور عکس خپرېږي او زرګونه کسان په جذبو او ولولو راځي چې پاڅون وکړي او هغه حکومت نسکور کاندي. (٧) يا هلته چې د دنيا په يوه بل سر کې يو ناپوهه کشيش د قرآن د سوځولو نيت کوي او د دنيا په دې سر کې د دې خبر په اورېدلو سره زرګونه خلک لارو کوڅو ته راوځي، او مکتبونه او بانکونه سوځوي. (٨) يا چېرته چې خلک يو ګونګوسی اوري چې ګواکې يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلۍ د قرآن پاڼې په زيارت کې سوځولې دي، مخکې له دې چې د دې خبرې رښتيا درواغ معلوم کړي زرګونه کسان ليوني کېږي، د دېوانو غوندې حمله کوي او د لېوانو غوندې هغه داړي او بيا يې جسد ته اور اچوي. (۹) دا ټولې پېښې د فرهنګ د سختې ناروغۍ نښې دي او عادي بايد ونه ګڼل شي. طبيعي ده چې داسې فرهنګ د بل وړ فکر کوونکو او سرلارو په وژلو کې هم کوم قباحت نه ويني او د هغوی قاتلان هم نه غندي. خو، په تېرو څلورو لسيزو کې دا ټوله ښکارنده يوازې د فرهنګ په وجه نه ده، ځکه چې د زرګونو فکري او سياسي سرلارو د وژلو تنظيم او مديريت د فرهنګ کار نه دی او ماهيت يې داسې نه وايي.

سره له دې چې فرهنګ په يو ډول سره د دې خونړيو بهير چارې آسانې کړې دي، خو هغه څه چې دا بهير په ناورين اړوي، بل شی دی، داسې شی چې په شلمه پېړۍ کې وغوړېده او پر سياسي او ټولنيزو تحولاتو يې ژوره اغېزه وکړه. دا شی ايډيالوژي ده، هم چپي ايډيالوژي او هم مذهبي ايډيالوژي. دغو ايډيالوژيو د انسان دريځ او مقام راټيټ کړ او د ايډيالوژيکو مفکورو او شعارونو په مقابل کې يې د انسان ژوند کم ارزښته کړ.

د شلمې پېړۍ ايډيالوژيو هڅه کوله چې د بشر د تاريخ او د انسان د بدمرغيو او ټولنيزو ستونزو يو لوی روايت وړاندې کړي او د لا بهترې دنيا د جوړلو لپاره ځينې حل لارې وښيي. دې ايډيالوژيو خپلې دعوې په جزم او قاطعيت سره پيغمبروزمه طرحه کولې او هماغه متصلب او قاطع لحن يې دې ته بس و چې خپل لارويان له يقينه ډک او په ولولو موړ کړي، داسې چې ګواکې د دنيا ټول حقيقتونه يې موندلي دي. د دې ايډيالوژيو په اړه ډېرې خبرې شوې دي او په نقد کې يې مهم کتابونه کښل شوي دي. (۱۰) دلته بحث په دې باندې دی چې د ټولنې د سرلارو وژل څنګه د دې ايډيالوژيو په مټ مشروع کېږي.

د ايډيالوژيو داسې انسانان په کار وو چې هم د فرد او هم د ټولنې په حيث پاک، بې‌عيبه او په ټول پوره وي نو ايډيالوژۍ له مدارا او تسامح سره يو مخ نا آشنا وې ځکه چې مدارا او تسامح له هغه چا سره کېږي چې خطا کوي او دوی خو خطاکاره انسانان له سره نه غوښتل. د ايډيالوژيو په نظر خلک دوه ډلې دي، ښه او بد، او نړۍ هم په دوو کمپونو وېشل شوې ده، د خير او د شر کمپونه. بدان د ختمولو او ښه د حکومت کولو لايقان وو. د هغوی په باور، نړۍ بايد له داسې کسانو څخه په قهر او خشونت سره پاکه شوې وای چې دوی بد انګېرل. د چپي ايډيالوژۍ د جوړوونکو نظر دا و چې د تاريخ اورګاډی د بې‌طبقې او اشتراکي نړۍ خوا ته چټک روان و او هېچا حق نه درلود چې سرعت يې راکم کړي، که نه نو بايد د دې اورګاډي تر ارابو لاندې خچ پچ شوي وای. د مذهبي ايډيالوژۍ د جوړوونکو نظر بيا داسې و چې نړۍ د هغه آخر الزمان خوا ته روانه ده چې موعود منجي به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کې راڅرګندېږي او داسې خلافت او امامت رامنځته کوي چې دوی ته به اعظمت او برم او پرتم ورکوي، نو هر څوک چې د دې بهير په ګړندي کولو کې مرسته نه کوي، بايد چې ټوک ټوک شي. د مسيحيت او يهوديت محافظه‌کاران هم د داسې روايت خپله نسخه لري [مسيحيان باور لري چې حضرت عيسی به د بشر د ژغورلو او سمې لارې ته يې د برابرولو لپاره راځي او مسيحيت به په ټوله نړۍ کې منل کېږي او يهودان بيا د حضرت موسی د راتلو لاره څاري. ژباړن] د ايډيالوژيو په باور هغه انسان چې په نظر يا عمل کې د دوی له معيارونو سره برابر نه وي، نامطلوب عنصر دی او د نورو په فکري او اخلاقي سلامتۍ کې خلل اچوي. د دوی په باور، بل وړ فکر کوونکي يوازې نامطلوب نه، بلکې خطرناک او تاواني عنصر۔ هم دی، ځکه چې نور هم فکر کولو ته اړ ايستلی شي، پوښتنې کولی شي، ايډيالوژيک مُسَلَمات له مُسَلَمتوب څخه غورځولی شي، مسلط روايتونه ننګولی شي، نور کتاب‌لوستلو ته هڅولی شي، د عقلانيت دفاع او د استدلال ملاتړ کولی شي او په دې توګه د هغو کلکو او پولادي يقينونو او بارونو ځای به ګېې «ولې‌ګانې» او «څنګه‌ګانې» او «خوګانې» ونيسي. ښکاره خبره ده چې د دې وضعيت خپرېدل به نه يوازې دا چې د تاريخ د اورګاډي سرعت کموي، بلکې خلکو ته به وښيي چې اصلاً کوم اورګاډی شته نه؛ او څه چې خلکو ته يقيني ښکاري، يو خوب او توهم دی.

د يقينونو ماتېدل او د پوښتنو د لارې خلاصول او د نقدونو جرئت ورکول، د ايډيالوژۍ‌ځپلي انسان لپاره ډاروونکی خوب دی، ځکه چې د هغه د اقتدار او سلطې اساس هماغه ايډيالوژي ده. په همدې وجه د دې چارو د مخنيوي لپاره کولی شو چې انسانان عمري بنديان کړو او د شاقه کارونو لپاره يې سايبريا ته ولېږو او يا يې د انسان سوځولو په بټيو کې واچوو او له جسدونو څخه يې صابونونه جوړ کړو. د دوی په نظر، فکري سرلاري چې آزاد فکر کوي، د سُنت پردې لرې کوي، له ايډيالوژيکو شعارونو سره لاس او ګرېوان کېږي، او د ايډيالوژيو په لاس جوړو شويو خدايانو سره غبړه باسي، مصيبتونه دي او مخه يې بايد ونيول شي او که لازمه وي، ووژل شي. همدا وار له مخکې فرضونه وو چې په افغانستان او ډېرو نورو شرقي او ناورين ځپلو ټولنو کې زرګونه د کتابونو لوستونکي، پلټونکي او آزاد فکره انقلابي ځوانان د مرګ کومي ته ولوېدل او د سرلارو د وژلو ښکارنده زموږ د معاصر تاريخ برخه شوه.

که ټولنه روغه وي او هوښياره فرهنګ ولري، د داسې کسانو رادبره کېدل مبارک ګڼي چې نوي او متفاوت فکرونه لري؛ او له تکرار او تقليد څخه وړاندې ځي او پخپله په فکري او نظري نوښتونو لاس پورې کوي. ان که د هغوی په کارونو کې ځينې نيمګړتياوې او خطاګانې هم وي، بيا يې هم قدر کوي او تداوم يې د ټولنيزې ودې د تداوم سبب بلل بولي. بل وړ فکر کوونکي انسان ته د منحرف او مرتد په سترګه نه، بلکې د داسې انسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګه وګورو چې فکري بلوغ ته رسېدلی دی، چې پخپله یې د فکر کولو مسوولیت اخیستی دی. هغه داسې آزاد انسان دی چې د ذهني بتانو له بندهګۍ خلاص شوی دی، انساني پوهې ته یې درناوی کړی دی او د پرانیستو او پراخو افقونو په لوري یې الوت کړی دی. هغه د پېغور او تکفیر او لعنت ویلو لایق نه دی، بلکې د تشویق او قدرونې لایق دی. خو دریغه چې په لعنت شویو ټولنو کې سرلاري مجبور دي چې د شاملو دغه شعر له ځانه سره زمزمه کړي:

از مرګ هرګز نهراسیده‌ام

اګرچه دستانش از ابتذال شکننده‌تر بود.

هراس من –باری- همه از مردن در سرزمینی است

که مزد ګورکن

از آزادی آدمی

افزونتر باشد.

مل لیکونه:

1. آکسفورډ ډیکشنري، د.Elite د کلمې توضیح

2. سوره بقره، آیه 87.

3. سورهٔ حجر، آیه 99.

4. ایمانویل کانت د نړې پوهې د نقد په کتاب کې د انسان د فاهمه قوې د محدودیتونو د ښودلو لپاره تر ټولو نوی کار کړی دی.

5. کېدای شي د یاد شویو شخصیتونو په اړه د نظر اختلاف او مناقشې وي، خو دلته مقصد د کومې خاصې ډلې پلویتوب نه دی، بلکې د دې ښکارندې توضیح مو مقصد دی.

6. سورهٔ مائده، آیه 32

7. کله چې د افغانستان سمونپال پاچا امان الله خان له بریټانیا څخه د افغانستان خپلواکي تر لاسه کړه، د هغه د راپرځولو لپاره توطئه شروع شوه او په دې منځ کې د افغانستان په مختلفو سیمو په تېره بیا په جنوبي او مشرقي سیمو کې د هغه پر ضد ډېر تبلیغات پیل شول او په دې تبلیغاتو کې د هغه د مېرمنې داسې عکسونه خپاره شول چې هغه یې سر تور سر ښکاروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

8. مراد، ټیري جونز، هغه امریکایي کشیش دی چې د سپټمبر د یوولسمې په یاد یې د قرآن مجید د نسخو د سوځولو قصد کړی و. د هغه دې کار د ۲۰۱۱ په مارچ کې ډېرې مناقشې راولاړې کړې او د امریکا دولت او ډېرو نورو هېوادونو د هغه کار وغانده.

9. د فرخندې په نامه یوه نجلۍ چې د کابل په شاه دو شمشیره زیارت کې د قرآن د پاڼو په سوځولو تورنه شوه او بیا سلګونو کسانو هغه په وحشیانه ډول ووژله او په جسد یې اور پورې کړ.

10. یو بهترین کتاب چې د ایډیالوژیو په اړه لیکل شوی دی، د فرانسوا شاتلیه «تاریخ الایدیولوجیات» دی چې په دریو ټوکونو کې چاپ شوی دی. پر دې سربېره، ځینو نورو لیکوالو لکه کارل پوپر او هانا آرنټ هم په خپلو کتابونو کې د ایډیالوژیو نقد کړی دی.

**(5)**

## د کرکې خپرول او افراطپالنه

### د نفرت ریښې

د نفرت کلمه د «نفور» له ریښې څخه راخیستل شوې ده او معنا یې لرې کېدل، فاصله نیول او تښتېدل دي. د بیولوژۍ د ځینو پوهانو په نظر، د نفرت ریښې د بقا غریزې ته چې د ټولو ژوندي سارو او انسانانو عمده غریزه ده، ورګرځي. میکروبونه چې د مختلفو ناروغیو سرچینې دي او د انسان ژوند ته خطر جوړوي، عمدتاً په ککړو او خوسا ځایونو کې وي. په همدې وجه انسان د مردار شوي حیوان د خوسا شوي جسد یا د زوناکه زخم په لیدو سره د کرکې احساس کوي او هڅه کوي چې ځان ترې لرې کړي. همدغه د کرکې او بېزارۍ احساس د نفرت د ریښې اساس دی او تر دې حده پورې بېخي طبیعي او د ژوند د بقا لپاره لازم دی.

هاغه مهال چې انسانان په غارونو کې اوسېدل او ژوند یې عمدتاً په ښکار چلېده، د کرکې احساس له طبیعي حد څخه ور ها خوا وغځېد او انسان له هر هغه شي څخه کرکه وکړه چې د هغه ژوند ته یې خطر جوړولی شو، لکه لړم، مار، او نور خطرناکه موجودات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته تر دې چې انسانانو لږ لږ قبیلوي جوړښتونه او ډله‌ییز هویت پیدا کړ، ګډې ګټې سبب شوې چې له یو بل سره پیوند شي. دوی به د نوزېږیو په پالنه، د کورنۍ لپاره د خوراک په برابرولو، او د نورو اړتیاو په لرې کولو کې د یو بل په څنګ کې درېدل. په دې پړاو کې، پر طبیعي خطرونو سربېره، د نورو قبیلو او ډلو برید او حمله هم د دوی ګټو ته خطر جوړاوه. خطر دا و چې نور به د دوی پر قبیلې برید وکړي او یا د دوی خواړه ولجه کړي. په همدې وجه د دوو قبیلو تر منځ به جګړه کېده. دا تجربه سبب شوه چې د نفرت د حس لمن نوره هم پراخه شي او هغه انسانان هم راونغاړي چې د قبیلې ګټې یا ژوند ته خطر وي. دا د کرکې وړ انسانان به په رقیبه او یرغلګره قبیله کې وو.

خو انسانانو ورو ورو زده کړل چې د دې پر ځای چې هر وخت پر یو بل بریدونه او له یو بل سره جګړې وکړي، د محصولاتو د تبادلې او په واقعیت کې د ګټو د تبادلې لاره ومومي. په تېره بیا هله چې انسانانو کرنه پیل کړه، دې ته یې پام شو. د ښاري ژوند په پیلېدو سره، د ګټو د تبادلې د لارو چارو په اړه د انسانانو درک او مهارت لا زیات شو او د جنګ او تېښتې رابطې خپل ځای همکارۍ، راکړې ورکړې، او په لویو ټولنیزو چارو کې مشارکت ته پرېښود. په همدې لاره تمدن ایجاد شو او انساني فرهنګ د تعالي او تکامل لاره ونیوه.

خو ښاري او تمدني ژوند د کرکې د ختمېدو معنا نه درلوده. د تمدنونو او فرهنګونو تر سیوري لاندې د نښتو او جګړو لپاره نوې زمینې پیدا شوې او د هویت نوې پولې رامنځته شوې چې دا هویت د انسانانو د ډلې د ګټو د پیوند تارونه وو. نوي هویتونه د توکم، قبیلې، مذهب، دین، فرهنګ، سیمې، ژبې او نورو ښکارندو پر اساس ورغېدل. دغو نویو هویتونو غوښتل چې د ډلې غړي سره یو لاس وي او د ډلې د ګټو د تأمینولو لپاره په ګډه هڅه وکړي. همدرانګه د نورو رقیبو ډلو په مقابل کې یې د «غیرت» د پارولو هڅه کوله. د ګټو پر سر شخړې چې عمدتاً مادي او د هوساینې سرچینې رانغاړي، د بشر په ځو زره کلن تاریخ کې تل روانې وې او لا هم روانې دي. د غیرت کلمه او مفهوم یې هم له همدې ځایه راولاړېږي چې په خپل ځای کې باید وسپړل شي.

د ښاري ژوند په پړاو کې، کرکه نویو لوریو ته سیخه شوه. داسې ویلی شو چې کرکه له بیولوژیکي او فیزیولوژیکي حالت څخه سوشیولوژیکي حالت ته ورسېده او د دین او فرهنګ ډګر ته یې لاره وکړه. د یوه دین لارویان د بل دین له لارویانو سره، د یوه فرهنګ کسان د بل فرهنګ له کسانو، او د یوې امپراتورۍ وګړي د بلې امپراتورۍ له وګړو سره په ټکر شول او دغه ټکر کرکه او جګړه رامنځته کړه. البته د بشر د تمدن ټول تاریخ په جنګ او نفرت نه خلاصه کېږي، بلکې لویې فکري او ادبي هڅې هم په کې شوې دي او زیات او ګټور حاصلات

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم درلودلي دي. په همدې وجه انسان ته يې دا لاره هواره کړې ده چې خپل او د نړۍ وضعيت لا ښه درک کړي او د لا ښه ژوند کولو او لا اخلاقي اوسېدلو لارې زده کړي.

خو انساني تمدن د کرکې له شره خلاص نه شو. کرکه له دوو نورو شيانو سره ملګرې شوه، يو يې له بل څخه وېره او بل يې بدلون و. د دې شي نتيجه هغه وېروونکي جنايتونه دي چې بشر په خپل تاريخ کې کړي دي او يو قوم پر بل قوم او د يوه دين لارويانو د بل دين پر لارويانو ظلمونه کړي دي. د دې جنايتونو وروستنۍ لويه بېلګه په شلمه پېړۍ کې د جرمني د نازي ګوند او د کمونيستي ټولواکو حکومتونو ظلمونه دي چې ميليونونه وګړي يې ووژل. له پخوا زمانې څخه تر ننه پورې، په دې ټولو وژنو کې کرکه د عمده عنصر په توګه پاتې شوی دی.

### د کرکې جلوې:

کرکه اساساً يو دروني حس او د ډار، بېزارۍ او غوسې ترکيب دی. دا حس که يوازې د تاواني شيانو په مقابل کې وي، مثلاً د ميکروبونو په مقابل کې، نو طبيعي دی. موږ له ميکروبونو څخه لاشعوري وېره لرو او د ناوليو شيانو او ککړو ځايونو په ليدو سره چې معمولاً بد بوی لري، د کرکې احساس کوو. تر دې بريده دا طبيعي چاره ده. خو که د کرکې سرچينه يو ژوندی موجود وي او موږ احساس وکړو چې هغه راباندې حمله کوي، لکه مار، لېوه او داسې نور خطرناک ژوي چې د زيان رسولو تصور يې کولی شو، نو د بقا غريزه په موږ کې د غضب قوه راپاروي چې د ځان دفاع وکړو. دلته وېره او کرکه له غوسې سره يو ځای کېږي. که د کرکې منبع انسان وي، د غوسې اندازه به لا زياته وي ځکه چې ګومان کوو چې مقابل لوری په لوی لاس غواړي زيان راواړوي، په تېره بيا په دې چې پوهېږو چې د دې کار غير اخلاقيتوب هم ورمعلوم دی. دلته بيا کرکه د وېرې، بېزارۍ او غوسې ترکيب وي او کله کله تر دې دوو نورو اروايي عنصرونو د غوسې اندازه زياته وي.

که د کرکې اساس واقعي چارې وي، نه وهمي، مثلاً يوه معلوم کس په لوی لاس تاوان را اړولی دی او په خپل کار پښېمانه هم نه دی او کېدای شي چې دا کار تکرار هم شي نو له هغه څخه زموږ کرکه به څو چنده زياته شي. دلته نو کرکه له خطر او زيان سره د مقابلې لپاره زموږ د وجود په دفاعي ميکانيزم بدلېږي او موږ بله چاره هم نه لرو. په دې حالت کې هم که څوک کرکه کوي، ګرم نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که کرکه د یوې واقعي چارې په وجه نه وي، بلکې د یوې وهمي او خیالي چارې په خاطر وي او کرکه دومره زیاته شي چې د وجود نور میکانیزمونه لکه اخلاقي فکر کول او اخلاقي عمل کول څنډې ته پورې وهي، نو بیا به اندېښنه ورته په کار وي. که کرکه د یوه خاص وګړي، قوم، طبقې، ډلې، ګوند، مذهب، توکم ... په باره کې د کلیشو، وار له مخکې فرضونو، او خامو تصوارتو پر بنا وي، نو کرکه په اروايي ناروغي اوړي.

څوک چې د کرکې په ناروغۍ اخته شي، د هغې ډلې یا هغه وګړي په اړه ناپیېلی فکر نه شي کولی او په لاشعوري ډول د هغوی په مقابل کې عکس العمل کوي. که د هغوی ښه هم ویني، نه یې مني او داسې توجیهات ورته ګوري چې ګواکې دا استثنا ده، او که یو وړوکی عیب په کې ویني، ډېر یې غټوي [او له پشم نه پشم خان جوړوي. ژباړن]

په کرکې اخته وګړی تل وسواسي وي څکه ګومان کوي چې هغه بل کس یا بله ډله په بالقوه ډول غواړي ده ته زیان واړوي. فکر کوي چې هغوی تل په دې لټه کې دي چې ده ته دسیسه او توطئه جوړه کړي. هغه له ډاره د هغو کارونو د مخنیوي لپاره لاس په کار کېږي چې مقابل لوري کړي نه دي او ښایي ویې نه کړي، خو دی ګومان کوي چې وبه یې کړي.

کرکه د ډېرو نورو ناروغیو په شان، تر هر چا زیات پخپله کرکجن ته تاوان رسوي او له دننه یې خوري، د هغه روغ احساسات ورنه اخلي، د مینې کولو مجال ځنې اخلي، په زړه کې یې بدګوماني او بدویني واکمنوي، هغه د نا متعادل سلوک خوا ته بیايي، ناوړو فکرونو او ناسم قضاوت ته یې رسوي او ورو ورو یې ژوند ګډوډوي.

څوک چې په کرکې اخته دي، هماغسې چې پخپله له دننه خوا څخه ویجاړېږي، نورو ته هم زیان اړوي. کله چې نورو ته یې زیان رسېږي، نور هم عکس العمل کوي او بیا هغه د دې پر ځای چې د خپل سلوک په اړه بیا فکر وکړي، پر ځای یې خپل ګناهونه او اعمال توجیه کوي او نور تورنوي چې ګواکې زیان ور اړوي.

کرکجن کس کرکجنه ژبه لري، یرغلیز ادبیات کاروي، احساساتي او غوسه‌ناکه غاړه یې وي، زیاړې، بد رد ویل، او داسې خبرې چې د نورو احساسات زخمي کوي، د ده زړه ته تسلي ورکوي. کرکه یوازې د هغه په ژبه کې نه وي، بلکې سلوک او ټولنیز چلند یې کرکجن وي.

په نړۍ کې د کرکجنو اعمالو بېلګې ډېرې دي او په کراتو لیدل شوې دي. د امریکا په ځینو برخو کې له تور پوستکو سره چلند، په ځینو هېوادونو کې له یهودانو یا مسلمانانو سره چلند، په ځینو اروپایي ملکونو کې له غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپايي يا غير آلماني وګړو سره سلوک، په ځينو اسلامي هېوادونو کې له نامسلمانانو يا د هغوی په ګومان له منحرفو مسلمانانو سره چلند، په ميانمار کې د روهينګا له مسلمانانو سره چلند، په اسرائيل کې له فلسطيني مسلمانانو سره د ځينو متعصبو يهوديانو سلوک، له بوسنيايي يا آلبانيايي مسلمانانو سره د صربانو توکمپاله چلند، په ايران کې له سني مسلمانانو سره د متعصبو شيعيانو سلوک، په ځينو عربي ملکونو کې له شيعيانو سره د متعصبو سنيانو سلوک، له افغان مهاجرانو سره د ايرانيانو توکمپاله چلند، له هندوانو او بودايانو سره د متعصبو سيکهانو چلند، له چيچيني يا د منځنۍ آسيا له وګړو سره د متعصبو روسانو سلوک، او داسې نور د کرکې بېلګې دي.

## د کرکې د توليد او تکثير شرايط

کرکه په هغه معنا چې مخکې وويل شوه، يعنې له نورو څخه - له هغو کسانو څخه چې له مونږ سره فکري، سياسي، مذهبي ... اختلاف لري ـ د بېزارۍ او نفرت احساس دی او په خاصو شرايطو کې په ټولنيز خطر اوړي. خاص شرايط يعنې هغه مهال چې دا ښکارنده د فردي عارضې له بريده واوړي او په ټولنيزې ښکارندې بدله شي. دا چې ځينې کسان په فردي لحاظ په کرکې اخته دي، د دې مخه نه شو نيولی او داسې ټولنه نه شته چې ټول وګړي يې په روايي لحاظ ښخي روغ او بېعيبه وي. په ټولنه کې د مختلفو ناروغيو او ناروغانو شتون طبيعي چاره ده. البته چې طبيعي دا معنا نه لري چې ګواکي هغه دې ښه يا سم هم وي، بلکې معنا يې دا ده چې که په ټولنه کې يو څو جسمي يا روايي ناروغان ووينو، و نه ترهېږو او داسې وانګېرو چې ګواکې ټوله ټولنه د تباهۍ ګړنګ ته لوېدونکې ده. هر وخت ځينې ناروغ، ګناهکار، او په روايي ستونزو اخته کسان وي او ناممکنه ده چې ټولنه دې يو مخ ورنه پاکه شي. که څوک وغواړي داسې ټولنه جوړه کړي نو تر هغې لوی مصيبتونه به ور واړوي، لکه څنګه چې هټلر به معلولان، همجنس بازان، او يهوديان وژل چې په خپل ګومان خپله ټولنه پاکه او مطلوبه کړي. هغه به ان سپارښتنه کوله چې وګړي يې بايد ښکلي اندامونه ولري، ورزش وکړي، چاغ نه شي، او هڅاند وي. خو د دې تګلارې پايله توکميزه تصفيه او د ميليونونو بېګناه وګړو وژل وو.

خو که دغه شيان لکه ګناهکاري، جسمي ناروغۍ او روايي اختلالونه عام شي او په ټوله ټولنه کې خپاره شي نو بيا خو انديښنه ورته په کار ده ځکه چې داسې ټولنه به دړې وړې شي او وګړي به يې تباه شي. د کرکې مسأله هم دغسې ده. که کرکه عامه شي او هر ورځ نور نوي وګړي پرې اخته شي، نو هغه ټولنه به له مطلقې تباهۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته بل انجام ونه لري. په رواندا هېواد کې په سلو ورځو کې اته لکه کسان ووژل شول او د دې هېواد دولت خو لا وايي چې يو ميليون او اويا زره کسان وژل شوي وو. ولې؟ ځکه چې په څو لسيزو کې هلته په ټولنه کې توکميزه کرکه خپره شوې وه.

کرکه په هغو شرايطو کې توليدېږي چې ناورين وي، جنګ وي، استبداد وي، فقر او محروميت وي، ځينې کسان هر څه ولري خو اکثره وګړي هېڅ ونه لري. کرکه لکه باکټريا په ککړو محيطونو کې ښه وده او پراختيا کوي. البته يوازې کرکه داسې نه، بلکه په ګډوډۍ او بحراني شرايطو کې نورې ناروغۍ لکه بدويني، بدګوماني، پر نورو باندې تعرض، غلا، جنايت او نور هم غوړېږي.

خو، کرکه هر وخت د هماغه ترخو واقعيتونو په وجه چې مخکې مو ياد کړل، نه رامنځته کېږي. کله کله کرکه له توهم څخه زېږي او کله د کرکې خپرونکو د تبليغاتو زېږنده وي. د کرکې خپرول د سياسي او مذهبي لانجو په تاريخ کې اوږده سابقه لري. له پخوا څخه هغه کسان چې د قدرت د نيولو په فکر کې وو، پوهېدل چې د کرکې په خپرولو سره د خلکو يوه ډله خپل شا ته درولی شي او له دغو احساساتي او پارېدليو خلکو څخه داسې ويجاړوونکی ځواک جوړولی شي چې په زور او ځواک سره رقيبان له خپلې مخې لرې کولی شي. دوی د کرکې په ايجادولو سره د ټولنې په يوه خاصه ډله کې وېره او اندېښنه خپروي او همدا وېره هغوی سره يو کوي او خوځښت په کې راولي. له بل څخه وېره د کرکې د توليد يوه برخه ده او هغه وګړي او ډلې چې يوازې خپله ګټه غواړي، دا شی د خپلو پروګرامونو د عملي کولو لپاره کاروي.

هغه کرکه چې صربي رهبرانو د غير صربي قومونو او په تېره بيا د مسلمانانو په مقابل کې توليد کړه، هغه کرکه چې نازيانو د يهوديانو په وړاندې پيدا کړه، هغه کرکه چې په رواندا کې په هوتو قبيلو کې د توتسيانو په مقابل کې ايجاد شوې وه، هغه کرکه چې چپي بهيرونو د پانګوالو او فيوډالانو په وړاندې توليدوله، او داسې ډېرې نورې نمونې دي چې ځينې واقعيتونه له ډېرو توهماتو سره ګډ شوي او پراخ تبليغات ورته شوي دي چې ځينو ته د واکمنۍ لاره هواره کړي.

د کرکې پاروونکو تبليغاتو لپاره زياتره په هغو ټولنو کې د پراخېدو لاره هواره ده چې په تعليمي نظام کې يې انتقادي تفکر نشته، کليشې په کې آسانه جوړېږي، او وار له مخکې قضاوتونه په کې عام دي. چېرې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقادي تفکر عام وي، وګړي د ځينو کليشو په مقابل کې مقاومت اوورباندې نيوکه کولی شي. په انتقادي تفکر کې د «خوګانو» لپاره ځای وي. هغه کسان چې انتقادي تفکر يې زده کړی وي، په آسانۍ سره هر غوولونکي شعار ته نه تسليمېږي. خو په هغو ټولنو کې چې وګړي يې له انتقادي تفکر سره نا آشنا دي، د وينا کولو د مهارتونو په زده کولو او د عام پسندو ميتودونو په کارولو سره کولی شو د بل قوم، بل مذهب، بل ګوند، بلې ژبې ... په مقابل کې منفي فکرونه تبليغ او کرکه توليد کړو. طبيعي ده چې په دې ډول تبليغاتو کې د مقابل لوري ځينې داسې کړنې د سند په حيث وړاندې کېږي چې د انتقاد وړ وي خو دا کار په داسې بڼه کېږي چې د مقابل لوري ټول هويت هماغو منفي کړنو ته راټيټېږي او د هغوی پر نورو ټولو ښېګڼو سترګې پټېږي.

د کرکې د توليد امکان په داسې ځای او داسې شرايطو کې زيات وي چې د ټولنې فرهنګ د انسانانو فرديت نه مني او د انسان د شخصيت خپلواکي، له توکم، رنګ، مذهب، او ډلې جلا په رسميت نه پېژني. هلته د يوه خاص قوم يا ټولنيزې ډلې لپاره کُلي صفتونه جوړېږي او بيا دغه صفتونه د هماغه ډلې هر فرد ته تعميمېږي او دا تصور خپرېږي چې د هغه قوم هر وګړی يا د هغه مذهب هر لاروی، بې له شکه چې هماغه صفتونه لري.

شرايط هغه مهال لا خرابېږي چې د بلې خوا ډلې او وګړي هم له دې چلند سره د مقابلې لپاره، د دې پر ځای چې عقلانيت او نرمښت ته خلک راوبولي، هغوی هم د کرکې په متقابلې خپرونې لاس پورې کړي. معمولاً د مقابل لوري د قومونو او ډلو په منځ کې فرصت طلبه کسان، د لومړۍ ډلې کار چې کرکه خپروي، په خپله ګټه ګڼي او په خلکو کې وېره او ډار اچوي او د ټولنې ذهن د کرکې خوا ته لا نور هم ورټېل وهي. دوی په خلکو کې د وېرې او ترهې په خپرولو سره، ځان د مقابل لوري د بريدونو په مقابل کې د خپلې ډلې يا قوم ساتندوی او ژغورونکی معرفي کوي او په دې توګه د خپل قوم رهبرۍ ته د ځان د رسېدو لاره هواروي. د نړۍ په مختلفو ټولنو کې ليدل شوي دي چې د يوه قوم فاشيست، متعصب، توکمپال او بل‌دښمني کسان د دې سبب کېږي چې په مقابل قوم کې هم همداسې توکمپاله او متعصب کسان پيدا شي او رهبرۍ ته د رسېدو لاره ورته هواره شي. په دې اخ و ډب کې د دواړوو خواوو منځلاري او عقلاني مشربه وګړي څنډې ته پورې وهل کېږي او که څوک د کرکې د څپو په مقابل کې مقاومت وکړي، په خيانت تورنېږي. د اسراييلي ښي لاسو کړنې تل په ايران او عربي نړۍ کې د بنسټپالو په ګټه وې. د غربي افراطيانو چلند هر وخت د شرقي افراطيانو په ګټه تمام شوی دی. د هرې فرقې د مذهبي متعصبانو عملونو د بلې فرقې متعصبانو ته ګټه رسولې ده.

**له بدۍ څخه کرکه که له بدانو څخه کرکه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه مهمه پوښتنه چې د کرکې په مبحث کې پیدا کېږي، دا ده چې له بدو انسانانو څخه، له مجرمو او تباهکارو انسانانو څخه کرکه کول نه دي په کار؟ که له هغو کسانو څخه کرکه ونه لرو چې جرم او جنایت کوي او نورو ته زیان اړوي، نو خلک به لا بدۍ ته ونه هڅېږي؟ د بدیو په مقابل کې له نبوي حدیثونو سره سم په ژبه پا په لاس عکس العمل ونه کړو؟

دا پوښتنې معقولې دي، خو دلته ځینې باریکۍ دي. بدي، انحراف، او جرم د ناروغۍ غوندې دي. که څوک ناروغ وي، نو د زړه سوي او خواخوږۍ وي او باید د ژغورلو لپاره یې یو څه وکړو. خو که له هغه څخه کرکه وکړو، معنا یې دا ده چې د ژغورلو لپاره خو یې هسې هم څه نه کوو، بلکې لا ورباندې غوسه کېږو هم. که طبیب له خپل بیمار سره همداسې وکړي، نو وضعیت به څنگه شي؟

کېدای شي دلته مناقشه وکړو او ووایو چې له بیمار سره د مجرم قیاس کول، سم نه دي. دا هم ویلی شو چې قیاس کول تل دقیق نه وي او د څو ورتهوالیو په وجه پر توپیرونو سترگې نه شو پټولی. خو که د ارواپوهانو، ټولنپوهانو او وگړپوهانو څېړنې په پام کې ونیسو او د دې ځانگو پر علمي معلوماتو تکیه وکړو، وبه گورو چې هېڅ انسان له موره مجرم نه زېږي او هېڅ مور مجرم نه زېږوي. دا باندني عاملونه دي چې وگړي د ټولنیزو انحرافاتو او جنایتونو خوا ته کاږي. په دې عاملونو کې له کورنۍ روزنې څخه رانیولې د زده کړې تر محیط او ټولنیزو ډلو او محرومیتونو او ایډیالوژیو او مذهبي او سیاسي تبلیغاتو او نورو شیانو پورې شامل دي. هغه کسان چې د جرم او جنایت کندې ته لوېږي یا د نورو قومي، مذهبي یا سیاسي ډلو په اړه زیان اړوونکي نظرونه لري، اغلباً پخپله د ناوړو شرایطو قرباني وي. دا سمه ده چې هغوی په مطلوب وضعیت کې نه دي او ځینې باورونه، خبرې یا کړنې یې د نقد او کله کله د مخالفت وړ دي، خو دا له هغوی څخه کرکه کول نه توجیه کوي. نو خپل کار باید په زرینه اخلاقي قاعده وتلو. که موږ پخپله د همداسې شرایطو قرباني شوي وای او په همدې ناوړه وضعیت اخته وای، نو کوم کار به سم و: دا چې له موږ څخه کرکه وشي، که دا چې له دې ناوړه وضعیت څخه مو د ژغورلو هڅه وشي؟ کېدای شي د دې وضعیت قرباني زموږ د کورنۍ یو غړی، یو ټولگیوال مو، یو همژبی مو، هممذهبی مو، او یو داسې څوک وي چې له موږ سره گنې گډې ځانگړنې لري.

معقوله خبره دا ده چې له بدۍ او تاواني باورونو او غلطو او مضرو خبرو څخه کرکه وشي. موږ په اخلاقي لحاظ باید توکمپالنه بده وگڼو، خو که څوک توکمپال وي، هغه باید ناروغ وگڼو او د ژغورلو لاره ورته وگورو او که زموږ هڅې بې گټې وې یا مو څه له لاسه نه کېدل، نو باید د داسې کسانو د مهارولو لپاره قانوني لارې چارې وگورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نورو ته يې زيان ونه رسېږي. همدارنګه نور ناوړه چلندونه او ناسمې ځانګړنې هم همداسې درواخله. په دې باره کې د قرآن کريم تعبير ځومره ښايسته او له پنده ډک دی: "و کرّه إليكم الكفر و الفسوق و العصيان" يعنې کفر او فسق او معصيت يې ستاسو لپاره مکروه کړي دي، خو دا يې نه دي ويلي چې کافر او فاسق او عاصي يې مکروه کړي دي. همدارنګه ويلي يې دي: "و ينهى عن الفحشاء و المنكر و البغى" يعنې له فحشا او منکر او تېري څخه يې منع کړې دي، نه يې دي ويلي چې د فحشا او منکر او تېري له عاملانو څخه. له بدۍ څخه کرکه لازمه ده، خو له بدانو څخه کرکه نه. البته کرکه نه کول، دا معنا نه لري چې ګواکې له هغوی سره به موافق يو يا به هېڅ ورته نه وايو. موږ حق لرو چې د چا ويناوې او کړنې نقد کړو. موږ حق لرو چې د قانون په چوکاټ کې له چا سره خپل مخالفت وکړو خو دا د کرکې معنا نه لري.

### له کرکې سره د مقابلې لارې

له کرکې سره د مقابلې لپاره څه کولی شو؟ لومړنی ګام دا دی چې د کرکې په بدۍ وپوهېږو. ټولنه بايد دې نتيجې ته ورسېږي چې کرکه اروايي ناروغي ده او د کرکې خپرول لا سخته ناروغي ځکه چې د ټولنې روغ وګړي هم په دې ناروغۍ اخته کوي. تر دې لوی ګامونه هم اخيستلی شو، البته د تعليم په مرسته، د قانون په مرسته او د عمومي فرهنګ په مرسته.

تعليمي نظام بايد هم د اخلاقو په درسونو کې، هم د اجتماعياتو په درسونو کې او هم د روزنې په عملي ميتودونو شاګردانو ته د کرکې او د کرکې د خپرولو بدۍ او زيانونه ور وپېژني. په کرکې اخته ذهنيتونه بايد وننګول شي او بايد نقد شي. بايد نظري او عملي تمرينونه وي چې د شاګردانو ذهن او ارواه له دې ناروغۍ څخه خوندي کړي. له کرکې څخه د ماشومانو او زلمکيو او پېغلوټو د روح پاک ساتل د روزنې يو اصل وي چې په مختلفو تعليمي پړاوونو کې تکرار شي او دا اصل د هغوی د شخصيت په يوه ژور او ريښه لرونکي ارزښت واوړي.

پر تعليم سربېره، قانون او قانوني مقررات بل ميکانيزم دی چې ټولنه له دې ناروغۍ څخه خوندي کولی شي. په قانون کې کولی شو هم د کرکې او د کرکې د خپرولو واضح تعريف وړاندې کړو چې ابهام يې لرې شي، هم يې څرګند مصداقونه وړاندې کړو، او هم ورسره قانوني چلند په ډاګه کړو. قانون بايد د حقيقي او حقوقي شخصيتونو او وګړو وظيفې ورته څرګندې کړي چې څنګه دې د کرکې له خپرولو څخه ځان وساتي. همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکجنې خبرې او کړنې بايد قانوني جرم وګڼل شي. د کرکې مختلف ډولونه لکه ديني، مذهبي، قومي، توکميزه، ژبنيزه، او ان سياسي او ټولنيزه کرکه بايد جلا جلا تعريف شي او د هرې يوې لپاره له هغه زيان سره سم چې ورنه راولاړېږي، جزاګانې وټاکل شي. د کرکې او د کرکې د خپرولو په مقابله کې د قانون صلابت به دا ښکارنده په ټولنه کې ختمه او يا را کمه کړي او ورباندې د ټولنې د اخته کېدو کچه به کمه کړي.

قانون او تعليم هله په خپل کار کې پوره بريالي کېږي چې فرهنګ هم ورسره لاس يو کړي. فرهنګ د ارزښتونو دروني کول دي. تعليم او قانون د اخلاقي ارزښتونو لپاره لاره هواروي چې په فرهنګ کې وده وکړي، خو پر دغو دوو سربېره، لا نورې چارې بايد ترسره شي. شعر، ادب، داستان، ننداره، فيلم، موسيقي او بصري او تجسمي هنرونه ټول د اخلاقي او انساني ارزښتونو په تقويې او د ټولنې په جوړولو کې خپل خپل نقش لري. د فرهنګ د رغولو دغه شبکه هم د کرکې او هم د نورو ټولنيزو آفتونو په مخنيوي کې حياتي نقش لرلای شي.

هغه ټولنې چې دا آفتونه يې مهار کړي دي، يوازې يې د ټولنې د رهبرانو په اخلاقي سپارښتنو يا د اخلاقو د معلمانو په نصيحتونو دا کار نه دی کړی. په عمل کې يو لښکر د شاعرانو، اديبانو، او هنرمندانو په خلاقو او په زړه پورې لارو د داسې اعمالو بدرنګی ښودلې دي او ټولنه يې له ککړېدو ساتلې ده. زموږ په ټولنه کې د کرکې او د کرکې د خپرولو په ګډون، د رذايلو د اصلاح او مقابلې لپاره فرهنګي ميکانيزمونه تقريباً نشته.

دا چې قانون، تعليم، او فرهنګ کمزوري وي، داسې فرصتونه برابرېږي چې کارمند په خپل اداري محيط کې، ويناوال په دريځ کې، ليکوال په ټولنيزو شبکو کې، او کله کله تحليلګر په عمومي رسنيو کې داسې خبرې وکړي چې کرکه خپروي، هغه که قومي کرکه وي، که مذهبي، که ديني کرکه. د کرکې د خپرولو جوتې بېلګې دا دي چې څوک دې له خپلو هم‌توکمو، هم‌ژبو، هم‌مسلکو، هم‌مذهبو ... نه بهر کسان بد معرفي کړي.

### د دينې کرکې خپرول:

د کرکې د خپرولو په ډولونو کې، ښايي تر ټولو خطرناکه هغه يې د ديني کرکې خپرول وي. وجه يې دا ده چې دا ډول کرکه له قدسي ښکارندې سره غوټه کېږي او د کرکې لپاره د معنوي او اخروي مکافاتو وعده کېږي. د کرکې د خپرولو نور ډولونه په آسانۍ سره د تشخيص او د مقابلې وړ دي. څوک چې يوازې خپل توکم تر ټولو غوره توکم ګڼي او نور توکمونه ټيټ او حقير بولي، پر دې سربېره چې د خپلې دغې خبرې لپاره علمي او ادبي تکيه نه لري، په آسانۍ سره يې په وړاندې درېدلی شو او ويلی شو چې د نورو توکمونو وګړي هم انسانان دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرامت او شرافت لري، د انساني مدنیت په پرمختګ کې یې ونډه لرلې ده، او داسې نور دلیلونه. خو کـه څـوک یوازې د خپل دین یا مذهب لارویان تر ټولو غوره مخلوق وګڼي او نور خلک یوازې په دې چـې د هماغـه دیـن او مذهب په جغرافیا کې نه دي زېږېدلي، له ټولو فضایلو محروم ګڼي، او بیا د فضیلت او رذیلت د دغه وېش لپـاره دیني روایتونه راوړي، او په غیب او ماورأ الطبیعت کې ورته دلیلونه لټوي، دا نو داسې پېچلې وضـعیت دی چـې مقابله ورسره ډېره سخته وي.

څوک چې وغواړي ټولنه له دیني کرکې او د دیني کرکې له خپرولو پاکه کړي، باید وښیي چې ټولې ښـېګڼې د یوه دین په لارویانو کې نه دي راټولې شوې، او د نورو دینونو او مذهبونو ټول لارویان ناولي او شرور نه دي. سره له دې چې هغه د خپلې دغې دعوې لپـاره غښـتلي دلیلونـه او قـانع کـوونکي شـواهد وړانـدې کـولی شي، خـو مخکې تر دې چې خبره دلیلونو او شواهدو ته ورسېږي، د کرکې خپروونکي یې په بېدینۍ، زندقې، او انحـراف تورنوي.

د دیني کرکې خپرول د دې سبب کېږي چې د نورو دینونو د لارویانو ښېګڼې بېخي ونه وینو، نو د نورو ملتونو د ښو تجربو د استفادې لپاره به هېڅ لاره راته پاتې نه وي. څوک چې پـه دینـي کرکـې اختـه شي، د نـورو دینونـو لارویانو ته د خنزیر، سپي، خره، او نورو حیواناتو په سترګه ګوري او هغوی نـاولي او چټـل ګڼـي. پـه دې لاره نـه یوازې دا چې له نورو سره د تفاهم او همکارۍ دروازې بندېږي، بلکې د هغوی پر حقونو د تعرض او د هغـوی پـر مال او آبرو د تېري لاره هوارېږي.

هغه تبلیغات چې د مذهبي کرکې د خپرونې پر اساس کېږي، نه یوازې دا چې بد کار نه ګڼـل کېـږي، بلکـې د دین خدمت، د مقدساتو دفاع، او د ارزښتونو په لاره کې جهاد هـم بلـل کېـږي. د دینـي کرکـې د خپرولـو لپـاره مالي سرچینې هم په آسانۍ سره پیدا کولی شو، صـدقه او تـبرع ورتـه راټولـولی شـو، او غیـر انتفـاعي موسسـې جوړولی شو چې ځواکمنې تبلیغاتي دستګاوې تأسیس کړو او د ځان لپاره بېشمېره مخاطبان پیدا کړو.

د قومي او ژبني کرکې خپرول نسبتاً محدوده دایره لري او ان که د هماغه قوم او ژبې په منځ کې ځینې پلویـان هم پیدا کړي، بیا هم ټول خلک یې تر شا نه درېږي، ځکه چې د دې کار بدرنګي ښکاره ده او ان که ټول خلک یې پلوي شي، بیا به هم یوازې د یوه قوم یا ژبې په وګړو پورې محدود پـاتې کېـږي. بـر خـلاف، د دینـي کرکـې خپرول له پولو اوړي او د نړۍ په هر ګوټ کې پلویان لرلی شي. د داعش غـړي او پلویـان د هـېڅ خـاص قـوم او توکم خلک نه دي، تور او سپین، عرب او عجم، اروپایي او آسیایي، او د ډېر ژبو او توکمونو خلک په کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه جنگونه چې د ديني کرکې پر اساس رامنځته کېږي، تر ټولو خطرناکه جنگونه دي ځکه چې قاتل په داسې حال کې قتل کوي چې گومان کوي په دې کار سره خدای ته نژدې کېږي او په جنت کې لوړه مرتبه حاصلوي. په داسې جنگونو کې نه يوازې دا چې څوک خپل وجدان نه ځوروي او څوک پښېمانېږي نه، بلکې د تلقين په وسيله يې وجدان يو مخ مړ کېږي او دا خلک چې هر ډول جنايت وکړي، چورت يې نه وي خراب. دا خلک ان په خپلو جنايتونو فخر کوي او غواړي چې سر لوړي او دنگه غاړه وگرځي او گومان کوي چې بايد د نورو لپاره نمونه مثال وي.

**(6)**

## له بنسټپالنې سره د چلند په اړه «خو»گانې

د افغانستان وگړي د متعصبو او بنسټپالو ډلو له لاسه دومره کړېدلي دي چې ځينې خلک مجبور شوي دي چې د مقابلې لاره ورته وگوري. بنسټپالي له ځانه پرته بل څوک نه مني او غواړي چې ټول خلک د دوی په رنگ وي. خو ډېر خلک پوهېږي چې دا کار ناشونی دی او نتيجه به يې د شخړو زياتېدل وي. خو سره له دې چې ډېره موده کېږي چې له بنسټپالنې سره لاس او گرېوان يو، خو لا د مقابلې لپاره يې مدونه تگلاره نشته. په دې ليکنه کې له دې ښکارندې سره د مقابلې پر لارو چارو او هغو نيمگړتياوو خبرې کېږي چې د ناکامۍ سبب يې شوې دي.

**گوندي تجربه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي ګوندونه هغسې چې نن يې په پر مختللو هېوادونو کې وينو، مډرنه تجربه ده. ګوندونه د دې لپاره جوړېږي چې د ټولیزو ګټو په لاره کې فردي او ډلەييزې هڅې سره منسجمې کړي. په ټولیز ډګر کې دغه عمده محورونه شامل دي: د قوانينو او لوايحو وضع کول، د امنيتي ستراتيژۍ وضع کول، د بېوزلۍ او محروميت د ختمولو لپاره اقتصادي سياست رامنځته کول، د بهرني سياست د کرښو ټاکل، د پراختيا د بهير مديريت، د ټولنيزو فعاليتونو قانونمند کول، او داسې نور موردونه.

طبيعي ده چې په دې اړه دومره ډېر ليدلوري شته لکه د هرې متکثرې ټولنې د وګړو شمېر. ګوندونه د دې لپاره جوړېږي چې دغه تکثر د تيت و پرکي او ګډوډۍ سبب نه شي او هلې ځلې پر متناقضو محورونو ونه چورلي، بلکې خورا مهم نظرونه سره يو ځای د مدونو پروګرامونو په قالب کې راشي او دغه پروګرامونه بيا عمومي ملاتړ راخپل کړي. په حقيقت کې د ګوندونو د تشکيلېدو فلسفه، د مطالعې، دفاع او تطبيق وړ پروګرامونو د طرح کولو له لارې د ملي ګټو تأمينول دي. په بله وينا، په مډرنه نړۍ کې ګوندونه په دوو عنصرونو پېژندل کېږي، يو د ملي ګټو د واضح تعريف په وړاندې کولو او بل د دې ملي ګټو د تأمينولو لپاره د مدونو پروګرامونو وړاندې کول.

دا چې ملي ګټې عقلاني چارې دي او بحث وربانديې کولی شو نو دې ته اړتيا نشته چې د ملي ګټو د حاصلولو لپاره طرحه شويو پروګرامونو ته ايډيالوژيک رنګ ورکړو. کله چې يوه موضوع د ايډيالوژۍ په خم رنګېږي، بيا نو د عمومي بحث له حوزې څخه وځي او تر بحث او نقد پورته ګڼل کېږي.

د دريمې نړۍ په هېوادونو کې، چې افغانستان هم په کې شامل دی، د ملي ګټو بحث غالباً نوی بحث دی چې واضح تعريفونه ورته نه دي پيدا شوي. په تاريخي لحاظ، ګوندونه په ډېرو هېوادونو کې له استعمار او يا له مستبدو حکومتونو سره د تقابل په وجه رامنځته شوي دي، نو تر ټولو مهمه داعيه يې د خپلواکۍ او استقلال ګټل وو. البته آزادي هم په ژوره فلسفي معنا نه، بلکې يوازې له استعماري يا استبدادي حاکميت څخه د آزادۍ په محدوده معنا وه. د داسې هدف لپاره لازمه وه چې جنګ او مبارزې ته تياری ونيول شي او دا کار په يوه بل عنصر پورې تړلی و چې خلک يې د بيې پرې کولو ته چمتو کړي، او هغه ايډيالوژي وه.

ايډيالوژي، هغه که مذهبي ايډيالوژي وه که سيکولره، کولی شول چې حماسه وپنځوي، هيلې راوټوکوي، او غښتلې ارادې رامنځته کړي. دا عنصر د پرديو د شړلو يا د بېکاره نظام د نسکورولو لپاره ښه په کارېده، خو له سبا سره يې کار نه و چې تر هغه وروسته به څه کېږي، ځکه چې دغه حماسې او ارادې يوازې د جګړې په ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلې او له په دې کې نه وې چې د مختلفو ډلو تر منځ ګډ ټکي پیدا او بیا د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه کولو او د ښځ بناوو د رغولو لپاره تخصصي پروګرامونه جوړ کړي.

نو، د دریمې نړۍ په ډېرو هېوادونو کې ګوندونه له استعمارګرو یا مستبدو نظامونو څخه د وطن تر آزادولو وروسته، د ګټو د خپلولو پر سر په خپلو کې سره ولوېدل. دې ګوندونو دا وړتیا نه درلوده چې لوی ملي ډسکورس رامنځته کړي. د دوی یوازینی هنر په داخلي جنګونو کې د ایډیالوژۍ د وسلې کارول وو. په پاکستان کې د مسلم لیګ، جماعت اسلامي او پیپلز پارټي، په مصر کې د وفد او اخوان المسلمین، په ایران کې د توده، ملي، مجاهدین خلق، او جمهوري اسلامي ګوندونو، په عراق او سوریه کې د بعث ګوند، په اجزایر کې د ملي خپلواکۍ ګوند، او د دریمې نړۍ د ډېرو نورو ګوندونو تجربې، د افغانستان د ورته ګوندونو له تجربو سره یو شان دي او په دې هېوادونو کې لا تر اوسه پورې هم په مډرنه معنا ګوندونه نشته.

په افغانستان کې دې بهیر لا غمجنه بڼه خپله کړه. یوه وجه یې دا وه چې دلته ګوندونه څکه د وارداتي ایډیالوژیو ځولۍ ته ولوېدل چې پخپله یې تیورۍ نه درلودې. که دوی د خپل وطن شرایط د پوهې په رڼا کې تحلیلولی شوای، بیا به یې کولی شول چې ګټور عمومي بحثونه او خبرې اترې هم رامنځته کړي. کله چې پوهه کمه او د باوري معلوماتو د تولیدولو موسسې نه وي نو ایډیالوژۍ ته پناه ور وړل یوازینۍ لاره ده. نو همدا وه چې په افغانستان کې چپ ګوندونو بې له دې چې وګوري چې د صنعتي ټولنو تیورۍ زموږ له وروسته پاتې ټولنې سره اړخ لګوي که نه، پردۍ خبرې یې دلته راوړې. مذهبي بهیرونه هم، چې د وخت له تحولاتو ناخبره وو، څو لسیزې یې د هغو نارو انګازې اورېدلې چې په نورو ملکونو کې د عثماني خلافت د راپرځېدو په ویر کې له خولو څخه وتلې وې. دوی ته دا نارې د داسې لویو اکتشافونو او مطلقو حقیقتونو غوندې ښکارېدل چې ګواکې د هغوی پر اساس یې افغانستان له سره رغولی شو. دغه ایډیالوژۍ نه د علمي مطالعاتو محصول و او نه په عمومي حوزه کې د جدي بحثونو محصول، بلکې د نورو ټولنو د روایتونو ناکاره تقلید او کاپي کول وو.

خو د ایډیالوژیو تر نقش بدتره دا وو چې اکثره ګوندونه او ډلې له زېږېدو سره سم په قومپالنې او توکمپالنې اخته شول. په افغانستان کې هېڅ داسې سراسري ګوند رامنځته نه شو چې په سېمبولیک ډول نه، بلکې په واقعي معنا د ټولو قومونو او د خلکو د ټولو قشرونو استازیتوب وکړي. په ځینو ګوندونو کې چې د نورو قومونو ځینې وګړي هم جذب شوي وو، دا هغه کسان وو چې د خپلو قومونو په منځ کې یې له خپلو رقیبانو سره ستونزې لرلې او په همدې وجه له نورو ګوندونو د باندې پاتې شوي وو. البته په دې ګوندونو کې هم ګوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثریت د یوه قوم په لاس کې پاتې کېده. د دې بهیر منطقي نتیجه هماغه وه چې د جګړې تر پیلېدو دوه لسیزې وروسته، داسې ګوندونه رامنځته شول چې له الفه تر ی پورې یې د یوه قوم وو او ان په سېمبولیک ډول هم د نورو قومونو څوک نه وو په کې. لا نن هم چې د دې ګوندونو پر تاسیس څلوېښت کاله اوښتي دي، دوی خپل بازار یوازې په دې ګرمولی شي چې قومي او ژبني اختلافونو ته هوا ورکړي. داسې ګوندونه قومي کتلې دي، نه په مدرنه معنا واقعي حزبونه.

پر هغو دوو نورو عیبونو سر بېره، وضعیت ځکه د ناورین پولې ته رسېدلی و چې دغه ټول ګوندونه د یو یا څو محوري شخصیتونو په محور کې رامنځته شوي وو او د هر ګوند تر ټولو مهمه پانګه، هماغه کلیدي شخصیتونه یې وو. حال دا چې په جمعي کارونو کې شخصیت‌پالنه د طرحې او پروګرام په جوړولو کې د وروسته پاتې والي نښه ده. البته دا ښکارنده یوازې په افغانستان پورې متخصه نه ده، بلکې د دریمې نړۍ په اکثرو ټولنو کې هم حکومتونه او هم ګوندونه او نور بنسټونه د شخصیتونو په محور کې راچورلي، نه د اصولو، ضوابطو، قوانینو، هدفونو او پروګرامونو په محور کې.

په افغانستان کې هغه ګوندونه چې په سر کې یې کاریزماټیک یا کاریزماټیک‌وزمه کسان وو، د خپلو رقیبو ګوندونو په پرتله غښتلي وو او زیات هیبت یې درلود. هغه ګوندونه چې کاریزماټیک شخصیتونه یې ژر له منځه ولاړل، ګوندونه یې هم سره وپاشل شول او د تاریخ په خاطرو بدل شول. د دې ګوندونو په پاتې شونو کې لا هم د هغو شخصیتونو نوستالژیک ارمان لیدل کېږي.

دا چې خلک پر داسې شخصیتونه مین دي او یو ډول باور لري چې رهبران خدای‌وزمه برم لري، ښایي وجه یې د سیمې ټولنیزه ارواپوهنه وي، په تېره بیا په موعود منجي باندې عقیده چې د دې سیمې په فرهنګ کې څو زره کاله لرغونې ده. ښایي همدا وجه وي چې دلته کاریزماټیک رهبران ډېر پیدا کېږي او د هغو کسانو کار یې آسانه کړی دی چې غواړي مادام العمره او بلامنازع رهبران پاتې شي. خو له بلې خوا، دا کار د عمومي عقلانیت ودې ته خنډ جوړوي، د ډلې په افرادو کې پر ځان باور کمزوری کوي، او ډلې نه پرېږدي چې د وخت له تحولاتو سره ګام په ګام ځان برابر کړي.

دغه نیمګړتیا تر هر څه زیات په تکفر کې څرګندېږي. کله چې وګړي په دې باور وي چې په ګوند کې یو څوک یا ځینې کسان په دین او دنیا تر هر چا ښه پوهېږي او په خبرو کې یې د «خو» ځای نشته، نو د هغوی له خبرو سره هېڅوک مخالفت نه کوي، هېڅوک نوی نظر او نوې طرحه نه وړاندې کوي. په ترکیه او تونس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسبتاً بریالۍ تجربې تر ډېره بریده ځکه رامنځته شوې چې هغوی د خپلو پخوانیو نسلونو د رهبرانـو لـه سـیوري څخه ځانونه وایستل او له نوي لید او نویو نظرونو سره یې د سیاست میدان ته راودانګل. خو په افغانستان کـې، نه یوازې دا چې نوې مفکورې او نوي نظرونه پیدا نه شول، بلکې تر څو لسیزو وروسته لا هم د ګوندونو شـعارونه نه دي بدل شوي، ګواکې د نسلونو د بدلېدو او د نړۍ په کچه د پراخو تغییراتو خبر تر دوی نه دی رسېدلی.

په مډرنه معنا ګوند هله رامنځته کېږي چې د محوري کسانو او رهبرانو تر اهمیت، د پروګرامونو اهمیت یې زیات وي، د ټولنې ټول قومونه او قشرونه په کې ځان ووینې، پر خیالي او ایډیالوژیکو هیلو د تکیې پر ځـای د ټـولنې واقعیتونو ته وګوري، د خپلو ځوانو رهبرانو د څرګندېدو لپاره لاره هواره کړي، د لویو ملي بحثونو په جوړولـو کـې برخه واخلي، د غړیتوب دروازې یې د هر چا پر مخ چې له پروګرامونو سره یې همغږي وي، خلاصې وي، له هغه چا څخه کرکه ونه کړي چې له ګوند څخه وځي، شفافیت او حساب کتاب یې په هر کار کې وي، په ګوند کې د ننه د قدرت د لېږد لپاره دیموکراتیک میکانیزم ولري چې بیا د هېواد په کچه د واک د سـوله‌ییز لېـږد لپـاره سـم عمل وکړي، د ګوند حیات او ممات د یو یا څو کسانو په برخلیک پورې ونه تړي، شعارونه، پروګرامونه او تګـلارې یې خوځنده او پراخېدونکي وي او د وخت له تحولاتو سره ادلون بدلون په کې راشي، د سـیاسي رهبرانـو د تېـر نسل تجربې نوي نسل ته ولېږدوي او هغوی د خپل نقش ادا کولو ته چمتو کاندي.

هغه ګوند چې غواړي د خپلې ټولنې لپـاره ګټـور او مهـم پروګرامونـه ولـري، بایـد هـم پخپلـه د فکـر د تولیـدولو بنسټونه ولري چې ډېر متخصصان په کې کار وکړي او هـم لـه علمـي او اکـاډمیکو موسسـو سره بایـد دوامـداره اړیکي ولري چې د هغوی له څېړنو او معلوماتو څخه د خپلو پروګرامونو په جوړولو کې کار واخـلي. البتـه دا کـار باید لنډمهاله یا تکتیکي نه وي، بلکې باید همیشنی بهیر وي.

**هنر او شخړې، دعوا پر څه باندې ده؟**

د بنسټپالنې د سختو مخالفانو یوه برخه هنرمندان او د ښکلو هنرونو پلویـان دي. بنسـټپالنه اساسـاً لـه هنرونـو سره جوړه نه ده او هر وخت یې ورته د شک په سترګه کتلي دي. په افغانستان کې هـر کـال د افغـان سـتوري د مشهورې خپرونې د پیلېدو په درشل کې د ټولنې د دودپالو او نوپالو بهیرونو تر منځ لانجـه رامنځتـه کېـږي. پـه دې لحاظ د دریو لیدلوریو پلویان د یو بل په وړاندې درېږي، یو یې هغه کسان دي چې له هر ډول موسـیقۍ او سندرو ویلو سره مخالف دي او هنر د فحشا او فساد مظهر ګڼي او څه یې چې په وس کې وي، د هنر د مخنیوي لپاره یې کوي. دا ډله د دین او ټولنیزو دودونو په اړه خپله انګېرنه مقدسه ګڼي او د انسان آزادي ورنـه قربـانوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی له لویه سره د انسان په آزادۍ او اساسي حقونو باور نه لري. په دوهمه ډله کې هغه کسان دي چې په هنر او آزادۍ باور مطلقه چاره ګڼي او په دې اړه هـر ډول مخالفـت، انتقـاد او ان د متفـاوت نظـر ورکـول د تحجـر او ارتجاع نښه بولي او په غوسې او غضب سره ورته عکس العمل کوي. په دې منځ کې دریمه ډله هم شـته چـې د انسان په آزادیو باورمنه ده، حقونه یې په رسمیت پېژني او د هنر ملاتړ کوي، خو د دې پر ځای چې دغه مقولې مطلقې وګڼي، باور لري چې هره یوه یې د زماني، مکاني او فرهنګي واقعیتونو په ترڅ کـې لا واضـحه معنـا پیـدا کوي او په اړه یې باید پر دې اساس قضاوت وشي چې پر دې واقعیتونو څه رنګه اغېزه کوي.

د انسان د آزادۍ اصل او همدارنګه د هنر ارزښت هېڅ د مناقشې وړ نه دي. همدا شان، دا چې هنر پر اصیل او مبتذل ډولونو وېشلی شو، داسې بحث دی چې له ډېر پخوا راهیسې وربانديې اوږده بحثونـه شـوي دي او د هـر نظر پلویانو خپل خپل دلیلونه وړاندې کړي دي. په موږ کې ډېر کسان پوهېږي چې له لویه سره د ټولنیزو علومو په اړه او په تېره بیا د هنر په اړه خبرې کول، د طبیعي علومـو لـه بحثونـو سره تـوپیر لـري او پـه آسـانۍ سره یـې ثابتولی یا ردولی نه شو. دلته خبره دا نه ده چې کوم خاص نظر سم یا ناسم دی او په دې کې هم ستونزه نشته چې ځینې دې یو ډول هنر خوښ کړي او ځینې یې بل ډول او هره ډله دې د خپلې خوښې لپاره دلیل یا علـت ولري.

هغه بحث چې د دې اثر لیکوال غواړي وربانديې ټینګار وکړي، دا دی چې د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د هنر په نامه ځینې کارونه، په تېره بیا هغه کارونه چې په مذهبي لحاظ په ښکاره توګه اصول او قاعدې ماتوي، پر دې سربېره چې د هنر ودې ته کوم خدمت نه کوي، وضعیت لا پېچلی کوي او د هغو کسـانو لپـاره چـې غـواړي وطن له دې تنګې څخه وباسي، لا سختوي.

په دې مبحث کې دا چې د افغانستان شرایط ملاک وګڼل شي او ټینګار وربانديې وشي، نه یوازې دا چې روا ده بلکه لازمي هم ده. د افغانستان شرایط ځکه مهم دي چې له ترهګرۍ سره یوه خطرناکه جګړه په همدې خـاوره کې روانه ده او هره ورځ لسګونه او ان سلګونه کسان وژني، نو دا مو حق دی چـې د خپـل بحـث مبنـا د خاصـو شرایطو پر اساس کېږدو او نږه انتزاعي بحث بل وخت او بل ځای ته پرېږدو.

د افغانستان شرایط لکه هغه پزل (puzzle) دي چې له څو لویو ټوټو رغېدلی دی. د دې تصویر په لومړۍ ټوټـه کې: یو هېواد چې د خارجي او داخلي جنګونو د څو دورو په وجه خچ پچ دی، د سپټمبر تر یوولسمې وروسته دا فرصت ورته برابرېږي چې د بیارغاونې خوا ته پل واخلي، له نړۍ سره خپل اړیکـي لـه سره جـوړ کـړي، تعلیمـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداري يې د پراختيا لاره ونيسي، د خلکو د اقتصاد څرخ ورو ورو په خوځېدو شي، د هېواد په اساسي قانون کې د بيان آزادي ومنل شي، ټولو ته د ګوندونو او مختلفو بنسټونو د تأسيسولو اجازه ورکړل شي، مختلف قومونه په سياسي چارو کې د مشارکت امکان پيدا کړي، او دا ټولې خبرې لويه هيله وټوکوي چې د دې خاورې له مخه د جګړې دوړې پاکې او د لا بهترې سبا بنسټ اېښودلی شو.

د دې پزل په بله ټوټه کې، د ديموکراسۍ داسې بېلګه ليدل کېږي چې فساد ورنه څاڅي، د ماجرا ځينو ونډه‌والو له هېواد سره هغه شوې مرستې په بېدو وهلې دي چې د وطن برخليک يې بدلولی شو، ځينې سياسي او فرهنګي سرلاري د باج اخيستلو لپاره د قومپالنې او توکمپالنې اور ته لمن وهي، ځينې کسان چې د بشر د حقونو، د ښځو حقونو، د بيان د آزادۍ، د ښه حکومتولۍ، د مدني ارزښتونو د دفاع، د مډرنو ارزښتونو او داسې نور شعارونه ورکوي، پخپله د همدغو ارزښتونو پر سر تجارتونه کوي.

د تصوير په بله ټوټه کې د دين په نامه لسګونه او سلګونه تشکيلونه رامنځته شوي دي چې که ټول يې نه وي، نو ډېر خو يې داسې دي چې د دين دوکان يې لګولی دی او د بيان د آزادۍ په استفادې سره يې کرکه خبره کړې، خلک يې د دين په نامه له مډرنو ارزښتونو څخه وېرولي دي، په داخل او خارج کې يې ګڼې مالي سرچينې ځان ته برابرې کړې دي، د فشار ډلې او غوغا جوړوونکې ډلې يې جوړې کړې دي او د لنډه‌غرۍ په بابولو سره يې د خلکو په زړونو کې وېره او ترهه ننه ايستلې دي، او پر حکومت او مدني ټولنې او نړۍ‌والې ټولنې يو ځای ملنډې وهي او بيا شپه او ورځ د خلکو په غوږونو کې همدا خبره ورڅخوي چې دين په خطر کې دی او موږ د دين دفاع ته راوتلي يو. د دوی د ادعا سند همدا نيمګړې او معيوبه ديموکراسي او ورسره هغه کارونه دي چې د دوديزې ټولنې له معيارونو سره اړخ نه لګوي او د اصولو او قاعدو ماتېدل ګڼل کېږي. دلته دا تبليغات د ګاونډيو د استخباراتو په مرسته برابرېږي او د داسې ويډيوکليپونو په بڼه چې د دوديزې ټولنې ارواژوبلوي، په ټولنيزو رسنيو کې خپرېږي. دغه تبليغات د دې لپاره کېږي چې اوسنۍ جګړه خلکو ته د دوو تمدنونو، دوو فرهنګونو، او د ارزښتونو د دوو نظامونو تر منځ ده چې يو يې اسلامي او بل يې غربي دی. په دې توګه د هېواد د هرې سيمې زرګونو ځوانانو ته داسې تلقين کېږي چې خطرناک فرهنګي تهاجم روان دی او دوی بايد د خپل دين او مقدساتو دفاع وکړي.

د پزل په څلورمه ټوټه کې د دودپالو وګړو، مذهبي عالمانو، سياسي ګوندونو او ديني جماعتونو لويه برخه ښکاري چې له طالبانو او نورو ترهګرو ډلو بېزاره دي، د خپل هېواد آبادي او آرامي غواړي، د هېواد د وروستيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو له تحولاتو سره جوړ دي، او د طالبانو او د هغوی د استخباراتي ملګرو له تبلیغاتو سره سره یې پرېکړه کړې ده چې د افغانستان د اساسي قانون تر چتر لاندې واوسېږي او په سیاسي او مدني فعالیتونو کې برخه واخلي.

که په دې پزل کې پنځمه ټوټه چې طالبان، داعش او نورې ترهګرې ډلې دي، هم ورزیاته کړو، نو دا تصویر تقریباً تکمیلېږي. اصلي جنګ له همدې ټوټې سره دی چې په دې جغرافیا کې یې ټول ژوند په ننګونه کړی دی او د ټولو نورو طیفونو لپاره یې راتلونکی په وېروونکي خوب بدل کړی دی.

سره له دې چې داسې دقیقې شمېرې نشته چې د دې تصویر د هرې ټوټې حجم او د نفوذ مساحت راوښیي خو په اټکل سره ویلی شو چې د هرې ډلې په واک کې څو جوماتونه، څو مدرسې، څو منبرونه، څو راډیوګانې، څو ټلویزیونونه، څو مکتبونه، څو پوهنتونونه، څو ودانیز شرکتونه، څو غیر انتفاعي موسسې او نور دي.

څوک چې د دې جنګ په لومړۍ کرښه کې جنګېږي او هره ورځ قرباني ورکوي، هغه سرتېري دي چې عمدتاً د دې پزل په څلورمې ټوټې پورې اړه لري او سره له دې چې له ترهګرو سره جنګېږي خو د نوپالو له مفکورو سره هم چنداني جوړ نه دي ځکه چې د خپلو دودیزو باورونو په وجه د دود دستور خلاف شیان نه خوښوي او نه غواړي چې د نورو د دود ماتولو قرباني شي. پر دې سربېره، دا چې د ټولنې خورا زیات وګړي لا د ټولنیز تړون په مفهوم نه پوهېږي، دیموکراسي نه پېژني، د جمهوریت په معنا سر نه خلاصوي، مدني ټولنه نه ده ورمعلومه، او نه پوهېږي چې کوم نظام اسلامي نظام بللی شو، ستونزه لا سختوي.

په داسې جګړه کې د بري لپاره بهرنی ملاتړ په کار دی خو بس نه دی، د بري اصلي شرط دا دی چې ټول نوپالي او منځلاري دودپالي طیفونه سره خوا په خوا ودرېږي او ورسره له هغو ډلو او جماعتونو سره چې د طالب او داعش هم‌فکره دي خو غوره ګڼي چې د دولت تر سیوري لاندې آرام ژوند وکړي، د خبرو اترو ور پرانیستل شي. دلته خبرې اترې سره له دې چې ستونزمنې به وي خو د متقابل پوهاوي لپاره لاره هوارولی شي. د ترهګرو ډلو په مقابل کې بری هله ممکن وي چې نور طیفونه لږ تر لږه د تقابل پر ځای سره یوه خوا شي او د لوی مصلحت په اړه چې هغه د ټولنې بقا ده، سره یوه خوله شي. د دې یووالي لپاره په کار ده چې هېڅوک د «میم زر ما ټول یې زما» په فکر کې نه وي، هېڅ خوا دې د بل لوري د حذفونو فکر ونه کړي، او هر لوری دې د مقابل لوري درناوی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دا انډول خراب شي، هغه ډلې چې د پزل په دریمه ټوټه کې دي، د طالبانو او داعش په فکري مټ بـدلېږي او منځلاري دودیز بهیرونه به د توندلارو خوا ته پورې وهي، او نوپالی طیف به په داسې نادر جماعت اوړي چـې په ټولنه کې يې نفوذ محدود وي، په تېره بیا په دې چې دې طیف له اکثرو وګړو سره په ژبه نه دی پوه شـوی. د دې طیف ځای ځایګی تر ډېره بریده په باد راوړي وضعیت پورې چې د سپټمبر تـر یوولسـمې وروسـته رامنځتـه شو، تړلی دی او دوام يې هم لږ ډېر د بهرنیو ځواکونو په شتون پورې تړلی وي.

دا انډول په دې خرابېږي چې د نورو طیفونو - په تېره بیا د ټولنې د دودپاله اکثریت - اندېښنو، باورونو، ارزښتونو او تابوګانو ته بې‌پروايي وکړو. کله چې دودونه او اصول ماتېږي، د دغه طیف پلویان ورباندې فشـار راوړي او ورو ورو يې ټولنیز ځای ځایګی د توندلارو په ولکـه کـې راولي، مګـر دا چـې د داسـې مسـایلو پـه مقابـل کـې تونـد دریځونه خپل کړي. که فرضاً ځینې کسان راولاړ شي او ټـول دینـي عالمـان زاړه‌فکـري، مرتجـع، د بوینـو مغـزو خاوندان، او دې ته ورته خطابونه وکړي یا د دیني عالمانو له منځه دې یو کس پورته شي او د هـنر ټـول پلویـان فاسد، اهل فحشا، بې‌بندوبار او ... وبولي، نو بیا به په دې ټولنه کې خښته پر خښـتې نـه ټینګېـږي. پـه داسـې وضعیت کې به تر هر چا زیاته ګټه طالبان او داعشیان وکړي او تر ټولو زیات زیان بـه دغـه هېـواد وکـړي چـې د مډرنې نړۍ خوا ته د خوځېدو دریمه هڅه يې د یو یا بل د بې‌سنجشو کارونو قرباني شي.

افغانستان لږ تر لږه دوې تاریخي تجربې تېرې کړې دي چې ښه درسونه ورنه اخیستلی شو. یـوه یـې د شـلمې پېړۍ په پیل کې اماني اصلاحات وو او بله يې د هماغه پېړۍ پـه آخـرو کـې د کمونیسـتي اجرائـات وو. پـه دې دواړو کې د ماتې مهم عامل دا و چې د ټولنې حساسیتونو ته پام نه و شوی او د خلکو ارزښتونو او اصولو تـه شـا اړول شوې وه.

دا ځل د هېواد په نوې تجربه کې ځینو بنسټونو او ډلو بې له دې چې د مسئلې باریکیو ته پام وکړي، ټولنه یـې د سخت دوه قطبیتوب خوا ته ټېل وهلې ده. دوه قطبیتوب یعنې دا چـې خلـک پـه داسـې دوه لاري کـې ودروو چې مجبور وي یوه په کې انتخاب کړي او د تفاهم او همکارۍ لپاره هېڅ لاره پاتې نه وي. وضعیت هله لا پسې خرابېږي چې د یو بل سپکول او تحقیر او شخړې او خشونت هم ورسره ملګري شي. په دې منځ کې اکثره وګړي چې منځلاري دي، د همدې توندو څپو په وجه له اعتداله راوځي او یا دې خوا یا هغې خوا ته ښویېږي.

ځینې کسان پوښتنه کوي چې کومې معیاري څېړنې دا ښودلي دي چې هنر د دې سبب کېږي چې ځوانـان د افراطیت او انتحار په لومه کې ونښلي؟ خو دا نه پوښتي چا دا زحمت په ځان منلی دی چې د زرګونو ځوانانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افراطي کېدو علت وځېږي؟ کوم مرکز دومره مېړانه کړې ده چې د طالبانو او داعشیانو سیمو ته ورشي او وګوري چې کوم تبلیغات ځوانان هغوی ته ورجذبوي؟ په دې خبره هغه خبریال پوهېږي چې تکلیف یې ایستلی دی او له بندیانو سره یې مرکې کړې دي او اورېدلي یې دي چې هغوی وایي جګړې ته یې ځکه مخه کړې ده چې په کابل کې فساد او فحشا روان دي. دا خبره هغه لیکوال ته معلومه ده چې د غور، غزني، زابل، هرات، سمنګان، او ننګرهار له معتدلو دیني عالمانو څخه یې پوښتنه کړې ده چې سره له دې چې نړیواله ټولنه دا پنځلس کاله دلته وه خو بیا هم ولې ورځ تر بلې لا ډېر ځوانان افراطیت ته مخه کوي. څوک چې د ټولنې د نورو طیفونو د نظرونو اورېدلو ته وخت نه ورکوي، د ناورین په اندازې به څنګه ځان پوهوي؟

**بنسټپالنه او د پلارواکۍ ذهنیت:**

دا سمه ده چې د افغاني ټولنې سیاسي فضا په علمي او فلسفي تیوریو نه ده ښکلې شوې او اکثره سیاسي فعالان یې د خپلو سیاسي مفکورو، قومپالنې، او مذهبي او ایډیالوژیکو تعلقاتو په بند کې لالهانده دي نو دلته دریځونه د ښکاره تیوریکي مسایلو پر بنا نه دي. له دې سره سره، ټولنه د سیاسي ګوندونو او د هغوی د رهبرانو کړنې په غریزي ډول درک کوي او د دې درک مبنا هغه تصویر دی چې په دې څلوېښتو کلونو کې دې ډلو او رهبرانو یې د ځان په اړه وړاندې کړی دی.

دلته د دې تصویر پر بنا، خلک د ځینو ګوندونو او ډلو له ذهنیت څخه اندېښنه لري. هشام شرابي، فلسطیني ټولنپوه، دا ذهنیت د پلارواکۍ ذهنیت بللی و. هغه د عربي نړۍ د ګوندونو او حکومتونو د وضعیت د ښودلو لپاره د مدرنې پلارواکۍ مفکوره کاروي. د افغانستان ټولنه هم د ډېرو نورو شرقي ټولنو غوندې په ډېرو اړخونو کې همداسې ده.

پلارواکۍ څنګه چې د یوې ټولنې اقتصادي مناسبات او ټولنیز اړیکې راښیي، هماغسې د دې اړیکو او مناسباتو په بېخ بنا کې پروت ذهنیت او د تفکر ډول هم راښیي. په پلارواکۍ کې یو څوک تر نورو بر ناست وي، د هغه پوهه او تجربه تر هر چا ډېره ده، هغه ښه او بد او دوست او دښمن تر نورو ښه پېژني، هغه له دښمن سره په جګړه کې تر نورو غښتلی دی – لږ تر لږه دغسې دعوا خو کوي – نو هغه حق لري چې د نورو پر ځای فکر وکړي او د نورو لپاره تصمیم ونیسي. د نورو وظیفه ده چې د خپل خیر او مصلحت لپاره، چې پخپله یې نه شي درک کولی، د هغه خبرو ته غوږ ونیسي او امر یې ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هشام شرابي په وينا، په مډرنه پلارواکي کې د هغه پلار پر ځای د ګوند رهبر، مذهبي سرلارى، يا پادشـاه او د حکومت سروال ناست وي. د پخوانۍ پلارواکۍ په شان، په مډرنه پلارواکي کې هم افقي اړيکي نشته، بلکې له پاسه کښته خوا ته عمودي اړيکي باب دي. هغه څوک چې د اړيکو د دې هرم په سر کې دی، کارازماټيک سړی دی چې سترګې يې ډېر لرې ځای ته نيولې دي او د خـورا لريـو راتلونکـو وختونـو خـبر راکـوي او هغـه ځـايونو ليدلی شي چې نور ته يې ليدل ناشوني دي. نور، يعنې خلک او ټولنه، تل تـر تلـه نيمګـړي دي او هېڅکلـه بـه بلوغ ته ونه رسېږي ځکه چې بشپړ بلوغ يوازې د يـوه کـس لپـاره مخصـوص دی او دا خصوصـيت اکتسـابي نـه، بلکې د خدای ورکړه ده نو څوک دې په دې فکر کې نه وي چې ګواکې ور وبه رسېږي. که کومـه ورځ خـدای دا نېکمرغي بل چا ته ور هم کړي، نو هغه بايد د ده له زو ذاته وي او د ده وينه يـې پـه رګونـو کـې روانـه وي. هغـو کسانو ته چـې د دې سـړي پـه شـاوخوا کـې دي او د هغـه حواريـون شـوي دي، د دې پـوهې يـو څـو څـاڅکي څڅېدلي وي خو دوی به هېڅکله هغه موهبت ته ونه رسېږي چې رهبر ورته رسېدلی دی ځکه چې د هغـه وينـه د دوی په رګونو که نه بهېږي. د هشام شرابي د تحليل پر اساس پوهېدلی شو چې د دريمې نـړۍ د ګونـدونو او حکومتونو رهبري ولې غالباً مادام العمره وي او ولې دا مقام يوازې د رهبرانو زامنو ته لېږدېدلی شي.

په پلارواکې ټولنه کې څوک د هغه چا د موقعيت په اړه پوښتنه نه شي کولی چې په بر کـې ناسـت دی. څـوک نه شي پوښتلی چې هغه ته دا نېکمرغي له کومه ورسېده، ځکه چې هغه د خدايانو له ذاته دی، هغه له آسـمانه غړېږي، هغه د خدای په استازيتوب پر نورو واکمني کوي.

پلارواکي ذهنيت په اصل کې په پخوانۍ نړۍ پورې اړه لري او د لرغونو انسانانو د ژونـد لـه شرايطـو سره جـوړ و خو کله چې په دريمه نړۍ کې نيمګړې مډرنيته وزېږېده، پلارواکي هم د ګوندونو، ټوټليټرو حکومتونو او ښۍ او چپې ايډيالوژيو په قالب کې له سره وزېږېده.

خو له دې وضعيت سره د مقابلې لپاره د ټولنې يوه لويه برخـه د مـډرنې ټکنـالوجۍ او د اطلاعـاتو د انفجـار پـه مرسته پوهېدلې ده. دوی هغه حقارت چې د پلارواکۍ ذهنيت پرې تپلی دی، نه زغمي. هغوی د تخصصـونو او مسلکونو په بېلوالي او استقلال خبر دي او په دې پوهېږي چې هېڅوک عقلِ کُل او جامع الکمالات نه دي چې د ټولو پوښتنو ځوابونه يې په جېب کې وي. دوی په همدې وجه نه غواړي چې بل څـوک د دوی پـر ځـای فکـر وکړي او بې له دې چې دوی وپوښتي، ورته تصميم ونيسي. خلک نه غواړي چې څـوک دې وواېـي چـې د دوی ښه تر دوی ښه پېژني، په سياست تر دوی ښه پوهېږي، يوازې پخپلـه د مشروع حکومـت مـوډل وړانـدې کـولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، او يوازې پخپله حق لري چې نورو ته ووايي چې دا وکړئ، دا مه کړئ. څوک چې حق لري هم د رسنيو حد معلوم کړي، هم د مدني بنسټونو، هم د سياسي گوندونو، هم د حکومت، هم د فکري بهيرونو، هم د تمدني بهيرونو، او هېڅوک ورنه پوښتنه ونه کړي چې ته يې څوک او دا واک او صلاحيت چا درکړی دی؛ داسې دی لکه قرآن مجيد يې چې په اړه وايي (لا يُسأل عما يفعل و هم يُسألون/ سوره انبيا، آيه ۲۳)

په افغانستان کې د داسې پلارواکۍ د بيا راگرځېدو اندېښنه شته چې له نورو څخه به د فکر کولو، خبرې کولو، او تصميم نيولو حق واخلي او په بنسټپاله منطق گومان وکړي چې د دين د تفسير انحصاري حق لري.

که د گوندونو او ډلو رهبران خلکو ته ډاډ ورکړي چې نور به يې حقير او ناپوه نه گڼي او ځان به د هغوی قيم نه بولي، دا اندېښنې به راکمې شي. دوی بايد وپوهېږي چې همدا خلک ان که زيات سواد او لوړې زده کړې هم نه لري، پخپله د ځان قيم دی او دې ته ضرورت نه لري چې بل څوک دې د دوی ولي وي. رهبران بايد له ټولنې سره خوا په خوا کې وده وکړي، د انسانانو فرديت ته درناوی ولري، او وپوهېږي چې زمانه بدله شوې ده او نوي نسلونه نړۍ ته په بله سترگه گوري. په قرآن کې د اصحاب کهف داستان ظريفه تلميح لري او د هغو کسانو حال بيانوي چې له اوږدې مودې خوبه را وروسته داسې مهال را ويښېږي چې سکې يې نورې نه چلېږي او په دې يې سر خلاصېږي چې په دې وضعيت کې نو بهترين کار دا دی چې بېرته خپلې سوړې ته ورشي او په ابدي خوب ويده شي. که داسې نه وي نو بايد وپوهېږي چې رهبري کومه آسماني ډالۍ نه ده بلکې ځمکنی قرارداد دی چې اصلي خوا يې وگړي دي. که دوی ونه غواړي چې د خلکو مطلق فقيه ولي دې وي او د خلکو د دينداری پر ځای د خپلې ديندارۍ غم وکړي، نو اندېښنه به ولې په کار وي، البته په دې شرط چې دا ومنې چې د پلارواکۍ وخت تېر دی او د خلکو ټوليز شعور رادبره شوی دی.

**داعش:**

د ۲۰۱۵ کال د پيل ورځې وې چې د اسلامي دولت ډلې چې د داعش په نوم مشهوره شوې ده، په افغانستان کې د اسلامي دولت د خراسان څانگې په نامه خپل فعاليت اعلان کړ. هاغه مهال ځنيو سياستوالو دا خبره د داعش د ډلې تبليغاتي غوغا وگڼله. د افغانستان حکومت وويل چې په سيمه کې د دې ډلې خپرېدل به خطرناک وي خو شنونکو دا خبرې د حکومت د کمزورۍ د توجيه او د نړيوالې ټولنې د مرستو د جلبولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلې ځلې وبللې. اوس تر هغې نېټې څو کاله وروسته، د داعش نفوذ په خپل زېږنځای یعنې عراق او سوریه کې مخ په کمېدو دی خو په افغانستان کې نه یوازې دا چې د دې ډلې خطر لږ شوی نه دی، بلکې ورځ تر بلې د هېواد په گوټ گوټ کې یې د ځالې کولو خبرونه رارسېږي. دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت د دې ډلې ځېل خپل لومړیتوب گڼي او په هر ځای کې چې یې نښې لیدلې دي، ضربتي عملیات یې کړي دي چې د هغوی د پیاوړي کېدو مخه ونیسي. افغان حکومت یوازې په روان لمریز کال کې د هېواد په ختیځ کې د دې ډلې سلگونه تنه وژلي دي خو دا ډله یوازې د افغانستان په ختیځ پورې محدوده نه ده پاتې شوې. اوس پوښتنه دا ده چې په لنډمهاله او منځمهاله موده کې به دا ډله په افغانستان کې لا هماغسې وده کوي، که په عراق او سوریه کې له کمزروې کېدو سره به دلته هم کمزورې شي؟

د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره باید د داعش ماهیت وپېژنو. داعش یوازې پوځي ډله نه ده بلکې ایډیالوژي ده، فکري دستگاه ده او د کفر او اسلام، نننی نړۍ، اسلامي نړۍ، اوسنیو حکومتونو او د منځنۍ ختیځ او زمونږ د سیمې خپل خاص تعریفونه لري. په ایډیالوژیک لحاظ، دا ډله د هغه جهادي سلفیت له لمنه راټوکېدلې ده چې لومړنۍ نسخې یې د محمد بن عبدالوهاب پاڅون او وروسته په هند براعظمگي کې دې ته ورته غورځنگونو ته ورگرځي. د جهادي سلفیت پرمختللې نسخې دا دي: په مصر کې له اخوان المسلمین څخه رابېلې شوې ځانگې لکه الجهاد الاسلامي، الجماعة الاسلامیة، او جماعة المسلمین؛ او وروسته القاعده. که دغه ډلې نه وای او دا ایډیالوژي نه وای خپره شوې، د داعش راټوکېدل به ناشوني وو.

د افغانستان د جهاد په کلونو کې، د شوروي ځواکونو او ورپورې تړلي کمونیستي حکومت په مقابل کې د افغان مجاهدینو په څنگ کې د مختلفو عربي او پاکستاني ډلو شتون ښه کار گڼل کېده او ډېرو اسلامي او غربي هېوادونه به ستایه. دغه ډلې یوازې د جگړې په ډگر کې نه وې، بلکې د افغانستان د وگړو په منځ کې یې نور روزنیز او د خپلو فکري آثارو د خپراوي مرکزونه هم جوړ کړي وو. په هاغه وخت کې سره له دې چې د دغو ډلو ترمنځ سخت گوندي رقابتونه روان وو او ان کله کله به یې یو بل تکفیرول هم، خو بیا هم جهاد داسې شړۍ وه چې ټولې ډلې په کې پټېدلې او د گډ دښمن په خاطر به یې خپل اختلافونه د لنډ وخت لپاره هېرول او یا به یې مهارول. په دې منځ کې یو شی چې هاغه مهال چا ورته اندېښنه نه کوله، د جهادي سلفیت د ایډیالوژۍ خپرول وو. دا ایډیالوژي عربانو راوړې وه چې د جهاد د زمانې د نسلونو نظر او لیدلوری یې بدل کړ. دوی د افغانانو په ذهنونو کې د اسلام، نړۍ او د مسلمانانو د راتلونکې په اړه خاص فکرونه القأ کړل. دا ایډیالوژي ځکه په مسلط فکري بهیر واوښته چې بل رقیب یې نه و او میدان ورته خالي پاتې و. د دې ایډیالوژۍ اثر ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره زيات شو چې اوس که څوک د سنتي فقيهانو نظرونه او د مسلمانو عارفانو او متصوفانو خبرې چا ته وکړي، د ديني فکر اکثره متوليان يې په کلکه ردوي، دا خو لا پرېږده چې د هغو ديني نوفکرانو خبرې ورته وکړې چې له يوې پېړۍ راهيسې له مډرنې پوهې او د نوې نړۍ له معاصرو مفکورو سره د ديني تفکر د پخلاينې هڅې کوي. اوس نو په افغانستان کې د جهادي سلفيت مخاطبان پرېمانه دي چې په ژبه يې پوهېږي او خبرې يې وربانديې ښې لګېږي او داعش هم له همدې جهادي سلفيت څخه زېږېدلې دی.

کله چې يوه ايډيالوژي نسبتاً ډېره منلې وي او مختلف بنسټونه يې په تکثير او بابولو لګيا وي، نو طبيعي ده چې عملي به هم شي. د افغانستان د کشفي اورګانونو د اټکل له مخې همدا اوس دلته تر شلو زياتې ترهګرې ډلې فعالې دي چې ټولې يې د سلفيت دسترخوان ته ناستې دي.

جهادي سلفيت او د کارنامې څېړنه يې ځکه مهم دي چې د سنتي سلفيت برخلاف، دا يو دوه ژواکی موجود دی. هغه داسې چې د تفکر په برخه کې تر مډرنې زمانې له خورا پخوا وخت سره تعلق لري او غواړي چې عصري فکرونه د اسلام له نړۍ څخه وشړي، خو د جنګي تکتيکونو په لحاظ بيا مډرنې او ان پوسټ مډرنې زمانې ته رسي چې کله کله خو ان تر فاشيستي او کمونيستي سازمانونو هم مخته کېږي او لوی امنيتي او استخباراتي سازمانونه ننګوي. دغه دوه ګونی خاصيت په فکري لحاظ تناقض او ټکر زېږوي. دا تناقض د قضيې په ايجابي اړخ کې د دې سبب کېږي چې جهادي سلفيت د مسلمانو ټولنو لپاره د رغونې او جوړوونې هېڅ طرحه جوړه نه کړای شي او د توليد په ډګر کې شنډ وي خو په سلبي وجه کې يعنې له مخالفانو سره په جګړه او د هېوادونو د اوضاع په خرابولو کې بيا ډېر تکړه وي.

جهادي سلفيت د همدې وړتيا له کبله داسې نادرې کولی شوې چې د اسامه بن لادن غوندې سلفي له ملا عمر سره بيعت وکړي، حال دا چې د سنتي سلفيت په سترګو، ملا عمر د ډېرو نورو ديوبندځپلو حنفيانو په شان «قبوري» يعنې قبرپرسته ګڼل کېده. دا کلمه په سلفي ادبياتو کې ډېره منفي معنا لري خو بيا هم اسامه له ملا عمر سره جوړ شو او بيعت يې ورسره وکړ. همدارنګه د جهادي سلفيت د همدې وړتيا کمال و چې اسامه او تر هغه وروسته د هغه خلف ايمن ظواهري له يوې خوا د يوه داسې نړۍوال سازمان رهبر و چې د ځمکې په څو براعظمونو کې يې فعاليت کاوه، او له بلې خوا د طالبانو تر لاس لاندې و، حال دا چې طالبان يو سيمه‌ييز خوځښت و او القاعده نړۍوال سازمان. دې ته ورته نورې خبرې هم دي چې نړۍ يې حيرانه کړې ده چې له دې ډلې سره څنګه تعامل وکړي. که رهبري يې د يوې سيمه‌ييزې ډلې په لاس کې ده نو نړۍوال خطر بايد ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډ شي او که نړۍوال سازمان دی نو ځنګه یې د یوې سیمه‌ییزې کلیوالې ډلې رهبر ته یې ګونډې وهلې دي او هېڅ یې درک نه لګي چې څوک په چا لوبې کوي، طالبان په القاعدې که القاعده په طالبانو!

نن سبا د همدې حیرانۍ په وجه روسیه، ایران او چین له طالبانو سره تعامل کوي او په دوی پورې زړه تړي چې ښايي کومه ګټه ورنه بود کړي او ورباندې خپله کومه ستونزه حل کاندي. دا په داسې حال کې ده چې د اوزبیکستان اسلامي تحریک، د شرقي ترکستان د اسلامي حرکت په نامه د اویغور بېلتونپال، چیچیني جهادیان او شیعه‌ضدې ډلې لکه لشکر جنګهوي چې له دغو دریو هېوادونو سره ښکاره دښمني لري، د طالبانو په خوا کې او د طالبانو په همکارۍ پایي او فعالیت کوي.

د جهادي سلفیت ځانګړنې په غیر سلفي هېوادونو کې چې افغانستان هم په کې راځي، پلویان ورته پیدا کوي او په ځینو ځوانانو کې یې دا تصور پیدا کوي چې ګواکې د لوی اسلامي امت هیلې به همدغه بهیر پوره کوي. د دې بهیر د تکتیکي نرمښت او ایډیالوژیکي راښکون په وجه ان هغه کسان هم د سلفیانو ځینې شعارونه ورکوي چې په ظاهره کې له سلفیت سره مخالف دي او له خپل سنتي حنفیت څخه نه تېرېږي. ان د طالبانو په منځ کې د سلفیانو د اعتقاداتو او مفکورو په اړه تل یو ډول شک او اندېښنه وه او لا هم شته، خو د مبارزې په لحاظ دوی هم تل د جهادي سلفیت پر لاره تللي دي او د هغوی له سترګو یې نړۍ ته کتلي دي او خپلې تګلارې یې هماغسې جوړې کړې دي.

زموږ په سیمه کې د جهادي سلفیت دې تاریخي مخینې او فرهنګي زمینې ته په کتو سره چې په ځینو برخو کې د اخوان او حزب تحریر په شان جماعتونو سره د سازماني او نسبي ایډیالوژیکي توپیرونو با وجود، ځینې ورته‌والي هم لري، اوس بېرته خپلې پوښتنې ته راستنېدلی شو چې زموږ په سیمه کې د داعش د خپرېدو امکان شته که نه؟

ځینې یوازې دې ته ګوري چې داعش له طالبانو سره رقابت او دښمني لري او داعش په عراق او سوریه کې هم له القاعدې سره جوړ نه شو، نو ګواکې د طالبانو مخالفت به یې د ودې مخه ونیسي، خو دوی دا خبره هېروي چې له هغوی سره د داعش اختلاف په تکتیک کې دی که په ستراتیژۍ کې، په هدف کې سره مخالف دي که په وسیله کې؟ د دوی خپل منځي رقابتونه دا معنا لري چې په تفکر او اعتقاد کې سره اساسي توپیر لري؟ دوی له ځانه نه پوښتي چې دغه ډلې د خلافت په اصل کې اختلاف سره لري یا په دې چې څوک دې امیر المؤمنین وي؟ دغه ډلې په دې کې اختلاف لري چې د اسلامي ټولنو اوسني نظامونه او ان بې‌طرفه وګړي خاین،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېدينه، او مرتد وبولي؟ دغه ډلې د جهاد په نامه وسله‌واله جګړه يوازې په استثنايي حالتونو کې مشروع ګڼي که همدا يې تګلاره ده او ان د يو بل په ضد شخړو کې يې هم کاروي؟ د مخالفانو وژل خو لا پرېږده، دوی ته د خپلو سلفي رقيبانو وژل هم جهاد نه ښکاري؟ دغه ډلې کله هم د اخلاقو او معنويت په غم کې شوې دي، که يوازې ظاهري دينداري ورته هر څه ښکاري او چېرې چې يې لاس بر شوی دی، په خپل ګومان شريعت يې تطبيق کړی دی؟

داسې ډېرې نورې پوښتنې دي چې موږ دې نتيجې ته رسوي چې داعش بل څه نه دی، د جهادي سلفيت بل مخ دی او له نورو يوازې دومره توپير لري چې د خپلو مخالفانو د مجازات کولو لاره يې لا وېروونکې ده، مثلاً په ژوندوني د دښمنانو سوځول. البته دا کار هم ځکه کوي چې په رسنيو کې لا ډېره غوغا جوړه کړي ځکه چې دوی د رسنيو په اهميت پوهېږي، ګنې په موصل او رقه کې د مخالفانو د سرونو وهل او په افغانستان کې د محصلانو او د پوهنتون د استادانو د وژلو تر منځ څه فرق دی؟

ځينې وايي په داعش کې داسې کسان شته چې د عقيدې په بنا نه، بلکې د پيسو په خاطر ورسره ملګري دي. خو دوی بايد وپوهېږي چې کومه سياسي او پوځي ډله ده چې همداسې کسان دې په کې نه وي؟ خو د هېڅ ايډيالوژيکې ډلې زړی له داسې فرصت طلبه کسانو څخه نه وي رغېدلی بلکې په هسته کې يې خورا معتقد او ايډيالوژۍ ته ژمن کسان راټول وي. نو د دې پر ځای چې داعش ته له کړې زاويې وګورو، منځ او مرکز ته يې بايد ځير شو او هغه ايډيالوژي او فکري دستګاه بايد وسپړو چې داعش ترې را وتلی دی. هله به دا پوښتنه کولی شو چې داعش دلته څومره نفوذ لري او د خپرېدو امکان يې څومره دی.

که د قضيې تيوريکي اړخ پرېږدو او يوازې دې ته فکر وکړو چې د دې هېواد زرګونه وګړي د طالبانيزم ايډيالوژۍ ته اوښتي دي او ټول کمال يې د بېګناه خلکو وژل او د عامه ګټو بربادول دي نو د دوی او داعشيانو څه توپير دی او همدوی به داعشيان هم نه شي؟ له بلې خوا، د ملا عمر تر مړينې وروسته په طالبانو کې داسې کاريزماټيک رهبر پيدا نه شو چې ټول پرې راټول شي نو همدا وه چې انشعابونه په کې وشول او خپلو رهبرانو ته د ځينو طالبانو وفاداري کمزورې شوې ده او کېدای شي چې نورو ترهګرو ډلو ته ور واوړي چې داعش هم په کې راځي.

همدارنګه په سيمه کې پراخو تبليغاتي شبکو د دين په نامه د کرکې، غچ اخيستلو او دښمنۍ حس په ټولنه کې پيچکاري کړی دی، جګړه او ويجاړې يې مقدسې کړې دي او دا ټول داعش ته د خلکو د اوښتلو لاره هواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داعش نه خو تندر دی چې له آسمانه دې راولوېږي او نه زلزله ده چې د ځمکې له تله دې راپورته شي، داعش ايډيالوژيک بهير دی او له همداسې ټولنې څخه رازېږي چې په ديني رنګ رنګول شوې او له بله وېره او لـه بـل سره دښمني په کې پياوړې وي. د يوې ډلې له جنګياليو سره جنګېدل او له ايډيالوژۍ سره يې کار نه لرل، هغه ستراتيژيکه تېروتنه ده چې په کراتو تکرار شوې ده او داسې ښکاري چې بيا به هم تکرار شي.

څوک چې نن سبا له طالبانو سره مذاکرې کوي خو د سولې لپـاره نـه، بلکـې د دې لپـاره چـې طالبـان يـو ډول مشروع ښکاره شي، دوی دې له جهادي سلفيانو سره د غربيانو د تعامل تجربه نه هېروي. غربيانو پرون [د جهاد په کلونو کې] همداسې کار وکړ چې وروسته يې نړۍ ته سر خوږی جوړ کړ. نن هم که څوک دا کار کوي، دا به يوازې يوې سياسي – پوځي ډلې ته مشروعيت ورکول نـه وي، بلکـې د جګـړې او ويجـاړۍ هغـې ايـډيالوژۍ تـه مشروعيت ورکول وي چې داعش يې هم زېږولی دی. کېدای شي دغه دولتونـه د تېرېـدونکو سـيمه‌ييز لوبـو پـه خاطر يو څو ورځې دغه ډلې د ځان په ګټه وکاروي خو هېڅکله به يې لـه عواقبـو څخـه خونـدي نـه شي. د دې کارونو په نتيجه کې په ټولنه کې راديکال ذهنيتونه عامېږي او د شر ملاتړ به شرارت عام او مشروع کانـدي. لـه داعش سره د مقابلې خامې او نيمګړې هڅې هم د داعشي ايډيالوژۍ د لا خپرېدو سبب کېږي او بيـا بـه د دې ډلې چرګې يوازې په افغانستان کې هګۍ نه اچوي، بلکې له نيويارکه رانيولې تر مسکو پورې او له پـيکن څخـه رانيولې تر تهرانه پورې به راونغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(7)

## دين د هويت په حيث

هويت څه دی؟ اجزا يې کومې دي؟ په ژوند کې مو څه نقش لري؟ مور ورسره کومه رابطه جوړولی شو؟ دين له هويت سره څه نسبت لري او څه ورنه بودېږي؟ په دې ليکنه کې هڅه کېږي چې دې پوښتنو ته ځوابونه ولټول شي.

**د هويت تعريف:**

هويت عربي کلمه ده چې د دريم شخص له ضمير "هُوَ" يعنې "هغه" څخه د جعلي مصدر په بڼه رامنځته شوې ده. [په پښتو کې د دې کلمې تحت اللفظي ترجمه «هغه‌والی» دی. ژباړن] دا کلمه په پخوا وختونو کې غالباً په عرفاني او فلسفي ادبياتو کې کارېدله خو نن سبا غالباً په سياسي او حقوقي ادبياتو کې کارېږي او د انګليسي ژبې له Identity کلمې سره معادله ده. دا کلمه په آکسفورډ ډيکشنرۍ کې داسې توضيح شوې ده: هغه ځانګړنې، احساسات او باورونه چې وګړي له يو بله توپيروي.

هويت په عامه معنا ټولې هغه ځانګړنې رانغاړي چې وګړی ورباندې پېژندل کېږي. د بېلګې په ډول، کله چې يو څوک پېژنو، پوهېږو چې نوم يې څه دی، د چا زوی دی، څو کلن دی، په صورت ښکلی دی، تور دی که سپين، دنګ دی که ټيټ، څه کمال او مهارت لري، د کوم ځای او کوم هېواد دی، قوم او توکم يې څه دی، په کوم دين

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مذهب دی، مورنۍ ژبه یې څه ده، په سیاسي لحاظ کومې ډلې ته نژدې دی، په اجتماعي لحاظ په کومه طبقه کې دی، کار او دنده یې څه ده ... او دا ټولې خبرې د هغه هویت جوړوي.

څنګه چې یې وینو پورته یاده شوې هره خبره د وګړي په پېژندلو کې راسره مرسته کوي او له نورو سره د هغه توپیر راښيي. پخوا د منطق په علم کې ویل کېدل چې که غواړو څوک یا شی وپېژنو، د هغه ذاتي ځانګړنې او عرضي خصوصیات باید وڅېړو او په همدې اساس یې تعریف کاندو. مثلاً د وګړي یوه ذاتي ځانګړنه خبرې کول دي او یو عرضي خصوصیت یې خندېدل دي. یعنې یو نارمل انسان معمولاً خبرې کولی شي خو تل خندان نه وي. اوس نو که وغواړو چې یو څوک په همدې ځانګړنو معرفي کړو، دا ځانګړنې به هغه یوازې له نورو ژوندیو موجوداتو بېل کړي خو ټول بنيآدمان همدغه ځانګړنې لري، نو د هغه شخصي هویت نه شو رامعلوم.

د چا شخصي هویت په لا دقیقو ځانګړنو بیانولی شو، مثلاً یو څوک مسلمان، شافعي مذهبی، د کردستان د شمالي سیمې او په ختېه کرد دی، ژبه یې کردي ده، هغه شتمن او د پاخه عمر او د دیموکرات ګوند غړی دی، هغه د یوه ښار د ښوونې او روزنې رییس پاتې شوی دی، ښه ویناوال دی، له ورزش سره مینه لري، څو ادبي جایزې یې ګټلې دي ... لکه څنګه چې یې وینو، دغه هره خبره هغه وګړی لا ښه را پېژني او هویت یې لا ښه انځوروي.

سره له دې چې دغه هر عنصر د وګړي د شخصیت په رغولو کې اغېزناک وي خو معمولاً سیاق/ کانټکسټ راته وايي چې پر کوم عنصر زیات ټینګار وکړو او کوم عنصرونه څنډې ته پورې وهو یا یې ان له پامه وغورځوو. کله د چا سیاسي هویت مهم شي، کله یې دیني، کله یې علمي او کله یې حقوقي یا ملي هویت. مثلاً که هماغه کس د ایران د کردستان وي، مذهب یې مهم شي، خو که د ترکیې د کردستان وي نو بیا دا چندانې مهمه نه ده چې هغه شافعي مذهبه دی، بلکې دا اهمیت پیدا کوي چې د مورنۍ ژبې په اړه یې دریځ څه دی. په دې حالت کې د هغه عمر د لومړۍ درجې اهمیت نه لري، خو که خبره د مصالحې او مذاکرې وي نو پوخ عمر مهم وي. نو په مختلفو سیاقونو کې د هویت بېلابېل اړخونه تر نورو مهم ګڼل کېږي.

خو پخپله د شخص په نظر، نورې ځانګړنې مهمې دي. هغه ممکن تر خپل عمر، خپل سیاسي مقام، تحصیل، پوهه یا نور مهارتونه مهم وګڼي ځکه چې همدا ځانګړنې هغه تر نورو بر کوي. خو ان پخپله وګړی هم تل یو شان فکر نه کوي. هغه هم سیاق ته په کتلو سره خپله دا یا هغه ځانګړنه یاودي. مثلاً که خبره د تجربې وي، کېدای شي هغه خپل عمر یاد کړي خو که خبره د مذهبي مسایلو وي، نو خپله دیني کارنامه به ځلوي. [دا موضوع په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي وي ليکلو کې هم وينو. مثلاً يو څوک هم د خبريالۍ تجربه لري، هم د ليکوالۍ. اوس نو که رسنۍ ته خپله سي وي لېږي، د خبريالۍ په برخه کې خپله کاري تجربه يادوي خو که د کيسه ليکلو په سيالۍ کې ګډون کول غواړي، نو بيا يې په سي وي کې د آثارو شمېر، ګټلې جايزې او نورې برياوې ليکلې وي. ژباړن]

**د هويت اهميت**

هويت ولې اهميت مومي؟ وګړي ولې په خپل هويتي عناصرو پورې نښلي؟ انسان د خپلو هويتي چارو په اړه ولې حساس دی او ولې کله کله تعصب هم کوي؟ د چا پر هويتي عناصرو بريد، ولې هغه پاروي او کله کله خطرناکې پايلې لري؟

د وګړو په ژوند کې هويت ځکه مهم دی چې ګڼې يې ورپورې غوټه دي، البته ګڼې چې يادوو مادي او معنوي ګڼې دواړه مو منظور دي. هويت د هر چا د تشخص او پېژندلو پولې معلوموي او مستقل حقوقي شخصيت ورته ورکوي. هغه اړيکي چې نور حقيقي او حکمي شخصيتونه يې له ده سره ټينګوي، لږ يا ډېر د ده په هويت پورې اړه لري. مثلاً که معلومه شي چې هغه شتمن دی، مالي اعتبار به يې زياتېږي، که يې پيسې په کار وي، خلک به ورته پور ورکوي، بانکونه ورته قرض ورکوي، حکومت ورته د پانګونې لاره هواروي او ځينې خلک يې احترام يوازې په همدې خاطر کوي چې شتمن دی. خو که يو څوک د شتمن په نامه نه، بلکې د يوه پوه، تعليم يافته او د ډېرې مطالعې خاوند په حيث وپېژندل شي نو ښه کارونه به ورته پيدا شي، ښه معاش به اخلي، په کنفرانسونو، سمينارونو، بحثونو، بهرنيو سفرونو، د تصميم نيولو او سياسي پروګرامونو په جلسو کې د ګډون زيات فرصتونه ورته برابرېږي. د هويت نور اړخونه چې يو وګړی له بله بېلوي، هم همداسې درواخلئ.

د دې لپاره چې د انسان په ژوند کې د هويت اهميت او کاريدنګ رامعلوم شي، ښه به وي چې د انسان د اساسي اړتياوو هرم چې د ابراهام مازلو د هرم په نوم يادېږي، وځيرو. د دې هرم پر اساس د انسان اړتياوې دا دي: فيزيولوژيکي اړتياوې، امنيتي اړتياوې، ټولنيزې اړتياوې، احترام او عزت نفس ته اړتيا، او د ځان غوړولو وړتيا. د دغو ټولو اړتياوو يا يې د ځينو پوره کول، د وګړو له هويت سره مستقيمه رابطه لري.

انسانان څومره چې خپل هويتي عناصر غوړوي، په هماغه اندازه لا ډېرې ګټې تر لاسه کوي. دا به مو خامخا کله ليدلي وي چې يو څوک راځي او وايي چې تاسې ما نه پېژنئ چې زه د پلانکي زوی يم؟! مطلب يې دا وي چې بايد درناوی يې وشي ځکه چې د هاغسې کس زوی دی. يا وايي چې زه د دې وطن د يوه شاعر په حيث د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې چلن لایق یم؟! بل به وایي چې زه ستاسو د یوه مسلمان ورور په حیث هیله کوم چې دا کار ونه کړئ! ملي سوداګر، جهادي قوماندان، ادبي شخصیت، قومي رهبر، چپي روښانفکر، دیني دعوتګر، سیاسي سمونپال، او ... په دې ټولو حالتونو کې دا چې وګړی خپل هویتي ابعاد یادوي، مطلب یې دا وي چې نور ورته پام وکړي، خبرو ته یې غوږ ونیسي او په دې توګه درناوی، مقام، دنده، یا نور امتیازونه ترلاسه کړي.

## د هویت ښېګڼې او بدګڼې:

پر هویت باندې ټینګار او د هویت مهم ګڼل، ناسمه چاره ده؟ څوک چې هر وخت خپلې هویتي پولې را ځلوي، کوم خطا کار کوي؟ د دې پوښتنې ځوابول آسانه نه دي. تر هغه مخکې باید د هویت اجزا سره بېل کړو. د هر انسان هویت عمدتاً له دوو ډولو عناصرو څخه رغېدلی وي، جبري او اختیاري. دا چې تاسې په څه ډول کورنۍ کې زېږېدلي یئ، کورنۍ مو د کومې طبقې وه، چېرې زېږېدلي یئ، مورنۍ ژبه مو څه ده، او داسې نورې خبرې سره له دې چې د وګړي په پېژندلو کې مهم نقش لري او د هغه د هویت مهم عناصر دي، خو دا اختیاري عناصر نه دي. هېڅوک د دې موردونو د انتخابولو حق نه لري. کله چې د ودې عمر ته رسېږو او خپل هویتي پولې پېژنو، بیا نو پر دې خبرو تکیه کوو او دفاع ته یې وردانګو.

د هویتي عناصرو بله برخه زموږ په خپل اختیار وي او په انتخاب کې یې آزاد یو. دا چې وغواړو ډاکټر شو که انجینیر، د سیاسي ګوند غړی شو که د ادبي ټولنې، په حکومتي ادارو کې کار وکړو که په خصوصي شرکتونو کې، په خپل کار کې نوښت وکړو که لټې، له کومې کورنۍ سره دوستي وکړو، له چا سره ملګري شو، له چا څخه زده کړو، چا ته څه ور زده کړو، او سلګونه نور موردونه غالباً زموږ په خپل اختیار وي.

عقل خو دا را ته وایي چې هغه چارې، چې زموږ په اختیار کې نه دي، نه د ستایلو دي او نه د رټلو. څوک په دې باید ونه غندو چې ولې په داسې نوم ورکې کورنۍ کې پیدا شوی دی او همدرانګه څوک په دې ونه ستایو چې په لویه او نامي کورنۍ کې زېږېدلی دی ځکه چې دا خو د هغه کمال نه دی. خو که څوک له بدو خلکو سره ګرځېدلی وي او د هغوی خویونه یې خپل کړي وي، بیا د خپلو بدو کارونو مسوول پخپله وي. په سیاسي ګوندونو، ټولنیزو ټولنو، علمي مرکزونو ... کې د غړیتوب خبره هم همداسې در واخله.

په حقیقت کې د هویتي عناصرو دغه تنوع، سره له دې چې ځینې یې اختیاري نه دي خو بیا هم وګړي ته دا امکان برابروي چې پخپله خپل هویت ورغوي. یعنې هغه تصمیم نیولی شي چې کوم عناصر په خپل هویت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات کړي او ځينې عناصر، چې چنداني مطلوب نه دي، له خپل هويته څنډې ته پورې وهي. مثلاً که يو وګړی د خپلې کورنۍ د ځای ځايګي په خاطر خوښ نه دی يا د خپلې مورنۍ ژبې په خاطر د علمي او ادبي پرمختګ چانس نه لري، يا په جسمي لحاظ معيوب دی چې دا د هغه فردي هويت ته زيان رسوي. دی کولی شي چې ځينې مهارتونه کسب کړي، ځينې علوم زده کړي، په ځينو فعاليتونو کې برخه واخلي او په دې توګه په نورو ډګرونو کې د يوه هنرمند، خلاق يا فعال انسان په حيث وپېژندل شي.

نن سبا خلکو ته دا امکانات شته چې خپل هويت ښه او غښتلی کړي. ان ملي هويت هم چې پخوا په اجباري عناصرو کې شمېرل کېده، اوس ډېرو انسانانو ته دا لاره هواره شوې ده چې د يوه هېواد تابعيت پرېږدي او د بل هېواد د تابعيت په اخيستلو سره خپل ملي هويت وغوړوي.

**دين او هويت:**

په دې منځ کې هغه موضوع چې فکر غواړي او ظاهراً په کافي اندازه بحث ورباندې نه دی شوی، ديني هويت يا دين د هويتي عنصر په توګه دی. کله کله ليدل کېږي چې ځينې دينداران په فخر سره وايي چې زموږ دين زموږ هويت دی. د دوی د دې خبرې هدف ظاهراً دا وي چې دين زموږ لپاره دومره مهم دی چې هېڅکله به ورنه تېر نه شو. يا ښايي ووايي چې موږ به زموږ په ديني هويت پېژنئ او دا عنصر تر هر هويتي عنصر۔ راته مهم دی. ښايي غواړي ووايي چې موږ به په هره موضوع بحث وکړو خو په دين باندې بحث نه کوو. ښايي په دې خبره کې نور مفاهيم او مقصدونو پراته وي چې ويونکي به يې لا ښه توضيح کړي.

دا چې دين د انسانانو لپاره د هويت يو مهم عنصر دی، هېڅ شک په کې نشته خو دا چې دين د هويتي عنصر۔ کچې ته راټيټ کړو يا يې په خپل ژوند کې د کارولو تر ټولو مهم ځای همدا وګڼو، داسې پېچلې موضوع ده چې کله کله داسې عوارض رامنځته کوي چې بيا به اکثره دينداران ورباندې ټينګار نه کړای شي.

څنګه چې اشاره ورته وشوه، هويت اساساً د ګټې وټې لپاره کارول کېږي او د دنيوي ګټو د حاصلولو مهمه وسيله ده. په هويت د نورو په نظر د وګړي مقام تثبيتېږي او هغوی پوهېږي چې څه رنګ اړيکې ورسره ټينګ کړي او کوم امتيازونه ورته ومني. هويت اساساً د بېلولو کار کوي. هويت پولې جوړوي او شخصي حريم رامنځته کوي. هويت د دې سبب کېږي چې څوک ووياړي، په خپلو وړتياوو ونازېږي، او له نورو سره خپل توپير وښيي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هویت لازمې دي چې د دغو توپیرونو پر اساس هم وپېژندل شي او هم په هویت پورې تړلي حقونه او امتیازونه په ښکاره تر لاسه کړي.

له بلې خوا، څرنگه چې څېړونکو او فیلسوفانو موندلي دي، د بشر په تاریخ کې د شخړو علت همدا گټې وټې دي. کله چې د گټو خبره وي، تقابل، جدل، شخړه، دښمني او جنگ هم ورسره وي. له رقیبانو سره د مقابلې لپاره او کله چې د پلویانو د پیدا کولو خبره وي نو هویت پر یوه مهمه وسیله اوړي. په تاریخ کې ډېر داسې کسان تېر شوي دي چې ځانونه یې په یوه خاص توکم پورې نښلولي دي، ځانونه یې د یوه مشهور کس له ذاته گڼلي دي، له چا سره د خپلوۍ دعوا یې کړې ده، او د درواغو شجرې یې ځان ته جوړې کړې دي چې خپله خوا غښتلې کړي او رقیبان وځپي.

هویت تل نه، خو ډېر کله تعصب زېږوي. یو علت یې دا دی چې هویت یوازې وار له واره گټې نه رانغاړي – سره له دې چې غالباً همداسې وي. پر دې سربېره، هویت اروایي ریښې هم لري. کله چې څوک په یو نوم، صفت، شجره، ځانگړنې او وړتیاوې پېژندل کېږي، بیا نو هغه ته د دې شیانو ساتنه او ننگه مهمې شي. که څوک د دې هویت یا د هویت د کومې برخې بد وواییي یا ورباندې نیوکه یا تېری وکړي، وگړي دا پر ځان باندې تېری گڼي.

هویت د هر چا لپاره بریدونه ټاکي او په دې لاره د هغه د ځانغوښتنې غریزه ارضا کوي. هویت کله کله د غرور، تکبر، ځان خوښوونې او د نورو د تحقیرولو سبب کېدای شي او وگړی په اخلاقي لحاظ راپرځوي. البته تل داسې نه وي خو کله کله وي. هغه وگړي، چې دغه عیبونه لري، معمولاً په هغو شیانو نازېږي چې دوی ته یې هویت ورکړی دی او دغه هویت دوی ته حق ورکوي چې ځان تر نورو بر او یا نور تر ځان ټیټ وبولي.

دا عقلاني چاره ده چې څوک دې د خپلو گټو په خاطر په خپل هویت پورې نښتی وي خو په دې چاره کې غیر عقلاني اړخونه هم شته. د بېلگې په توگه، یو څوک فارسي ژبې ته لېواله دی ځکه چې دا یې مورنۍ ژبه ده. هغه له فارسي شعر او ادب سره آشنا شوی دی او د دې ژبې له ښکلاوو سره یې مینه پیدا کړې ده. هغه تصور کوي چې مورنۍ ژبه یې د نړۍ بهترینه ژبه ده. خو وروسته بیا د ژبپوهنې مطالعه کوي او گوري چې د دې علم له نظره هېڅ ژبه کامله او بېنقصه نه ده. هره ژبه ځینې ستونزې لري او فارسي هم. دی د فارسي ژبې له ستونزو سره په منطقي بڼه آشنا کېږي، مثلاً هغسې چې د فارسي ژبې نوموتي ژبپوه رضا باطني ویلي دي. هغه د زړه له تله دا مني او دا موضوع ورته علمي مُسَلمات گرځي. تر دې ځایه پورې خو کار ښه روان و. خو فرضاً هغه سبا د داسې کسانو محفل ته ځي چې مورنۍ ژبه یې فارسي نه ده. البته دا به د ژبپوهانو محفل نه وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحثونه به يې هم د ژبپوهنې نه وي. هلته ځينې کسان پر فارسي ژبه نيوکې کوي او عيبونه يې يادوي. کېدای شي دغه نيوکې يا ځينې يې د ژبپوهنې په لحاظ سمې وي خو دا چې دلته دا خبرې د ناپلوي علمي بحث په حيث نه، بلکې د يوې بلې ژبې د ويونکو له خولې راوتلې دي او پر فارسي ژبې يې بريد کړی دی، نو دغه کس ناپلوی نه شي پاتې کېدای. داسې نه ده چې هغه ته به دا نيوکې ناسمې او هوايي ښکاري، بلکې په دې چې د هغه د هويت پر يوه عنصر بريد شوی دی. دا مثال د هرې ژبې د ويونکو لپاره کارولی شو او همدارنګه د هويت پر هر عنصر لکه ګوندي، سيمه‌ييز، مذهبي او نورو عناصرو هم تطبيقېږي. په دې ټولو حالتونو کې هويت د خپلو اروايي ريښو په خاطر د غبرګون او داسې کړنو سبب کېږي چې کله کله غير منطقي ښکاري.

دين د هويت په حيث د بېلولو وسيله کېږي. دا چې ولې په هر دين کې دننه مذهبونه رامنځته کېږي، وجه يې همدا ده. په صدر اسلام کې، په لومړي سر کې مسلمانانو يوازې يو مذهب او يو نوم درلود او هغه «مُسلِم» يعنې مسلمان و. دوی په همدې هويت له نامسلمانانو سره توپيرېدل. کله چې د مسلمانانو خاوره پراخه شوه او لويې ډلې اسلام ته را واوښتې، بيا نو دغه نوم نه شوای کولی چې د ټولنې مختلفو سياسي او ټولنيزو ډلو ته هغسې هويت ورکړي چې له رقيبانو څخه ورباندې بېل او پر هغوی بر شي. همدا خبره وه چې د دين په منځ کې نور واړه مذهبي هويتونه رامنځته شول. دغه واړه هويتونه يا د سياسي تمايلاتو پر اساس لکه علوي، اموي، عباسي، خوارج، يا د علمي تخصصونو پر بنسټ لکه محدثين، فقيهان، زُهاد؛ يا د سياسي – ژبني مسايلو پر بنا لکه عربي، موالي، شعوبي؛ يا د فرقو پر اساس لکه سني، شيعي، خوارجي، مرجئي؛ او يا د فقهې پر بنا لکه حنفي، شافعي، حنبلي، مالکي، جعفري؛ يا د عرفاني تمايلاتو له مخې لکه نقشبندي، چشتي، قادري، شاذلي، سهروردي، رفاعي، سنوسي؛ يا د کلام پر اساس لکه اشعري، ماتريدي، اهل حديث، او معتزلي رامنځته شول. دا بهير د اسلام د تاريخ په اوږدو کې روان و او څومره چې وخت تېرېده، هماغومره نور نوي نوي هويتونه د لويې مجموعې په منځ کې راټوکېدل چې نن سبا يې نوې بڼې هم وينو لکه سلفي، جهادي سلفي، اخواني، ديوبندي، مودودي، بريلوي، حزب اللهي شيعه، ملي مذهبي شيعه، او لسګونه نور چې ځينې يې سياسي مبناوې لري او ځينې نور يې فرهنګي يا نورې. دا بهير به په ګانده کې هم روان پاتې شي او راتلونکي نسلونه به د نورو نويو هويتونو د زېږېدو شاهدان وي.

نو څوک چې د دين په عيبونو پسې وي، يو دليل چې پر دين د نيوکې لپاره يې راوړي، همدا ده چې دين د انسانانو تر منځ د تفرقې او اختلاف او بيا د دښمنۍ سبب کېږي او نتيجه يې جنګونه او ورانۍ وي. هغوی وايي چې د انسانانو تر منځ يوازې دا تفرقه نشته چې ځينې په يوه دين کې وي او ځينې په بل کې، بلکې په هر دين

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دننه داسې کسان شته چې ادعا کوي چې د دین اصلي نسخه له دوی سره ده او د هماغه دین له نورو لارویانو څخه خپله لاره بېلوي. دا تجربه تقریباً په هر دین کې، په تېره بیا په لویو او مشهورو دینونو کې شته. د درې اویا فرقو خبره همدا تاریخي واقعیت تأییدوي. دغې نیوکې ته ساده ځواب دا دی چې دا عیبونه هله پیدا کېږي چې دین یوازې د هویت په حیث وي.

**اسلام او هویت په اوسني افغانستان کې**

ډېره اوږده موده - ښایي څو پېړۍ - په دې سیمه کې، چې اوس افغانستان نومېږي، هغه دیني پیغام چې ډېرو زړونو ته یې لاره کوله، د عارفانو پیغام و چې ویل یې دین د معنویت گوهر لري او د حقیقت د لټون لاره ده او شریعت دغه تلپاتې گوهر ته د رسېدو لاره ده.

په جوماتونو، خانقاګانو او ان په کورنیو بانډارونو کې مثنوي معنوي، د خواجه عبدالله انصاري مناجاتنامه، د غزالي کیمیای سعادت، د سنایي حدیقه، د عطار تذکرة الاولیا، د سعدي بوستان او گلستان، دیوان حافظ، او په دې وروستیو وختونو کې د جامي نفحات الانس او د بېدل غزلیات لوستل کېدل او دیني او اخلاقي تعلیمات به د عمومي ژوند په رگونو کې بهېدل.

د دغو تعلیماتو پر بنا به په ټولنه کې داسې اخلاق بابېدل چې د ځانغوښتنې او ځان خوښنې پرېښودل، نورو ته درناوی، د ظواهرو کم ارزښته گڼل او د باطني صفا د اصل منل، تر عقل د عشق غوره گڼل، او د عشق تر سیوري لاندې د خدای له نورو مخلوقاتو سره په گډه اوسېدل په کې شامل وو.

د همداسې اخلاقیاتو د خپرېدو په اثر د هویت دعوا، د زه او ته ناندرې، د موږ او نورو شخړې، او له دې خبرو راټوکېدونکې دښمنۍ خپل ځای زغم او تېرېدلو ته پرېښوده او گواکې هر چا د حافظ دا خبره بدرگه کوله چې: با دوستان مروت، با دشمنان مدارا (له دوستانو سره ځواني، له دښمنانو سره نرمي). البته منظور مو دا نه دی چې هېڅ جنگ به نه و، بلکې سختې خونړۍ جگړې هم کېدلې، خو دغه جگړې به عمدتاً هغو حاکمانو او پادشاهانو کولې چې لا ډېر واک، ډېرې ځمکې او ډېر شیان به یې غوښتل او کله کله به یې خپلو جگړو ته دیني رنگ ورکاوه او ښکاره خبره ده چې بېگناه وگړي به هم په کې زیانمن کېدل. خو له دې سره سره، بیا هم د ټولنې ارزښتونه هماغه وو چې د عارفو صوفیانو له تعلیماتو څخه حاصلېدل او ان جنگیالیو حاکمانو به هم هماغه ارزښتونه منل، سره له دې چې عملي کول به یې نه، خو کله کله به له خپلو کارونو پښېمانه کېدل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجدان په عذاب به اخته کېدل. ځینې به کله کله خانقاه ته هم ورتلل او صوفیانه خویونه به یې کول او ځینو به یې د صوفي پیرانو لاسونه ښکلول او دعا به یې اخیستله.

په دې ټولو دورو کې په ټولنه کې همدغسې دیني روحیه، چې لږ یا ډېر عارفانه خوند په کې ګډ و، چلېدله او ورسره هم مهاله په ټولنه کې د شیخ او مفتي او محتسب لپاره هم ځای ځایګی و او مفسر عالم هم له پامه نه غورځېده. خو، ان د فخر رازي غوندې لوی فقیه عالم به هم د عارفانو احترام کاوه او د خپل تفسیر په پای کې به په عارفانه لطایفو پسې هم ګرځېده.

البته کله کله داسې کسان هم پیدا کېدل چې د دین په نامه به یې دوکان کړی و او په دین کې به یې خپلې ګټې وټې کولې. حافظ د دې کسانو په اړه ویل چې له قرآن څخه یې د ریا او تزویر لومه جوړه کړې ده او تر هغې پورې چې همداسې ریا کوي، مسلمان به نه شي [لکه رحمان بابا چې وايي: د ریا خرقه یې خدای مه کړه په غاړه/ رحمان کوږ پټکی ترلی قلندر دی. ژباړن].

له دې ټولو موردونو سره سره، په آخر کې به خلک په هغه پیغام پسې تلل چې زړونه یې کرار او روحونه یې تازه کړي، او د مینې او پخلاینې سبقونه ورکړي چې اغزي ګلونه شي او د دوه اویا ملتونو جنګ ته توجیه پیدا کړي.

دا وضعیت له خپلو لوړو ځوړو سره روان و، تر هغې پورې چې دنیوي ایډیالوژۍ را ورسېدې او خلک یې د کور، کالي، ډوډۍ په لانجو اخته کړل. دوی دعوا کوله چې بې‌طبقې ټولنه به رامنځته کوي او کارګران او خواري‌کښان یې پاڅون ته وربلل. دوی د واکمنو را پرځولو ته ملا وتړله او هغوی یې په وژلو او انقلابي انتقام وګواښل. دوی دین د ملتونو اپیم وباله او په همدې دنیا کې یې د جنت د جوړولو زېری وکړ، داسې جنت چې د پانګوالو، شتمنو او هغو کسانو پر ککریو جوړېږي چې خواري نه کوي. دا خبره به پرېږدو چې د دې جنت پر ځای یې څه ډول دوزخ را ته جوړ کړ!

په دې نوې دعوا کې د زغم او تېرېدلو خبره، مدارا ته رابلل، د پخلاینې ستایل، شعر ته غوږ نیول، له ادبیاتو سره وخت تېرول، ریاضت او د نفس تزکیې ته ملا تړل، په قدسي چارو لاس پورې کول، ټول بې‌معنا او خرافي کارونه بلل کېدل او کله کله خو خیانت هم ګڼل کېدل. یوازینی شی چې په دې بازار کې یې خریدار درلود، انقلابي شور او ولولې او غټې غټې وعدې وې چې داسې فاضله مدینه او بې‌عیبه دنیا به جوړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې نوي اخ و ډب کې ځينو د دين لمن ونيوله چې وګوري څه ورباندې کولی شي. دوی غوښتل دا وازمايي چې له دين څخه څنګه وسله جوړولی شي چې خپل حريف پرې وپرځوي او ميدان ځان ته خالي کړي او بيا د اقتدار او انتصار پر ګدۍ کېني. له دې شېبې وروسته نوی دود راميدان ته شو او د دين داسې نسخې جوړې شوې چې د آخرت تر غم، د حاضرت سودا ورسره ډېره وه او تر اخروي سعادت، دنيوي رقابت ته يې زيات فکر کاوه. د ديندارۍ په دې نسخه کې سياست له ديانت او ديانت له سياست سره يو شان وو. له اخ و ډبه ډکې مظاهرې ورته تر ټولو آرام چلند ښکارېده او ترور او اختطاف ورته عادي خبرې وې. تر دې وروسته، شبنامه او روزنامه، اساسنامه او مرامنامه او داسې ډېرې نورې نامې باب شوې؛ د شرق او غرب په اړه خبرې ډېرې شوې او له هندو او سيکهـ، مسيحي او يهودي او بودايي سره لاس او ګرېوان کېدل، جهاد وبلل شو او د رحمت او رأفت ځای مذهبي او فرقه‌يي شخړو ونيو.

په دې ډول ديندارۍ کې لومړنۍ معمولې اندېښنې د نامسلمانانو په لاس د اسلامي نړۍ د تېلو او ګازو غارت او د حاکمو نظامونو رټل دي. حاکم نظامونه ځکه پړ ګڼل کېږي چې د عمومي خدمتونو په وړاندې کولو، د اسهامو د بازار په تنظيمولو، د اسلامي بانکوالۍ په ښه کولو، د توليد په زياتولو، په نړۍوالو بازارونو کې له رقيبانو سره په مقابله کې، او لنډه دا چې په يو مخ دنيوي چارو کې ناکام دي. البته په ټولنه کې د ښځو د حضور او ونډې پورې تړلي تابوګان هم، چې ظاهراً ديني مسأله ښکاري خو په حقيقت کې کاملاً دنيوي چاره ده، د دعوې دنګلې موضوع وي.

د ديندارۍ په دې نمونه کې، د تسامح خبرې کول تسليمي ګڼل کېږي؛ د مهربانۍ پيغام وېرېدل او ډارنتوب؛ او د پخلاينې غږ خيانت تعبيرېږي.

په دې ډول ديانت کې اسلام ته د هويت د يوه جز او ابزار په سترګه کتل کېږي، کټ مټ د ژبې، جغرافيې او هغو نورو هويت جوړوونکو عناصرو غوندې چې له نيکونو راته په ميراث کې پاتې کېږي. د دې هويت دفاع او پر حدودو او ثغورو يې دعوا په داسې رسالت بدل شوي دي چې که همدا رسالت ادا کړې، ګواکې ټول ديانت دې سم شوی دی او که يې ادا نه کړې، نه دې لمونځونه کومه ګټه لري، نه دې دعا او عبادت کومه معنا لري.

دا هويت بيا په نورو وړو هويتونو ماتېږي او سني او شيعي، صوفي او سلفي، حنفي او حنبلي، اخواني او تحريري، جهادي او تبليغي، دېوبندي او بريلوي، او داسې نور هويتونه ورنه زېږي چې هر يو يې له بل سره دعوې دنګلې کوي، ان کله کله د يو بل وينې تويوي چې خپل هويت بر وښيي او د بل مشروعيت ورنه واخلي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ډول دينداری کار کرښې ايستل او بريدونه ټاکل، د خپل دريځ کلکه دفاع او د نورو پر حريمونو حملې کول دي. دلته د اشتراک ځای افتراق نيسي او د خواخوږۍ ځای بد نيتي. څه چې دلته د چا چندانې نه وريادېږي، هغه اخلاق دي.

په دې ډول دينداری کې څوک د مخالفانو د وژلو پر مهال زړه نا زړه کېږي نه او د نورو د کورونو لـه ورانولـو ډډه نه کوي، ځکه چې د خپلې ډلې د هرې ګټې لپاره لـه شريعـت څخـه توجيـه پيـدا کـولی شي، ان کـه دا توجيـه کمزورې هم وي او خپل کار ته داسې تأويلونه پيدا کولی شي چې مشروع ښکاره شي.

دلته هلته داسې عالمان هم شته چې له دې حالته ځورېږي او داسې صوفيان شته چې له دې حالتـه ګيلـه‌من دي او داسې روښانفکران شته چې ورباندې نېوکې کوي، خو د هويت اسلام د جنګي فيل غوندې هرې خوا تـه حملې کوي او د نيوکو او فکر کولو لپاره چا ته موقع نه ورکوي. د دغو سره دښمنو هويتونو د جوړولو په اخ و ډب کې د کرکې ديانت خپل سيوری غوړوي او د حقيقت او معنويت اسلام ته بيا د ودې کولو موقع نه ورکول کېږي. د معنوي اسلام هغه نيالګی چې مهينې عارفانه غوټۍ پرې ټوکېدلې وې، نه پرېښـودل کېـږي چـې د اخلاقـو او فضيلت له مېوو په ونې بدل شي. دا يوازې د افغانستان کيسه نه ده، بلکې په نورو مسلمان مېشتو هېوادونو کې هم همدا کيسه تېره شوې ده يا تېرېږي.

**افغانستان د عرفان له پرځېدلو څخه د بنسټپالنې تر عروجه پورې:**

د دې ټولنې د نن او سبا لپاره تصوف او عرفان څه کولی شي، په تېره بيا هله چې مذهبي بنسټپالنه ورځ تر بلې له لا لويو ښکرو او لا تېرو منګولو سره را څرګندېږي؟

تصوف او عرفان، د اوسنۍ بنسټپالنې بر خلاف، کومه نوې پديده نه ده، بلکې په دې سيمه کې تر ټولو پخوانی ديني بهير دی چې له دوهمې هجرې پېړۍ راهيسې تل د پراخېدو په حال کې و او د اسلامي تمدن له غوړېدا سره سم، وغوړېده او د دې تمدن له مړاوې کېدو سره سم، په ځنکدن شو.

هاغه مهال چې د اسلامي عرفـان د عـروج دور و، صـوفيانه طريقتونـو پـه دينـي ارشـاداتو د خلکـو د ذهنونـو پـه خړوبولو کې مهم نقش درلود. تر هغو مسلمانو حاکمانو او پاچاهانو چې په نارو سورو به يـې ځانونـه د اسـلام او شريعت خپروونکي بلل، دې طريقتونو د ديانت د غوړېدا او د اخلاق او معنويت په خپرېدا کې لا زيات کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې صلاح شادي د تهذیب مدارج السالکین په کتاب کې ښودلي دي، د صوفیانو تعلیمات پر څلورو محورونو بنا وو: د انسان رابطه له ځانه سره، د انسان رابطه له نورو انسانانو سره، د انسان رابطه له نورو مخلوقاتو سره، او د انسان رابطه له خپل خدای سره چې د هرې رابطې لپاره خپل خپل اصول او ادبونه وو. ډېرو مسلمانو عارفانو، بې له دې چې د شریعت اعتبار ته زیان ورسوي، شریعت ته یې د داسې لارې په سترګه کتل چې انسان پرې معنوي تجربې کولی او په آخر کې حقیقت ته رسېدلی شي. هغوی خپلو مریدانو ته دیني فضایل او ادبونه په منظمه بڼه ورښوول. په دې برخه کې صاحب‌نظرو مشرانو ځان ته د اجتهاد خپله طریقه درلوده. دوی ځکه ورته طریقت ویل چې په مرسته یې د حقیقت په لوري لاره پرانیستل شي [طریقت په عربي ژبه کې لارې ته وایي. ژباړن]، هغه حقیقت چې د انسان په ژوند کې د اخلاقي فضایلو په عملي کېدو سره پیلېده او له مطلق حقیقت سره، یعنې له الهي ذات سره په وصال ختمېده. د انسان د اروا راسپړل او سلامتي ته یې پام کول چې د نفس تزکیه او تهذیب بلل کېدل، د صوفیانو یو مهم کار و. څه چې صوفیانو ته تر ټولو کم راښکونکي وو، په دنیوي چارو لاس پورې کول وو، په تېره بیا د سیاست او قدرت طلبۍ لانجمنې او له شخړو ډکې چارې. صوفیانو به تر هر څه زیات پر نفس او دنیا نیوکې کولې او عیبونه به یې را سپړل. د نفس معنا د انسانانو ځانولۍ او ځانغوښتنه ده او د دنیا دوې معناګانې وې، ثروت او قدرت چې زیاتېدل یې د انسان د ژغورنې او خلاصون د لارې خنډ ګڼل کېږي.

اوسني خلک او ناقدان پر عرفان او صوفي‌ګرۍ دا نیوکه کوي چې هغوی به چارې خورا زیاتې رازجن کولې، عقل او تجربې پوهه به یې کم ارزښته ګڼل او له فلسفې سره به جوړ نه وو. دا کارونه پخپله د خرافاتو د بازار ګرمېدو ته لاره هواروي. ښایي همدا عاملونه د اسلامي تمدن په کمزوري کولو کې لاس درلودلی وي ځکه چې هر تمدن او هر فرهنګ یوازې به عقلاني انتقاد پایي او غوړېږي او کله چې د داسې عقلانیت ځای جبر او تسلیمېدل ونیسي او د چارو د عقلاني ارزولو لپاره کوم ابزار نه وي، نو هغه فرهنګ او تمدن راپرځي. دا هماغه څه دي چې په اسلامي تمدن کې هم را پېښ شول. ښایي دا به د انصاف خبره نه وي چې ټوله پړه د تصوف او عرفان غاړې ته واچوو، ځکه چې په داسې بدلونونو کې د سیاست، اقتصاد، هنر، پوهه، او فرهنګ له نقش څخه انکار نه شو کولی او صوفیان د دې تمدن یوازې یوه برخه وه، هغه هم داسې برخه چې په یوه ګوټ کې ناسته وه او له دنیوي چارو سره چندانې لېواله نه وه. په دې ډګر کې مستبدو حکومتي نظامونو، تړلیو فرهنګي منظومو، او بې‌کاره تعلیمي سیستمونو لوی لاس درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره موده کېږي چې زموږ په سیمه او هېواد کې د تصوف زور ختلی دی او څو پېړۍ کېږي چې هېڅ لوی نظریه جوړوونکی، هېڅ لوی عارف شاعر، او هېڅ عارف‌مشربه دینپوه مو نه دی لرلی. یوازې لاهوري اقبال و چې له اسلامي عرفان سره همفکره و، البته هغه هم پر صوفیانو نیوکې کولې، که له اقباله را تېر شو، نور نو په ندرت سره داسې نامتو کسان پیدا کولی شو چې د مولانا او ان د جامي او بېدل ورم تري ولټېږي. البته په دې وروستیو وختونو کې څو دیني نوفکران پیدا شوي دي خو لا یې د مسلمانانو په منځ کې خپل ځای ځایگی نه دی موندلی. دا چې تصوف او عرفان پرځېدلی دی، یوازینۍ نتیجه یې دا نه ده چې د خرافاتو بازار غوړېدلی دی او د ځینو کار و بار یې سم کړی دی – سره له دې چې دا خبره هم مهمه ده – خو تر دې لا مهمه خبره دا ده چې د اغېزناکو عرفاني شخصیتونو او عرفاني بهیرونو نه شتون، هغو نویو سیاسي ډلو ته د ودې لاره هواره کړه چې د دین په نامه د دنیا کار و بار کوي او درگرده لگیا دي چې د حکومت واگې په لاس کې واخلي او که د دې کار لپاره ان د وینو ویالې هم بهوي. دا د اسلامي بنسټپالنې بهیر دی چې د اصیل اسلامي تصوف او عرفان په نه شتون کې یې د مسلمانانو معنوي تنده په کاذبو شیانو ماتوي او د هویت او دیانت په گډولو سره د اسلام او مسلمانانو د سرلوړۍ دعوې کوي او معلومه هم نه وي چې د دې دعوې د پوره کولو لپاره کوم پلان او پروگرام لري که نه.

دیني بنسټپالنې څومره یې چې وس و، هماغومره یې د شریعت پر ظاهر باندې تمرکز باب کړی دی او اخلاق او معنویت یې له پامه غورځولی دی. اوس چې د دې بهیر له پیله قریب یوه پېړۍ تېره شوې ده، اسلامي ټولنې په اخلاقي لحاظ تر پخوا زیات پرځېدلې دي او په انساني لحاظ په ناوړه حالت کې دي. هغه دیانت چې بنسټپالنه یې بابوي، مستقیمه نتیجه یې له خدای څخه لرې کېدل او قدرت ته ور نږدې کېدل دي. دوی په همدې وجه، د الهي صفتونو په منځ کې «حاکمیت» تر هر څه زیات یادوي او د شریعت په تعلیماتو کې هغو تعلیماتو ته ځنې غورځوي چې له سیاست سره رابطه ولري. سیکولرایزېشن که د دنیوي کولو او دنیاپالنې په معنا وي، نو دا بنسټپال مسلمانان دي چې د مسلمانو صوفیانو او عارفانو برخلاف، دنیوي وسوسې یې په مسلمانانو کې زیاتې کړې دي او د دین معنوي تومنه یې لرې کړې او پر ځای یې د ثروت او قدرت دنیوي لانجې په کې اچولې دي. خو دا چې دا کار په سم منطق سره نه دی ترسره شوی، نو نتیجه یې داسې بې‌ډوله سیکولریزم دی چې نه اجازه ورکوي چې ټولنې مو واقعاً دیني ټولنې پاتې شي او نه پرېږدي چې ټولنې په رښتیا سیکولرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن سبا هغه ځوان مسلمان چې د بنسټپالو تبليغات ورباندې اثر کړی وي، د دې پر ځای چې فکر وکړي چې د خدای رضا څنګه حاصلولی شي او په کومو فضايلو او اخلاقي مکارمو د معنويت په لاره سمبدلی شي، فکر يې په دې خبرو بوخت وي چې د عربستان تېل چېرته ځي، په منځني ختيځ کې د ايران نقش څه دی، د امريکا نفوذ به چېرته ورسېږي، د ترکيې په انتخاباتو کې به کوم ګوند ډېرې رايې واخلي ... او همدغه خبرې هغه ته ديانت او عبادت ښکاري. اعتکاف او خلوت چې پخوا د روح د صيقل کولو مهمه چاره ګڼل کېدل، اوس يې خپل ځای په مجازي شبکو کې ګوندي تبليغاتو او رقيبانو او مخالفانو ته سپکو سپورو او زنده باد و مرده باد ويلو ته پرې ايښی دی. خبره دا نه ده چې څوک دې په دغو موضوعاتو کار نه لري يا ګواکې مسلمانان حق نه لري چې په دې مسايلو بوخت شي، بلکې خبره د داسې چارو د ترسره کولو په منطق کې ده. يعنې بايد وپوهېږو چې کوم کار تعبدي چاره ده او په تعبدي منطق بايد ترسره شي او کوم کار تعقلي چاره ده چې خپل منطق يې بايد وپالو.

د بنسټپالنې په اړه ډېرې خبرې کولی شو خو دلته به غوره دا وي چې پر دې فکر وکړو چې د صوفيانو او عارفانو له ميراثونو څخه د مسلمانو ټولنې د وضعيت د ښه کولو لپاره څنګه کار اخيستلی شو. ځينې صاحب نظران په دې باور دي چې اسلامې عرفان د بنسټپالنې ښه بديل دی، خو بايد وګورو چې دا کار څنګه کېدلی شي.

اسلامي عرفان سره له دې چې د دين د لومړي لاس له منابعو څخه يې الهام اخيستی دی خو د انساني هڅې او اجتهاد محصول دی چې د تاريخ رنګ پرې کېناستلی دی او په مختلفو دورو کې د مسلمانانو د تاريخي او فرهنګي ضرورتونو په ځواب کې راټوکېدلی دی. که دې ميراث ته د تقدس په سترګه وګورو، بيا به يې نقد نه شو کولی او تر هغې پورې چې سم نقد نه وي، معقول چلند او ډيالوګ ورسره نه شو کولی. هر ميراث چې د اوسني پېر نه مخکې نړۍ پورې تړاو ولري، که يوازې په مونولوګ اخته وي او يوازې خپلې خبرې وکړي او زموږ وانه وري، نو نننۍ ټولنې به بندې لارې ته ورسوي او له اوسنۍ نړۍ سره په مخامخ کېدو سره به ټولنه په کړکېچ اخته کړي. د مسلمانو عارفانو له ميراث سره د خبرو اترو پيلول او ورسره راکړې ورکړې کول د دې ميراث د کارولو يوه ښه لاره ده. دا کار په نويو تيوريو او ننيو علومو ترسره کولی شو.

همدارنګه د اسلامي عرفان ژبه د تېرې زمانې ژبه ده، داسې ژبه ده چې د هغو انسانانو ذهنيت ته جوړه وه چې په رازناکه نړۍ کې اوسېدل او د ډېرو طبيعي چارو له بيانولو عاجز وو. د دې لپاره چې د اسلامي عرفان زېرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوسپړو، د ژبې رمزونه یې باید پیدا کړو او لږ تر لږه یوه برخه یې په نننۍ ژبه ولیکو چې د اوسنیو نسلونو په طبع برابره شي.

د اوسنیو ناقدانو په نظر، پخوا د پیر او مرید رابطه له پاسه ښکته خوا ته عمودي رابطه وه چې لـه پخـوانۍ نـړۍ سره جوړېده او زموږ په فرهنګ کې یې په مختلفو نومونو د استبداد او دیکتاتورۍ بابولو ته لاره هوارولـه. نـن پـه کار ده چې دا رابطه افقي بڼه خپله کړي چې دیموکراتیکه فضا رامنځته شي او د پیر او مرید دوه اړخیزې خبرې اترې په کې وي، هماغسې چې په مډرنو پوهنتونونو کې د استاد او محصل تر مـنځ وي او د پوښـتنو لپـاره کـوم محدودیت او د فکر کولو لپاره کومه وېره نه وي.

اسلامي عرفان له نویو پوهنو لکـه ارواپـوهنې، ټـولنیزې ارواپوهنې، وګړپـوهنې، او ان عصب‌پوهنې څخـه ګټـه اخیستلی شي، هماغسې چې په پخوا کې یې د یونان او هند او لرغوني ایران لـه میراثونـو څخـه ګټـه اخیسـتل شوې وه. په دې کار سره به نوي عصر د مسلمانانو روحي او اروایي اړتیاوو ته ځواب وویلای شي او هغه ځوابونـه به تکرار نه کړي چې پخوانیو انسانانو ته ورکړل شوي وو او د هغوی خپل ضرورتونه یې پوره کول.

په همدې ډول، هغه سیالي چې له پخوا وختونو راهیسې د فقیهانو او عارفانو تر منځ روانه وه او کله کله به د یـو بل په نفي کولو او رټلو تمامېده، خپل ځای همکارۍ ته ورکړي. د دې کار تر ټولو ښه لاره دا ده چې د هر یوه د تخصص قلمرو مشخص شي. دا چې ویل کېږي چې د مډرنې نړۍ ځانګړنـه د قلمرونـو بېلـول او د هـر قلمـرو د خپل منطق کشفول دي، هسې خبره نه ده. که دا خبره له نورو تخصصـونو او قلمرونـو سره د عرفـان د رابطـې د تعیینولو لپاره وکارول شي، نو ډېره مرسته به وکړي.

لنډه دا چې که د مسلمانانو عرفاني میراث د هغوی د فقهي او کلامي میراث په شان بیـا ورغـول شي او اصـلاح شي، د خرافاتو دوړې ورنه وڅنډل شي، او نوې تیورۍ او پوهنې یې هم مرستې ته ور ودانګي نو تمه کېږي چې په اسلامي نړۍ کې به د افراطي ایډیالوژیو لپاره مناسب بدیل شي. تر هغې پورې چې دا کار نـه وي شـوی، دا وېره به وي چې ساده پاک‌زړي مسلمان ځوانان به په آسانۍ سره د افراطي ډلو د تبلیغاتو په لومه کـې ولـوېږي. افراطیان به وروباندې د جنت زېری کوي او دوی به یې په خپل خیال کې ترسیموي، داسې جنت چې لاره ورتـه یوازې د انفجار او انتحار په سړک تللې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۸)**

## په اسلام کې د قدرت ناسپړل شوې غوټه

**ژباړن: شیرخان زېری**

د اسلام  په تاریخ کې تر ټولو لوی دروني جنجال د سیاسي قدرت پر سر دی. ولې مسلمانانو هېڅ داسې تیوري نه درلوده چې دغه اوږد جنجال ختم کړي.

دغه جنجال له هغه وخت ته را پیل شو، چې پیغمبر( ص ) له نړۍ سترګې پټې کړې، مګر د ځېنو مسلمانانو په لاس د پیغمبر د درېیم خلیفه له وژلو وروسته، سیاسي قدرت ډېر له وینو سره مل شو. د هاشمي کورنۍ چې پیغمبر( ص ) د هغوی له کورنۍ نه وه، په قهر و چې ولې په قدرت کې د هغوی سهم کم دی. انصارو چې پیغمبر او مهاجرینو ته په خپلو کورنو کې ځای ورکړی و، په سقیفه بنیي ساعده کې مهاجرینو ته یې ښکاره ویل چې یو خلفیه دې زموږ نه وي او یو دې ستاسو نه. ځېنو هغه مشرانو صحابه کرامو چې د دویم او درېیم خلیفه په وخت کې له اجرایوي مسولیت نه لرې شوي وو، د درېیم خلیفه له وژلو وروسته یې د ځېنو ډلو مشري په غاړه واخیسته او له څلورم خلیفه سره یې جګړه پیل کړه. نورې ډلې چې د جهاد په کلونو کې منځ ته راغلې وې، قراء یې بلل، د درېیم خلیفه پر ضد یې، جګړو او جنجالونو کې سهم درلود. دغه ډله د وخت په تېرېدو په یو سختګیرې ډلې چې خوارج نومېده بدله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو لسيزې وروسته نوې سياسي ډلې د حاکم نظام پر وړاندې چې د امويانو په لاس کې و، رامنځته شوې. په دغه وخت کې له علويانو او عباسيانو پرته، بومي خلک چې فتح شو سيمو کې، د شعوبيه په نوم و، د جنجالونو ډګر ته راغله. د دغو خوځښتونه او جنجالونو په پايله کې د اسلامي قلمرو په ډېرو ځايونو کې د مغرب او اندلس نه پرته، د اموي خلافت د ماتې لامل شو. د امويانو د حکومت ځای ناستی حکومت د عباسيانو و، چې د شعوبيه ډلې په مرسته يې د خلافت تاج او تخت لاس ته راوړ.

د علويانو او عباسيانو ترمنځ د قدرت پر سر جنجال چې د حکومت مشروعيت يې پيغمبر ته قرابت و، يو طرف، بل خوا د شعوبيانو او عباسيانو ترمنځ جنجال دوام پيدا کړ. په وروستيو لسيزو کې د علويانو کوښښونو په مصر او د افريقا په شمال کې د فاطمي خلافت په جوړولو تمام شو، چې بيا د ايوبيانو په لاس ړنګ شو. عباسيانو د شعوبيه يوه ډله د بلې ډلې پر وړاندې استعمالول او د خراسانيانو پر واړندې ترکان په قدرت کول، په وروستيو دورو کې د لويو تحولات پيل شو.

له دغو لسيزو وروسته د حکومتونو ترمنځ خونړۍ جګړې او جنجالونه، لکه د طاهريانو، صفاريانو، سامانيانو، غزنويانو، سلجوقيانو، ايوبيانو، مملوکيانو، تيموريانو، ګورګانيانو، صفويانو، عثمانيانو، مرابطين، موحدين... او نورو ترمنځ په مسلسل ډول يې دوام درلود، چې تر اوسني عصر پورې راراسېږو. په ټول دغه تاريخ کې چې له زرو کالونو زيات دی، هېڅ وخت داسې يو ځای او اتفاق جوړ نشو، چې د واک سوليز انتقال په سر اتفاف وشي او د وينې د بهېدلو پای وي.

که چېرې د اسلام تاريخ د نورې نړۍ د ملتونو له تاريخ سره يو شان وګڼو ، داسې پېښې په کې طبيعي دي. د موضوع ګونګوالی( پيچيدګي) له هغه ځای پيل کېږي، چې بنسټپال مسلمانان ادعا کوي چې د اسلام تاريخ د نړۍ له نور بشري تاريخ نه توپير لري. که چېرې د نورو تمدن دې خاورې ته نه وای راغلی، نن به هر څه هماغسې و.

اصلي قضيه دا ده، چې له اساس نه په اسلام کې کومه ځانګړې تيوري د سياسي قدرت لپاره نشته او خپله مسلمانان په تاريخي ژوند کې له هغه سره لاس او ګريوان و چې دغه ګونګ او پيچيده حالت يې زېږنده ده.

په ټوله کې، دين په ميتافزيک او غيب نړۍ باندې بحث کوي او که چېرې د دې نړۍ موضوعاتو باندې هم بحث کوي، داسې څه وايي چې د انساني عقل او معلوماتو څخه اوچت شی نه بيانوي. هغه څه چې دين

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړی او متمایزه کوي، هغه ځوابونه دي چې د ژوند اساسي پوښتنو ته یې وایي. او بله دا چې دیني زده کړې، مناسبتونه او اصول، عبادتي دي، یا دین په ټوله کې د ماورالطبیعي موضوعاتو بحث کوي. که دنیاوي موضوعات هم راسپړي، تر هغه ځه زیات څه نه وایي چې متعارف انساني عقل یې راته وایي.هغه څه چې دین ورباندې بېل او متمایز کېږي دا دی چې د ژوند اساسي پوښتنو ته ځواب ورکوي.

له دې ورهاخوا اسلام په داسې قبیلوي جغرافیه کې راپیدا شو، چې د لویو امپراطوریو له څرکونو او تاثیر څخه لرې و؛ له ښاري ژوند یې ډېره کمه ګټه اخیسته. دا خو لا پرېږده چې له عریضو، دیوان لرل او د دولت داری لوی سیستم سره بلد وي. د قدرت موضوع چې په سیاسي علوم کې کومه معنا لري، د هغوی خلکو له ژوند سره چې د قران مخاطب دي، کاملاً ګونګ دی. په همدې اساس قران په دې باره کې ساکت پاتې شو، په ځینو مواردو کې چې د لفظ حکم او د هغه مشتقاتو نه په دې اړه استفاده کوي، هغه د حکمت او پوهې په اړه دی، نه د حکومت په اړه. په بله سپاره( پاره ) کې چې د عربو د رواجونو غوندې قضاوت دی، هغه هم په سنتي شکل ترسره کېده. د منظم او دیواني حکومتوالی سره، سر نلري.

قران هغه موضوعاتو په اړه بحث وکړ، چې عملاً په ټولنه کې ورسره لاس او ګریوان وو، لکه فقر او غریبانو ته نه پاملرنه، بت پرستي او د هغوی اړوند خرافات، درواغ او تهمت، په راکړه ورکړه کې چل، غله او شکونه، جګړې او تاوتریخوالی... او داسې نور موضوعات. هغه څه چې د عربو په ژوند کې نه و، د هغه په اړه قران کې هم کوم بحث نه کېده. په قران کې هېڅ داسې کومه اشاره، هغه موجودو ستونزو او مشکلاتو ته نه دی شوې، چې د روم او فارس د امپراطوریو خلکو ترمنځ، د افریقا او اروپا او همدارنګه هغه ننګونې چې په هند و چین کې وې، یادونه وشي. د دې پرخلاف قران کې د عربو ستونزو او ننګونو ته پوره پاملرنه شوې. هغه مسایلو ته چې ارزښت نلري، لکه: کور ته دروازې له لارې نه د بام له لارې ننوتل، په هغوی میاشتو کې چې جګړه حرامه لاس اخیستل، یا د کاروانونو پرمخ د لارو تړل. د اوښ، مېږې او اسونو پرخلاف د استرالیایي کانګرو، د افریقایي ګوریلایي، امریکایي لامیو... په اړه په قران کې هېڅ نشته. د حکومتوالي او د حکومتوالی طریقو په اړه خو هېڅ خبره نده شوې.

اما د قضیې په بله خوا کې د پیغمبر رالېږل د بدلون لپاره و، دغه بدلون د عربو او نور قومونو د سرنوشت بدلون. هغه د دغه کار لپاره د توحید صف لپاره، د توحید عقیده اړینه ګڼله او له همدې امله د مشرکانو له عقیدو سره ناپخلاینه پیل شوه. شرک یوازې د نړۍ د میتافزیک په اړه په خطا تلل نه وو، بلکې د خدایانو ډېروالی هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربو په منځ کې اختلاف سبب کېده. د اسلام پیغمبر لومړنۍ اجماع پـه متفـاوت بڼـه جـوړه کـړه؛ مگـر د قـومي شرېدلو اتلافونو په اساس نه وو، بلکې د نوي قراني نړۍ لید پر اساس و. له دې وروسته د اسلام پیغمبر او ټولنه د ده د رهبرۍ لاندې یو لړ جگړو او اختلافونو ته ننوته، داسې جگړې او اختلافونه چې د نـوي نظـام د رامنځتـه کولو لپاره قوي خنډ و. له دغه ځای، قدرت سره د مسلمانو تعامل، عملي تجربه پیل شوه.

داسې معلومېږي چې د اسلام پیغمبر له قدرت نه انکار ونه کړ؛ بلکې له هغه سره یې د دیني امر له مخې نه، بلکې د دنیاوي امر په توگه یې چلند وکړو. هغه په واضح ډول، دنیاوي امورو کې خپل موقف ښکاره کړی و او ویلي یې و چې په دې اړه هېڅ نوی شی نشته، بلکې د انسانانو راواجي تجربو ته لومړیتوب ورکوي. مسلم دغه حدیث له هغه نه روایت کړی: "أنتم أعلم بامر دنیاکم" یعنې تاسې په دنیاوي کارونه کې پوهېږئ. همدا ډول دی یې روایت کړی: "إنما أنا بشر اذا أمرتکم بشیء من دینکم فخذوا به و اذا أمرتکم بشیء من رأی فانما أنا بشر" یعنې زه ( تاسې غوندې) یو انسان یم، که چېرې مو تاسې ته د دین په کوم کار باندې امر وکړ، هغه ترسره کړئ او که چېرې مې له ځانه کوم فرمان در کړ، پام مو وي چې زه هم( تاسې غوندې) بشر یم. ( تاسې د هغه په ترسره کولو اړ نه یاستئ). نه یوازې دا، بلکې په بېلابېلو برخو کې یې خپل نظر څنگ ته کړی، د خلکو رایې او نظر یې منلی. د دویم عقبه ی په بیعت کې، د بدر جگړه کې، په خندق او احزاب کې، په حدیبیه، د مکې او طایف فتحه کې... دغه ټول د قران له مخې و، له پیغمبر غوښتل شوي و چې باید له خلکو سره مشوره وشي.

معلومه خبره دی چې له خلکو نه په دیني چارو کې نه، بلکې په دنیاوي چارو، لکه: جگړه او سولې، د والي، قاضي او قومندانانو په ټاکلو او دې ته ورته نور کارونه کې مشوره غوښتله. حتآ د خپل ځای ناستي، حساسې موضوع په اړه یې هم روښانه دریځ نه درلود او نه یې هم په دې اړه هېڅ خبره کړې، بلکې دی یې خلکو ته پرېښوده.

دا عیب په یو دین کې ندی؛ کیدای شي ښکلا وي. ځکه د قدرت لپاره د یوې مشخصې تیورۍ نه درلودل د قدرت لپاره یې د مومنانو لاس خلاص پرېښوده او ډېرې لارې یې ورته پرېښودې. ولې د قدرت په اړه سکوت، له بل طرفه قدرت سره د خلکو لاس او گریوان والی، پېچلې وضعیت رامنځته کاوو. هغه څه چې دا موضوع لا مغلق کوي، دا و چې د دوو برخو؛ دیني او عرفي توپیر په واضح ډول د پیغمبر په ژوند کې روښانه نه شو. په دې اړه تیوریک کار د نور کارونو په څېر د راتلونکو نسلونو په اوږو بار شو. پاتې نسلونو هم یوازې کلامي او فقهي مسایلو ته پام وکړ؛ سیاسي نظریاتو ته یې پام ونکړ، چې  مسلمانان له دغه لویې منازعې نه خلاص شوي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وروستيو کې د فقيانو لکه: باقلاني، غزالي، ماوردی، ابويعلی فراء، ابن تيميه او نورو په دې اړه کوښښ وکړ، چې دغه توريیکه گډوډي، چې په دغه برخه کې و، حل کړي؛ خو په ډېرو کمو اصطلاحاتو يې هم د نظر اتفاق نه درلود. معلوم نه و چې دا په اصل کې خلافت دی او که سلطنيت، ملوکيت يا امارت او يا هم که مودل د حکومت او حاکميت. هغوی په دې اړه چې قران اصل وگرځوي؛ سکوت يې وکړ، ځکه په سکوت سره يې د خپل وخت حکومت ته، چې دين و، مشروعيت ورکړي. د هغوی د اثارو په عنوانونو او هم د اپيستيمولژيک منځپانگه کې ووينو. لکه: الاحکام السلطانيه، نصيحة الملوک، سياستنامه، السياسة الشرعية، الولايات الدينية، احکام الراعی و الرعية، و.. نوي څېړنې ښايي چې دا لړ او ډېر د ايراني او لرغوني يونان د باچاهانو له سپارښتونو( سفارشنامه) نه وي؛ نه دا نوې نظريې د مخکنيو ستونزو د حل لپاره.

هغه څه چې په  اسلام کې د قدرت او تيوريکي خلا  په اړه ويل کېده، له دغه ټکي نه په استفادې کولای شول د قوت په ټکي بدل کړو. دغه کار د مسلمانانو لپاره په نن ورځ کې کار اسانه وو چې له نوو سياسي پوهو سره په گډه يو نوې تيوري پيدا کړي. ديني بنسټپالي کوم لارې ته نه رسيدل او دغه جار او جنجال څو برابره نه کېده.

هغوی چې د دغې ستونزې او غوټې د خلاصون لپاره عملي طرحه نه درلوده، هغوي ببرته هغه نظرياتو ته گرځېدل، چې يا خلافت، امارات او ځېنې وخت کې يې د اسلام سياسي نظام رامخته کولو خبره مخکې کوله. هېڅ يو له دغو اصطلاحاتو د قدرت د تيوری لپاره مناسب نه دی او نه هم يې پخوانيو قدرتونو ته چې په خونړيو شخړو رامنځته شوي و، له هغو تجربو يې هم گټه نه پورته کوله. هغوی د دغو لوړو او ژورو د اسانه کولو لپاره غوټه په غوټې باندې زياته کړه، چې خپل فقر او ستونزې په دې خبرې او شعار باندې پټ کړي؛ اسلام پوره منلی ( کامل او شامل) دين دی.

کله چې ترې پوښتنه وشي، چې اسلام په کوم ځای کې د سياسي نظام لپاره طرحه لري، په ځواب کې به وايي: اسلام کليات ويلي او جزئيات يې د انسان عقل او اجتهاد ته پريښي. په داسې حال کې چې ټول اختلاف په جزئياتو کې دي، نه په کلياتو کې؛ ځکه هره گټوره طرحه له جزئياتو پېژندل کېږي. له هغو کلياتو چې ادعا کوي، د عدالت او شورا په څېر دي، دا هم د انساني عقل زيږنده دی؛ د کوم ځانگړي دين لاسته راوړنه نه دی. د هغوی د کار مهمه لار چې دوی د خپلې ادعا د ثبوت لپاره راوړي؛ د تاريخ عيب جويي د نوي نظام په ځانگړي ډول ولسواکي، د عامه خلکو په عاطفي بحث باندې تکيه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټوره او ساده لار دی وه چې له پیل یې منلې وای چې دین دین دی، نه د قدرت او سیاست لپاره طرحه او نه هم د پانګونې او سوداګرۍ لپاره. نه هم د پروګرام جوړونه او مدیریت لپاره؛ ځکه دا ټول د دنیا کار دی. که دا منلی شوي وای؛ نو مسلمانانو په هم د نړۍ د نورو ملتونو غوندې په دې اړه حلاره پیدا کوله؛ د قدرت لپاره یې د خونړیو جګړو او مخالفتونو ته یې پای پیدا کوو.

د خلافت نظام، شرعي واجب او که سیاسي اړتیا؟

نن د اسلامي خلافت په نوم نظام په اړه خبرې کول او خلکو ته داسې ښودل (( خلکو ته داسې بیانوي او ښایي))، چې هر ډول نږدېوالی؛ د اسلامي خلافت له منلو او تبلغولو بغیر، داسې دي لکه نورو غیر شرعي او حرامو چارو ته نږدېوالی. فکري مفاهیم داسې تحریموي، چې په دې اړه باندې بحث او خبرو ته اجازه ورنکړي. دا هغه وسایل او لارې دي چې د نورو ډلو د ځپلو او ځانګړو ډلو د واکمن کولو لپاره یو لار جوړه کړي. دوی له دې وېره لري، که چېرې د دوی پر حزبي اډیالوژیکو اساساتو باندې بحث وکړي، خلک د فکر کولو وخت پیدا کړي، نور د نقد فرصت پیدا کړي، د هغوی د استدلال ضعف باندې پو شي؛ نو د هغوی هغه واکمني چې کلونه یې درلوده او د لا دوم لپاره یې فکر لري، د دوام امکان یې نشته.

که داسې نه وي، خلک، انسانان، چې په یوې علمي څانګه کې متخصص وي او که نه وي، هغه موضوع چې د هغوی سرنوشت پورې اړه لري، حق یې دی چې په اړه یې پوښتنه وکړي. که کومې نظرې باندې انتقاد لري، وکولای شي، چې هغه باندې بحث وکړي. خلافت هم داسې یوه موضوع دی، چې نه یوازې د یوې ټولنې په سرنوشت پورې اړه لري، بلکې د میلونونو انسانانو په سرنوشت پورې اړوند دی. هر شخص د اشخاصو د پوښتلو او بحث حق لري. که چېرې له میلونونو خلکو هر یو، یوه پوښتنه وکړي؛ نو له میلونونه پوښتنو سره مخامېرو. دغو ټولو ته ځواب ویل، له یو – دوو پرته امکان نلري. د میلونونو خلکو د خولو بندول او څوک په بې دینۍ او غلامي باندې تورنول، چې ولې دا موضوع بیانوي، د ظلم او استبداد ښکاره نښه ده. له بلې خوا په پلویانو کې د وېرې او بې باورۍ لامل ګرځي. څوک چې په خپلې خبرې او فکر باندې ډاډه وي، په دې اړه باندې د خبرو او بحث کولو وېره نلري.

د خلافت د پلویانو اصلي ادعا دا دی: چې دا یو واجبي شرعي امر دی او په ټولو مسلمانانو فرض دی چې دغه عمل د ترسره کولو لپاره ملا وتړي. که په دغه کار کې بې پروایي وکړي داسې مثلا لري لکه په لمونځ او یا نورو شرعي واجباتو کې بې پروایي وکړي؛ ګناه ګار دی. یوازینۍ د توبې لار له دغې ګناه نه د خلاصون، دا دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بې پروايي او مسوليت نه پېژندلو نه، لاس واخلي. له هغه ډلـو سره بايـد يوځـای شي، چـې د دې د پـر ځـای کولو لپاره مبارزه کوي. (وود گرايم، آن‌چه داعش عملا در پی آن است، به نقل از سيرانتونيو، مومنون بلا حدود، صفحه 14.)

د مومن مسلمان له نظره؛ نه يوازې د يو ښاري لـه نظـره، چـې هغـه هـم پـه خپـل ځـای جـدي پوښـتنې لـري؛ لومړنۍ جدي پوښتنه دا دی: کله چې يو څوک د يو امر د وجوب دعوا کوي، بايد دليل ولري. هغـه دليـل چـې واجب دي، هغه د فقې د اصولو په علم کې په مفصل ډول باندې واضح شوي. د امر او فرمان کلمو شـتوالی پـه قطعی الثبوت او قطعی و الدلاله نص کې په دې اړه شته. امر دوه ايجابي او سلبي صورتونه لري، ايجابي ته امر وايي او سلبي ته نهي، چې په لومړي سره کار فرض کېږي او دويم سره له کاره منع والی کېږي. لکه د لمونځ او زکات په اړه په صراحت باندې راغلي: "و أقيموا الصلواة و آتوا الزكاة" (سوره بقره، آيه 110)، يعنـی: "لمـونځ ادا او زکات ورکړئ." او په نهي کې د بې گناه خلکو د وژلو په اړه راغلي: "ولا تقتلوا النفس التی حرم اللـه إلا بـالحق" (سورۀ اسراء، آيه 33). يعنې: " د هغه چا چې خدای يې مرگ حرام کړی تاسې يې وژنئ، ولې په حق." په دواړو مواردو کې د فرضيت حکم د دوه قطعي الثبوت دليلو له مخې چې قـراني ايتونونـه دي، دی. او قطعـي الدلالـه چې صريح لفظ دی، لاسته راغلي. شايد ځينې ځايونو کې ممکن دی چې حکم پـه امـري عبـارت کـې نـه وي، ولې په خبري جمله کې راغلی وي؛ چې دا د قرينې له مخې پېژندل کېږي، موخه ترې واجب او که فـرض دی. کېدای شي دغه قرينه سياق وي، په دې معنا چې هغه ځانگړی اجر او يا هم ځانگړې سزا وي. که دنياوي او يـا هم اخروي سزا وي. مثلا: "والذين لايدعون مع الله إلها آخر ولا يقتلون النفس التی حرم الله إلا بالحق ولا يزنون ومن يفعل ذلک يلق أثاما" (سوره فرقان، آيه 68). يعنـی: " هغه کسان چې بل معبود ته خدا نه وايي، هغه انسان چې خدای ويل ورته حرام گرځولي، حق ورته نه وي، زنا نه کوي؛ هر څوک چې دا کار وکړي، سختې جزه وې به ووينې." دلته دغه عبارت په خبري بڼه راغلی او خدا د نيکوکارو خلکو ستاينه کړې، چې لـه دغـه کړنـو نـه ځـان ساتي. په وروستيو کې ويلي دي، که څوک دغه کارونه وکړي، د گنا لـه جـزه سره بـه مـخ شي. د دغـه مـواردو د فرض والي حکم په ښکاره بڼه په ايجابي او سلبي شکل بيانوي.

د خلافت په اړه هېڅ داسې ايت نشته چې د هغه د ساتلو لپاره يې امر کړی وي او نه هم کوم معتبر حديث چې د خلافت د بيا ژوندي کولو لپاره يې توجې کړې وي. په قران کې د خبري جملې په شکل ايـت شـته لکـه:"و إذ قال ربک للملائكة إنی جاعل فی الأرض خليفة" (سوره بقره، آيه 30) يعنـی: " کله چې خدای (ج) ملايکو ته وويل: غواړم په ځمکه کې خپل ځای ناستی پرېږدم."يا "يـا داود إنـا جعلنـاک خليفـة فـی الأرض فـاحکم بـين النـاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالحق و لا تتبع الهوی فیضلک عن سبیل الله إن الذین یضلون عن سبیل الله لهم عذاب شدید بما نسوا یوم الحساب" (سوره ص، آیه 26). یعنې: " ای داود! ما تا ته په ځمکه کې د خلافت مرتبه( مقام) درکړ؛ نو د خلکو ترمنځ په حق باندې حکم کوو، هېڅ وخت د نفس پیروي مه، چې تا د خدای له لارې گمره نه کړي، هغه څوک چې د خدای په لار کې گمره شي، ځکه د حساب او قیامت ورځ یې هېره کړې او د سخت عذاب سره په مخ شي." په بل موارد کې خبرې کول، د اقوامو ځای ناستي د یو بل پر ځای. لکه: "أوعجبتم أن جاءکم ذکر من ربکم علی رجل منکم لینذرکم واذکروا إذ جعلکم خلفاء من بعد قوم نوح وزادکم فی الخلق بسطة فاذکروا آلاء الله لعلکم تفلحون" (سوره اعراف، آیه 69). یعنې: " آیا کله مو تعجب کړی چې د خدای له لورې سړی تاسې ته رالېږل شوی، چې تاسې وهېروي؟ په زړه کړئ( خدای له هلاکت نه پس) د نوح قوم ځای ناستی کړاو تاسې په خلقیت او نعمت کې یې زیاتولی راوست. تاسې د خدای نعمتونو رایاد کړئ، شاید چې سم یا راستگار شئ."

"واذکروا إذ جعلکم خلفاء من بعد عاد وبوّأکم فی الأرض تتخذون من سهولها قصورا وتنحتون الجبال بیوتا فاذکروا آلاء الله ولا تعثوا فی الأرض مفسدین" (سوره اعراف، آیه 74) یعنې: "یاد کړئ چې خدای له ( هلاکت) وروسته، د عاد قوم د نورو تېر قومونو پرځای، ځای ناستی کړ. په ځمکه کې یې کورونه در کړل، چې له نرمې خاورې نه ښایسته بلډنکونه او کورونه جوړ کړئ او همدارنگه د سختو تیږو له تراشلو نه کلک کورونه جوړوئ. نو د خدای نعمتونه یاد کړئ؛ په ځمکه کې فساد او بدبختۍ ته مخ مه اړوئ." یا:

- "أمّن یجیب المضطر إذا دعاه ویکشف السوء ویجعلکم خلفاء الأرض أ إله مع الله قلیلا ما تذکرون" (سوره نمل، آیه 62) یعنی: "( آیا تاسې غور یاست) یا هغه کس چې د بې کسه (ناتوان) سختیو ته رسېږي، له شر او سختۍ نه یې خلاصوي. که چېرې مرستې ته یې وغواړئ مرستې ته مو راځي، او تاسې ( انسانان) د ( قانون مطابق په نوبتي شکل د دایمي ژوند لپاره) ځمکه کې ( د یو بل) ځای ناستي کوي.آیا له خدا سره بل معبود شته؟" د هر صالح مومین د خلفیه کولو وعده هم کړې، لکه:

"وعد الله الذین آمنوا منکم وعملوا الصالحات لیستخلفنهم فی الأرض کما استخلف الذین من قبلهم ولیمکنن لهم دینهم الذی ارتضی لهم ولیبدلنهم من بعد خوفهم أمنا یعبدوننی ولا یشرکون بی شیئا ومن کفر بعد ذلک فأولئک هم الفاسقون" (سوره نور، آیه 55). یعنې: "خدای د تاسې له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه کوي، وعده ورکوي چې حتما به یې په ځمکه کې ځای ناستی کوي، له څنگه چې له تاسې مخکې یې نور هم ځای ناستي کړي دي. همدارنگه هغه قوانین چې هغوی ته یې ټاکلي، حتما پرځای او پلې کوي، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ویره او ډار پر امنیت او هوساینې بدلوي. ( له نورو نه د ویره، جنجال او دوه زړه والي پرته ما ته عبادت کوي او څوک نه شریکوي.) له دې وروسته هرڅوک چې کافر شي یا شرک وکړي، په پوره توګه ووتل".

لکه څنګه چې وینو، هېڅ یو له دغو ایاتونو نه وايي، چې تاسې ځانګړی نظام جوړ کړئ، چې نوم یې خلافت وي. یا مو د چارو او کارونو به راس کې د خلیفه په نوم څوک وي. یا د خلیفه لارل، شرعي واجب دي. په کوم ایات باندې چې د خلافت پلویان تکیه کوي، ایات دی چې د حکمیت یا حاکمیت په اصل "ما أنزل الله" باندې فرمان ورکړی. لکه:

"وأن احکم بينهم بما أنزل الله ولا تتبع أهوائهم واحذرهم أن يفتنوک عن بعض ما أنزل الله" (سوره مائده، آيه 49). یعنی: "د هغوی ( یهودیانو) په منځ کې د هغه څه پر اساس حکم وکړه چې ما نازل کړي او د هغوی له هوسونو نه پیروي مه کوه. له هغو نه ډاډه وکړه؛ خدای دې نه کړي، چې له هغه څه نه دې وګرځوي چې الله[ج] پر ته نازل کړي".

"فلا وربک لا يؤمنون حتى يحکموک فيما شجر بينهم ثم لا يجدوا فى أنفسهم حرجا مما قضيت ويسلموا تسليما" (سوره نساء، آيه 65). یعنې: "مګر نه، په خدای قسم چې هغوی په مومنانو که نه شمېرل کېږي، تر هغې پورې چې په اختلاف او جنجال کې تا قاضي نکړي او ستا له قضاوت څخه به په زړه کې خفه نه وي او تاته پوره تسلیم وي ".

"ومن لم يحکم بما أنزل الله فأولئک هم الکافرون" (سوره مائده، آيه 44). یعنې "هغه څه چې خدای نازل کړي په هغه باندې حکم ونکړي، او یا دې ته ورته بې له شکه هغه کافر دی".

په دغو ټول مواردو کې حاکمیت پر اصل باندې ټینګار دی. له دې علاوه چې په دغه ایات کې د حاکمیت معنا څه ده؟ که فرض کړو چې د خلافت د پیروانو برداشت (نظر) سم دی؛ نو ځېنې نور برداشتونه هم شته، چې په واضح ډول معلومیږي چې د خلافت د نظام په هکله هېڅ خبره نشته. که ومنو چې دا ایات د حکومتي سیستم او وظایفو په اړه دی. یوازې دا ترې په واضح ډول څرګندیږي، چې د دغه سیستم کړنې باید د الهي نظام مطابق وي. په هېڅ ایات کې ویل شوي نه دي چې: "حکم بما انزل الله" یا د الهي حکم د خلافت نظام له مخې د پلې کېدو او ترسره کولو وړ دی. که چېرې دغه هدف، شاهي او یا جمهوري نظام دغه مطابقت راعایت کړي، هماغه موخه تحقق پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلافت د واجب والي په اړه باندې هېڅ صريح آيت نشته. هېڅ معتبر حديث په دې اړه لاس کې نلرو. هغه حديث چې د خلافت پيروان پرې تکيه کوي، که يې قطعي الثبوت هم وګڼو؛ چې داسې ممکن ندی، هغه يوازې خبري خوا لري او له هغه نه د خلافت د فرضي والي ثبوت نشي کېدلی. دغه حديث په وروستيو څو لسيزو کې په اسلامي نړۍ کې د ټولو اسلام سياسي ډلو د استناد وړ ګرځېدلی.:

"تکون النبوة فيکم ما شاء الله أن تکون، ثم تکون خلافة على منهاج النبوة، ثم تکون ملکا عاضا، ثم تکون ملکا جبريا، ثم تکون خلافة على منهاج النبوة" يعنې: "تر هغه وخته چې خدای وغواړي، نبوت ستاسې په منځ کې به پاتې شي. له هغه وروسته چې خلافت د پيغمبر له سنتو څخه ده، د هغه پر ځای راځي. بيا استبدادي پادشاهي او له هغه وروسته د زورواکۍ پادشاهي، له هغه وروسته به، خلافت د نبوت په طريقې وي. (په المعجم الکبير کې د طبراني د روايت پر اساس، او بيهقي په السنن). (* ډېر توضيحات د دغه روايت د سند په اړه د شيخ صلاح الدين بن احمد الادلبي ليکنه کې تر دغه عنوان: ماذا عن صحة حديث ثم تکون خلافة على منهاج النبوة(

- "إن هذا الأمر فى قريش لا يعاديهم أحد إلا کبه الله فى النار على وجهه ما أقاموا الدين" (له معاويه نه د بخاري د راويت پر اساس). يعنې: " دغه امر (خلافت او حکومت) په قريشو کې به وي، تر څو دين اقامه کړي. هېڅوک ورسره شخړه او جګړه نشي کول، مګر دا چې خدای يې په خپل ذات له منځه وړي".

"لا يزال هذا الأمر فى قريش ما بقى منهم اثنان" يعنې: "دغه امر (خلافت او حکومت) به په قريشو کې وي؛ ترڅو پورې چې د هغوی نه دوه نفره پاتې شي".

توضيح ته اړتيا نشته چې ووايو هر يو روايات يې خبري او توصيفي اړخ لري. په هېڅ يوه کې نه دي ويل شوي چې تاسې د خلافت مجبور ياستئ، خلافت جاري کړئ او که دا کار ونکړئ؛ نو ګناهګار کېږئ. نه قران د خلافت د ساتلو او جاري کولو فرمان ورکړی او نه هم نبوي سنت وو. نه داسې ايات او حديث شته چې د استناد وړ وي. له شرعي لحاظه هم واجبوالی ترې نه ښکاري.

بل دليل چې پر هغه باندې استدلال کوي، دا دی چې د پيغمبر(ص) له وفات وروسته د هغه پر ځای، د ځای ناستي په فکر کې شول او مخکې له دې چې هغه خاورو ته وسپاري، خليفه يې وټاکه. په دې کې شک نشته چې داسې کار عملاً په تاريخ کې شوی او ټول په دې باندې اتفاق لري. آيا يوازې د صحابو کارونه، په ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول غير عبادتي کارونه؛ کيدای شي د شرعي فرضيو ثبوت شي؟ د فقې په اصولو کې توضيحات ورکړل شوي چې د صحابو کړنې، دوهم درجه منبع د احکامو لپاره دي او ظني( گوماني) منابعو لکه قياس نه د اعتبار په لحاظ ټيټ دي.

په دغه ځای کې د عبادي او غيرعبادي چارو مرز ته پام کول، کولای شي چې حلاره وي او د دغې پوښتنې مطرح کول، کولای شي موږ اصل موضوع ته ورسوي. آيا حکومت په خپل ذات کې يوه عبادي چاره دی او که غير عبادي او يا هم د فقې په اصطلاح معقولة المعني چاره.

د حل او عقد شورا، تړل او که خلاصول؟

بنسټپالې ډلې، لکه طالبان، القاعده او داعش، د ټاکنو اوسنۍ طريقه غلطه گڼي او د دې پر ځای بله طريقه د حل او عقد د شورا وړانديز کوي.هغوی دغه لار د قدرت لپاره د شخص په ټاکنه کې غوره لار گڼي او نوم يې خليفه او يا اميرالمومنين بايد وي.

د حل او عقد لغوي معنا خلاصول او تړل دي. د دغې کلمې ريښه د عربو د ژوند شرايطو ته گرځي، چې غالباً له يو ځای نه بل ځای ته د کوچ په حال کې و. د کوچ په وخت کې به يې بار په اوښانو باندې تاړه او د دمې په وخت کې به يې هغه خلاصوو. دغه کلمه له هغه ځای عمومي ژوند ته ننوته او هغه کس به چې دغه کار کې مهارت درلود، هغه ته به يې د تړلو او خلاصولو شخص( اهل حل او عقد) ويلې.

دغه عبارت پېړۍ پېړۍ په عربي ژبه کې ساده معنا درلوده، اصطلاحي نه وه، چې سياسي يا فرهنگي معنا ولري. په همدې اساس دا هېڅ ځای، نه په قرآن مجيد کې راغلې او نه په نبوي احاديثو کې. او نه هم د فقې او مجتهدانو په اثارو کې چې د اسلام تاريخ په دوه – درې لومړنيو پېړيو کې ليکل شوي.

لومړنی شخص چې په سياسي سياقو کې د اهل عقد تعبير وکارو، ابوالحسن اشعري و، چې په څلورمې هجري پېړۍ کې د اشاعره کلامي مکتب بنسټ ايښودونکی دی. په ځانگړي اصطلاحي معنا نه. د پنځمې پېړۍ په لومړيو کې لومړنی کس چې د اهل حل او عقد تعبير يې و کاروو، ابوبکر باقلاني د اشعري لوي ويناوال و. خو که د نکاح په عقد کې د دې کلمې معنا وگورو، د ولايت او اهليت مفهوم په کې جوت دی، نه کومه نوره سياسي معنا چې د واک د لېږدولو واضح ميکانيزم راوښيي. نو دا چې څوک د حل او عقد اهل دي؟ دوی څنگه ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي؟ څوک يې ټاکي؟ کوم واکونه هغوی ته ورکول کېږي؟ او هغوی له دغو واکونو نه څنګه ګټه اخلي؟ هېڅ وضاحت يې نه دی ورکړی.

له هغوی وروسته دوه نورو فقي عالمانو، ماوردي او ابويعلي الفراء چې هر يو الاحکام السلطانية په نوم کتابونه لري، د پنځم پېړۍ په وسط کې دغه اصطلاح ډېره وکاروله. که څه هم تر اوس يې مفهومي چوکاټ واضيح شوی نه وو. په دې اساس کله له اهل اختيار او کله له اهل اجتهاد سره مترادف په کار وړله.

له هغې وروسته دغه اصطلاح د فقي عالمانو ترمنځ راوج شوه او کرار کرار دغه ګمان او فکر رامنځته شو چې شايد د اهل حل او عقد شورا، حلاره د ديني قواعد څخه اخيستل شوې او بايد د هغه مطابق عمل وشي. د فقيانو ترمنځ دغه نظري اصطلاح د حاکميانو ترمنځ په عملي رواج باندې بدله نشوه، له هغې ورځې نه چې د خلکو ژبو کې پيدا او د عثماني خلافت تر وروستي خليفه چې لرې شو، وه. د اهل حل او عقد نوم هېڅ وخت بېرونی وجود پيدا نکړ او هېڅ خليفه د دغې شورا له لارې حکومت ته ونه رسېد.

که داسې کوم اصل په شريعت کې موجود وای، غوښتي مو وای او که نه، د اسلام په تاريخ کې په صوري او نمايشي شکل جوړېده. د سلطنت بنسټ په څېر يې دوام پيدا کوو. د يو بنسټ ظاهري شتون د وخت په تېرېدلو سره په سياسي او ټولنيز سنتي شکل باندې بدلېږي او په عامه سياسي فرهنګ کې د هغه لپاره القاب او عنوانونه متعلق کېږي. که داسې وای؛ نو يو ځانګړې ډله خلک به د اهل حل او عقد په نوم پېژندل او ځېنو به د دغه عنوان د ترلاسه کولو لپاره کوښښ کاو. حتماً په د ځېنو سياسي اشخاصو په پېژندنه کې په عملي ډول ذکر کېده او يا به دا ويل کېدل چې په فلاني وخت کې د اهل حل او عقد شورا غړی و. هغه څه دي، چې د مسلمانانو د تاريخ له حافظې ورک دی.

د اهل حل او عقد نظريه يوه يتيمه نظريه ده، چې هېڅ مرجع او بنسټ د اسلام په تاريخ کې ورته پام نه دی کړی او نه څوک د دې نظريې د اجرا او پلې کولو په لټه کې و. ځېنو فقيانو د دې موضوع څېړل يوازې د تومار لپاره و چې دا موضوع هم له ليکلو نه پاتې نشي. هېڅوک د دغې ادعا د عملي پيدا کول په لټه کې نه و او نه يې د هغې لپاره کوښښ کړی دی. دا هغه وخت ښه پوهېږو، چې له بلې موضوع لکه: مشروطيت سره چې عملاً د ظالمانو د کنترول( مهارکولو) ښه وسيله و، پرتله کړو؛ نو وينو چې څه ډول خلکو د هغې د پلې کولو لپاره مبارزه کړې او په دغه لار کې يې قربانيانې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې ورهاخو، د حل او عقد نظريې د اسلام په تاريخ کې عملي شکل پيدا نکړ او يوازې يوه متروکه نظريه وه، چې په عملي بڼه يې په سياسي تحولاتو او د قدرت په انتقال کې تاثير نه درلود. دغې نظريې هم داسې کومه حلاره په عملي بڼه د استبدادي نظام د لمنځه وړلو لپاره نه درلوده چې له دغه لوی افت څخه خلک خلاص کړي؛ بلکې د هغې د خدمت لپاره يې کار وکړ. د حل او عقد نظريې نه دا چې په عملي بڼه يې څه و نکړل، بلکې په نظري شکل يې هم د نظام قدرت له بداني څخه څه کم کړي او توضيح کړي چې د خپل سرو خليفگانو د کنترول او د ظالم اميرالمومنين لپاره يې څه تدابير سنجولي.

دا ستونزه په دې خاطر ډېره جدي دی، چې اميرالمومنين يا خليفه په سنتي فقه کې د مطلقو صلاحيتونو درلودونکی دی. په ظاهري بڼه په ځېنو نصوصو کې د هغه حکم له خدای او پيغمبر وروسته ځای لري، چې قدسي جنبه پيدا کوي. د داسې بې حده واکونو ورکړه، نه يوازې د خلکو لپاره ښه نه دی، بلکې د حل او عقده په شان، او يا هم د يو طرفه سرک په شکل عمل کوي. د يو مطلق العنانه حاکم د راوړلو لپاره چې د هغه قدرت او صلاحيت زيات دی؛ خو د هغه د واک د کمولو او د لرې کولو لپاره کوم حلاره نشته. د اسلام په يوزرو څلور سوه کلن تاريخ کې حتا يو ځل هم د اهل حل او عقد شورا نه ده جوړه شوې او نه هم داسې سند شته چې د خليفه د واکونو د کمولو لپاره صادر شوې وي. د هغه لرې کول خو پرېږده.

په اوس وخت کې خلک نوي عصري حکومتوالي سيستمونو سره بلد شوي، چې د خلکو رايه پکې د نظام مشروعيت دی. د دې پلي کول د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې پارلماني او رياستي ټاکنې دي. ځېنې ديني بنسټپالو له ډلې يې حسن البنا، د اخوان المسلمين بنسټگر، ادعا کوي او وايي: د حل او عقد شورا چې پخوا وختونو کې ويل کېده، له دغه طريقې او سيستم سره نږدېوالی لري. هغه د نظام الحکم په نامه رساله کې وايي: " دا چې ويل کېږي، بايد د خلکو رايې ته احترام وشي او اړينه دی چې حکومت د خلکو د رايو او گډون آينه وي او هغوی په حکومت کې گډون ولري. بايد وويل شي چې اسلام شرط کړي نه دي، چې د هر څه په اړه دې له هر يوه( فرد فرد ) نه بايد وپوښتل شي، چې نن ورځ ورته رفرانډوم يا ټولپوښتنه وايي. بلکې په عادي حالتو کې پر حل او عقد باندې يې اکتفا کړې، بې له دې چې نوم او شخصيت يې وټاکي. نن ورځ پارلماني نظام نوې لار د حل او عقد لپاره هواره کړې، د ټاکنيز نظام له لارې او يا هم د بېلابېلو طريقو چې د قانون او قانون جوړولو متخصصينو وضع کړې. اسلام له دغه نظام او ترتيب سره مخالفت نلري؛ مگر په دې شرط چې د حل او عقد په ټاکلو سره ترسره شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اهل حل او عقد په اړه چې په دقيق ډول ځوک دي او کومې ځانګړنې لري. د سياسي علوم پرځای يې د فقيانو اقولو ته مراجعه کړې او وايي: "د فقيانو او او صوفي د خبرو له ظاهر نه چې د اهل حل او عقده په اړه يې بيان کړي، پوهېږو، دغه وصف( صفت) پر دريو ډولو باندې صدق کوي: يو مجتهاد فقيان، چې د فتواو او شرعي احکامو په استنباط کې د بارو وړ دي. دويم په عمومي کارونو کې د تجربي خاوندان، قومي سپين ږيري او د ډلو مشران".

له هغه ځايه چې استبداد نه، پخوا وختونو کې د فقيانو لپاره جدي موضوع و او نه اوس ورسره بنسټپالې ډلې ستونزه لري. حسن البنا د حل او عقد شورا تصميم، د خليفه او اميرالمومنين په ټاکول کې لازمي نه ګڼي، بلکې هغه ته د مشورتي رول په توګه قايل دی. که چېرې د حل او عقد شورا موجوده هم وي او اميرالمومنين ته مشوره هم ورکړي، اميرالمومنين اختيار لري چې هغه مشوره ومني او يا ونه مني، بغير له دې چې د هغه کار سم هم نه وي.

د شورا اختيارات د خليفه او امير المومنين د اختيارتو په پرتله له ډېر پخوا راهيسې د فقيانو او نظرخاوندانو ترمنځ چې په دې اړه يې بحث کړی د دغې پوښتنې په ډول مطرح شوی: "هل الشورى مُعْلمة أم مُلزمة؟" يعنې آيا د شورا فيصلې يوازې وړانديزي( پشنهادي) بڼه لري او که الزامي؟ د ډېرو ځواب دا دی چې د هغوی رول يوازې پشنهادي بڼه لري او الزامي نه دي. قرضاوي دا له حسن البنا نه نقل کړی. مودودي، متولي شعراوي، محمد يوسف موسي، فتحي يکن او ډېر نور، ورته نظر لري. البته يو ډله نور له ابن عطيه، قدما او طاهر بن عاشور له معاصرانو نه و چې د شورا وړانديزونه يې الزامي ګڼل او په دې باور و، که چېرې يې سرغړونه وکړه بايد لرې شي. مګر دغه نظريه ډېر کم پلويان لري او د ډېرو فقيانو د نظر مقابل کې دی، چې تر نن ورځې پورې يې ځای نه دی پيدا کړی.

له دې پرته د اسلام په عمومي سياسي سازمانونو کې د قدرت د تمرکز لپاره شديد ميل موجود دی او د شورا وړانديزونه الزامي کول له دغه ميل سره موافق نه دي. هغوی دې ته لومړيتوب ورکوي چې شورا وي، بايد د هغه تصاميمو ته مشروعيت ورکړل شي. مګر اختيارات دې ډېر نه لري چې د رهبري لپاره خنډ شي.

په دې اساس، که د حل او عقد شورا فرض کړئ جوړه هم شي، د دوه مهمو عاملونو تر تاثير لاندې به وي. لومړی د هغه رهبر خوی، خصلت چې دغه ډلې ورته مشروعيتورکړی، مقام، اختيارات او تصاميم له ځان سره لري. دويم د ټولنې فرهنګي سحطه چې هغه پورې اړوند دی. هغه ټولنې چې په پوره توګه معاصر دور ته ننوتې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داسې بنسټونو او نظريو لپاره موافق ندي. يوازې په هغه ټولنو کې لار کولای شي، چې د منځنيو پېړيو سنتونو او رواجونو د معاصرې دورې ته د ننوتلو مخنوی شوی وي.

له دې مخې، چې طالبان د حل او عقد شورا باندې تاکيد کوي، نه له قران سره اړيکه لري او نه هم د پيغمبر له سنتو سره؛ او نه هم د لويو مجتهدانو نه په ميراث راپاتې. بلکې په انفعالي توګه د ځينو فقيانو له لورې د اسلامي تمدن په انحطاطي دوره کې د ناکامۍ له مخې چې د قدرت په سيستم کې و، دې ته واداره شول.

په دې منځ کې طالبان برادشت له اهل حل او عقد نه د نور بنسټپالو ډلو په پرتله ډېر بد دی؛ ځکه هغوی د هېڅ تخصص خاوندانو ته ارزښت نه ورکوي او يوازې کليوال ملايان چې لږ علميت لري د دغه امر لايق او وړ بولي. هغوی د بيان ازادي په ځپلو، د مدني بنسټونو له منځ وړل، په تورو د خلکو وهل، د ښاريانو بې عزت کول، د هغوی ټول شخصي او جمعي فعاليتونه د شرع خلاف ګڼل، د دې لپاره چې د هغوی مطلقه قدرت ته زيان ونه رسېږي. د خلکو به خوله باندې لاس اېښودل چې له دين نه د هغوی استبداد ته مشروعيت ورکړي.د دې ډلې په لومړنۍ تجربه کې، ملاعمر د يوې وسلوالې ډلې امير و، د پاکستان د استخباراتو په مرسته د افغانستان په څو ولايتونو يې واک ترلاسه کړ او يو ډله ملايان يې  د حل او عقد شورا په نوم په کندهار کې راټول کړل، ترڅو هغه اميرالمومنين ونوموي. دغې شورا، نه ثابت غړې درلود، نه د هغوی لپاره ځانګړې دفتر په پام کې نيولی و، نه قانوني لايحه او مقراره ورته جوړه شوې و، نه يې د اعتبار وخت معلوم و، نه يې هم په اميرالمومنين باندې د څارنې واک درلود او نه هم د هغه د کړنو د ثبت تاريخچه شته؛ د مولانا په قول چې مثنوي کې ويلي: "اين چنين شيرى خدا هم نافريد."  طالبان چې په هغه وخت کې د مجاهدينو له حکومت سره جګړه کوله، د جګړې د دوام او وژنو لپاره يې اړيتا درلوده چې له کوم ځای نه، تاييد واخلي؛ د دې کار لپاره يې د حل او عقد شورا جوړه کړه. البته دوه - درې کاله مخکې د مجاهدينو حکومت هم د خپل حکومت د دوام لپاره ترې ګټه اخيستله او وروسته د طالبانو پر وړاندې يې ماته ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(9)**

## د شریعت تطبیق او د بنسټپالو تېروتنې

دیني بنسټپالو د شریعت د تطبیقولو موضوع د جنګ او بغاوت په ابزارو اړولې ده. دوی دا پلمه کوي چې «حدود الله» نه اجرا کېږي او په اسلامي نړۍ کې د جهاد او د واکمنو نظامونو د نسکورولو فرمان ورکوي. په دې لیکنه کې هڅه کېږي چې د دوی تېروتنې بربنډې شي. د دې لیکنې لیکوال نه دین‌دښمنه دی، نه د شریعت ضد، بلکې باورمن دی چې بنسټپالو هم واقعي دینداري ته خطر جوړ کړی دی او هم د مسلمانو ټولنو امنیت او ثبات ته او که د دې ډلې تېروتنې نقد نه شي، اسلامي ټولنې به د تباهۍ کندې ته برابرې شي او اسلامي تمدن به له قطعي او پوره زوال سره مخ شي. د دیني بنسټپالو په بحثونو کې د شریعت تطبیقول ساده اصطلاح نه ده. د دوی په فکري منظومه کې دا اصطلاح د حکومتونو او نظامونو د سنجولو او د هغوی د مشروعیت یا نه مشروعیت د اندازې د تعیینولو د معیار معنا لري. دوی ته د شریعت تطبیقول د ټولنو د اسلامي یا غیر اسلامي ګڼلو محک دی چې بیا به په همدې محک یا د جنګ تجویز کېږي یا له جګړې د ډډه کولو.

**د مناقشې ستونزه:**

څو لسیزې وشوې چې مسلمان بنسټپالي د شریعت د تطبیقولو موضوع داسې یادوې چې د اسلامي ټولنو جمعي شعور او ذهن خامخا ورباندې بوختېږي. دوی د دې موضوع پر تبلیغ او تلقین دومره انرژي لګولې ده چې دا موضوع نوره په مُسلَماتو بدله شوې ده او څوک یې د تحلیل او تجزیې ضرورت نه احساسوي. هغه کسان چې په دې شي کې زیان اړوونکې تېروتنهویني او د تحلیل او تجزیې وس یې لري، جرئت نه کوي چې په دې وېروونکې لاره ګام کېږدي ځکه چې په دې کار سره به لږ تر لږه په دین‌دښمنۍ تورن شي او ان کېدای شي خپله ککرۍ پرې وبایلي. همدا وجه ده چې دا اصطلاح همداسې ناسپړلې پاتې ده او هغه ذهنیت چې د دې اصطلاح پر بنا رامنځته شوی دی، د نړۍ په ورانولو لګیا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مفهومي بيان:**

د دې اصطلاح په اړه لومړی مهمه خبره د هغې د مفهوم بیانول دي. د شریعت تطبیقول سره له دې چې په ظاهر کې کله کله د ټولنې له خوا د دین د عملي کولو په معنا اخیستل کېږي خو په حقیقت کې داسې نه ده، بلکې بنسټپالي دا اصطلاح په خاصه معنا کاروي یعنې «د ځینو داسې شرعي احکامو عملي کول چې یوازې د دولتونو په لاس تر سره کېدای شي». د دې تعریف پر اساس، لومړی خو د شریعت تطبیقول د دین له عملي کولو سره توپیر لري. دوهم، د شریعت تطبیقول د دین د ټولو عملي احکامو له تطبیقولو سره توپیر لري او یوازې ځینې عملي احکام یې رانغاړي. که په بحث کې کومه مغالطه ونه شي، نو د دین اعتقادي احکام په دې بحث کې نه شاملېږي او هغه کسان چې د بنسټپالو پر بحثونو نیوکې کوي، له اعتقادي احکامو او ایماني مسایلو سره کار نه لري. همدارنګه د دین اخلاقي احکام په دې بحث کې شامل نه دي ځکه چې د اخلاقو مراعاتول عمدتاً په دیني وجدان او ایماني ژمنې پورې اړه لري او واکمن نظام په دې برخه کې څه نه شي کولی. مثلاً هېڅ حکومت نه شي کولی چې په زوره خلک له دروغو منع کړي او رښتیا ویلو ته یې مجبور کاندي. البته د دې کار لپاره تعلیمي او فرهنګي لارې چارې شته خو د حکومت په لاس د شریعت له پلي کولو سره اړیکه نه لري. همدارنګه د معاملاتو د عملي احکامو هغه برخه چې د حکومت مداخلې ته اړتیا نه لري، لکه واده او طلاق، خلع او وصیت، هم له دې بحثه بهر ده. همدا شان عبادتونه هم چې ترسره کول یې په دیني وجدان پورې اړه لري، نه له حکومت څخه په ډار پورې، په دې بحث که نه ځایېږي. په بله وینا، د دې لپاره چې اسلامي عقیده ولرو، یا دا چې اسلامي اخلاق مراعات کړو، یا دا چې اسلامي عبادتونه تر سره کړو، یا ان دا چې په کورنیو چارو او خپلو شخصي چارو کې له دین سره سم عمل وکړو، کوم حکومت یا کوم خاص حکومت ته اړتیا نه لرو. اصلاً د دې چارو د ترسره کولو لپاره د دولت زور او فشار ته اړتیا نه شته، بلکې رښتینې دینداره خلک بې له دې چې د دولت اجرایي قوه یې مجبور کړي، دا چارې په خپله ترسره کوي. دا په داسې حال کې ده چې که دغه چارې د حکومت له وېرې یا د حکومت د فشار لپاره ترسره شي، بیا نو خپل دیني ارزښت بایلي.

دغه موردونه چې ځنې وباسو، یوازې یوه برخه عملي احکام پاتې کېږي چې د تر سره کولو لپاره یې حکومت ته اړتیا ده او دا حکومت د دې احکامو اجرا کولو ته ملزم او ژمن وي. د احکامو دغه محدود شمېر هم عمدتاً جزایي احکام دي لکه د غله د لاس غوځول، قصاص، دُره وهل او همدارنګه څو نور احکام لکه خراج او جزیه. یوازې همدا احکام دي چې بې له دولته نه عملي کېږي او دا ټولې دعوې دنګلې هم پر همدې خبرو دي خو بنسټپالي دې دعوې ته داسې رنګ ورکوي چې ګواکې ټول دین ورپورې تړلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تېروتنې او غلط فهمۍ:**

د بنسټپالو په بحثونو کې تېروتنه یا مغالطه دا ده چې د دیني مسایلو یوه محدوده برخه د ټول دین پر ځای دروي. دوی داسې ښیي چې که د دین همدغه محدوده برخه عملي شي، نه یوازې دا چې ټول دین عملي کېږي بلکې د مسلمانو ملکونو ټولې ستونزې ورسره حل کېږي او که د احکامو دغه وړه برخه عملي نه شي، هم به ټول دین په خطر کې وي او هم به د مسلمانانو ټولې ستونزې همداسې پاتې شي. حقیقت دا دی چې دغه تېروتنې او غلط فهمۍ ځو مخونه لري او همدا وجه ده چې له هغې نه پرده پورته کول له ستونزو سره مخ کېږي.

که د قرآن آیتونو او حدیثونو ته کُلي نظر وکړو، و به ګورو چې دغه محدوده برخه په دیني تعلیماتو کې محوري ځای نه لري، بلکې اعتقادي، اخلاقي او عبادي موضوعات تر هغې خورا ډېر مهم دي. د دې موضوع د پوهېدو لپاره پېچلي میتود ته اړتیا نشته، بلکې همدا به بس وي چې وګورو قرآن او حدیثونه پر کومو موضوعاتو ټینګار کوي. د قرآن د ټینګار د معلومولو یوه لاره دا ده چې وګوره یوه موضوع په قرآن کې څو ځله مطرح شوې ده او همدارنګه کومې مهمې یا درنې جزاګانې ور ته تعیین شوې دي. همدا به بس وي چې د توحید، پر آخرت باندې ایمان، لمونځ، د ظلم او دروغ قباحت او دې ته ورته موضوعات له ځینو نورو موضوعاتو لکه د زنا حد، د قذف حد، او د قصاص حد سره مقایسه کړو. همدارنګه دا دوه ډوله مسایل د تکرار په لحاظ سره یوه شان نه دي. د اخروي جزا په لحاظ هم دا موضوعات سره توپیر لري او د لومړۍ ډلې موضوعات د دوهمې ډلې د موضوعاتو په پرتله په آیتونو او روایتونو کې خورا زیات اهمیت لري.

پر دې سربېره، که د شریعت مقاصدو ته پام وکړو، پوهېږو چې کوم موضوعات د دین د توجه په مرکز کې دي او کوم یې په حاشیه کې. په بله وینا، کوم موضوعات د دین د غایت او اصلي هدف مقام لري او کوم موضوعات دغو هدفونو ته د رسېدو د وسیلې او ابزارو حیثیت لري.

**کاذبه دینداري د اصیلې دیندارۍ پر ځای:**

د بنسټپالو مغالطه یوازې دا نه ده چې د دیني احکامو او موضوعاتو منظومه ګډوډوي او دین تحریفوي. بله مغالطه یې دا ده چې د شریعت پر تطبیق باندې له حده زیات ټینګار سره چې د دین اخلاقي او معنوي اړخونه په کې له پامه غورځول کېږي، یو ډول کاذبه دینداري بابوي. کاذبه دینداري داسې ده لکه انسان چې وړې وي خو داسې څه وخوري چې خواړه نه وي نو نس به یې ډک شي خو د بدن اړتیا به یې پوره نه کړي. د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي اړتیا دا ده چې د خلقت د پیل او پای په اړه پوښتنې یې ځواب شي او د ژوند په معنا وپوهېږي. وروسته له دې چې د دې پوښتنو ځواب یې پیدا کړ، وار دوو نورو اساسي چارو ته رسېږي، یوه له خالق سره اړیکه ده او بله له مخلوق سره اړیکه. له خالق سره رابطه په عبادت سره جوړېږي او له مخلوق سره رابطه پـه اخلاقـو سره. د عبادت او اخلاقو تر منځ توپیر دا دی چې په عبادت کې شکل او محتوا دین تعیینوي خو اخلاق چې په عقلاني چارو کې حسابېږي او د انسان عقل یې تعیینولی شي، نو دین د هغه ملاتړی وي، نه یې ټاکوونکی. پـه "لأتمـم مکارم الأخلاق" عبارت کې د اتمام صریح تعبیر دا دی چې دین د اخلاقو د مکارمو بنسټ نه دی ایښی، بلکې د مُسَلَم او قطعي چارې په توګه یې تأیید او تأکید کړی دی.

**د پېچلیو مسایلو ساده کول:**

د بنسټپالو درېیمه مغالطـه د دنیـوي ژونـد چـارې او پـېچلي ټـولنیز شرایـط د څـو جزایـي موضـوعاتو کچـې تـه رالنډوي. دوی داسې ښیي چې ګواکې که د شریعت دغه جزایي احکام تطبیق شي نو ټولې ستونزې به ختمـې شي او ټولنه به ابدي سوکالۍ او نېکمرغۍ ته ورسېږي. د دوی دا کار دوه علته لرلی شي: یا به د دوی علـم کـم وي یا یې ربښتینولي او صداقت. د علم کموالی معنا دا چې د نوي عصر د ژوند په پېچلتیاوو خبر نه دي. په نوي عصر کې که له یوې خوا وګړو ته خورا ډېر امکانات، وسیلې او فرصتونه برابـر شـوي دي، لـه بلـې خـوا یـې ژونـد هماغومره پېچلی کړی دی. که د هر ډګر خاص ضوابط او قواعد او خاص میتودونه په پام کې ونه نیول شي، نـو دا دومره زیات امکانات به په ګواښ او خطر بدل شي. همدا وجه ده چـې نـن سـبا پـه هـر علـم کـې لسګونه او سلګونه نوې علمي څانګې جوړې شوې دي چې د خطر او کړکېچ مخه ونیسي.ـ کـه د تجـارت، صـنعت، تولیـد، بانکوالۍ، د کانونو د استخراج، د طبیعي منابعو د کارولو، د چاپېریال، اوبو، لمریزې انرژۍ او سلګونو نورو برخو په سمبالولو کې علمي میتودونه ونه کارول شي، نو په کړکېچ پسې به کړکېچونـه رادوان وي. بنسـټپالي پـر دغـو حقایقو سترګې پټوي چې وجه یې له ننني نړۍ سره د دوی نا بلدي ده او کله کله خو ښه پرې پوهېږي هم، خو ځـان ناګـاره اچـوي او د جزایـي حـدودو او قوانینـو بحـث را ټینګـوي. د میشـیل فوکـو او نـورو پوهـانو پـه بـاور، سیستماتیک بحثونه د قدرت او واکمنۍ د ټینګولو وسیله ده، هغه که د مـذهبي بنسـټالنې پـه رنـګ وي، کـه د سیکولرو ایډیالوژیو په بڼه. دا چې په تکرار سره د ټولنې پـه ذهـن کـې دا خـبره تلقـین شي چـې د شریعـت لـه تطبیقولو سره سم به ستاسو ټولې ستونزې حل شي، پخپلـه د بنسـټپالو د کـار یـوه لویـه مغالطـه ده. دا خـبرې یوازې د بنسټپالو واکمنۍ او د هغوی د رقیبانو را پرځېدلو ته لاره هواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تاریخ اړول:**

بله مغالطه دا ده چې بنسټپالي د خپلې دعوې د تقویې لپاره تاریخ اړوي. دوی وایي چې د اسلام د تاریخ په لومړیو پنځو پېړیو کې اسلامي ټولنې ځکه پر له پسې پرمختګ کاوه چې شریعت به تطبیقېده او حدود الله به جاري کېدل. دوی دعوا کوي چې په هماغه ورځ چې دا حالت بدل شو، د مسلمانانو تنزل پیل شو او په آخر کې یې مسلمانانو پوره ماتې خوړه او نن هم د هاغه طلایي پېر د راستنولو یوازینۍ لاره د شریعت تطبیقول او د حدودو جاري کول دي.

د دې خبرې علت هم د پېچلیو تاریخي پدیدو خورا زیات ساده کول دي. دا چې د اسلام په تاریخ کې کومې لوېې او وړې پېښې د مسلمانانو د پرمختګ یا پرشاتګ سبب شوې دي، داسې موضوع ده چې د تاریخ دقیقه او میتودولوژیکه مطالعه غواړي او پر هغې سربېره، د ټولنیزو علومو پر بېلابېلو څانګو پوره پوهېدل غواړي ځکه چې د تمدن هر اړخ د یوه معتبر علم په حدودو کې راځي. څوک چې پر دې حقایقو سترګې پټوي او یوازې یو عامل راټینګوي او ټولې قضیې په هماغه عامل پورې تړي، لویه تېروتنه کوي ځکه چې د حقیقت د یوه اړخ ډېر را ځلول د دې سبب کېږي چې د حقیقت نور اړخونه را نه پټ پاتې شي.

**تور او سپین تاریخ:**

د بنسټپالو د مغالطې بل اړخ دا دی چې د پخوانیو خلکو دینداري بېخي بېعیبه ګڼي. ګواکې د مسلمانانو ټول لومړني نسلونه داسې نېره مسلمانان وو چې هېڅ خو په کې نه وه او ټول دنیوي فتوحات یې د معنوي کمالونو محصول وو. خو تاریخي واقعیت بل شی دی. د بېلګې په ډول، د خلفای راشدین په دوره کې چې د مسلمانانو تر ټولو طلایي دوره ګڼل کېږي، فتوحات د هغو مسلمانانو په لاس شوي دي چې د اسلام د پیغمبر د رحلت تر نژدې وختونو پورې، یعنې د مکې تر فتحې پورې، مسلمان شوي نه وو او د پیغمبر په وړاندې به جنګېدل. په دوی کې اکثرو کسانو هاغه مهال اسلام ومانه چې د مکې تر فتحې وروسته د سیمې نظامي معادلې بدلې شوې خو قرآن هغوی ته په ښکاره وویل: "لم تؤمنوا و لکن قولوا أسلمنا و لما یدخل الإیمان فی قلوبکم" (سوره حجرات، آیه 15) یعنې: "ووایه چې تاسو ایمان نه دی راوړی، بلکې ووایئ چې تسلیم شوي یو ځکه چې لا مو زړونو ته ایمان لاره نه ده کړې." لږه موده وروسته چې د قریشو د رقیبو قبیلو خوځښت پیل شو، همدې خلکو خپل دریځ بدل کړ او له مخالفانو سره یو ځای شول او همدا چې پیغمبر وفات شو، دوی له مدینې سره د مخالفت بیرغ پورته کړ. د حضرت ابوبکر په وخت کې له همدې خلکو سره جګړې وشوې چې د مرتدینو جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلل کېږي. دا خلک چې مات شول، په دوهم ځل یې بیا اسلام ومانه او د شام او عراق په فتوحاتو کې یې ونډه واخیسته او پر ایران او روم په بریدونو کې د مسلمانانو په خوا کې ولاړ وو. خو د همدې خلکو یوې برخې ځو کاله وروسته د حضرت عثمان پر ضد بغاوت وکړ. وروسته یې د جمل او صفین او نهروان جګړې وکړې. هغوی د زرګونو مسلمانانو وینې تویې کړې چې د پیغمبر ډېر تکړه یاران هم په کې وو. د اسلام په تاریخ کې دا پېښې د لویې فتنې په نامه یادېږي.

د دې خبرو معنا دا نه ده چې د مسلمانانو د لومړنیو نسلونو فضایل او مکارم دې بې‌اعتباره وګڼل شي، بلکې موخه یې دا ده چې د مبالغې او مغالطې مخه ونیول شي ځکه چې تاریخي روایتونه د رښتیاوو، دروغو، مبالغې او تحریفولو ګډوله ده. معمولاً کله چې د چا د فضایلو خبرې کېږي، ځوک ځان ته د تحقیق او څېړنې زحمت نه ورکوي چې رښتیا او دروغ یې معلوم کړي، په تېره بیا هله چې خلک د هغوی عاشقان وي.

واقعیت دا دی چې د صحابه‌وو، تابعینو او د مسلمانانو د لومړنیو نورو نسلونو ټولنه، د هرې بلې ټولنې په شان، له مختلفو انسانانو جوړه وه، ځینو په کې لوړ اخلاقي فضایل درلودل او ځینو یې عام بشري عیبونه او کمزورۍ لرل. که ځوک یوه ټولنه را ته داسې انځور کړي چې د ملایکو غونډې وي، دا نو لویه مغالطه ده او که دا له مبالغې ډک انځور د لویو تاریخي پېښو سبب وبولي، دا تر هغې هم لویه مغالطه ده.

**د تقوا او پرمختګ رابطه:**

ان که دا و هم منو چې هاغه نسلونه د تقوا او دیانت په لحاظ ټول ملایک وو، بیا هم معنا یې دا نه ده چې هغوی دې ټولې بریاوې او پرمختګونه په همدې وجه تر لاسه کړي وي ځکه چې د مادي ترقۍ او اخلاقي بهترۍ تر منځ کومه مستیقمه رابطه نشته او ایله دومره ویلی شو چې دا دوه سره په ټکر کې نه دي. په عمل کې وینو چې ډېرې ټولنې بې له دې چې اخلاقي فضایل په پام کې ونیسي – البته په هغه معنا چې مسلمانان یې انګېري – سم پرمختګ یې کړی او ډېرې بریاوې یې تر لاسه کړې دي او کوي یې. په دوهمه نړۍ‌واله جګړه کې د متفقینو برۍ د تقوا په وجه و؟ تر جګړې وروسته د جاپان صنعتي او اقتصادي پرمختګ د جاپانیانو د تقوا محصول دی؟

قرآن مجید تر لس ځله زیات امر یا اشاره کړې ده چې په ځمکه کې سیر او سیاحت وکړئ او د پخوانیو ملتونو پر احوالو غور وکړئ او د هغوی د لوړو ځوړو په اړه فکر وکړئ. د دې سپارښتنې هدف دا دی چې موږ د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

برياوو او ماتو دليلونه او سببونه مطالعه کړو (دغه سورتونه وګورئ: سوره آل عمران، آيه 137، سوره انعام، آيه 11، سوره يوسف، آيه 109، سوره نحل، آيه 36، سوره حج، آيه 46، سوره نمل، آيه 69، سوره عنکبوت، آيه 20، سوره روم، آيه 9، همان آيه 42، سوره سبأ، آيه 18، سوره فاطر، آيه 44، سوره غافر، آيه 21، همان آيه 82، سوره محمد، آيه 10). البته قرآن يوازې د دنيوي برياوو په خاطر دا خبره نه کوي، بلکې زياتره د موضوع اخلاقي او ايماني اړخونه يې منظور دي، خو په هره توګه را نه غواړي چې ميتودولوژيک چلند ولرو، نه خرافي. په همدې وجه ډېر ټينګار پر «سنتونو» کېږي چې په قرآن کې د ثابتو طبيعي او ټولنيزو قوانينو معنا لري. د ملتونو د احوالو مطالعه يې را ښيي چې دنيوي پرمختګونه د عقل، درايت او تدبير، او د تجارت، صنعت، جنګ او نورو عاملونو د قوانينو نتيجه ده او له دينداري، په تېره بيا له ظاهري ديندارۍ او د حدودو له تطبيقولو سره چندانې رابطه نه لري. پر دې سربېره چې دنيوي پرمختګ د قرآن په نظر کوم لوی ارزښت نه ګڼل کېږي او خلک هم ورته نه هڅول کېږي، په تېره بيا که دا کار د کبر او غرور او جباريت سبب شي. قرآن فرمايي: "و تلک الدار الآخر نجعلها للذين لا يريدون علوا فی الأرض و لا فسادا و العاقبة للمتقين" (سوره قصص، آيه 83). يعنې: "د آخرت هغه سرای د هغو کسانو لپاره ورکوو چې په ځمکه کې د برترۍ او فساد غوښتونکي نه دي او (خوشحاله) پای د پرهېزګارو دی." په دې حساب، دا خبره چې ګواکې د حدودو جاري کول د مسلمانو ټولنو د پرمختګ سبب کېږي، کمزورې ادعا ده.

### د حدودو جاري کول او رښتينې دينداري:

اوس به وګورو چې که د حدودو اجرا کول د ټولنې په پرمختګ او د دنيوي برياوو په حاصلولو کې مهمه ونډه ونه لري، نو د ټولنې د اخلاقي تعالي او معنوي پرمختګ سبب کېږي که نه؟ لکه څنګه چې وتليو دين‌څېړونکو ويلي دي، اصيله دينداري هغه ده چې بې له جبر او زوره تر سره شي او يوازې دروني قناعت، عقلي باور، قلبي کشش او وجداني تمايل په کې ونډه ولري. (محمد مجتهد شبستري، ايمان و آزادی) هغه دينداري چې له حکومت څخه د وېرې، د خلکو د خبرو، يا د مادي ګټو لپاره ترسره کېږي، کاذبه او بې‌ګټې دينداري ده او خدای ته هېڅ ارزښت نه لري. دا ډول دينداري د انسان له باطني تهذيب او د نفس له تزکيې سره هېڅ مرسته نه کوي.

د حدودو اجرا کول به د بشري قوانينو په شان ټولنيز اثرات ولري ځکه چې د حکومت په زور ترسره کېږي، خو له اصيلې ديندارۍ سره اړيکه نه لري. البته دولت، هر دولت چې وي او هر نوم چې ورته ورکړل شي، مکلف وي چې د ظلم مخه ونيسي، امنيت تأمين کړي او د خپلو وګړو لپاره اساسي خدمتونه وړاندې کړي. دا داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوعات دي چې که شريعت يې ياد کړي، که يې ياد نه کړي، خلک يې په اړتيا پوهېږي او ملتونه د خپلو معيشتي او بيولوژيکي اړتياوو په خاطر مبارزه کوي چې ورته ورسېږي. د حدودو اجرا کول په اصل کې د همدې هدفونو د تر لاسه کولو لپاره وسيلې دي او د عبادي چارو غوندې نه دي چې دنيوي نتيجې يې مهمې نه وي او يوازې اخروي نتيجو ته يې په تمه شو. نو د دولت له خوا د حدودو جاري کول له تقوا او فضيلت سره برابر نه دي او د اصيلې ديندارۍ هېنداره هم نه ده. دا د قانون د حاکميت د هغې بڼې په شان دی چې په غير مسلمانو هېوادونو کې روان دی او سره له دې چې ګټور کار دی خو له ديندارۍ سره مستقيمه اړيکه نه لري.

**د امر بالمعروف او نهي عن المنکر معضله:**

امر بالمعروف په اسلام کې کوم مقام لري او د ترسره کولو لپاره يې د اسلام په تاريخ کې کومې لارې غوره شوې دي؟ امر بالمعروف يعنې ښو کارونو ته امر کول او نهي عن المنکر يعنې له ناوړو کارونو څخه منع کول. دا موضوع په قرآن مجيد کې څو ځله ياده شوې ده او اغلباً د خبري جملې غوندې راغلې ده، نه د امري جملې په شان؛ يوازې د آل عمران سورت په ۱۰۴ آيت کې په امري بڼه راغلې ده چې وايي: "او په تاسو کې داسې ډله بايد وي چې ښو چارو ته بلنه وکړي او د نيکۍ امر وکړي او له ناوړو چارو منع کړي او همدوی ژغورل شوي دي." د دې آيت د پيل عربي عبارت داسې دی: «ولتکن منکم أمة...» دا عبارت دوه ډوله معنا کېدای شي. که د "مِن" کلمه د تبعيض لپاره وي، معنا يې دا کېږي چې په تاسو کې يوه ډله بايد وي چې دا کار وکړي، خو که دا کلمه د تبيين لپاره وي، نو معنا يې دا ده چې تاسې بايد داسې امت وئ چې دا کار وکړئ. د قرآن مفسران دواړه معناوې سمې بولي. که دوهمه معنا يې معتبره وي نو دا کار پر ټولو واجبېږي، نه پر يوې خاصې ډلې. البته هر تفسير يې خپلې متفاوتې عملي نتيجې لري.

خو معروف او منکر دي څه شی؟ معروف او منکر معنايي جوړه ده چې د دلالت دايره يې پر يو بل تکميلېږي. ځينې ديني ډلې، په تېره بيا بنسټپالي، ټولې دينې چارې معروف ګڼي او هره چاره چې د دين خلاف وي، هغه منکر بولي. دوی د معروف او منکر لمن دومره پراخوي چې د دين او شريعت له الفه تر ی پورې رانغاړي. خو دا تعبير له قرآن سره اړخ نه لګوي. په همدې آيت کې، چې اشاره ورته وشوه، خير او معروف له يو بله بېل راغلي دي او د عربي ژبې د ګرامر له مخې پر يو بل د دوی عطف دا معنا چې سره توپير لري. همدارنګه په نورو آيتونو کې "فحشا، منکر او بغی" او په ځينو ځايونو کې "کفر او فسوق او عصيان" له يو بل سره په توپير کې راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. په دې لحاظ، د دينې چارو يوازې يوه برخه په معروف کې حسابېږي او د منع شويو کارونو يوازې يوه برخه په منکراتو کې راځي، نه ټول يې. نو څنګه وپوهېږو چې معروف او منکر دقيقاً کومې چارې رانغاړي؟

د دې دوو کلمو د پېژندلو لا دقيقه مبنا، د هغوی لغوي معنا ده. معروف د عُرف او معرفت له ريښې څخه راخيستل شوی دی او معنا يې «پېژندل شوی» او «عُرف ګرځېدلی» ده، يعنې هغه څه چې خلک يې ښه‌والی پېژندلی دی او په همدې وجه يې رواج کړي دي. د عرف مفهوم چې وروسته بيا په اسلامي فقه کې مهم شو، د معروف د کلمې په معنا کې مهم نقش لري. دا موضوع د استحسان اصل ته نږدې ده. استحسان د امام ابو حنيفه په نظر د قانون جوړوونې يو مهم رکن او تر قياس بر دی. دا موضوع عرفي عقل ته لاره پرانيزي. منکر د معروف بر عکس، هغه څه ته ويل کېږي چې د خلکو په نظر يې بدوالی مُحرَز وي او له هغې څخه ډډه کول عرف شوی وي. د اعراف د سورت په ۱۹۹ آيت کې د معروف د کلمې پر ځای عرف راغلی دی: "خذ العفو وأمُر بالعُرف".

نو، د معروف او منکر د حدودو د ټاکلو او له نورو شرعي چارو څخه د هغوی د توپير د معلومولو مبنا عرف دی، نه شرع، البته هغه عرف چې له شرع سره مستقيم ټکر ونه لري. عرف تاريخي او فرهنګي شی دی چې په ټوله نړۍ کې يو شان نه وي، بلکې د عرف ډېر ډولونه دي. عرف په يوه سيمه کې يو وي، په بله کې بل؛ همدارنګه په يوه وخت کې يو شی عرف وي او په بله زمانه کې بل شی. نو هغه امر بالمعروف چې په اسلام کې ياد شوی دی، د شريعت اجباري تطبيق نه دی، بلکې د منليو عرفونو بابول دي.

خو په تاريخي لحاظ هاغه مهال چې د مسلمانانو تر منځ فرقه‌يي جګړې ونښتې، امر بالمعروف او نهي عن المنکر هم د نورو ديني اصطلاحاتو غوندې لکه فتنه، حاکميت او ... په سياسي سياليو کې، په تېره بيا د امويانو خلاف وکارول شول. دا چې اموي حاکمانو د اکثرو نورو حاکمانو غوندې د ديني احکامو پوره خيال نه ساته، د ديني تساهل پلوي وو او همدا يې بس ګڼل چې څوک دې کلمه ووايي او ځان مسلمان وبولي. هغوی د وګړو د دينداری يا بې‌دينۍ په اړه قضاوت آخرت ته پرېښوده او دا کار اِرجاء بلل کېده، يعنې د قيامت تر ورځې پورې د قضاوت کولو ځنډول. هغه کسان، چې داسې مفکوره يې درلوده، د نورو له خوا، په تېره بيا د تونددلارو ډلو لکه خوارجو او وروسته د اهل حديث له خوا مرجئه بلل کېدل. د وخت په تېرېدو سره، اهل حديث دا کلمه ډېره زياته او په منفي معنا وکاروله او له بدعت او انحراف سره يې مترادفه وبلله. د اهل حديث ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو، د امام ابو حنیفه غونډې امامان چې د نورو په حق کې د قضاوت موضوع يې ټينګه نه وه نیولې او څوک يې د بدعت په پلمه د دين له دايرې وتلي نه ګڼل، مرجئي او اهل بدعت بلل.

معتزله‌وو - چې د خوارجو بر خلاف، حنفي مشرب ته نژدې او عقلپالي وو او د اموي حاکمانو له ظلم سره، په تېره بيا پر غير عربانو د هغوی له ظلم سره مخالف وو - امر بالمعروف او نهـي عـن المنكـر او عـدل يـې د پنځـه‌ګونـو ديني اصولو دوه اصله ګڼل. محمد عابد جابري د معتزله‌وو دغه هڅه "تسييس المتعالی" بللـې ده، يعنـې يـوې متعالي چارې ته سياسي رنګ ورکول. دا اصطلاح يې د "تعالی السياسة" اصطلاح په غبرګـون کـې وضـع کـړې وه. "تعالی السياسة" يعنې سياست او حکومت ته متعالي رنګ ورکول او دا هغه کار و چې امويانو کاوه. معتزله‌وو د «عدل» کلامي مقام دومره مهم ګاڼه چې ان پر خدای د عدل په واجب ګڼلـو سره يـې هڅـه کولـه چـې د غيـر عادلو حاکمانو مشروعيت سلب کړي. همدارنګه يې هڅه کولو چې د امر بالمعروف د مقام په ځلولو سره لـه دې حاکمانو سره مخالفت د مؤمنانو په شرعي وظيفې واړوي. اشاعره، ماتريديه او ځينو نورو کلامـي فرقـو دا تګـلاره ونه منله او امر بالمعروف يې د دين په فروع کې وګڼل، نه د دين په اصولو کې.

سره له دې معتزله او خوارج د اسلام په تاريخ کـې مـخ پـه ورکېـدو شـول، خـو د حـاکمانو عملونـه او د هغـوی د کارونو سموالی يا ناسموالی هېڅکله بې‌اهميته نه شول او مخالفو ډلو به د هغوی د مشروعيت د ختمولو لپـاره، دې ته کتل چې شريعت څومره عملي کوي. حاکمانو هم د هغوی د خلع سلاح کولو لپاره د حِسبه يـا احتسـاب په نامه اداره جوړه کړې وه چې د امر بـالمعروف چـاره تـرسره کـړي. د دې ادارې کـارکوونکي بـه محتسـب بلـل کېدل. احتساب چې په اصل کې د شمېرلو او حسابولو معنا لري، قرآني ريښه يې نه درلوده، خو په ځينو نبـوي حديثونو کې د "ايماناً و احتساباً" عبارت راغلی و، يعنې هغه کار چې د ايمانداری له مخـې او د ثـواب ګڼلـو پـه خاطر ترسره کېږي. په دې سياق کې، محتسب يعنې هغه کس چې يو کـار پـه خپلـه خوښـه او د اخـروي ثـواب لپاره ترسره کوي، نه د دنيوي ګټې وټې لپاره، خو د احتساب ادارې داسې معاش خواره کارکوونکي لرل چې کار يې له خلکو سره حساب کتاب کول وو. محتسبان پـه دې مشـهور شـول چـې لـه خلکـو سره د هغـوی د شرعـي وظيفو د ترسره کولو حساب کوي او سرغړونکو ته جزا ورکوي. حافظ چې ويلي يې دي: "پنهان خوريـد بـاده کـه تعزير می‌کنند" د محتسبانو همدې کار ته اشاره کوي. له هماغه وخته راهيسې د احتساب اداره د امر بالمعروف پر اصل په تکيې سره، د کلاسيک اسلامي سنت يوه برخه شوه. حاکمانو په دې کار سره وغوښتل چې خلک پـه خپل رنګ کې کوټ کړي؛ يعنې د دې پر ځای چې خلک هغوی ته د ښو کارونو امر وکړي؛ پخپله يې دا کـار لـه خلکو سره وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سره له دې چې د احتساب اداري د اسلامي نړۍ په ځينو برخو کې دوام وکړ او سره له دې چې د احتساب په اړه ځينې رسالې وليکل شوې – لکه د ابن تيميه رساله – خو دا مبحث په اسلامي فقه کې د فقهې د نورو عمده بابونو په اندازه مهم نه شو چې حقوقي او قانوني ضوابط ورته وضع شي. همدا وجه وه چې احتساب عمدتاً د اخلاقو مبحث پاتې شو چې تر ډېره بريده د وګړو په تعهد او سليقې پورې اړه لري، نه په قانوني اصولو.

دا چې د احتساب لپاره قانوني ميکانيزيم نه و او دا موضوع سليقه‌يي شوې وه، د وخت په تېرېدو سره د خلکو د ملنډو شوه. په محتسب پورې طنزي شعرونه وويل شول لکه حافظ شيرازي او پروين اعتصامي چې ويلي دي. [په محتسبانو پورې ټوکې هم شوې دي. وايي د ظاهر شاه په وخت کې يو محتسب د کابل شيوه‌کيو ته تللی و. يو بزګر يې را ايسار کړی و چې ووايه چې په دعای قنوت کې څو «واو»ونه دي. هغه غريب حيران و چې څه ووايي. محتسب متروکه ورته نيولې وه چې ويې وهي. بزګر هم غوسه شوی و، متروکه يې ترې اخيستې وه او محتسب ته يې ويلي وو چې اوس نو ته ووايه چې په شيوه‌کيو کې څو غواګانې دي. محتسب ويلي وو چې زه ستاسو په غواګانو څه خبر يم. بزګر بيا ډېولی و چې ته زموږ په غواګانو نه يې خبر نو زه به ستا په «واو»ونو څنګه خبر شم. ژباړن] حکومتي محتسبان د اسلام په تاريخ کې هېڅکله کوم لوړ علمي يا اجتماعي مقام ته ونه رسېدل. د نورو طبقې رامنځته شوې لکه طبقات الفقها، طبقات الصوفيه و طبقات الشعرا خو طبقات المحتسبين جوړ نه شو. معنا دا چې محتسب په اسلامي ټولنه کې شپږمه ګوته وه.

په اوسني عصر کې هغو اسلامي هېوادونو چې عصري ژوند ته يې غېږه خلاصه کړې وه، د احتساب يا امر بالمعروف ټغر يې ورټول کړ ځکه چې دوی وپوهېدل چې د خصوصي او عمومي حوزو تر منځ توپير بايد وشي او عمومي حوزه په قانون بايد وڅارل شي چې د سليقه‌يي دخالتونو لاره بنده شي. همدا شان دوی وپوهېدل چې احتساب او امر بالمعروف د خلکو له رواني امنيت سره اړخ نه لګوي.

خو په ډېرو کمو اسلامي هېوادونو کې، په تېره بيا په هغو ملکونو کې چې د اسلامي نړۍ د رهبرۍ پر سر رقابت کوي، د امر بالمعروف يا حسبه په نامه اداري رامنځته شوې. طالبانو هم د خپلې واکمنۍ له پيل څخه د امر بالمعروف اداره جوړه کړه او تر نورو ادارو يې زيات واک ورته ورکړ. د ټلويزيونونه ماتول، د ساز او آواز ختمول، پر ښځو باندې جبري بورقې اغوستل، له تعليم څخه د نجونو ايسارول، د ږيرې پرېښولو ته د نرانو مجبورول، او د سرغړوونکو سخت مجازات کول د دې اداري مهم کارونه وو. هغه لاره چې طالبانورباندې تلل، د اسلام په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ کې تر ټولو ناوړه لاره وه. دوی د خلکو ژوند په زندان اړولی و او چا چې له بهره ورته وکتل، دا هر څه ورته ترخه کومیډي ښکارېدله.

**د بشر د لارښوونې لپاره د اسلام پروګرام:**

دلته به د پېچليو مفاهيمو د ساده ښودلو يوه نمونه وګورئ. په ټولنيزو رسنيو کې زما د يوې مقالې تر خپرېدو وروسته، د افغانستان يوه ديني عالم چې په کابل ښار کې د يوه جومات خطيب او په ځينو پوهنتونو کې استاد دی، رانه پوښتنه وکړه چې: «د اسلام دين د ژوند په ټولو اړخونو کې د بشر د مديريت او رهبرۍ لپاره کوم پروګرام لري که نه؟» دا پوښتنه يې په دې نه وه کړې چې ځان وپوهوي، بلکې غوښتل يې پر ما اعتراض وکړي چې ګواکې ما د اسلام مقام راښکته کړی او د مسلمانانو په ژوند کې يې نقش نفې کوم. ما ورته په دې ډول ځواب ورکړ:

ښه به وي چې د دې پوښتنې تفصيل را معلوم کړم. مخکې تر دې چې وغواړو د دې پوښتنې ځواب ووايو، ښه به وي چې لومړی مفهوم يې ځان ته څرګند کړو او وګورو چې دا پوښتنه کومه معنا يا کومې احتمالي معناګانې لري او بيا به يې د هرې احتمالي معنا لپاره احتمالي ځواب پيدا شي. د دې کار لپاره بايد لومړی د دې جملې د هرې کلمې او عبارت مشخصه معنا پيدا کړو. دا کلمې او عبارتونه دي: «اسلام، پروګرام، مديريت، رهبري، او د ژوند ټول اړخونه».

**اسلام څو ډوله معنا کولی شو:**

۱. د اسلام لومړنۍ معنا هغه ثابت ګوهر دی چې د ټولو الهي انبياوو په دينونو کې و او قرآن مجيد په همدې اعتبار هغوی ټول مسلمانان بللي دي. په قرآن مجيد کې د پيغمبرانو د دينونو يووالي ته اشاره شوې ده: "شرع لکم من الدين ما وصی به نوحا..." (سورهی شوری، آيهی 13) يعنې: "خدای د تاسو لپاره له دين څخه هماغه څه تشريع کړ چې نوح ته يې توصيه کړې وه." موږ ته د دې عمومي دين يوازې کُليات معلوم دي، لکه څنګه چې د قرآن په ځينو آيتونو کې ورته اشاره شوې ده: "إن هذا لفی الصحف الأولی، صحف ابراهيم و موسی" (سوره اعلی، آيه 19) يعنې: "دا پيغام په پخواني آسماني کتاب کې هم راغلی دی، د ابرهيم او موسی کتابونه." او په بل ځای کې راغلي دي "و إنه لفی زبر الأولين" (سوره شعرا، آيه 196) يعنې: "او دا پيغام د پخوانيو انبياوو په کتابونو کې کښل شوی دی." د دې هرې جملې معنا دا ده چې قرآن مجيد هماغه ګوهر لېږدوي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبوت په پخوانيو دورو کې هم و. موږ د هغه په جزئياتو او تفصيلاتو نه يو خبر. د هغه ابدي الهي دين کليات چې ټولو انبياوو خلک ورته رابللي دي، لکه څنگه چې د قرآن له آيتونو جوتېږي، پر واحد خدای باندې ايمان، د آخرت پر ورځ باندې ايمان، په ژوند کې الهي پروا لرل، اخلاقي فضايلو باندې التزام، او له اخلاقي رذايلو څخه ډډه کول وو. دا نظر د مولانا وحيد الدين خان دی چې په الخطأ فی تفسير الدين کتاب کې يې ويلی دی. نور تفصيلي احکام مثلاً د حلال او حرام، د عبادي مناسکو د ډول او د داسې نورو موضوعاتو په اړه، چې په اصطلاح کې شريعت بلل کېږي، پوره معلوم نه دي. مثلاً معلومه نه ده چې دغه احکام د نوح، ابراهيم، هود، صالح او شعيب عليهم السلام لپاره څنگه وو. د ځينو نورو پيغمبرانو لکه د موسی او عيسی عليهم السلام په اړه بيا ځينې اشارې شوې دي خو تفصيلات يې نه دي رامعلوم. خو د دې موضوع له کُلي ارزونې په دې پوهېږو چې د دين د تعليماتو يوه محدوده برخه، چې د دين اصلي برخه ده او موږ ثابت گوهر ورته وايو، د ټولو پيغمبرانو په منځ کې مشترکه وه او مکان او زمانورباندې اغېزه نه درلوده. نورې برخې چې په اصطلاح کې شريعت بلل کېږي، د مختلفو انبياوو لپاره متفاوتې وې. داسې ښکاري چې د دې توپير تر ټولو مهم علت د هر پيغمبر د مخاطبانو لپاره متفاوت مکاني او زماني شرايط وو چې شريعتونه يې له همدې شرايطو سره سم نازل شوي وو. په قرآن مجيد کې دې موضوع ته هم اشاره شوې ده: "لکلٍ جعلنا منکم شرعة و منهاجا" (سوره مائده، آيه 48) يعنې: "د ستاسو د هر ملت لپاره مو لاره او پروگرام وضع کړي دي".

۲. بل ځای بيا، اسلام يعنې ټول هغه شيان چې په قرآن مجيد او نبوي احاديثو کې راغلي دي. دلته دا مهمه نه ده چې په پخوا وختونو کې د دين کومې بڼې وې، بلکې هر څه چې د خدای او پيغمبر په کلام کې راغلي وي، هماغه اسلام بلل کېږي. خو د عالمانو اجتهادونه او نظرونه د خدای او پيغمبر د کلام مستقيم استازيتوب نه کوي، بلکې دا د هغوی له کلام څخه استنباط شوي دي. نو اسلام په دې معنا يعنې کتاب او سنت. کتاب او سنت هم د قطعيت او ظنيت په لحاظ پر دوو برخو وېشل کېږي. دا وېش هم د اصول فقه په علم کې او هم په علم کلام کې شوی دی. د قرآن آيتونه پر قطعي الدلاله او ظني الدلاله وېشل کېږي خو نبوي حديثونه بيا هم پر قطعي الدلاله او ظني الدلاله، او هم پر قطعي الثبوت او ظني الثبوت وېشل کېږي. البته قطعي الثبوت حديثونه خورا کم دي او د حديثونو ډېره لويه برخه ظني الثبوت دي.

۳. کله کله اسلام په لا عامه معنا کارول کېږي او پر آيتونو او حديثونو سربېره، تفسيرونه او اجتهادونه هم رانغاړي. ډېر ځله داسې کېږي چې کله ويل کېږي چې په دې اړه د اسلام نظر څه دی، په ځواب کې يې ويل کېږي چې پلانکي مجتهد داسې ويلي دي يا پلانکي مفسر د دې آيت يا حديث داسې تعبير کوي. اسلام په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې معنا خورا پراخېږي او په فقه، اصول فقه، حديث، تفسير، کلام، عرفان او اخلاقو زرګونه ليکل شوي کتابونه په کې شاملېږي. دا ټول په يو ډول له اسلام سره اړيکي لري خو ټول د مسلمانو عالمانو د اجتهاد او پوهې محصول دی. عالمان پوهېږي چې ټول اجتهادونه ظني دي، يعنې دا احتمال وي چې د اسلام نظر هماغه وي خو په قطعي او يقيني ډول نه شو ويلی چې د اسلام نظر هماغه دی.

۴. کله خو اسلام تر دې هم عامه معنا خپلوي او د مسلمانانو ټولې فرهنګي او تمدني تجربې په کې شاملېږي چې په تېرو څوارلسو پېړيو کې د اسلام د تعليماتو په الهام سره عملي شوې دي. اسلام په دې معنا د اموي او عباسي او عثماني خليفه‌ګانو او همدارنګه د غزنوي، سلجوقي، ساماني او تيموري او ... پاچاهانو سياسي تجربې او ورسره له المغربه رانيولې تر ترکيې او هند او منځنۍ آسيا او ... پورې د مختلفو مسلمانو قومونو او ملتونو فرهنګي او اجتماعي تجربې رانغاړي. په تېره بيا کله چې په علمي او فرهنګي ډګرونو کې د مسلمانانو د تمدني برياوو خبره کېږي او وغواړو چې د اسلامي مدنيت ښېګڼې يادې کړو، اغلباً همدغه تجربې يادوو.

سربېره پر دې چې د اسلام کلمه دغه معناګانې لرلای شي، په پورتنۍ پوښتنه کې بله کلمه «پروګرام» دی چې هغه هم بايد واضح شي ځکه چې په علمي لحاظ، پروګرام هم تاکتيک، هم عملياتي طرحې او هم ستراتيژيکې طرحې ته ويل کېږي. البته هر يو يې د علمي معيارونو پر اساس سره توپير لري او کله چې له چا يا کومې ډلې څخه پروګرام غواړو، بايد خپل هدف مشخص کړو. خو په عام ډول د پروګرام په اړه په دې پوهېږو چې پروګرام داسې طرحه ده چې د ترسره کولو لپاره يې مشخص وخت په پام کې نيول شوی وي؛ مالي، لوجستيکي، او انساني منابع يې معلومې وي؛ او د عملي کولو هدف يې هم ټاکل شوی وي.

همدا شان، د مديريت او رهبرۍ کلمې هم توضيح غواړي او بايد معلومه شي چې تحت اللفظي معنا يې مراد دی، که اصطلاحي معناګانې يې، ځکه چې دواړه نه په لغوي لحاظ سره هم معنا دي، نه په اصطلاح کې. دا دوه اصطلاح‌ګانې نن سبا د دوو سره بېلو علمونو د معرفۍ لپاره کارول کېږي. سره له دې چې دا دوه ډګرونه په ځينو برخو کې سره شريک اړخونه لري خو په ټوله کې دوې مستقلې موضوع‌ګانې دي او سره توپيرونه لري. د مديريت علم چې په انګليسي کې منجمنټ ورته وايي، د رهبرۍ له علم سره چې ليډرشپ ورته وايي، يو شان نه دی. هر يو يې خپل خپل خاص موضوعات څېړي او پراخ بحثونه لري. دا چې په دې اړه په انګليسي او عربي او فارسي ژبو کې پرېمانه تخصصي کتابونه شته، نو زياتې خبرې ورباندې نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د ژوند ټول اړخونه» هم توضیح غواړي ځکه کله چې وایو د ژوند ټول اړخونه، دا فردي، کورني، او ټولنیز ژوند رانغاړي او هر یو یې نور اړخونه لري لکه کاري ژوند، علمي ژوند، اخلاقي ژوند، سیاسي ژوند، او همدارنګه نور اړخونه لکه جسمي، روحي، عقلي، او ... نو د دې هر اړخ لپاره یې د پروګرام لرل، تفصیلي طرحه یا داسې جزئیات غواړي چې مخکې مو ورته اشاره وکړه او د یوې برخې په اړه حقوقي یا اخلاقي کُلیات پروګرام نه شو بللی.

اوس نو د هرې یادې شوې کلمې او عبارت په اړه که هر احتمال په پام کې ونیسو او بیا یې په یو بل کې ضرب کړو، داسې بېلابېلې معناګانې راپیدا کېږي چې هره یوه به یې خپل خاص ځواب ولري. د کلمو د معنایي احتمالاتو پر اساس، د هغې پوښتنې لنډه معنا داسې کېږي چې: «د پیغمبرانو د دینونو په منځ کې په هغه مشترک ګوهر کې، یا په کتاب او سنت کې په منصوص ډول، یا د کتاب او سنت په اړه د مسلمانو عالمانو په تفسیرونو کې، یا په مختلفو پېړیو کې د مسلمانانو په علمي تجربو کې؛ په مختلفو فردي، کورني او اجتماعي ډګرونو کې په جسمي، روحي او عقلي ابعادو کې او په علمي، اخلاقي، کاري کچه د بشر د ژوند د مختلفو ډګرونو د مدیریت لپاره یا په دې ټولو اړخونو او ډګرونو کې د بشر د ژوند د رهبرۍ په اړه داسې کومه تاکتیکي طرحه، یا عملیاتي طرحه، یا ستراتیژیکه طرحه شته چې اجرا کول یې مشخص زمان، مشخصې مالي منابع، مشخصې انساني منابع او مشخصې لوجستیکي منابع ولري؟ طبیعي ده چې له احتمالاتو څخه د داسې ډکې پوښتنې لپاره هېڅ واضح او مستقیم ځواب نشته.

په دې توضیح کې زما هدف دا و چې کله په عمومي عرصه کې خبرې کوو او غواړو چې نور خپل همفکره کړو، که فرضاً زموږ نظر یو مخ بې‌عیبه هم وي، له کُلي او مجمل او مبهمو خبرو باید ډډه وکړو او پر ځای یې واضحې کلمې چې واضحې معناګانې ولري وکاروو او خپله مفکوره داسې بیان کړو چې مشخصه معنا ولري. بیا نو کولی شو چې د پخلي لپاره یې دلیل ووایو یا یې له مخالف سره استدلال وکړو.

د بحث دغه لاره، په ټوله کې علمي لاره بللی شو. د دې لارې ګټه دا ده چې هم پخپله پوهېږو او هم مخاطب مو پوهېږي چې څه وایو. په دې لاره په خپله ټولنه کې علمي لارې چارې بابولی شو او هغه لارې پرېږدو چې عوام یې خوښوي. په دې کار سره ډېر اختلافونه ختمولی شو او که موضوع داسې وي چې تر یوه زیات نظرونه په کې ځایېدلی شي، د نظرونو تنوع به منو او یوازې خپله خبره به یوازینی حقیقت نه بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په عمومي ډګر کې پر داسې چارو غږېدل، چې د ټولو برخلیک ورپورې غوټه وي، دقیق ضوابط ونه لري او څه مو چې په زړه کې وي، په پوره بې‌باکۍ سره یې ووایو، نیتجه به یې غیر له دې چې اوتې بوتې زیاتې شي، بل څه نه وي. که داسې وي نو ټولنه به د جهل او ناپوهۍ په لوري روانه شي او د نظر اختلافونه به د بربادۍ کچې ته ورسېږي. دلته چې جهل یادوم، مطلب مې جهل مرکب دی چې ښه مثال یې هغه سیاسي ایډیالوژۍ دي چې سیاسي ګوندونو د اسلام په نامه رامنځته کړې دي. دا داسې ایډیالوژۍ دي چې د علم په وړاندې درېږي او کاذبه پوهه تولیدوي. د دې ضوابطو د درک کولو او مراعاتولو اهمیت په عمومي ډګر کې د خبرې کولو مختلفې کچې رانغاړي، هغه که لیکلې وینا وي که شفاهي، که په تعلیمي محیطونو کې وي که په جوماتونو کې، که په راډیو او ټلویزیون کې وي که په ټولیزو رسنیو کې. (البته دلته کوم خاص مخاطب نه لرم بلکې خبره مې د ټولو لپاره ده.)

له ګډوډو خبرو او فکرونو څخه د خلکو ژغورل او د تفکر او د نظر د تبادلې لپاره د علمي لارو چارو بابول اخلاقي وظیفه ده. په دې لاره د خپل دین پیغام هم ښه درک کوو او نور هم ښه وربانديې پوهولی شو. ځینو مسلمانو عالمانو د نساء د سورت له نهم آیت څخه همدا معنا اخیستې ده چې وایي: "فلیتقوا الله و لیقولوا قولا سدیدا" یعنې:"نو باید د خدای پروا وکړئ او سمه او پخه خبره وکړئ."

**د پای خبره:**

دینداري که سمه وپوهېدل شي او نتیجه یې د انسان روحي سکون، اخلاقي لوړاوي، او معنوي تکامل وي، نو غوره چاره ده او څوک به چندانې ورسره ستونزه ونه لري. خو که داسې دینداري باب شي چې عقلانیت منسوخ وګڼي؛ اخلاق په دوهمه درجه کې حساب کړي؛ د انسانانو د درد او رنځ پروا ونه کړي؛ او چې څومره وخت تېر شي، هماغومره د خلکو وروسته پاتې‌والی، اختلافونه، شخړې، دښمنۍ، او تباهۍ ورسره زیات شي، لکه څنګه چې نن سبا په ډېرو اسلامي ملکونو کې یې وینو، نو دا ډول دینداري به د زیان او تباهۍ سرچینه وي. او که داسې وي، د دین له نظره، دا مو وظیفه ده چې مخه یې ونیسو، هماغسې چې له دین څخه بهر اخلاق مو مجبوروي چې غلي پاتې نه شو.

هغه دینداري چې بنسټپالي یې غواړي، همداسې دینداري ده چې هم د انسان اخلاق تباه کوي او هم د ملتونو د ټولنیزې تباهۍ سبب کېږي. د دې هېوادونو ویجاړې یوازې د بهرنیو قدرتونو د سیالۍ محصول نه ده، بلکې دغه دروني عامل په کې اساسي نقش لري. دربغه چې د بنسټپالو درنو حملو مسلمانې ټولنې داسې زهرجنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې دي چې ان د دين د ژغورنې او د اصيلې دينداري لپاره هم په آسانۍ سره څه نه شو کولی او که څـوک دا کار کوي، په خيانت او کفر تورنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(10)**

## د افغانستان ښوونيز نظام کې د افراطيات څرک

## د اسلامي ثقافت په اړه

**ژباړن: شيرخان زېری**

د افغانستان په پوهنتونونو کې د اسلامي ثقافت په نوم د رسمي درس شتون چې په ټولو څانګو کې له شرعياتو پرته لازمي دی، وروستيو کلونو کې د بحث وړ ګرځېدلې. ځېنې د نظر خاوندان په دې باور دي چې دا د بعضو بنسټپالو مذهبي ډول د اډيالوژيکو فکرونو د غوړېدو زمينه برابروي. ويل کېږي چې له دغې لارې افراطي فکرونه د پوهنتونونو چاپيريال ته ننوځي او ځوانان ديني افراطيت ته هڅول کېږي. په مقابل کې هغه کسان چې د دې درس پلويان دي، دغه ادعا مردوده( کفر ) ګڼي او په دې باور دي چې دغه درسونه له ځوانانو سره د دين په ښه پوهېدلو کې ډېر مرسته کوي. په دغه ليکنه کې موږ د دغې موضوع په ابعادو باندې غږېږو.

ولې اسلامي ثقافت

لومړی بايد له دې پوښتنې پيل وکړو چې ولې اسلامي ثفافت ترعنوان لاندې مضمون دې وي او ولې بايد په درسي نظام کې شامل وي؟ که فرض کړئ د داسې درسونو شتون نه وي، څه به پېښ شي؟ معمول ځواب يې دا دی چې زموږ ټولنه اسلامي دی او ځوانان مو مسلمانان، بايد له دين سره په ښه ډول بلد شي. په ځانګړي ډول، کله چې اکاډېميکو زده کړو ته رسېږي؛ بايد پر ديني مسايلو او موضوعات باندې عملي او اکاديميک پوهاوی ولري. يعنې: که چېرې مسلمان ځوان په دغه مراکزو کې زده کړه وکړي او له دين نه بې خبره وي، ډېر احتمال شته چې په راتلونکي کې به له داسې متخصصينو سره مخ شو، چې لومړی به په دين نه پوهېږي، دويم به ديني ارزښتونو ته پابند نه وي، دريېم دا چې د نورو په عقيدوي ارزښتونو به باور پيدا کړي او څلورم به له خلکو او خپل فرهنګ سره خيانت وکړي. پورتنۍ هغه انديښنې دي چې د سړې جګړې په وخت کې افغانستان تجربه کړي او په هغه وخت کې ځينو زده کوونکو او استادانو د چپې مفکرې پلوي وکړه او کمونيستي حزبونو سره يوځای شول. په پايله کې داسې کودتاګانې او جګړې پېښ شوې چې تراوسه مو هېواد له هغه بدبختيو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی خلاص. البته په وروستیو جګړو کې هغه کسان هم د هېواد په ورانول او کورنیو جګړو کې بې نوا پاتې نشول چې اسلامي ثقافت یې لوستی او تدریس کړی و.

د دغې مفکورې پلویان وایي: په پوهنتونونو کې باید مـوږ داسـې کسـان تربیـت کـړو چـې د تخصصي- پـوهې ترڅنګ، په اسلام باورونو هم پوره باور او عقیده ولري. موږ یوازې ډاکټر، انجینیر، ادیب، ټولنپوه او حقوقپوه باید ونلرو؛ بلکې دیندار ډاکټر، دیندار انجینیر، متدین ادیب، متدین ټولنپوه او دیندار حقوقپوه باید ولـرو. تـر کومـه ځایه چې زه پوهېږم دا په پوهنتونو کې د اسلامي ثقافت د شتون د پلویانو مهم نظرونه دي. دغه استدلالونه پـه ظاهر کې د منلو وړ دي او هغه ویرې تر یوه حده پورې د درک وړ دي.

موږ کولای شو چې دغه استدلالونه له بېلابېلو اړخونو وڅېړو. لومړی دی چې په ډېر اکثریت او ګومان سره هغـه زده کوونکي چې پوهنتونو ته ځي، د دین په اړه یې پوهه تر لاسه کړې، ځکه په دریو ځایونو کـې یـې دینـي زده کړې ترسره کړي. لومړی کورنۍ، دویم جومات، درېیم ښوونځی. لـه دې ور هـاخو نـن ورځ لـه رسـنیو او ټـولنیزو شبکو هم کولای شو چې زده کړه وکړو او له دې لارې نه کولای شي خلک او ځوانان دیني معلومات پـه اسـانۍ ترلاسه کړي. دغه وړاندوینې چې وایي، کله چې زده کوونکي پوهنتونو ته ځي له هغې مخکې له دیني زده کړې ناپوهه دي او په دین باندې نه پوهېږي؛ دا له واقیعته لرې فرضیه ده. هغوی د دین په اړه اړین معلومات مخکې ترلاسه کړي او پرې پوهېږي.

که چېرې ماشوم او ځوان د عقیدې مهم مسایل، د عبادات په اړه لازم معلومات او د حلالـو او حرامـو پـه اړه یـې اړین پوهاوی په درې مخکنیو ځایونو کـې ترلاسـه کـړي وي؛ نـو څـه اړتیـا دی چـې هماغـه تکـراري مسـایل پـه پوهنتون کې بیا واوري؟ او هغه اړین موضوعات چې یې تراوسه زده کړې نه دي او اوس دلته اړین دي چې باید زده کړه یې ترسره شي. شاید په ځواب کې وویل شي، چې مخکنۍ زده کړه په غیـر علمـي او ابتـدایي شـکل و؛ ولې په پوهنتون کې دغه مسایل په عملي شکل زده کوي.

که چېرې دا ځواب سم وي، نسبتا قناعت ورکوونکی به وي؛ خو په حقیقت کې بله پوښتنه منځ ته راوړي، چې د دغو مسایلو علمي زده کړه په کوم منظور؟ آیا منظور یې د عقیـدوي او عبـادي، حـلال او حـرام چـارو او مسـایلو ثابتول د نوي علم په مرسته دی؟ آیا موخه یې له علم نه، هماغه طبعي علوم دي؟ آیا د مثبت پالو نظر د علم په اړه دغه تصمیم محک دی؟ د دغو پوښتنو په مطرحه کولو سره یو نوي بحث ته ننوځو، چې یوه نړۍ خبرې لري. کله د علم غوندې چې لمن یې تر کومه ځای دی، څو ډوله علم شته، د هر علم ځانګړې طریقه څنګه وپېژنـو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطا او ثواب توپیر په دغه علومو کې څه ده، د دغو علوم نسبت له دین سره څه ده، کومې کرښې دي چې علم، دین او فلسفه له یو بله بېلوي؛ ډېر نوري پوښتنې چې په حقیقت کې فلسفي پوښتنې دي، موږ فلسفي بحثونو ته گرځوي.

له دغې پوښتنې رامنځته کېږي چې د دغه مضمون تدریس د ساینس په مرسته، که ممکن وي، مطلوب دی. ایا د دیني ښوونې او روزنې متخصصینو د دې اړتیا تایید کړې؟ شاید وویل شي چې د تخصصي زده کړو څخه موخه دا نه ده چې د طبعي علوم په مرسته زده شي، بلکې د شرعي تخصصي زده کړو په معنا دي. په دغه وخت کې کولای شو وپوښتو، دا کار څومره ممکن دی؟ او دویم دا چې دیني مسایل په علمي او تخصصي۔ شکل زده کړیالانو ته چې د دیني چارو متخصص نه وي، لازم دی؟ طالبانو هم د خپلې واکمنۍ په وخت ډېر مضمونونه، لکه: فقه، میراث او عقاید د ښوونځیو او پوهنځیو په ښوونیز نصاب کې داخل کړل، پایله یې څه وه او کوم پیغامونه یې له ځان سره درلودل؟ که له بل نظر نه ورته وگورو او وپوښتو چې دغه ډول زده کړه په دوه هېوادونو کې چې په جدي ډول یې دغه تجربه پرمخ وړې، ایران او سعودي عربستان؛ دغه کار یې په خلکو او په ځانگړي ډول ځوانانو باندې څه تاثیر وکړ، عملاً یې دینداره کړي او که له دین یې لرې کړه.

طبعي خبره دی که څوک په تخصصي۔ شکل دغه بحث ته دننه شي، د علم، دین او فلسفې ترمنځ به په متودیک شکل توپیر وکړي. دا به هم معلوم کړې چې څه ډول یو له بل سره اړیکه لري؟ د عمیق او ډېر ژورو اختلافونو شاهدان به یو. د ټولو لپاره یوه منلي نظر باندې اتفاق کول، د امکان وړ نه دی. د ټول اختلافي نظرونو نه، د یو نظر منل او د ټول لپاره د هغه نظر اصل گڼل، خپله یو غیرعلمي عمل دی او ایډیالوژیک اختلاف باندې اوړي. عمیقو بحثونه ته له ننوتلو پراته هم کولای شو چې د مسلمانو له کلاسیکې فقې نه یې وڅېړو، چې کومې زده کړې د دین په اړه اړینې چارې دي او د فرض عین په کتار کې درېږي. کومې څه دي چې عامو متدینو لپاره اړین ندي او د فرض کفایه په کتار کې درېږي او د هغه څه زده کول، چې د دیني علومو متخصصان یې غواړي، ترسره او زده کړي.

وجه تسمیه:

د تسمیه وجه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو انتقاد چې د اسلامي ثقافت په اړه مطرح کېږي، د هغه نومونه دی. ثقافت عربي کلمه ده، چې په اصل کې مهارت او پر یو کار باندې برلاسی دی. که کوم شخص داسې مهارت د یوې موضوع په اړه ولري، هغه ته رجل مثقف وايي. مگر په اوسنۍ اصطلاح چې په معاصره عربي کې ډېر کارول کېږي او دود دی، دغه کلمه د فرهنگ معنا لري. د اسلامي ثقافت تحت اللفظي ژباړه يې اسلامي فرهنگ دی. المعجم الوسیط وايي: " ثقافت یعنې علوم، معارف او فنون چې په هغه کې مهارت نعښتی وي." لسان العرب ویلي: "ثقف الشیئ یعنې: هغه په مهارت باندې زده کړه." معجم اللغة العربیة المعاصر ویلي: "التثقیف الذاتي د فرهنگ او پوهې په زده کړه کې په ځان باندې تکیه." المعجم الرائد ویلي: "تثقَّفَ یعنې تهذیب، ادب او د علم زده کړه".

که له لغوي معنا تېر شو او د اسلامي ثقافت اصطلاحي معنا وڅېړو. دغه نومونه په ظاهر کې دا رسوي چې په دغه درس کې د اسلامي فرهنگ په اړه بحث او زده کړه ورکړو. که چېرې فرهنگ په اکادیمیک شکل باندې تر بحث لاندې ونیسو، اسلامي فرهنگ او یا هم په عامه معنا فرهنگ. په لومړي سر کې د ټولنپوهنې برخې ته ننوځي، دویمه دا چې خلکو پېژندنه( مردمشناسي) Anthropology او درېیم پړاو کولای شو چې له فلسفي نظر ورته وگورو. وروستی ځای چې د فرهنگ په اړه تخصصي نظر ورکړو هغه د دین له پلوه دی. د مسلمانو عالمانو په پخوانیو کتابونو کې چې عربي کې د اسلامي تراث په نوم پېژندل، ښکاري د فرهنگ مفهوم، نن چې په کومه معنا  کارول کېږي، د هغوي د پام وړ نه و. البته عرف، عادت او دېته ورته نور چې د هغوی د فرهنگ د برخې څخه و، خبرې شوي؛ ولې فرهنگ په عامه معنا نه، چې نن موږ پرې پوهېږو. هغوو کتابونو ته مراجعه کول چې معاصرانو د فرهنگ په اړه لیکلي، په ښه او واضح ډول د فرهنگ معنا ترې معلومېږي. له نیکه مرغه نن ورځ په عربي، فارسي او نورو غربي ژبو کتابونو کې هم د فرهنگ په اړه معلومات شته، چې فرهنگ يې له مختلفو زاویو نه تحلیل او څېړلی.

د دې ټکي له یادونې نه موخه دا و، چې د اسلامي ثقافت په نوم د درس نومول، په اصل کې يې مفهوم دا دی چې محصلین له اسلامي فرهنگ سره بلد شي، که داسې څه وي، بیا يې باید د ټولنپوهنې استادان تدریس کړي، درسي پروگرام باید داسې طراحي شي چې د اسلامي فرهنگ مختلفې برخې لکه: هنر، ادبیات، د اسلامي تمدن نه راوتلي علوم او د هر یو فرهنگي برخه دې تشریح کړي، د اسلامي فرهنگ ټول تعریفي کلیات او هغه تعریفونه چې اسلامي فرهنگ پورې اړه لري، په لاس راوړي. که چېرې داسې کار وشي؛ نو د اسلامي ثقافت درس په څه کېږي؟ مگر دا پوښتنه په ځای پاتې کېږي، چې د داسې درس اړتیا هغو زده کوونکو لپاره چې طب او یا هم حقوق لولي څه دی؟ همدا مخکنۍ پوښتنه پرځای پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله ثقافت د اطلاعاتو او معلوماتو په معنا هم کارول کېږي، که چېرې اسلامي ثقافت د اسلامي فرهنګ په نوم نه، بلکې د اسلام په اړه د اطلاعاتو په نوم ونیسو، په دغه وخت کې بل نوم د دغه درس لپاره لازمیږي. ښه به وي چې ایرانیانو غونډي یې د اسلامي پوهنې په نوم یاد کړو او یا هم د نورو عربي هېوادنو غونډې د اسلامي اساساتو په نوم ونوموو. دغه نومونه د اسلامي مطالعاتو په معنا دی او په همدې اساس په دې نوم یادیږي. په ظاهر کې دغه نوم ورته مناسب هم دی، ځکه له نوم نه ښکاري چې معنا یې اسلام پېژندنه دی او د دې لپاره مناسب نوم دی.

اسلام پېژندنه( اسلام شناسي) د دغو درسونو لپاره وړ نوم دی، په دې توپیر که چېرې دا نوم وټاکل شي؛ نو هغه معنا او شکل به ونلري، چې دغه نوم کوم معنا ورکوي. مګر د بیاځلې لپاره به د اسلام پېژندنې په اړه بحث او طریقه منځ ته راوړي، ځکه د اسلام د مطالعې لپاره مختلفې طریقې او لارې شته. له دې ور هاخو ټول روشونه او طریقې په اکاډیمیک لحاظه، په یوه سطحه کې نه دي، او ټول یوې پایلې ته نه رسېږي. مګر هر روش او لار یوې ځانګړې پایلې ته رسېږي.

یو له معتبرو نړیوالو روشونو او طریقو نه، د دین پېژندنې لپاره تطبیقي دین پېژندنه دی، چې په عربي کې ورته مقارنة الادیان ویل کېږي. په دغه مېتود باندې د ادیانو تاریخچه په عامه توګه او یا هم یو ځانګړی دین په خاص ډول باندې څېړل کېږي. همدارنګه دینونه( ادیان) د بنسټګرانو د شخصیت، لیکلي او نالیکي منابع، هغه شعایر او سمبولونه چې په دیني ژوند کې کارول کېږي، ترڅېړنې لاندې نیسي. د دینونو ترمنځ ګډ ټګې د احکامو یا اخلاقیاتو له مخې چې وروسته وړاندیز( سفارش ) لري او د پېژندنې هستې( هسته شناختي) له پلوه، چې وروسته ګزارش لري، هم څېړي. د دې په څنګه کې د ادیانو توپیرهم څېړل کېږي. له پورته څانګو ورهاخو، نورې څانګې لکه: د دین فلسفه، د دین ژبه، د دین ټولنپوهنه، د دین انټروپولوژي او ارواپوهنه هم هغه څانګې دي، چې د دین په اړه د څېړنې نوې لارې او روشونه د دین پېژندونکو لپاره په لاس کې ورکوي. که څه هم دغه څانګې تر اوسه ځوانې دي او د تکامل پړوا کې قرار لري او هېڅ یو یې هم وروسته تعریف له دین نه نلري؛ مګر هر یو یې له اکاډمیک لحاظ علمي اعتبار لري او د ارزښتمنوعلومو په کتار کې دربېږي. د دغو په اساس کولای شو علمي څېړنې مخته یوسو او زده کوونکي عملي کار ته چمتو کړو.

که دغه څانګه، د کار اساس ونه ګرځي او له دغو مشهورو او معتبرو علمي روشونو نه د اسلام پېژندنې لپاره استفاده ونشي، بیا نو اړتیا دی چې له نورو اکادیمیکو څانګو نه ګټه واخلو. له دې بغیر د کارنو لپاره سلیقوي لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصیږي، هر یو به په خپل سبک او سلیقې باندې چې زړه یې غواړي او خوښ یې وي، د اسلام په اړه به څېړنه کوي. په پایله کې به داسې وضعیت رامخته شي، چې په عربي کې هغه ته الفوضی المنهجیة وایي، یعنې د مېتودلوژۍ ګډوډي.

په هر حال، مخکې د روش یا طریقې له ټاکلو، لومړی د نومونې وار دی. د نوم ارزښت په دې کې دی، چې د استاد او هم د زده کوونکي په ذهن کې مشخص کېږي، چې د دغه درس نه موخه او غوښتنه څه ده او هم کولای شي چې د دغه درس، تدریس کول باارزښته کړي. نومونه کولای شي چې په دې اړه د بحث او څېړنې وړ شي.

علم یا ایدئولوژي؟

علم که ایډیالوژي؟

ایډیالوژي: د راټول شو معلوماتو له ټولګې څخه عبارت چې د یوې ځانګړې ډلې قدرت ته رسول او په قدرت کې د هغوی د پاتې کېدلو لپاره تولید او رواج کېږي. دا چې ایډیالوژي د معلوماتو لرونکې وي، په همدې اساس بې خبره خلک تر تاثیر لاندې راولي، چې هغه ته علم وایي. تر ټولو قوي او څرګنده ښوونیزې بېلګې یې د کمونیستي حکومت له لوري په پخواني شوروي او په المان کې د نازي نظام له لوري ترسره شو. مګر ایډیالوژیک فعالیت او د ایډیالوژیکو افکارو تولید دغه دوه نظامونو پورې اړونده نه و، بلکې په نړۍ کې ډېر حکومتونه او ګوندونه داسې ګړنې، په خپلو کارونامو کې لري.

په ایډیالوژي کې، قدرت ته د رسېدلو او ساتلو ګټه ده. مګر له علم او په ځانګړي ډول اکاډیمیکو علومو سره په تقابل کې واقع کېږي، چې په هغه کې د حقیقت د پېژندلو او کشفولو لپاره ډېره ګټه نشته. هغه څوک چې د حقیقت د پېژندلو لپاره راوځي، هېڅ بل لومړیتوب یې سترګې نشي پټولای، لټون او هڅه، حقیقت ته د رسېدلو تر ټول مهمه او اړینه لار ګڼي. هر کله چې حقیقت د هغه د مخکنیو فرضیو خلاف ښکاره او معلوم شي، هغه یې بې له کوم تعصب مني. د انساني تمدن تاریخ د علم د تکامل په کیسه کې، ټول دې امر ته ګرځي. په مقابل کې، په فکري ایډیالوژیکو سیستمونو کې حقیقت مخکې له مخکې نه کشف شوی، فرض کوي او یوازې دا کار پاتې وي چې د مخاطب په ذهن کې دغه حقیقت تحکیم کړي. له پوهې او دانایي نه هغه برخه ارزښتمنده معلومیږي، چې د دغه ښکاره حقیقت په خدمت کې وي. نور پاتې معلومات کولای شو لرې واچوو. د بېلګې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول: د استالین د نظام له نظره، ټول فضایل کارگرې طبقې ته تلل او نور ټول رذایل سرمایدارې طبقې ته. په دغه ځای کې د څېړونکي او اکاډیمیک محقق دنده دا دی چې په څېړنه کې، باید دغه حقیقت ښکاره کړي. که چېرې د هغه څېړنې دا ښوده چې د گارگرانو په ډله کې ښه، بد او متوسط انسانان شته او هم په سرمایدارو کې؛ دغې موندنې یې ارزښت نه درلود او هغه حقیقت سره یې مرسته نه کوله؛ په پایله کې باید لرې غورځول شوې وای. د دغه حقیقت بله برخه دا و، چې ټول خلک په پانگوالۍ نظام کې بدبخت او ټول په کمونیستي نظام کې خوشبخت دي. که چېرې د کوم څېړونکي څېړنې دا ښوده چې ډېر خلک په پانگوالۍ نظام کې د خوشبختۍ احساس کوي او له ژونده رضایت لري، دلته د هغه څېړونکي دنده دا و چې وڅېړي، ولې د هغوو انسانانو مغز او عقل دومره تبا شوی، چې نشې کولای خپلو بدبختیو ته متوجې شي؟ په مقابل کې، کمونیستي ټولنه کې اصلي حقیقت دا و چې ټول خلک خوشبخته و، څېړونکي حق نه درلود چې له خلکو نه د نظر غوښتنه وکړي او څېړنه ترسره کړي. په دې اساس یې کولای شول له دې پرته بلې پایلې ته ورسېږي. علم او څېړنه په داسې وضعیت کې پاتې او دوام یې کولای شو چې د نظام او قدرت د پاینښت او هغه سره په تداوم کې مرسته کولای شوه.

اکاډیمیک چاپیریالونه د دې لپاره جوړ شوي چې څېړنه او پلټنه د انسان د ژوند په مختلفو برخو کې پلې او ترسره کړي، په همدې خاطر دغه بنسټونه باور او اعتبار لري. له بلې خوا، دغه اعتبار نه گټه اخیستل او قدرت ته پرې رسېدل او یا ساتل، د ټولو گوندونو او ایډیولوژیکو حکومتونو لپاره تل ویره وه. په لومړي سر کې، په دغو بنسټونو کې ننوتل( نفوذ کول) او دویم قدم کې پرې برلاسي کېدل، له ستراتېژیکو موخو څخه دي. له دې پلوه، د ایډیالوژیکو افکارو پراخېدل او د ایډیالوژیکو فعالیتونو ډېرېدل په پوهنتوني چاپیریال کې د اندېښنې وړ خطرونه دي؛ ځکه د دغو بنسټونو پوهه او باور د سیاسي گوندونو یا سیاسي نظامونو په خدمت کې کېږي.

اوس وخت کې دغو تجربو ته په کتلو سره ویلی شو چې کله د اسلامي ثقافت د درس نوبت رارسېږي، یو له جدي اندېښنونه چې مطرح کېږي دا دی، دغه درس چې له متودیک نظره کوم ابهامونه لري، د زغم وړ ندی، چې ایډیالوژیک افکار له دغې لارې نه د محصلانو په منځ کې خپاره شي. که چېرې دا ډول افکار د دغه درس تر عنوان لاندې خپاره شي، آیا د افراطي ډلو لپاره د جنگیالیو د پیدا کولو زمینه نه برابرېږي؟

کولای شو ډېرې بېلگې په پام کې ونیسو. دغه بېلگې کولای شي یو فرصت د ایډیالوژیکو تبلیغاتو لپاره وگرځي، لکه د اسلام د پیدایښت تاریخ په اړه، د کلامي ډلو او فرقو د پیدایښت په اړه، د قومي او مذهبي اختلافونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه.  حتا ځينې موضوعات د بېلابېلو سمسترونو لپاره په پام کې نيول شوي، چې په خپل ذات کې يو ډول ابهام او پېچلتيا لري، دا ابهام او پېچلتيا فرصت برابروي، هر څوک چې هر څه وايي، ودې وايي. مثلآ: د اسلامي عقايدو درس پرځای، اسلامي نړۍ ليد( جهان بيني اسلامي) درس راغلی. دغه عنوان په اصل کې د مرتضی مطهري او سيدقطب نه را نقل( اقتباس) شوي دي. د اسلامي علوم په پېژندل شو ځانگو کې، اسلامي نړۍ ليد په نوم کومه ځانگه نشته. دغه اصطلاح هغه وخت باب شوه چې د ځېنو گوندونو او د چپو ايډيالوژيانو له لورې د سرې جگړې په وخت کې را مخته شوه. په هغه وخت کې ځېنو عالمانو وغوښتل چې د دغې نظريې په مقابل کې د اسلامي نړې ليد( جهان بينی اسلام) په نوم نظرونه وړاندې کړي. سيد قطب دوه کتابونه لري، يو خصائص التصور الاسلامي په نوم او بل مقومات التصور الاسلامي په نوم، چې غالبآ لومړنی کتاب يې سيد محمد خامنهای د اسلامي ايډيالوژۍ ځانگړنې په نوم يې فارسي ژبې ته ژباړلی؛ په داسې حال کې چې تصور د نړۍ ليد( جهان بيني) په معنا دی. په اصل کې د اسلامي عقايدو بحث په ايډيالوژيک قالب کې د اچولو کوښښ و، چې له علمي روشونو پرته په سليقوي ډول باندې ترسره کېده. دا په داسې حال کې و چې اسلامي عقايد د يوې عملي ځانگې په توگه زر کلن پخوانی قدامت يې درلود، د دې پرخلاف يو شمېر کلامي مکاتب له متوديک لحاظ ډېر پاخه او پوره له نوو پيدا شوو موضوعاتو څخه و. کله چې هر څوک د عقايدو علم ته ننوځي، د هر کلامي جريان فکري اساسات روښانه دي او په اسانۍ سره کولای شي د اشاعره، معتزله، اهل حديث، ماتريديه، اماميه، اسماعيليه او نورو فرقو نظريات ولولي، تحليل يې کړي او پرې پو شي. په هر حال دلته هم د اډيالوژيکو تبليغاتو لپاره ځای شته؛ خو که استاد او يا متن له بې پلوۍ بېرون شي، د کومې ډلې په گټه او يا هم په زيان او په پلويتوب باندې استدلال ونکړي. مگر له بلې خوا د دغو موضوعاتو په اړه معتبرې سرچينې او په کافي اندازه د اسلام په تاريخ کې ليکل شوي او د مطالعې لپاره لار خلاصه ده. د اسلامي نړۍ ليد په نوم باندې درس هېڅ په اسلامي تمدن کې ځای نلري او عملي روش يا لار نه دی. د هر چا او فکر لپاره د لوبو ډگر دی.

د حاضر العالم الاسلامي په نوم درس چې د ثقافت له پخوانيو درسونو نه و، اوس هم په ځېنو پوهنتونونو کې تدريسېږي. دغه مضمون په لومړيو کې د يوه متوسط اخواني ليکوال له لوري چې علي جريشه نومېده، په سعودي کې مطرح شو او وروسته د کډوالۍ په دور کې پېښاور کې يې هم راوج پيدا کړ. دغه درس چې له عنوان يې معلومېږي، چې د ننۍ اسلامي نړۍ د وضعيت په اړه درس دی؛ خو معلوم نه دی، چې اوسنی وضعيت له کوم اړخه څېړي او بحثورباندې کوي. که يې موخه اډيالوژيک تصويري وضعيت يې د اسلامی نړۍ نه وي؛ نو دغه بحث دومره اوږد دی چې کولای شو د يو نيم مليارډو مسلمانانو اقتصادي، سياسي، فرهنگي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعتي، توریستي، علمي او ډېر نورو باندې بحث وکړو. اخر هم کوم ځای ته نه رسېږي، ځکه د هر یو څېړل یو تخصصي ځانګې ته اړتیا لري او نشو کولای په یوې تخصصي ځانګه باندې دغه ټول وڅېړو؛ دا خو پرېږده چې هېڅ تخصص نه وي. که حدس ووهو، هغه کس چې د یو ګوند او ځانګړې مفکورې په اساس دغه بحث ته داخل شي، هغه په څه ووایي او له محصلینو سره له څه وکړي. معلومه خبره دی چې دغه ډول بحثونه علمي نه دي او یوازې د ګوندي مفکورو او آډیالوژیو د تبلیغ لپاره زمینه برابره دی.

که له دې اړخه د اسلامي ثقافت درس، بیا کتنه ی ترسره نشي، د سلفي، شبه سلفي، د جهادي سلفیانو لپاره؛ سني او که شیعه ډلو ته فرصت برابرېږي، ترڅو له دغې لارې د محصلانو په ذهنونو کې ځانګړې ګوندي نظریات د اسلام په نوم ورکړي. او هغوی له نورو نظریاتو نه په ویرولو سره، بې خبره وساتي. لکه څنګه چې په ایران کې د انقلاب په لومړیو کې آیت الله مصباح یزدي د یو کتاب عنوان "پاسداری از سنگرهای ایدئولوژیك" ټاکلی و. د پوهنتونونو چاپیریال پر حزبي اډیالوژیکو سنګرونو باندې بدل شول، چې د فکر د تولید پرځای یې د جنګیالو په تولید بدل کړ.  په داسې حال کې کولای شو وپوښتو، چې آیا خلک خپل اولادونه رالېږي او دولت مصارف ورکوي، ترڅو د هېواد ځوانان په علم او د اکاډیمیکو څېړنو په روښونو باندې سمبال شي او د خپل هېواد د ستونزو په حل کولو کې ونډه واخلي، که نه لاړ شي، حزبي تبلیغات واوري، د یوې ډلې غړیتوب او یا هم د یوې خاصي ډلې د سیاسي اهدفو قرباني شي.

د ښه کولو لاره

هغه اندېښنې چې د ثقافت درس په باب مطرح شوي او د دغه درس هغه احتمالي زیانونه ته اشاره شوې. کولای شو په دې فکر وکړو چې څنګه دغه درس نه، ښه ګټه واخلو؟ په پوهنتونو کې یو له مهمو او ګټورو درسونو وي.

ښه به وي، له هغوو موضوعاتو تېر شو چې فني اړخ لري او په هغوو موضوعاتو باندې به وغږېږو چې په پوهنتونونو کې واقیعاً د اهمیت وړ وي. لکه دغه: خطابي روش، په معتبرو منابعو باندې اتکا کول، د تحلیل او استدلال روش نه ګټه اخیستل، د بې ګټې او اضافه چارو نه ډاډه کول، لوړ ادبیات او روان نثر لازمي کول، په ریښتي راپورونو کې بې پلوي، د انتقادي افکارو پیاوړي کول، د پوښتونکي روحیې ته جرات ورکول، په شمېرو او واقیعاتونو باندې استناد کول چې د اړتیا په اندازه او یا له دې زیات دي. ځکه مسلم دي او ثقافت پورې مختص ندي. باید په ثقافت کې هم د نور څانګو غوندې دا مراعت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ثقافت درس لپاره مهم او ګټور څېز د درس منځپانګه دی، چې ډېر بحثونه او خبرې ځان ته ځانګړې کوي. مګر څنګه او په کوم معیار باندې تشخیص کړو چې کومه محتوا د ثقافت لپاره لومړیتوب کې قرار لري؟ ځکه دیني پوهه ډېر لوی حجم لري او د اسلام تاریخ کې د فکر تولید ډېر ترسره شوی. محصل لپاره د ټولو زده کول امکان نلري او نه هم مطلوب دي. طبیعي دی چې یو واحد نظر د لومړیتوب لپاره نشته، چې د هغه په اساس وکولای شو اقدام وکړو؛ بلکې هر یو د خپل فکر او نظر په اساس ځینو موضوعاتو ته لومړیتوب ورکوي، چې د نورو د نظر خاوندانو سره توپیر لري. مثلاً د هغه کس له نظره چې سلفي فکر لري، هېڅ موضوع د ارزښت له نظره عقیدې ته نه رسېږي. عقیده د سلفي پلوو له نظره ځانګړی تعریف لري او هغه موضوعات لکه: نومونه( اسما) او د الله صفتونه او د هغوی بیانول، د نور کارونو په سر کې قرار نیسي. د دې په څنګ کې، د هغوی له نظره هغه څه چې د توحید خراب کوونکي ګڼل کېږي، په عقیده کې د شرک او کفر باعث کېږي. د هغوی له نظر الحاد ځانګړی تعریف لري او توحید اهمیت پیدا کوي. نور موضوعات لکه: د هغوی له نظر لوی او کوچنی شرک کول، سنت او بدعت( نوی والی)، له الله نه پرته په نورو باور او هغه څه چې د هغوی په نظر، اسلامي سم سلوک او عقیده په ورستیو درجو کې قرار نیسي. د هغوی قضاوت د هغو ډلو او ټولیو لپاره چې د دوی په نظر د سوچه اسلام نه لرې دي، لکه: شیعه، صوفیه، مرجئه، جهمیه، معتزله ... د هغوی پیدا کول او رابلل، د عقیدې چارې ګڼل کېږي. هغه ځوک چې سلفي نظریات لري، باید د ثقافت منځپانګه باید دغو موضوعاتو باندې متمرکزه وي.

مګر د هغو کسانو له نظره چې د حزب التحریر او اخوان المسلمین له افکارو سره اړیکه لري، د هغوی لپاره د لومړیتوب معیار په بل ډول دی. په دغه لیدلوري که د اسلام پېژنده د یوې لویې ایډیالوژي چې په شلمه پېړۍ کې دود وو او عمده مساله یې کمونیزم او لیبرالیزم استبدادي نظامونو ښکارندوی و او ډېر ارزښت یې درلود. له دغه تاریخ نه باید یوه د اسلام تاریخ او د اسلامي تمدن نه یو ځانکړې روایت راووځي، چې د هغې په اساس داسې یو بارو رامنځ ته شي، چې مسلمانان د اسلام په تاریخ کې، د کوچنیو خطاګانو برخلاف، په ټوله کې په ښه لار باندې روان و؛ ځکه اسلامي خلافت پرځای و. اسلامي شریعت د دغې ډلې په باور پلې کېده. ټول ژوند د اسلام په اساس و؛ ترڅو اسلامي هېوادونو ته استعمار راوراسېد او د هغو فرهنګ د مسلمانانو ژوند ته لار وکړه. په پایله کې د اسلامي هېوادونو پېژندل شوو کسانو هم اسلامي نظام ته شا کړه او مسلمانان د خلافت په لغو کولو سره، لویه تاریخي ماته ومنله. له دغه نظره د نن ورځې مسلمانانو لومړیتوب دا دی چې اسلامي خلافت نظام دې بیا ژوندی شي، تر څو ټول اسلامي هېوادونه د هغه لاندې راشي؛ خو دغه موخه یوازې په تبلیغ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوجولو باندې نه عملي کېږي. باید ځېنې ډلې په هېوادونو کې جوړې شي، چې په دغه فکر باندې باور ولري، ترڅو هغوی په ټولنه کې د نفوذ پیداکول او له مختلفو امکاناتو نه په ګټنې، وکولای شي د هېوادونو حکومتي چارې په لاس کې واخلي، ترڅو اسلامي خلافت جوړ کړي.

د دغه روایت د سم والي او ناسم والي پر سر کولای شو ډېر بحث وکړو. لسګونه کتابونه، سلګونه مقالې، زرګونه بحثونه او خبرې اترې چې په تېرې یوې پېړۍ کې ترسره شوي. مګر دلته ترې موخه دا ندی چې وواېو دغه نظر سم یا ناسم دی. د دغه امر د توضیح موخه دا دی چې چې اسلامي ثقافت د تدریس پلویانو ته واضح شي چې تر دغه عنوان لاندې د دغسې افکارو او اېډیالوژیو د ترویج زمینه برابرېږي. یو خبره چې حتا د دغې نظریې پلویان ته هم واضح دی دا دی چې دغه یو تاریخي سیاسي راویت دی؛ دا چې سم دی او که ناسم؛ خو دیني موضوع نه دی. په دې اساس نه یوازې چې اړینه ندی، بلکې سم هم ندی چې ځوانانو ته یې د دیني زده کړو په نوم وروښیو. هغه کسان چې د دې افکارو پلویان دي، حق لري چې خپل نظریات د کتاب، مقالې او یا هم د رسالې په چوکاټ کې ولیکي او له هغې دې دفاع وکړي. هغه څوک چې پرې انتقاد لري کولای شي چې پرې انتقاد وکړي. مګر د یو دیني مضمون په ډول دې هېڅ کله په رسمي قالب کې ځوانانو ته نه تدریسېږي. په پوهنتونو کې تدریس یو عمومي څېز دی، هېڅ ګوند او اېډیالوژي حق نلري چې دغه عموي چاپیریال په خپل غېږ کې ونیسي او خپل نظر، د یو سم نظر په توګه په نورو ومني. عمومي چاپیریال( سپهر) ټولو اوسېدونکو پورې اړوندېږي او هغه پیسې چې د دولت عمومي پانګې نه پر ښوونې او تدریس باندې مصرف کېږي، باید عمومي منافعو سره مطابق وي. په دې اساس مجبور یو چې د رسمي درسونو منځپانګې له ډلې نه اسلامي ثقافت، ته وګرځو.

د دې لپاره چې د نظریاتو او فکرونو ترمنځ لار رانه ورکه نشي، باید ځېنو موازینو او معیارونو ته وګرځو چې کولای شي د اتفاق مرکز شي. د ځېنو د نظر خاوندانو له نظره، دغه معیارونه زموږ د ټولنې خاصې اړتیاووې دي. باید د اسلامي ثقافت د درسونو په منځپانګه کې ورته پام وشي. د فلسفې د عالمانو له نظره، لکه: کارل پوپر او د تربیت فلسفې علم لکه: جان دیوي، د هر علم ارزښت په دې کې دی چې کومه ستونزه مو حل او کومې اړتیاووې مو پوره کوي. دا چې ټولنه له زرګونه ستونزو سره لاس او ګریوان دی، له بلې خوا داسې درس ورکول کېږي، چې یوه ستونزه هم نه حل کوي، بلکې نورې هم ډېره وي؛ ولې باید تراوسه تدریس شي؟ دا موضوع یوه عامه قاعده دی او ثقافت پورې مختص ندی، مګر ثقافت کې شامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د ټولنې اړتیاوو ته په کتو د اسلامي ثقافت لپاره د موضوعاتو په لټه کې شو او د هغه لپاره یو منځپانګه وړاندیز کړو د منلو نه دی، ځکه افغانستان یو داسې هېواد، چې څلور لسیزې پکې جګړه وه او تراوسه دوام لري. په جګړه کې هغه فضایل هم چې سنتي ارزښت لري، ډېر زیان یې لیدلی او هغه فضایل چې په پرمختللو ټولنو کې موجود دي، په منظم ډول رواج شوي ندي. د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د دولت او ملت جوړونه، څه ناڅه لارې ته غورځېدلې و؛ د جګړو له امله ودرېده. قومي او مذهبي تعصب په تېزي سره وده وکړه. بهرنۍ مرستې دا باعث وګرځېدې چې پر ځان اتکا او د کاري منابعو قوي کولو پر ځای، د کار فرهنګ او کړنې، له منځ نه لاړې. د خلکو په منځ کې د ګرمو وسلو شتون او له هغې نه په دغو کلونو کې په پریمانه توګه ګټه اخیستل؛ د تاوتریخوالي ترویج او د پریمانه جرمونو او جنایتونو پېښېدلو باعث شو. عمومي روحیه یې سخت زړې او بې پروا کړه. د قانونو خلاف په جنګي - مافیایي ډلو د اتکا په اساس د ډلو جوړېدل، په قانون باور او اعتبار یې ډېر ضعیف کړ. د نور په لاس مو د قرباني کېدلو احساس او د هغوی ګرم( مقصر) ګڼل د دې باعث شول، چې د مرستو ترڅنګ مو له هغوی سره نفرت او بدبیني پیدا شوه. دغه ضدیت زموږ په ټولنه کې، د معقولې موضوع په نیولو سره، زموږ بهرنۍ پالیسي عاجز کړې ده. د عامه پوهونې په تولید کې د مسوولو بنسټونو نشتون، د ذهنیت یا د مسولیت احساس ترویج کولو کې، دې ته لار هواره شوې چې د شایعاتو په اساس ذهنیت جوړول عام شي او د شارلاتانیزم یو ډول جوړ شي. په دې اساس به سطحي فکر او هوس دود شي، که چېرې په همدې روال مخته لاړ شو، اوسنۍ ستونزې به لا دوام وکړي، لکه څو لسیزې چې لړوډېرې وې.

معلومه دی چې نشي کولای دغو ستونزو ته د حل لار ولټوي، یا د ثقافت په درس باندې دنیا ګل ګلزار کړي. د یوې پوره او ټول منلې دید په اساس کولای شو، ټولنې ته په کتلو، هغه ارزښتونه په نظر کې ونیسو چې د دغو ستونزو په حل کې رغنده رول ولوبوي او د اسلامي ثقافت د درسونو منځپانګه د دغو ارزښتونو پر بنا، تنظم شي. په دې معنا چې د اسلامي ثقافت د درس په اساس وکولای شو چې د ملي یووالي روحیه پیاوړې کړو، په قانون باندې باور درلودل، په ملي کټو باور، پر یو بل منلو باور، له تاوتریخوالي د مخنیوي دودول، د انتقادي فکر روزل، د کار او تولید فرهنګ دودول... دا او دې ته ورته نور چارې ځوانانو ته زده کول. دا ټول هغه ارزښتونه دي چې کولای شو د اسلامي ثقافت موخې یې کړو او منځپانګه یې د دغو موضوعاتو په اساس ترتیب او تنظیم کړو.

دغو موخو ته د رسېدلو لپاره لازمه ده، چې د ثقافت درسي مفردات بیاځلې له سره وکتل شي. په دې اساس له هغوو موضوعاتو علاوه چې د ښوونځي په دوره کې ورته ښودل شوي، هغه موضوعات باید هم چې یادې ستونزې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول تقویه کوي لرې شي؛ په ځانګړې توګه هغه موضوعات چې د اسلامي مذاهبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عالمانو ترمنځ اختلاف وي. باید اخلاق د دغو زده کړو په سر کې وي، دا یوازې کافي نه دی چې د اسلام اخلاقي نظام باندې خبرې وشي. بلکې په عملي توګه د اخلاقو ښوونه، لکه څنګه یې چې د اخلاقو د علم متخصصان یې ښیي، وښودل شي. دیني معنویت له دغې لارې باید دود شي.

د داسې درسونو تفصیلاتو او د هر سمستر د مفرداتو د ټاکلو لپاره لازمه ده، چې استادان، لیکوال او د نظر خاوندان پکې ګډون وکړي. د څېړنې له ترسره کولو وروسته یوې وروستۍ پایلې ته ورسېږي. د ثقافت درس هغه وخت ارزښت پیدا کوي، چې تدریس یې د یاد شوو ستونزو لپاره حل لاره پیدا کړي. دغه تاثیر او ارزښتمن والی باید د سروې او څېړنې له لارې د عمل په میدان کې ښکاره شي، نه داسې چې په احساساتي ځوانانو باندې د فشار له لارې، د ایران انصار حزب الله په ډول افغاني مډل تربیت شي، چې د ډلو ترمنځ فرقایي جګړې د عاشوره په ورځ تودې شي. له ولسواکۍ سره د مخالفت او اسلامي امارات څخه دفاع لپاره به بیرغ پورته کوي. د پوهنتون هغه درسونه چې د فکر د تولید او علم په ځای د احساساتو او عواطفو په پارولو کې رول لري، پوهنتوني درس نه، بلکې د جګړې او تندلارۍ درس دی. د پوهنتون هغه چاپیریال چې د څېړنو او پلټنو، د کشف او اختراع پرځای د ښګنځلو او بد ویلو هنر، وېرول او تهدیدول ځوانانو ته ور زده کوي. هغسې پوهنتوني چاپیریال چې د فاشیزم پر وړاندې د سرتیرو کور وي، د جومات حکم ولري، چې په قران کې هغه ته اشاره شوې ده.

د ثقافت درس باید د ځوانانو لپاره د پاکې او سالمې دینداری زده کړه وي. د مینې لاسته راوړل، زغم کول، ښنل، خیر غوښتل او ښه فکر کولو ښکاره نښانونه باید وي. دغه درس باید ځوانانو ته صبر او عزت ور زده کړي. ادب او احترام په ور زده کړي. لویي باید دود کړي. په یوې خبرې باید اخلاق ژوندي کړي یا مکارم اخلاق وي چې د اسلام پیغمبر وروستۍ موخه وه. که چېرې داسې وشي، د خدای مخلوق به ارامه شي، په دغه وخت کې به ټول کسان او هر شی، د نبوي حدیث پر بنا د سیندونو کبان په څېر به درود وایي.

رد پای افراط‌گرایی در آموزش‌های پیش از دانشگاه:

له پوهنتونو مخکې، په ښوونیز بهیر کې د افراطیت څرک

هغه ټولنه چې له وینو او وژلو نه ستړې شوې او د دغو افراطي افکارو د ټولنې راتلونکی په تیارو کې اچول؛ ښوونیز نصاب او ښوونیزې لارې د دغه وضعیت په کمولو او زیاتولو کې مهم رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د ښوونيز نصاب کتابونو کې باید د تاوتریخوالي ور زده کولو پر ځای، د ماشومانو او نوي ځوانانو له ذهن نه، تاوتریخوالی وباسي. د ټولنې تشویق اعتدال او مساوات ته راوبولي. د یوې اساسې موخې په سترګي باید ورته وګوري. ځینې زده کړې باید دغه موخې ته ځانګړې شي. که چیرې دغه کار په واضح او تخصصي-شکل وشي؛ راتلونکی نسل به له جګړو او افراطیت نه خلاص وي.

په اوسني نصاب کې داسې کوم هدف نه ترسترګو کیږي؛ مګر د دې برعکس دی. ځینې هغو کسانو چې د کتابونو په لیکلو او جوړولو کې ونډه درلوده، د دې موخې پرځای یې، د فکر ازادۍ پر وړاندې مبارزه، د نورو فکر کول پر وړاندې مخالفت، په غیر مستقیم ډول باندې جګړې او تاوتریخوالي؛ د دوی په فکر د جهاد لپاره د ځوانانو روزل دي. د بېلګې په ډول د دیني مدرسو دوه کتابونو ته چې د افغانستان د پوهنې وزارت له لوري چاپ شوي، نظر وکړو او دغه ادعا باید روښانه شي. دغه دوه کتابونه په عربي ژبه لیکل شوي. یو یې "النصوص الادبیه" تر عنوان لاندې د یوولسم او دولسم ټولګیو لپاره جوړ شوی. په ظاهر کې د دغه مضمون موخه، له عربي ادبیاتو سره د زده کوونکو بلدول دي؛ خو کله چې یې منځپانګې ته پام وشي، معلومیږي چې څنګه ځوانان له القاعدې او طالبانو سره د یوځای کولو لپاره اماده کوي. هغه هم د افغانستان د حکومت په پیسو او مصارفو.

د یوولسم ټولګي کتاب پنځه ویشت درسونه لري، له ډلې یې درې درسونه"استقامت"، "ګټوره معمله" او "د خدای په لار کې جهاد" په مستقیم ډول جګړو ته تشویق کول دي. که څه هم په واضح توکه معلوم ندي، چې د لیکوال په ذهن کې د هېواد اوسنی حالت شته کنه؛ خو موخه یې د ځوانانو تشویق کول، له القاعده او طالبانو سره یو ځای کول دي. یا دا چې د دغه هېواد شرایط او حالتو ورته ارزښت نه درلود، غوښتل یې چې خپل اډیالوژیک فکرونه، ځوانانو ته انتقال کړي. په دویم درس استقامت کې پر دې باندې ټینګار دی چې یو شخص باید په خپلې عقیدې باندې ټینګ ودریږي. د کتاب لیکوال په دې ویره کې دی، چې د ځوانانو عقیده په خطر کې دی، باید هغوی تشویق کړي چې د دغه خطر پر وړاندې ودریږي. دریېم درس کې د ګټورې معملې تر عنوان لاندې لیکي: " د آیات نص د توبه سوره ده.په مدینه کې نازل شوې او ښکاره کړې دی چې هغه تړونونو ته باید د پای ټکی کېښودل شي، چې د پیغمبر او مشرکانو ترمنځ و. د دښمنانو پر وړاندې جګړه، د خدای په لار کې د جګړې لپاره تشویق، د هغوو منافقینو راټل چې غفلت یې کړی او په درغو یې عذر کوو او اجازه یې غوښتله چې له عذر پرته له جهاد نه وتښتي. ." (ص 9). همدارنګه لیکي: " هغه چا چې دغه معمله ترسره کړې او هغه څوک چې دغه تړون کې شامل ندي، اړیکې یې ماتې شوې، که خپلوان یې هم وي. ځکه هغه کسانو چې دغه بیعت کړی، جنت یان او هغه کسانو چې دغه بیعت ته مخ ندی ورګرځولی، دوزخ یان دي. د دغه دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلو ترمنځ نه په دنیا او نه هم په اخرت کې یو ځایوالی شته؛ ځکه د وینې اړیکه، نشې کولای چې د یوځـایوالي باعث وګرځي؛ جنت یان او دوزخ یان سره یوځای کړي. " (ص 10).

اتم درس چې د جهاد په اړه دی، د حدیث له راوړلو وروسته د جهاد د فضیلت په اړه لیکـي: " دغـه نـص پـر دې دلالت کوي چې خدای (ج) د مجاهد لپاره د خدای په لار کې تضمین ورکړی چې په هر حالت کې به ستا خیـر وي، یا به شهید کېږې، یا به له بدلې سره وې. یا به هم له بدلې او غنیمـت سره وې. کـه چېـرې شـهید شـې، د قیامت په ورځ په ستا له ټپونو نه د مشکو بوي ځي، چې ستا په شهادت باندې پـه ګـواهي ورکـوي، دا بـه د دې لپاره دلیل وي، چې د خدای په لار کې دې ارزښتمن څېز( ځان) قربان کړی. له دې ور هاخوا دې نـص دا هـم بیان کړی چې پیغمبر(ص) په هره سریه( نظامي ماموریت ) کې پر وتلو تاکید کړی او ویلي یې دي، که چېرې پـه ځېنو غزو او سریو کې ګډون نکوئ، د امت پر ناتواني شفقت دی او په هغو کسانو باندې زړه سوی دی چې توان او جهاد ته د تللو وسیله نلري. مګر د شهادت سره ډېره علاقه لري او هیله لـري چـې تـل د خـدای د رضـا لپـاره جهاد ته لاړ شي، مړ شي او بیا جهاد ته لاړ شي او مـړ شي. ." (هـمان، ص 31) معلومـه نـدی چـې دا لـه عـربي ادبیاتو سره د زده کوونکو اشنا کول دي او که هغوی جهاد او شهادت ته تشویق کول؟ هغه هم په داسې هېـواد کې چې هره اونۍ، لسګون او سلګونه کسان تر همدغو عنوانونو لاندې قتلېږي.

په دولسم ټولګي کې چې همدغه مضمون بیا هم پنځه ویشت درسونه لري، په مستقیم او غیـر مسـتقیم ډول د ځوانانو ذهن ته د افراطي ډلو پیغامونه او فکرونـه ورانتقـالوي. کـولای شـول، داسـې موضـوعات وټـاکي چـې د افراطي ډلو له فکري مفراداتو سره یې اړیکه نه درلوده. د دې پر خلاف له ښو اخلاقو او نور ښو اخلاقـي فضـایلو ته یې ځای ورکړی وای. مګر لیکوال دې ته لومړیتوب ورکړی چـې خپـل اډیـالورژیکي مسـیر تعقیـب کـړي. پـه څلورم درس کې د (ازموینې او نیول) تر عنوان لاندې، له آیات راوړلو وروسته چې د اصحاب اخدود کیسې پورې مربوط دی راوړی، چې د عقیدې په خاطر وهل شوی او قتل شوی، لیکي: " دغه نص راوړل شوی چې د اخدود پېښنه بیان کړي او توضیح ورکړي چې هغوی د کفر او شرک په اساس د خدای له رحمت نه رټل شوي. وروسـته یې بیا یو جنایت بیان کړی چې دغو شیطانانو د مومنیانو په سوزولو او د هغوی په زورولو باندې مرتکـب شـوي، په دې ګنا چې مسلمانان د خپل خدای په خالص عبادت باندې بوخت و. د دغه نص په دوام، کـه چېـرې دغـه کافران د مسلمانانو زورولو ته دوام ورکړي، په بد سرنوشت باندې بې تهدیدوي. وروستیو کې بیا هغه څه چـې د مسلمان نارینه او ښځینو لپاره خدای تیار کړي بیانوي؛ داسې باغونه چې له ونو لاندې یې ویالې روانې دي، پر دې ټینګار سره چې خدای په خپله وعده باندې ولاړ دی او پلې کوي یـې. بیـا یـې د فرعـون کیسـه راوړې چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرکشي او طغیان یې کړی او خلکو هم د هغه له دغه کارنه ملاتړ کړی. صالح او د هغه د قوم کیسه یې هم راوړې چې پیغمبر ته یې دوړغ جن ویلي یعنې هغه یې تکذیباو. د هغه اوښ له زوررولو څخه یې چې منع کړي وو؛ هغه یې ووهه او مړ یې کړ. ځکه نو خدای پاک ټول ووهل او د خپل کفر او بغاوت سازه یې ورکړه. " (د دولسم ټولګي کتاب، ص 16) .

پنځم درس عنوان دی"کافرانو ته د ضعف زیری" ورته پیغام لري. لیکوال په دغه درس کې وایي: " دغه نص بیان کړی چې د کافرانو ماته او په جهنم کې د هغوی د راټولول حکمت. د مومنانو تقویه او د خدای خوښې ترلاسه کولو حکمت دا دی چې د خبیثې ډلې، یعنې کافرانو او پاکې ډلې یعنې مومنانو ترمنځ توپیر وشي. کله چې دغه توپیر وشي؛ نو خدای هغه خبیثه ډله، یو دبل په سر، یوځای جهنم ته اچوي، ترڅو یې د خپل خبث او کفر ساز ووینې." په دوام یې وایي: " پای کې یې مومنانو ته فرمان ورکړی، که چېرې کافرانو خپل کفر او دښمني ته دوام وکړ؛ نو له هغوی سره وجنګېږئ. " ( همدغه ټولګی، ۲۰ مخ). د دغسې عنوان ټاکل په خپله د مشخصو مفاهیمو ښکارندوی کوي.

بله موضوع چې بنسټپالې ډلې، په هغه باندې تل ټینګار کوي، د هغوی خاص تفسیر له امر به معروف او نهې له منکر نه دی. هغوی په پام کې نه نیسي چې د دغه موضوع علمي او فقهي ضوابط څه دي؟ کوښښ کوي چې په کلي او اجمالي توکه شخص ته انګیزه ورکړي، چې حقوقي مسایلو او قانوني حدودو ته له پاملرنه پرته هغه څه یې چې په تصویر کې بد راځي هغه باندې حمله یا هجوم ور وړي او هغه څه یې چې په نظر بد معلومیږي، مخالفت دې ور سره وکړي. معلومه خبره دی چې دا طریقه د ټولنیزو ګډوډیو او لویو ستونزو سبب کېږي. هغه څه چې د بنسټپالو ډلو لپاره د منلو ندي، د هغوی واکمنۍ ته زیان او زارر رسول دي. د کتاب نهم درس هم دغه موضوع ته ځانګړی شوی. په دغه درس کې یې یو راویت راړی چې پکې د امر بل معروف او نهي عنل منکر د ارزښت په اړه دی؛ د عملي ضوابطو له توضیح پرته. هغه هم داسې یو پیام تکراروي چې یو نیمه پېړۍ د بنسټپالو ډلو له لوري دود شوي او د ټولنه ذهن یې تاوتریخوالي ته جوړ کړی. لیکوال له حدیث راوړلو وروسته وایي: " هغه امت چې امر بل معروف او نهي عنل منکر پرېږدي او په خدای ایمان نلري، امکان نلري چې ښه امت دې ووسي؛ بلکې په هغوی باندې ښه صفت صدق نه کوي. ځکه په حق او عدالت کې ښه والی نشته او دغه ښه والی پایښت هم نلري؛ مګر پر خدای باندې له ایمان سره. پرتله له دې چې خلک خیر ته دعوت کول او له شر نه د هغوی نهي کول، داسې چې د دوی دعوت ښه تاثیر وکړي او د دوی فضایل ژوندي او بدي یې کمې شي. له دې پرته د امر بل معروف او نهي عنل منکر په پرېښودلو سره د خدای د قهر سبب کېږي. لکه څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بني اسرائيل د امر بل معروف او نهي عنل منکر په پرېښودلو سره د خدای د لعنت سزاوار شوو." (همدغه کتاب، ۳٦ مخ) دغه پيغام په لسم درس کې هم " د الهي حدودو پرځای کول" ترعنوان لاندې تکرار شوی او د يو راويت له راوړولو وروسته ليکي: " دغه تمثيل مهم دی چې پيامبر(ص) د خلکو حالت او د هغوی موضوع گيري، په ټولنه کې رايج منکرات له قومي حالتو سره تشبيه کوي. په کښتۍ کې سپور شو او ځايونه يې په خپل منځ کې د قرعه يا ( پچې اچونې) په اساس تقسيم کړل. په پايله کې د هغوی نه يوې ډلې د کښتۍ په پاس منزل او بلې ډلې د کښتۍ په لاندې منزل کې ځای پر ځای شول. دا چې د کښتۍ لاندې پوړ خلکو، اوبو ته اړتيا درلوده او اړ و چې پاس منزل ته لاړ شي او اوبه ځان ته جوړې کړي؛ خو ژوند يې پاس خلکو پورې تړلی و او د هغوی د ازيت سبب کېدل، د اوبو په پاشلو او يا هم د هغوی ناراحت کول و. دا چې لاندې پوړ خلکويني چې دوی د پاسينيو د اذيت باعث کېږي؛ نو تصميم نيسي چې په هغه برخه کې چې دوی پورې اړوند دی، يو سوری( سوروی) بايد جوړ کړي چې اوبو ته په اسانۍ سره لاس رسی ولري. بغير له دې چې پاس خلکو ته د ازار او اذيت سبب شي. خو پر دې نه پوهېږي که چېرې دغه وړوکی سوروی( سوری) په خپل حال همداسې پاتې شي؛ نو د ټول د تباهۍ سبب کېږي." دغه د هماغو پيغامونه سلسله دی چې امر بل معروف او نهي عنل منکر په تړلي يا سربسته شکل تبليغ کېږي او ځوانانو ته انگيزه ورکول کېږي، هغه څه يې چې په نظر کې منکر معلومېږي له قانوني ضوابطو او اقداماتو پرته چې په قانون کې ورته ښودل شوي، خپل سرانه اقداماتو دې لاس پورې کړي..

څوک چې د ښنسټپالو له ادبياتو سره بلد دي، پوهېږي، چې هغوی تاريخ د خپلو پيغامونو لپاره يوه وسيله گڼي، د دې کار لپاره له تاريخي پېښو سره په انتخابي شکل برخورد کوي. د تاريخ هره ټوټه چې د دوی د ښنسټپالنې له فکر سره، سر خوري، دې ډلې ته ارزښت لري، هغه په هر ځای کې چې وغواړي د راويت په شکل ترې گټه اخلي او د دې برعکس هغه پېښې چې د دوی لپاره گټورې ندي، هغه برخې ته ارزښت نه ورکوي او سر پسې نه گرځوي. يو له تاريخي پېښو نه چې د ښنسټپالو لپاره ډېر د ارزښت وړ دی او په وروستۍ پېړۍ کې د هغوي په ادبياتو کې يې ډېر ځای نيولی، داندلس سقوط دی. د دې پېښې په مرسته يې په اسلامي ټولنه کې د بېلابېلو طيفو، په ځانگړي ډول د ځوانانو له احساساتو نه يې استفاده کړې او هغوی يې خپلو ډلو سره د يوځای کولو لپاره هڅولي. د دغه کتاب شپاړسم درس د اندلس سقوط په اړه دی او ليکوال په دې بهانه چې زده کوونکي ورسره اشنا شي، د عربي ژبې يو مشهور ټوټه شعر يې انتخاب کړی چې تل ښنسټپالي ويناوال وربانديې استناد کوي. د دغه قطعې دوه وروستي بيتونه يې وايي: " د يو قوم لپاره څه لوی ذلت دی، چې له عزت وروسته ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرفتار دی، چې پایله کې یې کفر او سرکشي یې حال په بله کوي. په داسې حالت کې زړه له غمه چوي، که په هغه اسلام او ایمان وي." وروسته بیا لیکوال د دغه بیتونو په شرح کې وایي: " وروسته بیا شاعر هغه مصیبت ذکر کړی چې مسلمانان پرې مبتلا دي او ویلي یې دي، له بلنسیه نه د مرسیه حال وپوښتنه او وګوری چې شاطبه او قرطبه چېرته دي؟ هغه ښارونه چې ډېر عالمان په لوړ موقف کې پکې اوسېدل. بیا د اسلام حالت د اسلامي مراکزو له سقوط وروسته انځوروي، چې ډېر غمګین وضعیت لري، تر کومه ځای چې د حنیف دین په شدت باندې خفه ده، لکه څنګه چې عاشق د خپل معشوق له لاس په ژړا وي. دردناکه واقیعه، عظیم مصیبت او دردناکه پېښه، چې جمادات یې متاثر کوي، محرابونه او اذان ځایونه له نه ویل، په ژړا دي. بیا شاعر د مسلمانانو حالت بیانوي، چې عزت او قوت یې په ذلت او عاجزۍ باندې بدل شوی او مات شوی. په دې خاطر چې منکرات په منځ کې دود شوي، له دې پرته چې څوک یې مخالفت لپاره اوچت شي." همدغه کتاب، ٦٧-٦٨ مخ)

یوشتتم درس چې د مېړنې او اراده په اړه دی، په داسې یوې سریزې پیل کېږي چې د یوې ادبي ټوټه د لیکوال پېژندنه دی، دغه شخص شیخ عائض القرني دی، چې د سلفي ډلې یو له نوم وتو لیکوال څخه دی، پېژندنه یې د ده د ادبي لیکنه په خاطر نه، بلکې د سلفي افکارو د ترویج او تبلیغ لپاره راوړې. د دغې ډلې د افکارو د تبلیغ مشهوره څېره دی. د یو بنستپال شخص ټاکل او معرفي کول، د زده کوونکو لپاره د پوښتنې وړ دی. دوویشتم درس لړ و ډېر همداسې دی.

مهم درس ځلیریشتم درس دی، لیکوال توانېدلی چې خپل نظر او اصلي پیغام، پکې ځای پر ځای کړي، عنوان یې " پر الهي قدرت تیری" دی. د دغه درس لپاره یوه متن انتخاب شوی چې افراط ګریانو لوی تیوریسن( نظر ورکونکی) سیدقطب دی. د درس په سریزه کې د سید قطب لنډه پېژنده، مګر له ستاینو ډکه راغلې، هغه یې مصری اسلامي متفکر او د اخوان المسلمین غړی یاد کړی. د زده کوونکو لپاره یې چې کوم متن ټاکلي د سیدقطب د افکارو کلیدي برخه ده، چې لیکوال ورته هم په سریزه کې اشاره کړې. وایي: چې دغه خبرې یا مقاله د حاکمیت د قضیې په اړه ده او د خدای له حکم بغیر هېڅ بل حکم نشته. جالبه خو دا دی چې انتخاب شوی متن هماغه متن دی چې سیدقطب په کتاب د معالم في الطریق، کې راوړی چې سید قطب د افرطیان قوی بیانونکی دی. خپله لیکنه او مرکزي افکار یې بیان کړي.همدغه افکار دي چې د نن ورځې نړۍ، د اسلامي هېوادونو په ګډون په جهالت کې غرق کړي، له هغه جاهلیت نه ډېر چې د اسلام په صدر کې و او مسلمانان د هغې پر وړاندې مبارزې ته رابولي. سیدقطب په دغه درس کې وایي: " نن ورځ نړۍ ټوله په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاهلیت کې ژوند کوي. د بنسټپالو له نظره چې د ژوند ټولې نظریې له هغه نه راپورته کېږي. نړۍ چې ټول سیستمونه یې جاهلي دي، دغه مادي اسانتیاوې او نوښتونه له جاهلیت نه څه نه کموي. دغه جاهلیت په اصل کې، پر ځمکه د الهي قدرت باندې تجاوز دی او خاصه ځانګړنه، الوهیت چې حاکمیت وي بنا شوې. دغه جاهلیت، په بشر باندې حاکمیت ته ارجاع ورکوي، ځینې بیا نور خدایان نیسي. هغه هم په ساده او بد شکل چې د جاهلیت په لومړیو کې لیدل شوي و. بلکې د یوې چلندي ادعا په شکل چې د افکارو د ایجاد حق، ارزښتونه، تشریعات، قوانین، سیستمونه، وضعیتونه او ټول دغه له هغې لارې او طریقې نه پرته چې خدای د ژوند لپاره ټاکلي. په هغه شکل چې خدای په هغه شکل اجازه نه ده ورکړې. د خدای پر قدرت سلطه چې د هغه پر بندګانو بندې ترسره کېږي. دغه د انسان پراخه خواري، چې د ټولنې په نظامونه کې دي. د خلکو او ملتونو زور زیاتي، چې د پانګې پیداکولو او په پانګوال نظام باندې برلاسی، پر الهي قدرت باندې د تیري جز نه دي، چې پر تایید شوي انساني کرامت باندې انکار وکړي. دلته بیا د اسلام لار او طریقه فرد محوره دی، ځکه خلک په هر نظام کې له اسلامي نظام پرته، په یو نه یو شکل باندې، یو بل پوښتي. یوازې اسلامي لار او طریقه ده چې انسانان د یو بل له بنده ګۍ خلاصون مومي. عبادت یوازې خدای ته، د خدای نه غوښتنه او خدای ته تعظیم کول.

له څو سطرو وروسته نوبت هغه عملي حلارې ته رسېږي چې له جاهلیت سره مبارزه او د نړۍ د اوضاع تغیرول دي. دلته بیا سیدقطب وایي: " څنګه باید په اسلامي سیمو کې قیامت جوړ کړو. په لنډ یا اوږد مهال کې د بشریت رهبري په خپل لاس کې ونیسي. اسلامي قیامت باید څنګه پیل شي؟ بې له شکه باید یوه مخکښه ډله دغه تصمیم ته ورسیږي. له دغه جاهلیتي سمندر نه چې په ټوله نړۍ یې سیوری غوړولی، لار خلاصه کړي. له بل لوري باید ګوښه والی ته مخه کړي، چې له ټولنې سره یې اړیکې پرې شي او له بلې خوا، مجبور دي چې ترې ګرد چاپېره جاهلیت سره هم اړیکه ولري. دغه مخکښه قوي ډله چې داسې یو تصمیم نیسي-، باید ځینې نښې په خپل مخکې ولري. داسې نښې چې د هغې په واسیطه، خپل ماموریت وپېژني. پر خپل رول باندې پو او د دغه اوږده مسیر په موخو او پیل باندې پو وي. هم مهاله باید د موضوع په فطرت او اصلیت باندې پو شي، ترڅو له دغه جاهلیت سره نږدې وي. په دې باندې پو شي، چې کله له خلکو سره یوځای شي او کوم حالت کې ترې لرې والی غوره کړي. د دغه مخکښې ډلې په ځانګړونو باندې باید پو شو، چې کومې دي او کوم ډول ځانګړنې لري؟ څنګه د اسلام په ژبه د دغه جاهلو خلکو سره خبرې وکړو؟ په دې باندې باید پو شي چې له کومو سرچینو نه یې تر لاسه کړي او څنګه؟ دغه نښې باید له لومړنۍ عقیدوي سرچینې چې قران او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي لاربښوونو نه باید واخیستل شي. د همدغه نړۍ لید له مخې چې په نړۍ کې لومړۍ ډلـه منځتـه راغلـه، هغه ډله چې لوی خدای( ج) د ځمکې پرمخ هر هغه څه چې یې غوښتل د عمل جامه ورواغوستله. هغه ګړنلاره یې رامخته کړه چې د بشر تاریخ ته یې بدلون ورکړ.( همدغه کتاب، ۱۰۴-۱۰۵ مخ)

لکه څنګه چې وینئ دغه درس د پیغام له مخې د کتاب د اوج ټکی دی چې لیکوال یې په دغو درسونو کې ډېر کوښښ کړی چې زده کوونکي په کراره سره هغه ته نږدې کړي. درس ښکاریږي، چې د کتاب پـاتې پنځویشـت درسونه د پیغام له مخې خنثا درسونه دي. ډېر کوښښ شوی چې له پردې نه اسـتفاده وکـړي تـر څـو د لیکـوال اصلي نظر ته په اسانۍ د چا ور پام نشي، په دې خاطر چې حساسیتونه راونه پاریږي.

ټولو هغه کسانو چې د القاعده او داعش، له هغه مخکې د الجهاد اسلامي او الجماعهٔ السلامیه په مصرـ او نـورو عربي هېوادونو کې او په ټوله کې چې تکفیري ډلې مطالعه کړي، د هغوی د پیدایښت ریښو په اړه په یوه اتفاق دي، چې وایي، د ټولو لپاره د سیدقطب کتاب معالم في الطریق مهم فکري منبع دی. ټوله هغه مهم افراطي او تروریست شخصیتونه لکه اسامه بن لادن، ایمن ظواهري او ابومصعب زرقاوي او دېته ورته نور له دغـه کتـاب نـه الهام اخیستی. لیکوال په دغه کتاب کې د سید قطب له کتاب نه یې نچوړ اخیستی او په درس یې بدل کـړی، چې د افغانستان د دولت په مصارفو د دغه هېواد ځوانانو ته تدریسیږي.

بل کتاب چې د سیرت النبي اړوند دی، د دین پـه اړه ځـانګړې اډیـالوژیکي مفکـورې لـري. پـه دغسـې افکـارو باندې د ځوانانو پوهول هغوی له افراطي ډلو او تروریستانو سره د هغوی په یوځای کول کې مرسته کـوي. هغـه کسان چې د دغه کتاب په جوړول او ترتیب کولو کې رول درلـود، د سـیرت پـه اړه یـې خپلواکـه علمـي نظـر نـه درلود. په عام ډول د تاریخي څېړنو اړوند علمي مېتودونو نه او خاص ډوله د سیرت له مېتودنو نـه خـبر نـه و؛ پـه پایله کې هغوی په تقلیدي او کورکورانه ډول هغه کتابونو ته مراجعـه وکـړه او د اړتیـا وړ مطالـب یـې لـه هغـو نـه اقتباس کړه، چې په عربي نړۍ کې د سلفي – اخـواني ډلـو لـه لـوري لیکـل شـوي و او موخـه یـې د جهـادي – سیاسي اسلام د افکارو د نشر لپاره لار جوړول و. دغه روش له تاریخي قضـایاو سره آډیالوژیـک برخـورد دی، نـه علمي. دا چې زده کوونکي علمي تفکر ته ورسیږي، د دې پرځای یې حزبي ګوند ته وفاداره کوي.

د اتم ټولګي د سیرت النبي کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیرت النبي کتاب باندې جدي او مهمې نیوکې دي. علت یې دا دی چې په څو وروستیو لسیزو کې، په عمومي ډول بنسټپالان دې پایلې ته رسېدلي چې د پیامبر اکرام( ص) ژوند ته په کتلو کولای شي دوی خپل موخو ته په رسېدلو کې مرسته وکړي. په اصل کې، تاریخي پېښو ته په کتلو،لکه: سیرت ته، د تاریخ اړوند موضوعات، څېړنیزو مېتودونو ته اړتیا لري، ترڅو لیکوال د خپل برداشت د تحمیل پرځای داسې تاریخي قضایې زده کوونکو ته وروښايي، چې هغوی و کولای شي د ډېرو شایعاتو پرځای حقایقو باندې پو او هغه توپیر کړی شي.

د سیرت النبي کتاب کې تاریخي نظرونه نشته او زده کوونکي سره مرسته نکوي چې هغوي تاریخي بصیرت پیدا کړي. هغه رساله چې لیکوال په دغه کتاب کې انتخاب کړې، د دې پر ځای چې علمي او ازاد تفکر د تاریخ په اړه ورزده کړي، له دیني مسایلو نه خاصه پوهه ورکول کېږي، چې انتخاب شوی متن په سیرت النبي کتابونو کې د یوې ځانګړې اډیالوژۍ د تربیت لپاره دی.

په دغه کتاب کې کولای شو ووایو چې څو موارد د افغان ځوانانو په روزلو کې مضر ـ دي. په ځانګړي ډوله په وروستیو څو لسیزو کې چې د ځوانانو روان له تاوتریخوالي او نارامۍ سره روږدي شوي. دغه نیوکې په څو برخو کې په لنډ ډول ورته اشاره وکړو:

1) په سیرت کې د جنګي څېرو ښکاره کول.

سمه ده چې دغه کتاب د مدینه د کالونو په اړه باندې تمرکز لري. د مدیني د وخت، مشهورې پېښې او د حضرت جګړې په بر کې نیسي. مګر د اسلام د پیغمبر سیرت یوازې په جګړو نه خلاصه کېږي، بلکې هغه په دې باندې هم مصروف و، چې د اسلام له نظره نوې ټولنه جوړه کړي. په دغه لار کې جګړه هغه پېښه وه چې پېښېدله به. په دغه کتاب کې ډېر تمرکز په په جنګي پېښو شوی او هغه تصور چې د اسلام پیغمبر په اړه ځوانانو ته ورکوي، د هغه چا تصویر دی چې ډېر وخت یې په جګړو کې تیر شوی؛ نه د یوې نوې اسلامي ټولنه جوړول.

د دغه کار د مخنیوي لپاره کولای شو چې د ابن القیم له کتاب"زاد المعاد" نه مرسته واخلو چې هغه سیرت یې د موضوعاتو په اساس ترتیب کړی لکه: په عبادت کې د پیغمبر سیرت، په کورني اخلاق کې د پیغمبر سیرت، په ټولنیز اخلاقو کې د پیغمبر سیرت، دا او دې ته ورته نورې بېلګې. مګر د ابن القیم د شخصي افکارو په پام کې نه نیولو سره، ځکه هغه د سلفي مکتب نه متاثره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2) يهود دوښمني

په دغه کتاب کې چې کوم موضوع ډېر پام ځان ته اړوي دا دي، چې د غیر مسلمانانو، په ځانګړي ډول له يهودیانو سره د کرکه او نفرت پیدا کول دي. په ټول کتاب کې په هدفمند ډول تعقیب شوي. مثلآ:

- " ګرانو زده کوونکو، ستاسې په نظر ولې يهوديان د اسلام له پیغمبر سره دښمني او اختلاف درلود؟ اوس د يهوديانو نظر د اسلام په اړه څنګه ارزوئ؟( ۱۵ مخ)

- " د اسلام د مقدس دين له پيدايښت را په ديخوا، يهوديان له دغه دين، پیغمبر او مسلمانانو سره له پخوا نه دښمني لري او د اسلام پر وړاندې دسيسې جوړوي." ( ١٦ مخ)

- " په بدر کې د مسلمانانو له بريا وروسته، يهوديان ډېر وېربېدلي و، په دې سبب چې هغوی نه غوښتل اسلام دومره غښتلی او قوي شي." ( ۵۴مخ)

- " له پیغمبر سره د يهوديانو تاريخي کرکه." ( ۵٦مخ)

- " دسيسه جوړول د يهوديانو يو له ځانګړنو دی، هغوی تل د زور له منطق نه خبرې کوي او يوازې زور ته تسليمېږي. " ( ٦٠ مخ)

- " وعده باندې وفا نه کول او چل د يهوديانو پخوانی عادات دی. " (۸۹مخ)

- " د مسلمانانو پر وړاندې د يهوديانو حرکتونه... ګرانو زده کوونکو، د مسلمانانو پر وړاندې د يهوديانو خياناتونه ذکر کړئ. " (۹۹مخ)

- " په حساسو شرايطو کې د يهود بنی قريظه د بې وفايي او خيانتونو بيان چې له هر لوري د مدينې د اشغال اراده درلوده... د يهوديان بني قريظه د لوی خيانت په خاطر د هغوی لپاره حضرت سعد بن معاذ مناسبه جزا انتخاب کړه، چې ټول نارينه دې ووژل شي، ښځينه او ماشومان يې زندان شي او پانګه يې تقسيم شي. په دې اساس شپږ -اووسوو يې غاړې پرې شوې. " ( ۱۰۹-۱۱۰مخ)

3) د جنګي اخلاقو زده کړې او جهاد ته تشويق:

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ښکاري چې ليکوال له هر مناسبته ګټه اخيستې، چې د زده کوونکي په ذهن کې ځای پر ځای کړي < دوه خواوې موجودې دي، يوه حق بل يې باطل، چې لـه باطـل نـه د دښـمنانو پـه نـوم ګټـه اخيسـتل شـوې. د دښمني روحيه او د دښمني وېره، په مکرار ډول زده کوونکي ته انتقالوي. په ورته وخت کې، ورته توصيه کېږي، چې له دښمن سره د مبارزې لپاره هر وخت چمتو وي. په دې باندې ټينګـار کـوي چــې تـر قيامـت پـورې بـه د دښمن پر وړاندې جهاد دوام کوي. د بېلګې په ډول:

" - جهاد د اسلام يو له مهم رکن څخه دی، چې په اسلامي شعايرو کې لوړ ځای لري او تر قيامت پورې به دوام کوي. " ( ۳۹مخ)

" - د جنګي تدابيرو ترڅنګ، په خدای توکل، دعا او زاري يوه اړتيا دی. د اسلام په لار کې د پيغمـبر سرښـندنه، چې ټول درې واړه خپلوان يې د جګړې ډګر ته واستول. "(۵۲مخ)

" - په احد غزا کې د مسلمانو ښځو فعاله ونډه... د احد په غزا کې د مسلمانو ښځو صبر او تحمل، چې له نارينو سره يې يوځای د جګړې ډګر ته راغلې او له دوی سره يې مهم رول ولوبوه. " ( ۷۷-۸۰مخ)

" - که د جګړې په دوران کې ثابت شي چې د دښمن مالونه او کرنـه( زراعـت) لـه منځـه وړل، د ډېـر وژنــې او د جګړې د اوږدېدلو مخنيوی کوي، له منځه وړل يې روا کېږي. " (۹۰مخ)

" - د ځان د ساتلو او دښمن د لمنځه وړلو لپاره بايد هر ډول جنګي تاکتيک نه کار واخيستل شي. " (۱۴۰مخ)

" - جهاد د مدرسې مسلمانانو لپاره عقيده، اخلاق، تربيه او همپالنه ده. " (۱۵۹مخ)

4) د دښمني روحيه پياوړي کول:

" - د مسلمانو دعوت کوونکو پر وړاندې د کافرانو د خيانت او بې وفايي په اړه يوه مقاله وليکئ. " ( ۸٦مخ)

" - له دښمنانو سره په تعامل کې احتياط کول په هر حالت کې بهتر دي. " ( ۱۳۵مخ)

د اسلامي دولت د آډيالوژيک مفهوم لپاره تبليغ:

5) د اسلامي دولت د اډيالوژيک مفهوم تبليغ: د اسلامي دولت مفهوم د مسلمانانو په سـنتي تفکـر کـې د اډيالوژيک ارزښت وړ نه و، په ورستيو پېړيو کـې د ځينـو مـذهبي سياسي احزابـو لـه لـوري، پـه عمـده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اډیالوژیکو عنصرو باندې واوښت. لیکوال په دغه کتاب کې په تکرار باندې کوښښ کړی چې دغه مفهوم د زده کوونکي ذهن ته انتقال کړي. د بېلګې په ډول:

- ګرانو زده کوونکو، پورته یاد شوی تړون د اسلامي دولت لپاره څه پایله درلوده؟ په دې اړه بحث او خبرې اترې وکړئ. " ( ۲۲مخ)

- یو اسلامي حکومت کوم څېزونو ته اړتیا لري؟"( ۳۰مخ)

" - اصلاحي دعوت او د شریعت اجرای، یو خپلواک هېواد لپاره اړتیا لري. "( ۲۳مخ)

" - د بشر د ښه ژوند لپاره د نظام او حکومت شتون، د اسلام د مبارک دین یو له مهمو برنامو څخه ده. " ( ۳۲مخ)

" - دښمن باید هېڅ وخت فرص ورنکړل شي، چې اسلامي دولت لپاره دردسر جوړ کړي. " ( ۱۳۲مخ)

" - د پیغمبر ځای ناستی د هغه له تکفین او تجهیز نه مخکې ترسره شو. " ( ۱۷۱مخ)

6) ترور ته هڅول:

" - د کعب بن اشرف وژل... په دې خاطر، پیغمبر خپلو اصحابو ته وویل: څوک راغلي چې کعب بن اشرف ووژني؟ په دې خاطر چې هغه خدا او خپل پیغمبر آزار کوي. محمد بن مسلمه او ابونائله چې د کعب بن اشرف رضاعي ورونه و، دغه کار لپاره چمتو شول. دغو داوړ له ډېر تاکتیک او مهارت نه کار واخیسته، کله چې کعب بن اشرف له کوره راووت او دروازې ته ورسېد، هغه یې وواژه.د کعب بن اشرف د وژلو خبر ډېر ژر خپور شو او د یهودو ټول مشران په وېره کې شول. " ( ۵۹مخ)

. دغه پورته کیسه یو ځوان مسلمان ته پوره انګیزه ورکوي، ترڅو هغه کسان ترور کړي، چې د ده په نظر د اسلام دین مخالف دي. همدغه امر په ډېرو اسلامي هېوادونو کې د دې سبب شوی چې هر شخص د دغو کسانو له نظره له دین نه منحرف وي؛ که چېرې په حقیقت کې داسې هم نه وي، پر هغوی د فزیکي حملې قصد کوي او هغه ترور کوي.

د بیت المقدس پر ارزښت باندې، اډیالوژیک تاکید:

(c) ketabton.com: The Digital Library

" - له هجرت وروسته، بیت المقدس د مسلمانانو د لومړنۍ قبله ی په توګه، اسلامي امت لپاره ځانګړی ځای ارزښت لري. په همدې خاطر دفاع او ساتل یې پر مسلمانانو لازم دی. " ( ۳۶مخ)

(8د سلفیانو په دود د بدعت په اړه د ایډیالوژیک لیدلوري ټنګار

" - د مومن لپاره جایزه نده چې یو ګناه ګار او مشرک نه ملاتړ وکړي او هغه ته پناه ورکړي. " ( ۲۵مخ) سلفي ډله چې د بدعت طرحې په اړه حساسیت لري، داسې تعبیرونه د ذهنت جوړونې یو ډول دی، هر څوک چې په بدعت باندې متهم شول، له ملاتړ او پنا ورکول نه محروم وي. دغه ډله چې له بدعت نه کوم تعریف لري، هغه سره ډېرې نورې ډلې لکه: صوفیه، شیعه او نورې د اهل بدعت په کتار کې شمارل کېږي.

د معجزې په اړه د یوه خاص لیدلوري ځلولو او د نورو لیدلوریو نه یادول:

" - دغه ټولې معجزې د خدا د پیغمبر د نبوت په حقانیت او رښتیا باندې دلالت کوي او باور کول په هر مسلمان باندې لازم دی. " ( ۱۲مخ) په داسې حال کې هغه څه چې مولف ویلي، د مسلمانانو فکر د معجزې په اړه دی او په مقابل کې یې په نظر هم شتون لري، چې یوازې قران مجید د پیغمبر معجزه دی. که څوک د حسي- معجزو نه منکر شي، د ایمان خلاف دی. په کتاب کې چې کومه طریقه مطرح کړې، دغه تصور پیدا کوي، که څوک په هغه باندې باور ونلري، د دین په اړین کار باندې بې عقیدې شوی او له دین نه د انحراف سبب کېږي.

لکه څنګه مو چې ولیده، په دغه کتاب کې د دې پر ځای چې عملي تفکر په زده کوونکي کې وروزي، اډیالوژیک فکر پکې تقویه کوي، له دغه لارې تنګ نظري پراخېږي. مسلمان ځوانان د افراطیت لپاره خام مواد کېږي چې په اسانۍ سره تروریزم ته جذب شي.

د سیرت د تدریس لپاره باید دوه لومړیتوبونه په پام کې ونیول شي. په اخلاقي برخې باندې تمرکز، که چېرې د دغه مضمون موخه د پیغمبر له ګړنو او لارو سره اشنایي وي، ترڅو خلک یې په ورځني ژوند کې وکاروي. په دغه صورت کې باید د اخلاقو د علم روش ته وفادار پاتې شو او په هغوو چارو باندې باید تاکید وکړي چې د اخلاقي فضایلو د غوړېدو باعث وګرځي، نه د کرکې، دښمنۍ، جګړې او تاوتریخوالي. که چېرې تمرکز یې ډېر په تاریخي پېښو وي، چې په اسلامي دوره کې پېښې شوي او د اسلامي تمدن د تاسیس سبب شوې وي، دغه وخت کې باید په تاریخي څېړنو اصول کې، علمي روش ته وفادار پاتې شو؛ نه باید یو ځانګړی روایت(Narrative) چې یوې ځانګړې ډلې له اډیالوژۍ سره متناسبه وي، په یو درسي مضمون کې دود کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(11)**

## ښځه او د عقل نقصان،

## د يوه روايت په اړه فکر

د حديث په ځينو کتابونو کې يو روايت راغلی دی چې ښځې ناقص العقلې بولي. دا روايت به پخـوا بـې لـه دې چې کومه پوښتنه يا نيوکه راوپاروي، په آسانۍ سره لوستل کېده. نن سبا چې په ټوله کې د طبيعت په اړه او پـه تېره بيا د انسان په اړه د بشر پوهه بدله شوې ده او د انسان فيزيولوژي، سايکولوژي او د ژوند نور اړخونه ښـه‌ترا راسپړل شوي دي او په هماغه اندازه د انسانانو حقوقي ځـای ځـايگی بـدل شـوی دی، دا ډول روايتونـه چـې د انسان د بدن او فيزيکي طبيعت په اړه خبرې کوي او کېدای شي حقوقي پـايلې هـم ولـري، لـه نيوکـو سره مـخ دي.

د دې بحث اهميت يوازې د فيزيولوژيکو موضوعاتو په خاطر نه دی، بلکې پر هغې سربېره، که دا بـاور عـام شي چې ښځې د نرانو په پرتله ناقص العقلې دي، نو په حقوقي ډگر کې به تبعيض او توپير رينښه وکړي او د منصبونو په خپلولو او د مسووليتونو په منلو کې به د ښځو وړتيا ته د شک په سترگه وکتل شي.

د توپيرونو له مخې د تبعيضونو ختمول د اوسني انسان يو اساسي هدف دی. انسان د خپل اوږده تاريخ په بهير کې له دې چلند څخه ډېر ځورېدلی دی او د تبعيضونو په ختمولو نه دی بريالی شوی.

ياد روايت د دوو ډلو خلکو لپاره سـند گرځېـدلی دی چـې دواړه ورپـورې نښـتي دي او د همـدې روايـت پـر بنـا قضاوت کوي. په يوه ډله کې هغه دينداران دي چې د خپلې ټـولنې لـه نرسـالارۍ سره ښـه جـوړ دي او گومـان کوي چې يوازينی مشروع نظم هماغه نرسالاري ده. دوی فکر کوي چې دا وضعيت په دين کـې اسـاس لـري او بدلول يې له دين سره د مخالفت معنا لري. په بله ډله کې د دين منتقدان راټول دي چې په ديني منابعو کې د داسې روايتونو شتون، پلمه په لاس ورکوي چې دين وننگوي او بيا گرد سره ټول دين نفي کـړي. دوی تـه کـه د ديني مفاهيمو هر رنگه عقلاني تعبير وړاندې کړې، نه يې مني او يا پرې ملنډې وهي يا ورسره مخالفت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره توګه، دا مو اخلاقي ضرورت او ديني وظيفه ده چې داسې روايتونه وڅېړو چې درنې اخلاقي او حقوقي پايلې لري؛ او په ټولنه کې اندېښنې او وېرې پيدا کوي؛ او په ټولنه کې د عادلانه نظم د ټينګېدو د مخنيوي لپاره سند کېږي.

ياد روايت داسې دی: "عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ قَالَ: يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَأَكْثِرْنَ الاِسْتِغْفَارَ فَإِنِّى رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ جَزْلَةٌ وَمَا لَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ. قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ وَمَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَغْلَبَ لِذِى لُبٍّ مِنْكُنَّ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا نُقْصَانُ الْعَقْلِ وَالدِّينِ قَالَ أَمَّا نُقْصَانُ الْعَقْلِ فَشَهَادَةُ امْرَأَتَيْنِ تَعْدِلُ شَهَادَةَ رَجُلٍ فَهَذَا نُقْصَانُ الْعَقْلِ وَتَمْكُثُ اللَّيَالِيَ مَا تُصَلِّى وَتُفْطِرُ فِي رَمَضَانَ فَهَذَا نُقْصَانُ الدِّينِ. أخرجه أحمد 66/2(5343) و\"مسلم\" 61/1(153) و\"أبو داود\" 4679 و(ابن ماجة) 4003. يعنې: "عبد الله بن عمر د خدای له پيغمبر څخه، چې د خدای درود او سلام دې پر هغه وي، راويت کړی دی چې ويې ويل: اې د ښځو جماعته، صدقه ورکړئ او ډېر استغفار وکړئ، ځکه چې ما تاسې ليدلې يئ چې اکثره دوزخيانې يئ. د هغوی له منځه يوې هوډورې ښځې وويل: اې د خدای پيغمبره! موږ ولې ډېرې دوزخيانې يو؟ ويې ويل: ځکه چې ډېر لعنت وايئ او د خپلو مېړونو بې‌قدري بيانوئ، او نه مې دي ليدلي داسې کسان چې د عقل او دين له نقصان سره پر عقلمنو نرانو تر تاسو زيات بر کېدونکي وي. هغې ښځې وويل چې زموږ د عقل او دين نقصان په کومه وجه دی؟ ويې ويل چې د عقل نقصان مو دا دی چې د دوو ښځو شهادت د يوه نر د شهادت برابر دی او دا د عقل نقصان دی، او ښځې شپې تېروي بې له دې چې لمونځ وکړي او په رمضان کې روژې خوري او دا د دين نقصان دی."

د دې روايت په اړه څو ټکي دي چې غور ورباندې په کار دی:

**يو)** دا روايت د ثبوت په لحاظ په هغو روايتونو کې حساب دی چې غير متواتر يا آحاد اخبار بلل کېږي او د فقهې د اصولو په اصطلاح قطعي الثبوت روايت نه دی چې په اطمينان سره وويلای شو چې دا د پيغمبر وينا ده، بلکې دقيقه خبره دا ده چې وايو دا هغه حضرت ته منسوبه وينا ده. له اصولي قواعدو سره سم، هغه روايت چې د اعتبار اساس يې ظن او ګومان وي، په دين کې د قطعي حکم مأخذ نه شي کېدای؛ او هر حکم چې د داسې دليل پر اساس شوی وي، هغه ظني حکم دی، ځکه چې هر حکم د دليل فرع او نتيجه وي.

**دوه)** د روايت د دغې برخې موضوع چې د مناقشې وړ ده او د ښځو د عقل او دين د نقصان خبره کوي، د دين د لويو ډلبنديو په هېڅ ځای کې نه ځايېږي، ځکه چې لويې ډلبندۍ دا برخې رانغاړي: عقايد، عبادات، مکارم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلاق او عملي احکام چې په معاملاتو پورې اړوند دي. البته د روایت لومړی برخه چې د صدقاتو په ورکولو ټینګار کوي، د دین په اخلاقي نصیحتونو کې شاملېږي او د اسلام له نورو لارښوونو سره چې د صدقې د ورکولو خبره کوي، همغږې ده. خو د ښځو د عقل د نقصان خبره داسې نه ده، یعنې د عقیدتي موضوع بیان دی، نه اخلاقي توصیه ده، نه عبادي حکم دی او نه معاملاتي حکم. نو، دا عبارت په دې روایت کې دیني خبره نه کوي او یوازې یو ډول خبر دی چې که ومنل شي، له اخلاقي برخې پرته نورې برخې یې د کارولو ځای نه لري، په تېره بیا هغه برخه چې د ښځو د عقل د نقصان په اړه ده. په بله وینا، د ښځو د کم‌عقله ګڼلو عبارت نه د اسلام په اعتقادي موضوعاتو کې څه ورزیاتوي، نه په اخلاقي، نه په عبادي او نه په فقهي او تشریعي احکامو کې؛ او که څه ور زیات هم کړي، هغه به داسې څه نه وي چې په کار مو شي؛ حال دا چې د دین مهم موضوعات داسې حکمت یا ګټه لري چې په دنیا یا آخرت کې مو په کارېږي.

**درې**) دا چې جعلي روایتونه او ضعیف حدیثونه ډېر دي نو ځینو عالمانو د روایتونو د منلو لپاره دا اصل وضع کړی دی چې که یو روایت د اسلام پیغمبر ته منسوب شو او هغه روایت د تواتر درجې ته ونه رسېد چې د جعلي‌توب احتمال یې یو مخ لرې شي، نو بیا ځینې نورې قرینې باید وکتل شي چې د روایت د رښتیاوالي احتمال ورسره زیاتېږي که کمېږي. یوه قرینه چې داسې روایت تقویه کوي، له قرآني عمومیاتو سره د هغه روایت انطباق او سمون دی. قرآني عمومیات هغه کُلي مفاهیم دي چې د قرآن له آیتونو تر لاسه کېږي، په تېره بیا کله چې یوه موضوع په څو آیتونو کې او په مختلفو عبارتونو تکرار شوې وي. د بېلګې په ډول، د خپلو اعمالو فردي مسوولیت له دې آیتونو واضح کېږي: "و أن لیس للإنسان إلا ما سعی"، "و لا تزر وازرة وزر أخری"، "و من یعمل مثقال ذرة خیرا یره و من یعمل مثقال ذرة شرا یره"، "من یعمل سوءا یجز به"، "لا أضیع عمل عامل منکم". داسې نور آیتونه هم شته چې په ټوله کې پر دې مفهوم ټینګار کوي چې انسان د خپلو کړنو مسوول دی، ښه عمل به یې ښه انعام او بد عمل به یې بده جزا ولري. کله چې د انسان د مسوولیت اصل له مختلفو آیتونو څخه استنباط شو، سره له دې چې په ټولو آیتونو کې په یو شان عبارتونو نه وي راغلی، دا د قرآن عمومي احکام او مفاهیم بلل کېږي.

اوس نو کله چې یو روایت په پیغمبر پورې تړل کېږي او د سند په لحاظ ظني درجه ولري، خو د قرآن له عمومیاتو سره سمون ولري او د مفهوم د تأیید لپاره یې آیتونه پیدا کړای شو، نو دا د روایت د سموالي لپاره قرینه ده او روایت قوي کوي. خو که د یوه روایت لپاره قرآني قرینه پیدا نه کړو، د روایت ګوماني حالت هماغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې کېږي، خو که روایت له قرآني عمومیاتو سره په ټکر کې و، نو بیا یې اعتبار سخت ضعیفېږي او بې‌اعتباره کېږي.

دوهمه قرینه عقل دی او د عقل مطلب یا هغه چارې دي چې په علمي میتود تجربه شوې وي لکه په طبابت کې چې کېږي؛ یا عمومي حس او شهود لکه د خلکو پر ژوند د ټولنیزو ناخوالو اغېزې؛ یا انتزاعي عقلاني چارې لکه د اضدادو له جمع کولو څخه ډډه کول دي. که کوم ظني الثبوت روایت له منلیو عقلاني مفاهیمو سره په ټکر کې و، پیغمبر ته د هغه روایت انتساب ضعیفېږي؛ خو که یې اړخ ورسره ولګاوه، بیا یې د سموالي احتمال قوي کېږي؛ البته دا احتمال قطعي کېږي نه، ځکه چې کېدای شي کومه معقوله خبره پیغمبر ته منسوب شوې وي، خو په حقیقت کې به د کوم بل حکیم او عالم خبره وي. کېدای شي ځینو راویانو ځینې معقولې او مقبولې خبرې، بې له دې چې د سند او مأخذ په اړه یې تحقیق وکړي، همداسې یې منلې وي او بیا یې د حدیث په نامه روایت کړې وي. د حدیث عالمانو د حدیث د مشهورو کتابونو تر تدوین په راوروسته پېړیو کې د داسې حدیثونو په اړه کتابونه کښلي دي چې په حقیقت کې د لویانو غوره ویناوې وې او سرچینه یې فولکلور یا نورې منابع وې خو د حدیث په نامه مشهورې شوې دي. دوی دا راویتونه "الاحادیث المشتهرة علی الألسنة" ونومول. د دې آثارو تر ټولو مشهور کتاب المقاصد الحسنه د حافظ سخاوي او بل یې کشف الخفاء د عجلوني تألیف دی.

دریمه قرینه مشابه حدیثونه او روایتونه دي. که د یوه روایت مفهوم په یو نه یو ډول سره په څو نورو روایتونو کې هم راغلی وي، ان که په هماغو ټکو هم نه وي، نو د سموالي احتمال یې زیاتېږي. البته بیا هم دا روایت د قطعیت درجې ته ځکه نه رسېږي چې یوازې په څو روایتونو کې د یوه مفهوم تکرار هغه نور احتمالونه نه شي ردولی چې د اسلام په تاریخ کې یې د حدیثونو او روایتونو جعل کولو ته لاره هواره کړې وه.

نو په دې حساب، که د ښځو د عقل د نقصان په اړه روایت یادو ضوابطو ته په پام سره وڅېړو، وینو چې نه د قرآن عمومیات، نه عقلي مُسَلَمات او نه نور حدیثونه او روایتونه شته چې دا خبره تأییده کړي او پیغمبر ته د دې روایت د انتساب احتمال تقویه کړي.

**څلور**) که داسې وګڼو چې ګواکې دا روایت ظني نه دی او بالکل د متواترو حدیثونو په شان، د پیغمبر خبره ده، نو بیا به هم د روایت د پوهېدو یو بل پړاو پاتې وي او هغه د معنایي قرینو له مخې د روایت د مقصد درک کول دي، یعنې باید وګورو چې کله هغه حضرت دا خبره کړې وه، مطلب او مقصد یې څه و. د معنایي قرینو د موندلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره پر فقه اللغه سربېره او ان تر هغې لا زيات د روايت سياق ته اړتيا لرو. دلته سياق يوازې لفظي سياق نه دی، بلکې تاريخي، اجتماعي او فرهنګي سياق دی، ځکه چې هېڅ خبره په انتزاعي وضعيت کې نه ويل کېږي، بلکې په خاصو تاريخي او اجتماعي شرايطو کې ويل کېږي او خاصه فرهنګي تومنه په کې وي. د سياق يو بل مورد چې مخاطب ته د منظورې معنا په رسولو کې مهم نقش لري، د موضوع د را ميدان ته کېدو مناسبت دی. يعنې که وپوهېږو چې ويناوال دا خبره په کوم مناسبت کې کړې ده او په هغه خاص وضعيت کې يې چې دا موضوع طرحه کړې ده، هدف يې څه و، نو بيا د هغه په مقصد لا ښه پوهېدلی شو. څرنګه چې د قرآني آيتونو په اړه د شأن نزول اصطلاح کارول کېږي، د وينا لپاره د شأن ورود اصطلاح شته. دا اصطلاح له پخوا راهيسې د عالمانو په منځ کې دود شوې ده چې معلومه کړي هر حديث په کوم مناسبت کې ويل شوی دی. خو ستونزه دا ده چې د حديثو په کتابونو کې د ټولو حديثونو شأن ورود نه دی ثبت شوی، هماغسې چې د ټولو آيتونو شأن نزول هم نه دی ثبت شوی. حقيقت دا دی چې موږ د کمو آيتونو په شأن نزول او د کمو حديثونو په شأن ورود پوهېږو او دا موضوع د معنا په رسولو کې داسې خلأ رامنځته کوي چې د ډېرو نصوصو په اړه ابهام ايجادوي او مختلفو ګومانونو او احتمالونو ته لاره هواروي او هماغسې مختلف تأويلونه او تعبيرونه رامنځته کوي.

**پنځه)** خو پر شأن ورود سربېره، يوه بله موضوع ده چې پخوانيو چندانې پام ورته نه کاوه، خو نن سبا چې نوې څېړنې شوې دي، اهميت يې ښکاره شوی دی. دا موضوع د مفاهيمو په لېږدولو کې د بدني ژبې نقش دی. د اړيکو د نظام په اړه په يوه تيوري کې راغلي دي چې کله څوک خبرې کوي، مخاطب ته مفهوم ٪۷ د کلمو په مرسته، ٪۳۸ يې د وينا د غاړې او لحن په مرسته چې د غږ ټون بلل کېږي، او ٪۵۵ يې د بدني ژبې يا بدني حرکتونو لکه د وروځو، شونډو، تندي، لاسونو، او نورو حرکتونو په مرسته لېږدوي. ځينې صاحب نظران په ټوله کې له دې فيصديو سره موافق نه دي او دا يوازې په عاطفي اړيکو پورې منحصر ګڼي، خو اکثره صاحب نظران د بدني ژبې او د مخ د حرکتونو اهميت تأييدوي. ويل کېږي چې هاغه مهال چې لومړنيو انسانانو لا خبرې نه شوای کولی، په بدني ژبې به يې له يو بل سره مفاهمه کوله. دا چې بدني ژبه د ټولو انسانانو په منځ کې له ډېر پخوا راهيسې وه او پراخه وه، نو ځينې په دې باور دي چې بدني ژبه د انسان د جنيټيکي نظام برخه شوې ده. نو کله چې ويناوال خبره کوي، مخاطب يې د مخ او بدن له حرکتونو پوهېږي چې دا خبره يې د توضيح کولو، ښوولو، ګواښلو، خوار کولو، يا نورو مقصدونو لپاره کړې ده. خو کله چې هماغه وينا بل څوک نقلوي، په هغه مطلوب حالت کې هم ايله د ويناوال لفظونه مخاطب ته لېږدولی شي، خو هغه نور عنصرونه چې له وينا سره مله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا په کې ګډ وي، نه شي لېږدولی. دغه عنصرونه د محدثينو او فقيهانو په تخصصي ـ ژبه کې ملابسات بلل کېږي.

مثلاً همدغه روايت چې اوس ورباندې بحث کوو او د ښځو د عقل د نقصان خبره کوي، که داسې وګڼو چې ګواکې په رښتيا دا خبره شوې وي، موږ نه پوهېږو چې د ټوکې غوندې ويل شوې ده که په جدي انداز؛ د وحياني خبرې په حيث ويل شوې ده که د بشري وينا په حيث. د پيغمبر يارانو چې پېښې يې په خپلو سترګو ليدلې، د مناسبتونو او ملابساتو له مخې به يې غالباً دا تشخيصول او که فرضاً کوم ابهام پيدا کېده او هغوی نه شول پوهېدلی چې وينا په کوم حساب سره شوې ده، نو بيا به يې پوښتنه کوله چې دا خبره د الهي وحې موضوع ده که د پيغمبر شخصي نظر؛ او چې پيغمبر به ورته توضيح کړه، ابهام به لرې کېده. خو نورو نسلونو ته د اغلبو مناسبتونو او ملابساتو د پوهېدو امکان نه وو، په تېره بيا کله به چې خبره د بدني ژبې وه.

شپږ) دا چې د پيغمبر ځينې ويناوې د پيغمبر په حيث او ځينې نورې يې د قاضي، پوځي قومندان، قومي مشر، د کورنۍ مشر ... په حيث ويل شوې دي، د هغوی په خپلو ويناوو کې ورته اشاره شوې ده او وروسته بيا فقيهان د دې تفکيک په اهميت پوهېدلي دي او د اسلامي تشريع په برخه کې د هغې اهميت يې توضيح کړی دی. د سيرت او حديث په کتابونو کې داسې ګڼ روايتونه شته چې دغه تفکيک په کې شوی دی. د بېلګې په توګه، دغه روايت چې په مصنف ابن ابي شيبه کې راغلی دی، يادولی شو چې له ام سلمه څخه نقل شوی دی: "إنكم تختصمون إلی و إنما أنا بشر و لعل بعضكم أن يكون ألحن بحجته من بعض و إنما أقضی بينكم علی نحو مما أسمع منكم فمن قضيت له من حق أخيه شيئ فلا يأخذه فإنما أقطع له قطعة من النار يأتی بها يوم القيامة" يعنې: "تاسې خپلې دعوې ما ته راوړئ او له دې پرته بل څه نه دي چې زه انسان يم او ښايي چې په تاسو کې ځينې تر ځينو نورو د خپل دليل په بيانولو کې لا ژبور وي او زه ستاسو تر منځ د هغه څه پر بنا قضاوت کوم چې له تاسو يې اورم، نو د هر چا په ګټه مې چې فيصله وکړه او د هغه د ورور برخه مې ورته ورکړه، هغه دې يې نه اخلي، ځکه چې د دوزخ د اور يوه برخه ورته ورکوم چې د قيامت په ورځ به ورسره حاضر شي". له دې روايت څخه چې د حديث په څو کتابونو کې راغلی دی، پوهېږو چې کله پيغمبر د قاضي په حيث عمل کاوه، يوازې د دعوې د دواړو خواوو د دليلونو پر اساس به يې قضاوت کاوه، نه د هغه څه پر اساس چې پخپله به پوهېده. دا بحث د قضا په بابونو کې لا په تفصيل سره راغلی دی چې قاضي بايد د شواهدو او مدارکو پر اساس حکم وکړي، نه د خپل علم پر اساس. بله دا چې پيغمبر د قاضي په مقام کې د بشر په حيث و چې کېدای شي څوک په غوړه ژبه دعوا وګټي، په داسې حال کې چې حق يې نه وي. دربېمه خبره دا چې کله پيغمبر د قاضي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیث حکم کاوه، د بل حق چا ته نه حلال کېده او هغه چا چې په ناحقه به یې دعوا ګټله، ګټلی شی یې د خپل شرعي حق په توګه باید نه وای کارولی. حال دا چې که پیغمبر د نبي په حیث حکم وکړي، د مؤمنانو لپاره د حلال او حرام مبنا هماغه حکم وي او که چا ته څه شی ورکړي، هغه به یې حق او ورته حلال به وي، خو دلته یې چې یوازې د قاضي په حیث فیصله کړې ده، نه د نبي په حیث، نو که د چا حق نه وي، ورته نه حلالېږي.

څرنګه چې د پیغمبر مقام د قاضي په حیث او د نبي په حیث سره توپیر لري، هماغسې د هغوی مقام د پوځي قومندان په حیث او د نبي په حیث (لکه د بدر په جنګ کې)، د سیاسي رهبر په حیث او د نبي په حیث (لکه د احزاب په جنګ کې د غطفان له قبیلو سره د مصالحې په برخه کې) او په نورو برخو کې سره توپیر لري.

نو که داسې وګڼو چې هغه حضرت ښځې ناقص العقلې بللې وي، دا پوښتنه باید ځواب شي چې دا خبره یې په ټوکو کې کړې ده که یې په جدیت سره کړې ده، ځکه چې له خلکو سره د ټولنې د رهبر ټوکې په هاغه زمانه کې دود و او ان زموږ په زمانه کې هم کله کله رهبران د خپلو مخاطبانو د خوشحالولو لپاره او له هغوی سره د عاطفي رابطې د ټینګولو لپاره ټوکې ټکالي کوي. دې شي ته په عربي کې"تطییب القلوب" ویل کېږي یعنې داسې کار چې د مخاطبانو د زړه د خوښۍ سبب کېږي. دا خبره چې پیغمبر کله کله له خپلو مخاطبانو سره ټوکې ټکالې کړې دي، د حدیث په کتابونو کې په کراتو یاده شوې ده. دلته د ټوکې احتمال ځکه زیاتېږي چې په دې روایت کې د یوه عبارت تعبیر ظاهراً پاراډوکسي ښکاري، هغه داسې چې کله ویل کېږي: "وَمَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَغْلَبَ لِذِى لُبٍّ مِنْكُنَّ" یعنې " نه مې دي لیدلي داسې کسان چې د عقل او دین له نقصان سره پر عقلمنو نرانو تر تاسو زیات بر کېدونکي وي."؛ څنګه چې یې وینئ له یوې خوا وایي چې تاسې کم عقلې یئ او له بلې خوا وایي چې تاسې د نرانو پر عقل بر کېږئ. پاراډوکس همدې کې دی چې که څوک کم عقله وي، تر عقلمنو به ناتوانه وي او که ناتوانه نه وي، بلکې پرې بر هم وي نو دا د کم‌عقلۍ نښه نه ده، بلکې د عقلمنۍ نښه ده. که وغواړو چې دا تناقض رفع کړو، لاره یې دا ده چې دا خبره د ښځو د خوشحالولو لپاره ټوکه وګڼو او داسې یې تأویل کړو چې: "ښځې چې د خلکو په ګومان ناقص العقلې دي، عجیبه ده چې ما نه دي لیدلي چې څوک دې د هغوی په شان د نرانو پر عقل بر شي." دا چې په هاغه زمانه کې دا ګومان و چې ښځې ناقص العقلې دي، مشهوره خبره ده او توضیح ته یې اړتیا نشته.

که دا خبره په ټوکو کې شوې وي نو د وحیاني خبرې او شرعي حکم په حیث یې نه شو مطرح کولی او د هغې پر اساس د ښځو په اړه داسې قضاوت نه شو کولی چې تر ابده پورې یې په کم عقلۍ تورنې کړو. په تېره بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې د نړۍ د ملتونو تجربه وايي چې ښځې هم د نرانو غوندې په علمي لابراتوارونـو، پوهنتونونـو، سـياسي چارو، ټولنيزو فعاليتونو، او ان په پوځي چارو کې خپله وړتيا ښودلې ده. نن سبا د نړۍ په کچه مستندې څېړنې تر سره کېږي چې په مختلفو ډګرونو کې د ښځو شتون او بريا را ښيي. هر کـال پـه دې اړه دقيقـې شـمېرې پـه world atlas، د Catalysts په علمي مرکز کې او د AAUW د ټولنې په څېړنو او ډېرو نـورو معتـبرو مجلـو کـې خپرېږي.

لنډه دا چې د داسې روايت شتون چې له مختلفـو اړخونـو پـه کـې خوګـانې ايسـتلې شـو، د دې سـبب نـه شي کېدای چې د بشري ټولنې نيمايي برخې ته د تبعيض په سترګه وکتل شي؛ ټولو علمي واقعيتونو تـه لتـه ورکـړل شي؛ د ښځو د سپکولو لاره هواره شي؛ او له هغوی سره بې‌عدالتي عامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(12)**

## په قران کې ظنی الدلاله او په دیني منازعاتو کې یې رول

**ژباړن: شیرخان زېری**

د اسلام له پیدایښت نه تر اوسه پورې، د اسلام په ټول څوارلس پېړۍ تاریخ کې، د اسلامي تمدن تاریخ له عروج( پیدایښت) نه تر اوسه پورې یا غروب پورې، په قران کې هېڅ عامل د قرآن د ارزښت په پرتله د مسلمانانو په ژوند کې حضور نه درلود. امپراطوریانې، فرهنگونه، علوم او فنون، او حتی اسلامي زده کړې، لکه: فقه، د فقې اصول، کلام او اسلامي الهیات، د نبوي حدیثو او هغې پورې اړوند علومو په گډون، دغه ټول د قران د ارزښت په سوري کې پیدا شوي او مشروعیت یې له دغه کتاب نه اخیستی.

په اسلامي نړۍ کې نوي اړودوړ( کشمکشونه)، له بیرون یعنې له غیر مسلمانانو سره او یا هم په دننه کې؛ له مسلمانانو سره، تل او له استثنا پرته یې قران ته لومړیتوب ورکړی. ټول مسلمانان، له متعدل ترین، هغه چې د نن ورځې تمدن او د هغه ارزښتونو یې په پوره توگه پېژندلي، نیولې تر افراطي پورې، هغه کسان لکه: القاعده او داعش. ټول مجبور دي چې قران باندې تکیه( استناد) وکړي. که څوک له قران نه تېر شي، له مسلماني نه تېر شوی او ټول باور یې د مسلمانانو په منځ کې له منځه ځي. نو له دې امله په مسلمانانو کې د قرانکریم علمي فهم او د قران پر استدلالي مکانیزمونو باندې پوهېدنه ، د مسلمانانو او اسلام په هکله د ډېرو اموراتو د پوهېدنې او فهم کلي ده . او د همدې فهم او استدلالي مکانیزمونو باندې پوهیدنه په اسلامي او غیراسلامي ټولنو کې د منازعاتو د حل یوه نه هېرېدونکې لاره او بنسټ جوړوي .

د قران ارزښت د دغو موضوعاتو په اړه په دې کې دی، چې هر سیاسي لوری او فکري ډلې د مسلمانانو په منځ کې، په قران باندې پر استناد ادعا کوي. د خدای حکم هماغه دی، چې دوی یې له قران نه پېژني. په پایله کې دا د خدای حکم دی، په نورو یې منل لازمي دي. که څوک له هغه نه سرغړونه وکړي، د خدای د حکم پر وړاندې ولاړ دی. که څوک د خدای د حکم پر وړاندې په ښکاره مخالفت وکړي؛ نو د هغوی پر وړاندې جنگېدل او له منځ وړل یې مشروعیت پیدا کوي. برعکس یې که څوک د خدای د حکم د پرځای کولو لپاره وجنگېږي، د خدای د لارې مجاهد دی. که په دغه لار کې مړ شي، شهید دی. اوس وخت کې القاعد او داعش ادعا کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خدای حکم هغوی ښه پېژندلی. د خدای د حکم پر وړاندې له نورو نه دوی، ښه استازولي کوي. د مصر- الازهر، ادعا کوي چې له قران نه ښه فهم او درک له هغوی سره دی او هغوی کولای شي د خدای حکم پـه ښـه شکل بیان کړي. اخوان المسلمین، سنتي سلفیان په سعودي کې، بنسټپاله شعیګان او سمون پاله شعیګان په ایران کې، په لبنان کې حزب الله، په غزه کې حماس، سومالي کې الشباب، په پاکستان کې جماعت اسلامي، په افغانستان کې طالبان... نورې ډلې او مذهبي بنسټونه په اسلامي نړۍ کې، ټول دغه ادعا تکراروي.

طبیعي خبره ده، چې هره ډله کوښښ کوي، چې خپله ادعا ثابت کـړي، د خـدای حکـم پـه اړه د دوی فهـم او درک له قران نه، سم دی. د نورو فهم د خدای د حکم په اړه؛ په پـوهۍ او کـه پـه نـاپوهۍ دی، غلـط دی. دغـه جنجال د اصحابو له ژونده، د مسلمانانو له لومړني نسل نه، پیل شوی او د اسلامي تاریخ په ټولو دورو کې دوام درلود. مګر په اوس وخت کې، نړیوالو بدلونونو او د دنیا پېچلي شرایط، نړۍ نوی لوری پیدا کړی.

کولای شو دغو جنجالونو ته حل لاره پیدا کړو؟ آیا امکان لري، د منازعو او جنجالونو دواړو لـوري پـه دې وپوهـو چې هېڅوک په ځمکه کې د خدای استازی ندی. ځکه د خدای قطعي حکم له هېچا سره نشته. په تیوري کې داسې څه ممکن دي. کولای شو په دې اړه باندې بحث وکړو او په علمي دلایلو له هغې نه دفاع وکړو. لـه شـک پرته، د یوې تیوري بریالیتوب، کولای شي عملي بریالیتوب ته هم لار خلاصه کړي؛ که څه هم ډېر وخت او زیـار به وغواړي.

د دغه کار لپاره نشو کولای د سیاست له لارې مخکې لاړ شو. یا هم د نظامي جګړو له لارې دغه جنجالونو ته د پای ټکی کېږدو. د دې برعکس هر وخت سیاست او جګړې حالت او وضعیت سخت کړی. نه سیاست او جګړې د ایران او عربستان له لوري د دغې دعوې په یو طرفه کولو کې مرسته وکړه او نه هم د امریکا پـه مشرـي د نـاټو ځواکونو جګړو او سیاست.

دا سمه ده، چې ځېنو عاجلو خطرونو لکه: د داعش خلافت رامنځته کېدلو په اساس جګړه له منځ لاړه او کولای شو په سیاست، د سیمې او نړۍ نه د جنجالونو سطحه راکمه کړو. مګر نشي کولای د خدای لـه لـوري د خـبرو دعوې ته پای کېږدو.

د دغې دریځې د بندولو لپاره، چې نور څوک د خدای په نوم سر راپورته نکړي. پـه قطعـي توګـه ځـان د خـدای استازي معرفي نکړي؛ کار باید له قران نه پیل کړو. له قران سره کار هم ساده او هم سخت دی. د سختو جګـړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ډېرو مصارفو ترمنځ چې په سیاست او جګړو کې شته، ساده دی. سخت په دې دی لکه: اصلي اکاډیمیک کار کول، چې ډېر وخت، صبر، کار پسې کېدل، سم کوښښ او عملي تسلط ته اړتیا دی. دا هماغه ورکه یا په کلي توګه ورکه برخه دی، چې د خونړیو افراطي جبهو په مقابل کې، له ختیځ نه تر لویدیځ پورې یې لمنې غوړېدلي.

له قران سره کار، مختلف ابعادونه لري. پر تفسیري روښونو باندې نقد او پر هغې خبرې، د اصحابو له وخت نه نیولې تر اوسه پورې دوام لري. د قران تاریخ او نور لسګونه اړوند موضوعات څېړل؛ په ډېر ګمان سره، دا په مستقیم ډول، د منازعاتو په حل کې مرسته نه کوي.

د دغې منازعې د حل لپاره، باید له دغه ځای یې پیل کړو چې آیا قراني ایاتونه د دغو ډلو پر ادعاوو دلالت کوي، دغه دلالت قطعي او که ظني دي؟ آیا واقیعاً ډاډمن ووسو، هغه کس یا ډله چې له قران نه د خدای پر حکم پو شوي، له شک پرته د خدای حکم دی؟ دلته پر دې بحث دی، چې پر قطعي والي باندې باور د ثبوت او صدرو د قران له الهي سرچینو، چې د ټولو مسلمانانو د اجماع وړ دي. آیا هغه مفاهیم چې مسلمانان یې له ایات نه برداشت کوي، قطعي مفاهیم دي، چې د هېڅ بحث لپاره ځای پاتې نشي. یا د دې برعکس، د قران ډېر ایاتونه معاني او بېلابېل دلالتونه لري، چې بېلابېلو تفسیرونو ته یې لار خلاصه کړې. که چېرې داسې وي، هېڅ تفسیر او برداشت قطعیت نه پیدا کوي. له ایات نه هر برداشت د احتمال پر اساس ښکته راځي. که چېرې د قران نه د فهم په برخه کې له احتمال سره، سر او کار ولرو او دغه امر له علمي نظره د اثبات وړ او د اجماع د قبول وړ وي. په هغه وخت کې څنګه یو کس کولای شي ادعا وکړي، چې د خدای قطعي حکم له ده سره دی. په کوم دلیل باندې تکیه کوي چې د دین په لار کې جهاد، د شهادت په ارزښت باندې یوې قضیه کې احتمالي وژل کېدل دي. او مخالفان یې بیا له یوې بلې احتمالي نظریې، چې د ده د احتمالي نظریې سره یو شان دی، تکیه وکړي؛ څنګه هغوی په بېلارۍ او کفر باندې محکوم کړي؟

په تیوري کې دغه منازعې ته د پای ابښودل، له دې اړخه د پام وړ دي، چې د مسلمانانو په پخوانیو سنتونو کې د هغه وخت نه چې اسلامي علوم پیدا شوي، په دې اړه ډېرې نظرې ور کړل شوي. معاصر څېړونکي اړتیا لري چې دغه نظریو سره بلد شي. د دغې حوزې فني او تخصصي بحثونه وپېژني. د هرې موضوع اړیکه له کلیتو سره درک کړي. د اسلامي تاریخ په تفکري برخه کې دغه تداوم وموندلی شي. وروسته هغه په علمي شکل ډلبندي کړي، چې د هېڅ ابهام په نه لارلو سره دغه موضوع وصل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغې لارې کولای شو، یوه لار پیدا کړو. دغې موضوع په اړه یوې اجماع ته ورسېږو چې پـه اړه یــې ډېـر ظنــي دلالتونه شته. په دې اساس، د قطعي احکامو راویستل د دغو له منځ، ناممکن دي. پـه دغـه صـورت کـې، هغـه کار او کړنې چې قران د یو مومن شخص په ژوند کې لري، ډېر هدایتي او الهامي برخه دی. مگر ډېر برخـه یــې په عمومي عرصو کې نشوو کولای، انعطاف ناپذیرو احکامو صدرو د خدای په نوم وي.

د قراني آیات دلیلونه ظني گڼل؛ البته ډېر برخه یـې، اډیالوژیکـه ادعـا نـدی، چـې یـوازې سـیاسي او اعتقـادي انگېزې باندې مطرح شي. مگر داسې یوه ادعا دی، چې په اسـلامي پوهنتونـو کـې د قواعـدو او ضـوابطو پربنـا شوې. هغه څه چې په عملي بڼه د دې سبب کېږي، ترڅو د قران ډېر ایاتونه ظني جنبه پیدا کړي، ډېـر عوامـل لري. په دې اړه په اسلامي تفکر تاریخ کې پرې ډېر بحث شوی او گـڼ کتابونـه پـرې لیکـل شـوي. ځېنـې دغـه بحثونه د قراني علوم په مهمو څانگو اوښتي. د داسې یو لوی میراث شتون، د مسلمانانو په لرغونو سنتونو کـې، معاصرو څېړونکو سره مرسته کوي، چې هغه بنسټپالې ډلې چې د نن ورځې له تمدنونو او یا علمي لاسته راوړنو سره به جگړه کې دي، وپېژني. د لرغونو متونو په استناد د هغوی سنتي نظریې، یې دې بارو ته نـږدې کـوي. او پر خپل کار باندې باور زیاتېږي. په جگړو او منازعاتو کې، په تکرار سره دغو متونو ته مراجعه کوي.

د دلالت مفهوم:

په دې اړه لومړنی بحث د لالت مفهوم پلټنه او د هغې مختلفې برخې پېژندل دي. ترڅو مشخص شي، چـې لـه ظنـي او قطعي دلالت نه موخه څه ده؟ وروسته د یو متن پر اساس، پر عام ډول پر هر متن او پـه خـاص ډول پـه قراني متن کې، د ظني کېدلو دلالت سبب کېږي. باید په دغه ځای کې د قران شباهاتونه له نورو متنونو سره او هم تفاوتونه، که وجود ولري، په نظر کې ونیسو.(۱)

د مفرداتو رول:

په قراني متن کې د دلالت ظنـي کېدلو عوامل ډېر( متعدد) دي. لومړۍ مرحله د مفرداتو او کلمو دی. د قران له نزول نه مخکې د عربې ژبې کلمات د یوې ځانگړې شفاهي او ادبي معنا لرونکي وو. قراني متن یې لـه لار پیـدا کولو وروسته دغو کلماتو معنا بېلابېلې معناوې پیدا کړي او له ډلـې ځېنـو کلمـو پـه کلیـدي کلماتـو بانـدې پـه اسلامي فکر کې واوښـتلې. دغـو کلمـو د مسـلمانانو پـه دینـي ژونـد او لـه نـورو سره؛ پـه ځـانگړي ډول لـه غیـر مسلمانانو سره، ټاکونکی رول لري. ( ۲) مثلاً: د کافر کلمه، په اصل کـې د پټـونکي معنـا درلـوده. لـه قـران نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې په ساده معنا باندې کارول کېدله، لکه بزګري، چې تخمونه يې په ځمکه کې پټول او يا هغه جامې چې جکړو کې به يې بدن پرې پټوو. دغه کلموو، قراني بحث ته له ننوتلو وروسته، پېچلې معناووې پيدا کړې، چې تقريباً هر نامسلمان باندې اطلاق کېدلې. ځېنې وخت کې؛ خو په ځېنو مسلمانانو باندې هم اطلاق کېدلې. په هغه شخص باندې به يې دلالت کوو، چې خدای سره به يې دښمني کوله. په دې اساس د خدای د خشم او قهر سبب شوی؛ بايد د مسلمانانو ترمنځ هم منفور وي. داسې يو فکر د يو شخص په اړه له حقوقي، اخلاقي او رواني لحاظ ډېر سخت تبعيض دی. هغه ډلې چې پر يو چا او يا هم يوې ډلې باندې د کفر ټاپه ووهي، له دې کلمې نه د خپلو مخالفانو پر وړاندې د اسلحې استفاده کوي. د هغوی وژل د ځان لپاره روا کوي. په دې اړه باندې ډېر آياتونه ظني دلالت لري، چې دغه مفردات په بدل او بله معنا باندې کاروي.(۳)

غيرعربي کلمات:

د عربي کلماتو له بدلون پرته، د عجمي کلماتو شتون( غير عربي) په قران کې هم مطرح شوي. دا ټول د نظر خاوندان مني، چې ځينې غير عربي کلمې په قران کې شته. آيا دغه کلمې چې له نورو ژبو نه قران ته ننوتلي، د دې باعث کېږي، چې د لومړۍ ژبې له اصليت سره يې اړيکه وشلېږي؟ او په مکمل ډول بل هويت پيدا کړي. يا د دې برعکس هغه ورته کلمه به په خپل ځای پاتې شي، چې په لومړنۍ ژبه کې شتون لري؟ له پارسي کلماتو پرته په قران کې ډېرې حبشي، سرياني او عبري کلمات شتون لري. چې د ټولو شمېر ډېرېږي. د کلمې لومړۍ معنا ليدل د نوې معنا په څنګ کې د کلمې پر دلالت باندې مستقيم تاثير کوي.(۴)

ساختارصرفی-نحوی:

نحوي - صرفي جوړښت:

له مفرداتو وروسته د کلماتو صرفي جوړښت او د جملو نحوي جوړښت ته نوبت رسېږي. لکه د أن يُقْتَلوا کلمې په څېر چې أن يُقَتَّلوا هم ويل کېږي. له دې سره سره چې په ظاهر کې د کلمو جوړښت يو شان معلومېږي. له صرفي پلوه له دوو بېلابېلو بابونو سره اړيکه لري او معنا يې يوه نه ده. موضوع هم جزايي قضيو سره اړه لري او په اسلامي قانون جوړونه کې بېلابېل پايلې لري. د لومړي تلفظ په اساس شخص بايد اعدام شي او د دويم تلفظ په اساس بايد هغه له وهلو او ټکولو وروسته اعدام شي. سلګونه نور او له زرهاوو نه ډېر، په قران کې به وجود ولري، چې يوازې پر صرفي او نحوي دلايلو باندې ظني معنا پيدا کوي. په قران کې ډېر آياتونه شته، چې د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضمير د مشاراليه په سر اختلاف، یا د صلهی موصول د تعیینولو، د مبتدا د مقدر ګڼلو، یا د مضاف د حذفولو او دې ته ورته نورو مسایلو پر اساس د آیتونو دلالت بدلېږي.(۵)

وقف او ابتدا:

له صرفي او نحوي جوړښت وروسته، وقف او ابتدا ته نوبت رسېږي. وقف او ابتدا د قراني علومو فرعي څانګه ده، چې په څنګ کې د قرائات علم له بحث لاندې نیسي، مګر یو بېل تخصص دی. دا چې یو ایات یا جمله دقیقاً له کوم ځای پیل شوې او چېرته پای ته رسېدلې، په دقیقې معنا کې رول لري.(٦) د بېلګې په توګه دغه ایات کې: و ما یعلم تاویله إلا الله و الراسخون فی العلم، کولای شو له الله لفظ وروسته توقف وکړو، معنا یې دا دی، چې د دغه آیات تاویل متشابه یوازې خدای دی؛ مګر په راسخون باندې وقف کول، معنا یې دا کېږي چې هم خدای پوهېږي او هم قوي عالمان. دغه دوه معنا په پوره توګه یو له بله بېلې دي. مګر د ژبې د قواعدو په لحاظ هېڅ یوه معنا یو پر بلې برتري نلري. هر یوه چې وټاکو، یوازې په ظن باندې اتکا کوو.(۷)

بلاغت:

که د آیاتونو له جمله بندۍ فارغ شو، بلاغي برخې ته نوبت رسېږي. د قران بلاغي بحثونو په منځ کې، د مجاز او حقیقت موضوع تر ټول د بحث وړ موضوع دی، چې د اسلام له لومړیو پېړیو نه عملي مجلسونو ته یې لار کړې او ډېر داغ بحثونه پرې شوي. په دې اړه لویو د نظر خاوندانو لکه: شافعي، جاحظ، باقلاني، قاضي عبدالجبار... او دې ته ورته نور عالمانو په دې اړه په ډېر دقت او جدیت سره بحث کړی. پر وړاندې یې ظاهر بینو ډلو لکه: ظاهریه او اهل حدیثو مخالفت کړی. ځېنو نور لکه ابن تیمیه او دهغه پیروانو تر اوسه پورې په قران کې د مجاز له قبولولو انکار کوي.(۸) د دې سره سره په اسلامي تاریخ کې دغه موضوع په کلامي او فقهي اختلافاتو کې مهم رول درلود او تر اوسه یې لري. مګر بلاغي بحث یوازې په دغه موضوع باندې نه خلاصه کېږي. بلکې بدیعي صناعتونه او بیاني طریقې پر قراني دلالتونو تاثیر لرونکي دي. مثلاً، بحث پارونکي موضوع، پر عرش باندې د خدای ناسته، په دغه آیات کې: الرحمن علی العرش استوی، د یو شمیر له نظره په تحت اللفظي معنا پېژني؛ په داسې حال کې چې ځېنې نور بیا دلته په نړې باندې د خدای قدرت ښودل په استعاري شکل دي.

وجوه او نظایر:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجه او نظایر بل بحث دی، چې د دلالت له موضوع سره مستقیم اړیکه لري. په عربي کې ځینې کلمې مترادفې دي، داسې کلمې دې چې معنایي تقرب لري. داسې کلمې چې یو ډول اړیکه یې ترمنځ شته. دا چې د ایا کلمې مترادف په قران کې شته او کنه، له پخوا وختونو نه د بحث وړ موضوع و، په دې اړه د نظر خاوندان کومې پریکړې ته نه دي رسېدلي. مګر ځینې کلمې دېته ورته او یاهم نږدې وجود لري، چې د اتفاق وړ دي. په دې اساس په قراني علومو کې ځانته ځانګه رامنځته شوه، د (وجوه او نظایر) په نوم دی، چې وایي: که څه هم دوه یا څو کلمې په خپل منځ کې شباهت لري؛خو په عین حال کې توپیر هم لري. همدغه موضوع په یوازې ځان د ځېنو قراني آیاتونو د ظني کېدلو باعث شوې.(۹)

قرائتتونه:

د قرائت علم ډېره پخوانۍ سنتي علمي سابقه لري. رېښه یې د صحابوو او تابعینو وخت ته رسېږي. د نورو عواملو څخه ده، چې په قراني دلالتونو باندې یې تاثیر کړی. د مسلمانانو په منځ کې اوو مشهور روایت، درې غیر مشهور صحیح روایت او څلور شاذ قرائت شتون لري، چې ټول څوارلس قرائت ته کېږي. ځېنو بیا د شاذ قرائتونه زیات ګڼلي. که څه هم نن ورځ دوه مشهور قرائتونه دي، چې ویل کېږي. د عاصم د حفص قرائت چې په ډېرو اسلامي هېوادنو کې دود دی. بل له قالون نه د ورش روایت چې د لویدیځې افریقا په مسلمانو هېوادونو کې دود دی. نور قرائتونه یوازې په کتابونو کې پیدا کېږي. مګر د علمي اعتبار په لحاظ ټول د فقې مجتهدانو او د لویو تفاسیرو صاحب نظرانو، ورته پام کړی، اما د شاذ قرائت پر اجتهاد او په اسلامي قانون جوړونه کې د بحث وړ و. د قرائتونو توپیر له یو بل سره کله صوري وي او کله هم د معنا ښکاره توپیر لري. همدغه توپیر د مشخصي معنا پر ځای د آیات دلالت، ظني کوي.( ۱۰)

هغه موضوع چې د قرائت د موضوع په دوام مطرح کېږي او پر هغې یې تاثیر اچولی، عربي رسم الخط دی. د قران د نزول په وخت کې ډېر په ابتدایي شکل و او په عام ډول سریاني رسم الخط دود و. مګر د یوې پېړۍ په دوران کې دغه رسم الخط ځانته مستقل هویت پیدا کړ. د کلماتو پر سر د حرکتو او تورو باندې د ټکو زیاتېدل د کلمو سموالي کې ډېر مرسته وکړه. دغه بدلون له هغه وروسته و، چې د نړۍ نورو هېوادونو ته د قران خطي نسخه ووېشل شوه. له حرکاتو او ټکو پرته، د قرائتونو ترمنځ دا یو توپیر وه.(۱۱)

ناسخ او منسوخ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله موضوع چې تل يې د اسلام په تاريخ کې اهميت درلود، د ناسخ او منسوخ مشهور بحث دی. پـه قـران کـې آيات شته، چې له نور اياتونو سره په کلي او جزئي شکل په ټکر کې قـرار نيسي- او يـا هـم لـه نـورو ايـاتونو سره موضوعي تداخل پيدا کوي؛ مگر په متفاوتو دلالتونو سره. له پخوانه دا نظر موجوده و چې ځېنې اياتونه د ځېنـو نور د منسوخ کېدلو باعث شوي. مگر د اسلام په تاريخ کې داسې کسان شته چې د منسوخ شو آياتونو نه منکـر دي او وايي چې ممکن ندی، په قران کې دې منسوخ شوي آياتونه وي. د دې کسانو پر وړاندې نور کسان شـته چې په قران کې د هر ډول نسخو څخه انکار کوي. د دغو کسانو شمېر ډېر دی چې وايي او باور لري، يوازې په توبه سوره کې يې له سلگونو زيات آياتونه منسوخ کړي. هغه آيات، د آيات سيف يعنې شمشـير پـه نـوم پېژنـدل کېږي؛ داسې آيات چې د هغوی په نظر منسوخ دی. داسې يو آيـات دی چـې د نـورو منلـو او اسـانوالي تـه يـې توصيه کوي. مسلمانان له غيرمسلمانانو سره د گډ ژوند کولو ته تشويق کړي. د سلف او يا هم د کومې بلې ډلې او اسلامي مذهبي ډلې له لوري،د يو آيات منسوخ گڼل او د بلې ډلې له لوري د هغه منسـوخ نـه گڼـل ، چـې د دواړو ادعا په گومان( ظن) دی. د آيات دلالت د محتوا په ظني کېدلو کېږي. هغه آياتونه چې پر هغـه بانـدې د منسوخ کېدلو بحث کم شوی، ډېر کم دي.(۱۲)

شأن نزول:

ځېنې وخت پر آياتونو د تعارضونو د حل او يا د آياتونو د تصور ترمنځ، له منسخوالي پرته يې د شا نزول پر سرهم بحث شته، چې د کوم مناسبت په اساس وحی شوې او رامنځته شوی. هغـه علـم چـې پـه دې اړه بانـدې بحـث کوي، د اسباب نزول علم ورته وايي. د قران ځېنې آياتونه د اسباب نزول لرونکي دي، يعنې ځېنې روايتونه شـته ، چې د نزول سبب يې واضح کوي، چې څه و. مگر په مقابل کې يې ډېر اياتونه دي، چې موږ نه پوهېږو د نزول سبب يې کومه تاريخي پېښه وه. ځېنې وخت يو آيات په څو سببه او مختلفو مناسبتونو باندې راويت شوی وي. د هغوی د نزول په اړه چې کوم منقشات او اختلافات شته، د آيات دلالت په ځانکړې ظني معنـا بانـدې کېـږي؛ له قطعيت نه لوېږي. د شا نزول او هغې ته اړوند نورو موضوعاتو ترڅنگ، که په لويه کې د قران په متن کـې پـر فرهنگي برخې باندې بحث وکړو؛ هغه وخت کې ليدل کېـږي، چـې د آيـات دلالـت پـر رسـمي معنـا بانـدې تـر پوښتنې لاندې راځي او پر بلې معنا باندې به ډېر دلالت وکړي.(۱۳)

محکم او متشابه:

[ محکم: په قران کې هغه آياتونه ته چې معنا يې واضحه ده، او تعبير ته اړتيا نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متشابه: په قران کې هغه آیاتونه چې له ظاهري معنا پرته، د تعبیر او تفسیر وړ دي. ژباړن]

له پخوا وختونو نه چې بل اختلاف موجود و، په محکم او متشابه باندې د آیاتونو وېشل دي. په اصل کې دا وېش په قران کې د تایید وړ دی؛ خو له دې نه د هر یو تعریف او له دې لا مهم د هر ډول مصادیقو ټاکل، له موضوعاتو نه و، چې د قران د نزول له وخت نه اختلافي و او تر نن ورځې پورې دغه اختلافونه پرځای دي. که څوک یو آیات محکم وګڼي، له هېڅ ویلو او بیانولو پرته هغه باندې عمل وکړي، که چېرې هغه متشابه وګڼي، د عملي مصداق په ټاکلو کې به راحتي پیدا کړي. امکان لري، چې د یوه کس له لوري هغه محکم وګڼل شي، مګر د بل کس له لوري همدغه آیات متشابه وي. د قران د حکم په اساس د متشابهاتو خلک په د فتنې سبب شي او کیدای شي زړه یې باطن لوري ته منحرف کړي.( ۱۴)

د محکم او متشابه په دوام. د هغو آیاتونو په استناد، چې محکماتو ته یې ام الکتاب ویلي، نظریه پیدا شوه چې ځینې آیاتونه د نورو آیاتونو په منځ کې محوري ځای لري. او ځینې نور بیا فرعي او حاشیه یي ځای لري. امام غزالي د قران ځینې آیاتونه، جواهر القران په نوم نومولي یعنې د قران اصیل ګوهر یې حساب کړي او دغو موضوعاتو ته یې کتاب ځانګړی کړی.(۱۵) دېته ورته نورو کوښښونو د اسلام په تاریخ کې دوام درلود. د دې کار وړاندوینې، چې د دې پر اساس د دغه ډول وېش او ترتیب باعث شوی، له متن نه یو بیروني امر دی. هر څوک په خپل فکر، ځینې ایاتونه محوري ګڼي او ځینې نور بیا د هغوی تر تاثیر لاندې پوهېږي. مثلاً جهادي ډلې د جهاد اړوند آیات، حزب التحریر ډله د خلافت اړوند آیاتونه او نورې بنسټپالي د الهي حاکمیت اړوند آیاتونه محوري ګڼي. دا په داسې حال کې دی چې ټولو د ظن( ګومان) په اساس ټاکنه ده.(۱٦)

د آیاتونه او سورو ترتیب:

بله موضوع چې د دلالت لمن نیسي، د آیاتونو او سورتونو ترتیب او ترمنځ یې تناسب دی. له پخوا نه پر دې موضوع باندې اختلافونو شتون درلود. آیا د آیاتونو ترتیب او یو د بل ترمنځ اېښودل د اسلام پیغمبر په امر او یا د وحي په اساس شوي؟ یا اصحابو په خپل اجتهاد باندې دغه ډول مرتب کړي. دا خو معلومه خبره ده چې د قران آیاتونه په کراره کراره او لږ لږ نازل شوي. آیا د ایاتونو ترمنځ اړیکه او مناسبت شته او کنه؟ همدغه پوښته د سورتونه په اړه لا جدي دی. په دې اړه باندې د رسمي نظر ترڅنګ، غیر رسمي نظر هم موجود دی. د اهل سنتو په روایاتو کې چې د مسلمانانو اکثریت دي، او د اهل تشیع په روایاتو کې. دا مشهوره دی چې د صحابو په منځ کې پېژندل شوی شخصیت لکه: ابن مسعود، په قران کې د قران دوه وروستۍ سورې، د قران، نه ګڼلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه يې دعا شمېرلې. د مسلمانانو په منځ کې پر قران باندې د ارتدوکسي حکم د حاکمېدلو، دغه روايتونه هېر شوه. نن ورځ په دې اړه کوچنۍ غير ارتدوکسي نظريه په مسلمانه ټولنه کې د قهر سبب کېږي.(۱۷)

د وينا( خطاب) جوړښت:

همدارنګه، د نن ورځې د پوهې په مرسته، کولای شو د وينا( خطاب) يا د قراني لوی ديسکورس په اړه پام کې ونيسو. پخوا وختونو کې دغه موضوع ته اشاره شوې؛ خو په روښانه او هراړخيزه بڼه نه. د ديسکوريس اړوندو بحثونو جوړښت، له نوو بحثونو څخه دي. له دلايلو او شواهدو سره يوځای دی، چې کولای شو د اکاديميک روشونو په لحاظ ترې دفاع وکړو. که چېرې دغه ډول تحليلي روش د فکري او فرهنګي خبرواترو په اړه د پلې کېدلو وړ وي، د متن په اړه د قران په شکل په لومړنۍ طريقه ، چې د نازول په وخت کې يې لوی ديسکوريس منځ ته راوړ او هم په اوس وخت کې د مسلمانانو لپاره متنوع ديسکوريس دی. دغه روش په کار راځي.(۱۸) ځينو کسانو لکه: طه حسين په مرآة الاسلام کتاب کې، محمدغزالی مصري په، د قران موضوعي سورو تفسير کتاب کې، محمد عابد جابري په مدخل إلی القرآن الکريم کتاب کې کوښښ کړی، چې د داسې خبرواتر خطونه ترسيم کړي. د مودودي، سيدقطب او نورو کسانو کوښښ د همدې موخې لپاره و؛ مګر په يو بېل شکل باندې. مګر معلومه خبره دی، چې د هر ډول خطوطو ترسيم کول، پر ګومان( ظن) باندې ولاړ دی. د دغه بحث لاندې چې کوم موضوعات مطرح کېږي، يو له دوی دی، چې کوم آياتونه په قران کې نړيواله او ابدي جنبه لري. او کوم آياتونه دي، چې صرفاً پيغمبر ته خطاب وي، يا د يو ځانګړي فرد يا هم وضيعت ته وي. د پيغمبر له وفات او عملي کېدو وروسته کوم ځانګړې کارونه نلري. مثلآ په قران کې وايي، د پيغمبر مېرمنې د مومنانو مېندې دي او هېڅوک د پيغمبر له وفات وروسته له هغوی سره نکاح نشي کولای. معلومه دی چې د پيغمبر د مېرمنو له وفات وروسته دغه موضوع خلاصېږي او په دې اړه دغه حکم هم عملي بڼه له لاسه ورکوي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library